



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حرمینو هینداره

www.melitahrik.com 0777 400 116

لیکوال : الحاج قاضي محمد حسن حقیار
کابل – افغانستان

۱۳۹۳ هـ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب ځانګړتیاوې

د کتاب نوم : د حرمینو هېنداره
مؤلف : الحاج قاضي محمدحسن حقیار
د خپرندوی شمېره: (۴)
خپرندوی : د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه
کمپوز : رفیع الله روشن
ډیزاین : محمدافضل ذاکر
چاپ نېټه : ۱۳۹۳ ل کال
د چاپ وار : لومړی
شمېر : ۱۰۰۰

www.melitahrik.com 0777 400 116

د چاپ حقوق محفوظ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالی

خپلې مینې، مېرمنې او د ژوند ملګرې ته چې ژوند یې راته د سکون او اطمینان له خوږو ډک کړی او انشاء الله چې اخرت به مې هم د همدې په مرسته ښه وي.

حقيار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| منزل د ټولو یودی خو سفر جدا جدا | ۱ |
| د عزم جزم | ۴ |
| ترهوايي ډګره په ټکسي کې یواځې | ۸ |
| هرات که د افغانستان دوبۍ | ۱۲ |
| الانتظار اشد من القتل | ۱۵ |
| د یارانو بنډارونه | ۲۲ |
| مرمرین قبر | ۲۴ |
| ځان پخپل کور کې مېلمه راته ښکاره شو | ۲۸ |
| ارګ یا اختیارالدین کلا | ۳۱ |
| د یو انتظار پای او د بل پیل | ۳۳ |
| درې نیم ساعته ولاړه | ۳۶ |
| جدې ته الوت | ۳۷ |
| میقات | ۴۰ |
| په ژمي کې دوبۍ | ۴۳ |
| جده | ۴۵ |
| د ملک عبدالعزیزنړیوال هوايي ډګر | ۴۷ |
| د فیوضاتو ښار ته | ۴۸ |
| د وقار او پرتم ښار | ۵۰ |
| شهزاده ملنګ | ۵۲ |
| مکة المکرمة | ۵۵ |


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مکې جغرافیه او تاریخ.................................۵۲
د مکې مکرمې فضایل.........................۵۷
د حرم حدود.................................۶۰
حرم یا کعبه..................................۶۳
د کعبې تاریخ او ودانوونکي........................۶۴
د ملک عبدالعزیز په پیرکې د کعبې بیا رغونه..........۶۸
د ملک فهد په وخت کې ..............................۷۰
په دوه تنو د ۱۲۰ حاجیانو سرخیېل......................۷۲
صفا او مروه...............................................۷۷
په مکه کې لومړۍ ورځ او دوستان............................۸۴
سعودي له نېستمنو سپین ږیرو پرافغانستان خپل پور غواړي.....۸۶
د حرم حویلۍ.................................................۸۸
سعود کورنۍ او حرمین........................................۹۲
د ملک عبدالعزیز په پیر کې .........................۹۳
د سعودي بن لادن تعمیراتي ګروپ ..............................۹۵
بشپړوونکي کارونه ..............................................۹۷
د سعودي سترې پراختیا دوهم پړاو............................۹۸
د مرمر ډبرې ..........................................۱۰۱
تر مسجدالحرام لاندې سړک ..............................۱۰۲
د سېلاب د اوبو چاره ..............................۱۰۲
ایرکنډېشن ..........................................۱۰۴
د مسجدالحرام دروازې.................................۱۰۵
د مسجدالحرام منارې ..................................۱۰۷

www.melitahrik.com 0777 400 118

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بادغیسي درې شوطه طواف ............................... ۱۰۸
له ښځو سره بنډارونه ......................................... ۱۱۳
باب السلام که باب بني شيبه.................................. ۱۱۵
نهال او نفيسه.................................................. ۱۱۶
زمزم ته بې صبري.............................................. ۱۱۹
لومړی جمعه لومړی بيروبار ................................... ۱۲۱
په کعبه کې لومړی صف که کشتی کج.......................... ۱۲۵
په حرم کې ملاوټ .............................................. ۱۲۷
د خدای(ج) د کور غله ........................................ ۱۲۸
د شرکت غله .................................................. ۱۳۱
کعبه او بې ستري .............................................. ۱۳۵
عملي حج ...................................................... ۱۳۹
د منی حکم او وخت............................................. ۱۴۲
د عرفات هېرحکمت ............................................ ۱۴۵
د عرفات حکم .................................................. ۱۵۳
نمره مسجد .................................................... ۱۵۵
مزدلفه .......................................................... ۱۵۷
وادي محسر .................................................... ۱۶۰
مشعرالحرام مسجد.............................................. ۱۶۱
جمرات ......................................................... ۱۶۳
قرباني که سرګرداني ؟.......................................... ۱۶۵
البيک .......................................................... ۱۶۹
چاغي که ناروغي ............................................... ۱۷۱

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library




د سعودي مسافرۍ خوړلي ........................... ۱۷۲
د حج د وزير دوه مخي ........................... ۱۷۵
بې خونده مېوې او لوړې بيې........................... ۱۷۷
د شيطانانو له برکته د دوستانو موندل ........................... ۱۷۹
په اوبو کې سجدې ........................... ۱۸۲
شرکت مکه که کباړي بازار ........................... ۱۸۳
له مينې ربنتونی خوند........................... ۱۸۴
حرا، د نوراو پلوشو غار........................... ۱۸۵
د نيستمنۍ اوشتمنۍ مسابقه........................... ۱۹۰
حجرالاسود ........................... ۱۹۲
تېلېفون........................... ۱۹۹
حرم او جنازې........................... ۲۰۱
نه پرچاڅوک کارلري نه پرچا غوسې کوي ........................... ۲۰۲
جنة المعلی........................... ۲۰۴
ثور غار........................... ۲۰۸
د حرم ترکار لاندې پراختيا........................... ۲۱۳
د حرم خادمان او خدمات ........................... ۲۱۵
نيم يې ستا اونيم يې زما ........................... ۲۱۶
زمزم برج ........................... ۲۱۷
زمزم........................... ۲۱۹
د زمزم اوبه له دومره کاروَني سره سره هم نه کمېږي ........................... ۲۲۲
د حرم امامان ........................... ۲۲۳
متواکان ........................... ۲۲۵


www.melitahrik.com 0777 400 118

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګري ........................................................ ۲۲۷
مفتیان او فتواګانې..................................................... ۲۲۸
روغتیا ....................................................... ۲۲۸
هم سر لاړ او هم سرسر................................................ ۲۳۰
د مېږه او مېرمنې مینه .......................................... ۲۳۳
د حرم پاکي ........................................................ ۲۳۴
بېلابېلې لیدنې ................................................. ۲۳۷
د حاجیانو ځینې بې نظمۍ .............................................. ۲۴۲
ښځینه دوکاندارانې او سوالګر.......................................... ۲۵۱
د حج او اوقافو د وزارت درغلي او بې غوري ...................... ۲۵۴
له حدیبیې څخه احرام............................................. ۲۶۱
جعرانه که جغرافیه؟.................................................. ۲۶۲
شاهد ........................................................ ۲۶۴
د کعبې پوښ ..................................................... ۲۷۱
د ایرانیانو کودتا.............................................. ۲۷۲
اتفاق په پښتانه کې پیدانه شو ...................................... ۲۷۳
د مولوي احمدي جګړه ........................................ ۲۷۴
د مکې حرم کتابتون ........................................ ۲۷۴
د حرم نقاشي.......................................................... ۲۷۵
حج ته هوایي او که دځمکې له لارې ؟ ............................ ۲۷۶
د جنوبي اسیا مکتب............................................. ۲۷۷
دابن لادن مسجد.................................................. ۲۷۹
دریم مخلوق.......................................................... ۲۷۹

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مکه معظمه کې وروستۍ ورځې ........................ ۲۸
د جلال له ښارڅخه د جمال ښار ته ......................... ۲۸۲
د رڼا او بريا په ښار کې .................................... ۲۸۴
صفه او رياض الجنة............................................ ۲۸۶
د نبوي حرم پراختيا ........................................... ۲۸۹
د جمال ښار...................................................... ۲۹۲
جنة البقيع........................................................ ۲۹۴
په مدني حرم کې جنازې ...................................... ۲۹۸
پرد بس کوربانه.................................................. ۲۹۹
احزاب ياګڼ لښکريزه جګړه................................... ۳۰۱
د احد ډګر ........................................................ ۳۱۰
له ډاکټر باز محمد ښادمن سره................................ ۳۱۵
د سلمان فارسي بڼ.............................................. ۳۱۶
د حضرت عثمان کوهي.......................................... ۳۱۸
عجوه............................................................... ۳۱۹
په مدينه منوره کې زموږ هستوګنځی.......................... ۳۲۰
د نبوي حرم امامان ............................................. ۳۲۱
د نبوي حرم کتابتون............................................. ۳۲۳
د مديني بازار او هوا............................................ ۳۲۴
د حرم ځمکتلی................................................... ۳۲۸
د ديدن وروستۍ شپې............................................ ۳۳۰
د شپاکيا جريمه................................................... ۳۳۴
ته مې وزې خوره زه به دې روزې خورم...................... ۳۳۷

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



له جدې څخه کابل ته........................................۳۳۹

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دپيل خبرې

# دحرمينو څه ډول هېنداره ؟

ګومان کوم دنړۍ په تاريخ کې چې دکوم ځای اوکوم سفرډېريون ليکونه ليکل شوی دی هغه ځای به د وحی دنزول او داسلام دمبارك دين دخپرېدوځايونه حرمين (مکه معظمه او مدينه منوره) وي لامل يې هم معلوم دی سپيڅلی سفر اوسپيڅلي ځايونه ،ددين دپېژندلو نښې او الهـي شـعائر او دې نښـو سـره داسـلام دمبـارك ديـن اوددې ديـن درسـوونکي دالله داسـتازي حضـرت محمـد ص اوددې شـمعې دپتنګانو جليل القدره صحابه ووتړلې خاطرې.

له شك پرته دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه نوموتو عالمانو ،ژورو اوژبورو قلموالو دحج يون ليکونه ليکلي او پخپله ژبه يې خپلې ټولنې او مينه والو ته وړاندې کړې دي.چې دحج او حرمينو له مينه والو سره يې ډېره مرسته کړې ده .

يونليکونو ليکلو ته وخت هم نلرم اويونليکونه ډېرهم شول نوځکه مې څو هيوادونو ته خپل سفرونه پټ وساتل ، که په پښتو ژبه دحج کوم علمي ،بډای ،اوجامع يونليك وای نومابه دحرمينو دکومې نوې هنداري اړتيا نه وه احساس کړې خو داسې زمزم مې ونه موندل چې دحرمينو دليوالو داتنده خړوبه کړي . او له حرمينو سره بلدتيا يوه اړتياده خصوصا دحرمينو زيارت کوونکيو ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولو ديني فرائضو کې حج سخته او له ستونزوډکه فريضه ده اوددې فريضې دښه اداکولو لپاره له حرمينو سره بلدتيا او دحج دشعائرو پېژندل ډېر ضرور دي،حج ته له روانېدلو وړاندې ما دحج ديونليك اراده نه درلوده خوکله مې چې هلته دنظري او عملي حج ترمنځ کوم توپير وليد او ومې ليدل چې حاجيان خصوصا افغان حاجيان ځومره دحج له مناسکوسره نابلده او يا بې پروادي، ځومره په مستحباتو پسې ګرځي اوواجبات اوآن فرائض ضايع کوي حرم ته له تللووړاندې دحرم او دحج دمناسکو دځايونو په اړه ذهني نقشه له عملي نقشې سره ځومره توپيرلري نو هوډ مې وکړ چې که دالله ج خوښه وه خپل ولس ته به دحج يو جامع ،هراړخيز علمي او عملي يونليك اودحرمينو يوه رڼه هنداره وړاندې کوم اوخپل ولس به له حرمينو سره ترخپله وسه بلدوم.

ولس مو ملامت ندی د اوربدلي او ليدلي ترمنځ تفاوت وي، اوربدلي کله دليدلو په څېر وي، زما رشته شرعيات دي ، په مسجدکې به مې ترهدايې او شرح وقايې په کتابونو اوبيا په پوهنتون کې خو کوم لس څله په نظري توګه حج لوستی وی او دحج دمناسکو او مراسموپه اړه مې په ذهن کې پراخه نقشه جوړه کړې وه خوهلته ډېرځه زما د اټکل او ذهني نقشې سره سم نه و، ما دصفااو مروه دموقعيت اټکل يوډول کړی وخو هغه بل ډول و.زه هم ملامت نه وم دحج فقهي متون پخواني دي خو دحرمينو له پراختياسره اوس هلته ډېربدلونونه راغلي دي پخوا صفااومروه له حرم څخه ۱۳۰ متره لېرې وخواوس يې ودانې شريکې دي ،پخوا دصفااومروه ترمنځ ناو(شېله) وه نن يې نښه هم نشته اوس دتيګو او اغزيو ځاى قيمتي مرمرو نيولی دی، همدالامل وچې ومې پتييله داسې يونليك وکښم چې هم پکې دحج مناسك او اماکن معرفي کړم ،اوهم دحج دځينو ضروري مراسمو فقهي احکام، هم په حرمينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې خپل ليدلي اواورېدلي له خلکوسره شريك کړم اوهم خپلو ورونو ته مشورې ورکړم او هغه متل عملي کړم چې د (ړومبي پل دوروستي پول دی )نو دهمدې لپاره مې وهڅه وکړه چې خپل محترم لوستونکي او دحرمينو مينه وال له ځان سره پخپل ټول سفراويون کې لاس نيولي وګرځوم ،خپل ليدلي پرې ووينم اوخپل اورېدلي پرې واورم.

سپېڅلو حرمينو او دالله ج د کور خاطر هم دنړۍ په کچه دلومړي درجه مفسد هيواد دچارواکيود فسادمخه ونه نيول شوه او هلته يې هم د فساداو غلابويونو حاجيان او دحج پروسه اغيزمنه کړې ده. دې اړخ ته مې هم سر ورښکاره کړی دی.

هيله ده چې تاسو درنو لوستونکيو ته مې دحرمينو يو لويه ،رښه ،هراړخيزه هنداره او دجمشيد جام درکړی وي چې حرمين او دحج مراسم پکې ښه وليدلی او ښه وڅلولی شئ. نورنو د(برګ سبز تحفه درويش) په مصداق داهنداره درسپارم خو په ټينګار سره هيله کوم چې که الله ج موحرمين نصيب کړل نو هلته هم راته دعاکوئ او که نه دلته مې دهرنېك عمل داداکولو پروخت له دعاهير نکړئ. ځکه چې دمسلمان دعا دبل مسلمان لپاره مستجابه ده .

که دحرمينو دزيارت هيله مو رښتتونې اودزړه له تله وي نو هرومرو به ورځئ اوپردې رنجوبه مو سترګې تورېږي ځکه چې مادرته دعاکړې دي.

درناوی

محمدحسن حقيار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (منزل د ټولو يو دی خو سفر جدا جدا)

الحمدلله لومړی څه مې چې په کور او خپل چاپېريال کې زده کړي دي هغه بسم الله الرحمن الرحيم دی مور به مې چې راته مخ هم مينځه؛ نو په خوږه لهجه او ځانګړي ترنم به يې همدا بسم الله او تر ټولو سپېڅلي او درنه کلمه لااله الاالله محمدرسول الله زمزمه کول. په ناظره ډول د قرآن کريم له ختمولو وروسته مې چې پنج ګنج پيلاوه نو له : (**کريما ببخشای برحال ما**) نه وړاندې مې استاد (**رب يسر ولاتعسر وتمم علی هذالکتاب بالخير**) دعا رابانديې ولوسته او څوځله يې راسره تکرار کړه . که په هرڅومره تيااره او دوبړې ځای کې به روان وو نوله ځان سره به مو ورو- ورو بسم الله بسم الله ويله مور به چې دهرکار په پيل کې بسم الله او همدا دعا ولوسته نو داسې مو انګېرله چې دډېر لوی غرموشاته ودرېد. که له کوچنيتوبه مې همدا اموخت او عادت نه وای نو نن به ښايي ماهم له الله او بسم الله پرته ليکلي وای چې : ژوند ټول سفر سفر دی، دځمکې پر سر ټول ساه لرونکي تل په حرکت کې دي،ټولو خپل سفر له يوه ټاکلي ټکي پيل کړی او په يوه ټاکلي ټکي يې پای ته رسوي، مخلوق مجبور دی، اکثره سفرونه دده په واک کې ندي ،نه يې پيل دده په واک کې دی اونه يې پای ،نه خپل مزل ټاکلی شي اونه منزل.

ځينې سفرونه لنډ او ځينې اوږده دي، په ځينوکې د انسان مجازي يا تشريعي خوښه شامله وي خو ځينې بيا په تکويني ډول پر انسان دده له خوښې پرته او بې له دې چې د سفر توښه برابره کړي تپل کېږي ، د سفر پيل، رباط او پړاوونه به بېل وي، خو منزل يو دی، هر کاروان په پای کې اړ دی چې په همدې منزل کې يې د تل لپاره واړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوند په دې اوږده سفر او اوږده لار کې انسان ته ډېره کمه ونډه او ډېر کم وخت ورکړل شوی دی، د نړۍ او پېنۍ (کایناتو) په سلګونه میلیونیز کاله ژوند کې د انسان لسګونه کاله عمر په منګې کې ښاځکې دی، دا دواړه عمرونه هېڅ د پرتلې وړ ندي خو بیاهم انسان د اشرف المخلوق په توګه په پېنۍ حکومت کوي او الله ج هغه سیارې چې عمر او حجم یې د انسان مېشتې کړي (ځمکې) په پرتله سلګونه ځله ډېر دی د یو نامرئي (نه لیدونکي) اونه حس کېدونکي ځواک (عقل) په واسطه دې کمزوري مخلوق ته تابع کړېدي.

له سیر او سیاحت سره مینه خو دانسان په فطرت کې نغښتې وي، هر انسان په طبعي توګه داتلوسه او لېوالتیا لري چې خپل چاپېرچل او په طبیعت کې موجودې پدیدې وپېژني، ویېویني ،وچې او لمدې آن د شمسي نظام دټولو سیارو په اسرارو او رموزو وپوهېږي ،په طبعي او ماوراء الطبعي محسوساتو او ملموساتو محیط واوسي په ژوند کې د اضدادو پر فلسفه پوه شي.

خو د ځینو انسانانو په پرتله دا مینه او جذبه له ماسره ډېره وه ،زه چې کوچنی وم نو له هغه جبب خرڅ څخه به مې چې پلار به مې د ښوونځي او پوهنتون په وخت کې راکاوه،ذخیره کوله او بیابه د ښوونځي او پوهنتون په رخصتیو کې سیاحت ته تللم د کراچۍ ،کوېټې ،لاهور،په شمول د پاکستان ټول ښارونه ،کشمیر،آن د ایران تر زاهدان پورې په هماغه وخت کې تللی یم، د سمندر لیدلو ته مې تلوسه ډېره وه او دا هیله مې آن په هماغه کوچنیوالي کې په کراچۍ کې ښه ترسره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان له ازادۍ وروسته په افغانستان کې هم يا هوايي يا پر ځمکه ښه وګرځېدم ،له بدخشان پرته د هېواد ټول ولايات مې يا ټول يا په نسبي ډول وليدل ،دافغانستان شمالي ګاونډيان اودسيمې ځينې هېوادونه مې هم ياله نږدې ياله لېرې وليدل.

خوزه چې اوس کوم يونليک تاسو درنو ته وړاندې کوم هغه د يو داسې مبارک او سپېڅلي سفر خاطرې او يادښتونه دي، چې هر مسلمان يې د زړه له کومې غواړي ،داسفر يې ارمان او د ژوند ستره هيله ده ،د هر مسلمان په زړه کې دا هيله وي چې کم تر کمه يو ځل خو د اسلام د مبآرک دين د نشئت ،ځوانۍ او خپرېدو ځايونه، د الله ج کور د افضل الخلايق او رحمت للعالمين، پيغمبر(ص) د خاپوړو، کوچنيتوب، ځوانۍ مېنه او دهغه د هجرت ،دعوت ، د اسلام دبلوغ، سياسي او ديني استحکام شاهده سيمه او داسلام د ستر پيغمبر مبارکه روضه ووينې.

دبل هر مسلمان په څېر زما په زړه کې هم داهيله په څپو وه ،کله به چې د حج وخت راغی نو دې مينې به بې تابه کړم زړه او روح به مې نا ارامه شو. ناستې او ولاړې به خوند نه راکاوه. خو خپل تش لاس مې دښمن اوددې سپېڅلې هيلې د تر سره کېدو پر وړاندې ستر خنډ وو، خو جوينده يابنده وي او بيا ځوک چې داسې سپېڅلی غرض او له فيوضاتو ډکه الهي موخه ولري نو الله ج به ولې ورسره مرسته نه کوي، ځوک چې الله ج غواړي نو له شک پرته الله ج هم ورسره ملګری وي، الله ج هم زما بې صبرۍ ته په کتلو زما ددې تندې د خړوبولو لپاره عملي امکانات برابر او خپلې پېرزوينې يې راباندې ولورولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عزم جزم

پـــــس لــــه بنـــــده دی داعـــــزم
دخوشـــــحال دخـــــاطر جـــــزم
يـــــا نيـــــولی مـــــخ مکـــــې تـــــه
يـــــا مغولـــــو ســـــره رزم

دخوشحال بابا داشعر مې سم زده ندی ممکن غلط کړی مې وي خو زما له ليکنې سره يې ربط يا داصوليينو په وينا ، ترجمة الباب دادی چې ما هم نور مکې ته دمخ کولو عزم (هوډ) جزم (پرېکنده )کړ.

که څه هم حج ته د نوم ليکلو او پچه اچولو وخت تېر او ډېره ناوخته وه ، لسـتونه پـوره او ظـاهراً د نويـو مراجعينـو پـر وړانـدې دروازې بنـدې وې، محترم مولوي عبدالسلام ضعيف ته مې وويل چې ښاغلي ملا عبدالحکيم منيب ته چې دامهـال د حـج او اوقـافو وزارت مرسـتيال و سپارښـتنه وکـړي چې که امکانات ور سره وي ماته دحج زمينه برابره کړي ، ښاغلي منيب زما پنځلس کلن ملګری هم دی او تر اوسه يې سره پالو ، خوزما ، نـه پـوهېږم يـو ښه اوکه بد خوی دادی چې ځانته د څه شي په غوښتلو کې ډېر کم جرئتـه يـم ، خو ددوستانو لپاره دوستانو ته په پوره ډاډ واسطه کېږم.

منيب صاحب يواځې زما نه، بلکې د ډېرو دوستانو پـه درد خوږلی او پـه هره ستونزه کې يې ورسره مرسته کړېده که څه هم د ملګرتيـا او پېژندګلوۍ په دې پنځلس کلنه موده کې مـا د ځـان پـه اړه د منيـب صـاحب منفي ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ندی اوربېدلی خو ددې لپاره چې حج ته دتللو درسمي مراحلو وخت تېر و نو و مې نه غوښتل چې منیب صاحب په مخامخ ډول له ازموینې سره مخ کړم چې که امکانات ورسره نه وي نو مابه هم خفه کولی ونشي او خفه به وي،ما ویل راځه ضعیف صاحب ته د زړه حال ښه ویلی شي ، دحج او اوقافوله سرتمبه وزیر یوسف نیازي سره دده له نزاکت څخه هم خبر وم،منیب صاحب دټېلیفون له لارې ضعیف صاحب ته وویل چې راویې لېږه زه خپل کوښښ کوم.

سبا دکابل پوهنتون پخوانی رئیس مولوي پیر محمد (روحاني) هم زما خواته زموږ دفتر ته راغی د هغه هم له منیب صاحب سره کار و دواړه د حج او اوقافو وزارت ته د منیب صاحب د فتر ته لاړو ،له روغبړ او سلام څخه وروسته یې ماته وویل چې ولې ما او تا نه پېژندل چې ضعیف صاحب ته دې زحمت ورکړ؟ کله چې ما خپله د زړه خبره ورته وکړه سړی مسکی شو ویې ویل زه به ډېر کوښښ وکړم چې تاته چانس برابر کړم ،هغه وویل د حکومت دېرش زره سهمیه پوره ده خو سعودي ،افغان حکومت ته د پنځو زرو نورو حاجیانو سهمیه ورکړېده حکومت هم د قرعې له مخې دا حاجیان پر خصوصي سکتور یا شرکتونو وېشلي دي دلته که کوم چانس وي لومړی به تا ورمعرفي کړو.منیب صاحب په خپل سکرتر سپین کاغذ راوغوښت ، کاغذ یې ماته راکړ چې دوزارت په نوم یوه عریضه ولیکم ماهم وزارت ته د حج عریضه ولیکله او لاسلیک مې کړه منیب صاحب اړوندې شعبې ته د اصولي اجرائاتو لپاره ولېږله د اړوندې څانګې مشر ته یې ډېره سپارښتنه وکړه ،په تاکید یې ورته وویل چې ماته کوم اصولي لاره برابره کړي له شرکتونو سره د ارتباط مسؤول ډاډ راکړ چې دی به وګوري له کوم شرکت سره امکانات شته چې ما ورمعرفي کړي، درې ورځې وروسته یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټېلیفون خبر راکړ چې د سیروسفر بامیان په نوم له یوه شرکت سره یې خبرې کړي هغوی ورته ویلي چې د یوتن امکانات لري هغه، همدا راز راته وویل چې ددې شرکت مسؤولین ورسره ناست دي، له مایې وغوښتل چې دفتر ته ورشم چې له دې مسؤولینو سره مې پېژندګلوي وکړي، کله چې دفتر ته ورغللم د شرکت یو تن مسؤول چې ډېره او بربت یې تازه خرېیلي وو له ما د ځای پوښتنه وکړه کله یې چې له ما ننګرهار واورېدل نو د وزارت د شرکتونو د مدیریت له مشر سره یې جنجال پیل کړ چې زموږ سهمیه د هرات او بادغیس ده که موږ د ننګرهار حاجي ته هم سهم ورکړو نو له نیوکو سره مخ کېږو او د هرات خلک هم خفه کېږي بل دا چې دی پښتون دی او زموږ او زموږ د حاجیانو ژبه فارسي ده، دی به زموږ او موږ به دده په خبره نه پوهېږو له یو بل سره به په ستونزو اخته یو ، دی ولې د ننګرهار په سهمیه کې نه ته ..... دې ته ورته پلمې یې کتار کړې په داسې حال کې چې وروسته ماولیدل له دوی سره ځلبرویشت تنه د کابل او آن دلوګر کسان تللي و .خو مدیر چې خپله هم دري ژبی و او ما ورسره مخامخ او په ټېلیفون څو ځله خبرې کړې وې ورته وویل چې دده فارسي تر ما او تا قوي او ښه ده د شرکت مدیر سید نصیر د کابل د چهار دهي او مرستیال یې حاجي عبدالله د بامیانو او سپدونکی وو، حاجي عجب شاه ورته وویل چې حقیار دیني عالم دی کله کله یې په تلویزیون وینم چې دیني مسائل هم بیانوي دی به ښه درته په درد وخوري ، ده چې زما په اړه د دیني عالم جمله واورېده نو نور هم وارخطا شو ، جنجال او غالمغال یې ډېر کړ رنګ یې واوښت زه حیران شوم چې دوی ولې زما له تللو سره دومره جدي مخالفت کوي، ښایي عجب شاه به یې په لامل پوه وو خو زه وروسته او په تدریجي ډول ددوی د مخالفت پر عواملو پوه شوم چې پخپل ځای کې به یې پر بحث وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی غالمغال او په رسمي شعبه کې دومره بې نزاکتۍ زه هم بې حوصلې کړم عجب شاه ته مې وويل نور ټينګار پرې مه کوه، له دې بې نزاکتو سره زه هم نه ځم، دوی ته مې په غوسه وويل چې تاسو فارسي په کورکې زده کړې او ما په کابل ښارکې د ژوند ترځنګ د فارسي نظم ګڼ کتابونه هم لوستي ، دوه کاله په هرات کې عمومي رئيس وم، چې غور ،بادغيس ،هرات ،فراه او نيمروز ټول زما اړوند و ، هلته له ماسره ژبارن نه وو، لسګونه فارسي مقالې او شعرونه لرم،زما پټکو دوی لږ ارام کړل زه را پاڅېدم خو حاجي عجب شاه بېرته کېنولم،دوی ته يې وويل چې په نيمه نه پوهېږئ د وزارت نيم چارواکي دده ملګري ،ټولګيوال او شناخته دي،احترام ورته لري،تاسې بله لار نلرئ.

ماته هم رسماً مشرانو را پېژندلی دی له بل چا سره ځای نشته دنورو شرکتونو لستونه راغلي او مهرشوي هم دي ،يواځې له تاسو سره ځای شته دی ، کله چې دوی له چارواکيو سره زما د بلدتيا او ملګرتيا خبر او د حاجي عجب شا سپينې خبرې واورېدې نو يخې اوبه پرې تويې شوې، په اتومات ډول يې حرکات او لهجه بدل شول : (دازموږ د سر سترګې دی ان شاء الله موږ به يې هم و نازوو او درناوی به يې وکړو ماته يې مخ را واړوه (استاد جان موږ همدا يوه ورځ لرو همدا نن بايد پنځلس قطعې عکسونه ،تذکره او پيسې موږ ته وسپارې تاته بانک ته د تللو زحمت نه درکوو، زموږ منشي به دې پيسې بانک کې تحويل کړي، او رسيد به درته واخلي).

دخپل ټيليفون نمبر او ددفتر ادرس يې راکړ، زما عکسونه او تذکره راسره په کمپيوټر کې وو خپل همکار رفيع الله روشن ته مې ټيليفون وکړ چې عکسونه او تذکره مې پرنټ کړي زه پيسوپسې لاړم په همدې ورځ ما سپينسين مې تذکره عکسونه او پيسې ورکړې، د پيسو رسيد مې ترې

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخست ، سید نصیر راته وویل چې زموږ ټېلیفون ته په تمه اوسه ،له روانېدلو درې ورځې وړاندې درته ټېلیفون کوم.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تر هوايي ډګره په ټکسي کې يواځې

د ۲۰۱۰ زېږديزکال داکتوبر نهه و يشتمه چې د۱۳۸۹ هـ لمريز د لړم له پنځلسمې سره يې سمون درلود ، د پنجشنبې ماښام و له تايمنيو دکابل په لويديځ کمپنۍ کې خپل کور ته روان وم چې ټېليفون مې وشرنګېد ، له اورم سره جوخت مې له هغې خوا د سيد نصير غږ واورېد ،موټر مې د سړک غاړې ته کړ، له سلام او روغبړ وروسته يې راته وويل چې د شنبې په ورځ لس بجې له هراته سعودي ته زموږ الوت دی او سحر اوه بجې بايد په هوايي ډګر کې واوسو نو ته بايد سبا (جمعه) هرات ته ځان ورسوې، ما ورته وويل تا خوله ماسره ژمنه کړې وه چې له روانېدلو به دې درې ورځې وړاندې خبروم زه خو اوس سفر ته هېڅ چمتووالی نلرم، سودامې نده کړې ، کارونه مې ګډوډ دي.بل دا چې که زه سباته هرات ته ټکټ ونه مومم نو څنګه به کوم خو هغه همدا خبره کوله چې کام آير راته د شنبې ورځ ټاکلې او ماته يې هم همدا څو دقيقې وړاندې خبر راکړی دی، بله چاره نلرو ما ترديې دمه حج ته د تللو په اړه له خپل پرېکنده تصميم څخه له خپلې مېرمنې پرته نورهېڅوک هم نه و خبرکړي ځکه چې نه مې غوښتل د نورو په خبرد موټروکتار راپسې وي،لسګونه دوستان له کاره وباسم او آن تر هوايي ډګره مې بدرګه کړي،ما غوښتل که ممکنه وي چې په تللو مې له خپلې کورنۍ پرته نور هېڅوک هم خبر نشي، له دې کاره مې څو موخې وې : نه مې غوښتل چې په عبادت کې مې ريا راشي.

رسول الله (ص) فرمايي: چې الله(ج) هغه عبادت نه مني چې ان د ذرې په اندازه ريا هم پکې وي، ددوستانو له کاره وېستل ،زما تر رخصتولو پورې انتظار ، د

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل په یخنۍ کې دلته څو شپې کول، د بې ځایه لګښت مخنیوی ، ددې ناسم دود مخنیوی چې حاجي باید هرو مرو دموټرو په کاروان بدرګه او رخصت کړل شي.

ما غوښتل چې زما عبادت او سفر باید یواځې او یواځې دالله(ج) د رضا او خوښۍ لپاره وي، زه د حاجیانو ددرناوي او احترام مخالف نه یم ،د هر نېک عمل هر کلی او تشویق نېک کار دی، هر نېک کار او نېک عمله شخص محترم او دستاینې وړ دی،خو په افغانستان کې چې دې دود کومه افراطي او ریایي بڼه خپله کړېده واقعاً د غندنې وړ او نا روا کار دی،دا ناسمه سیالي ده چې د اسلامي ټولنې لپاره هر اړخیز زیانونه لري.

زما له روانېدلو یوه اونۍ وړاندې زما ، ماما حبیب الرحمن استاد له جلال اباد څخه حج ته ته، ما ورته وویل چې ډېر دوستان به نه په تکلیفوو ، زه به دې کابل ته ورسوم او ترڅو چې له عیدګاه څخه هوایي ډګر ته روانېږې . زه به درسره یم هغه هم راسره ومنله ،ما خپل موټر ګلپوش هم نکړ، دهغه سامان مو د جلالاباد په قصبه کې د هغه له کور څخه په موټر کې ور واچاوه له کوره څخه یواځې څلور تنه را ووتو موږ، د سره رود ولسوالۍ اړوند دنظرآباد په کلي کې چې دکابل جلا لآباد پر لویه لار ه پروت او زموږ خپل کلی دی ، باید په یوه ختم کې ګډون کړی وای ،کله چې دوستان زموږ له قصد څخه خبر شول نو مخالفت یې وښود ،(ولې حبیب الرحمن خو بې څوکه ندی،چې یواځې به ځي، یوه ورځ دې ورسره له کاره ووځو ،حج خو هره ورځ نه وي ، زما شرعي استدلال ددوی د منطق او کلیوال استدلال په مخ کې چانه اوربېده ،لکه غریب ملا ، چامې په اذان لمونځ هم ونکړ، ساعت وروسته چې کابل ته روان شو ، نو پنځوموټرو حرکت وکړ چې یو ګلپوش موټر هم پکې و.ماما مې هم هغوی همدې موټر ته کش کړ. له ماسره په موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې زموږ بل ماما نصرالله ناست وو، پدې وخت کې زما دحج کار هم یقیني شوی وو ما هغه خبر نکړ خوورته و مې ویل چې که الله ج په حج کې زما نصیب هم کړ نو وبه ګورې چې هوایي ډګر ته به یواځې لاړشم، کله چې له حج څخه راستون شوم نو زموږپه ختم کې هغه هم ګډون وکړ په خندا یې راته زما خبره رایاده کړه ویل یې ستا خو په دې خبره کې چل وو ،زه هسې پوهـ نشوم ،ته خو رښتیا پټ لاړې او پټ راغلې.

له سید نصیر سره له ټېلیفوني خبرو وروسته مې لومړی خپل پلار ته ټېلیفون وکړ، هغه په همدې ورځوکې دیخنۍ له امله له کابل څخه جلا ل اباد ته تللی وو،له سلام وروسته مې ترې وغوښتل چې سبا کابل ته راشې ،هغه راته وویل چې یوخو،له کابل څخه اوس راغلی یم او بل یخ دی څه مې کوې؟ اخر اړشوم چې ورته حال ووایم خو دا شرط مې پرې کېښود چې د ورونو په شمول به مې هېڅوک هم نه خبروې ځکه چې په راتللو به تکلیف کېږي، دوهم ټېلیفون مې معلم میرعثمان ته وکړ،میرعثمان زما سکه کشری ماما او ملګری دی، که څه هم رانه مشر دی خو مادده مشري هېڅکله هم په رسمیت نده پېژندلې ،تل دهمزولو په څېرټوکې کوو،چې کوچنی وم هر وخت یې را څملولم ،کله کله به یې وار اوګوذار هم راباندې کاوه ، بده لا داچې کله کله مې د مېرمن ،بچیانو او ملګروپروړاندې اوس هم راباندې وار کوي او اوس چې دلمسیانو خاوند دی هم له خپل عادت او شوخۍ څخه ندی اوښتی، خواوس پرې زه قوي یم ،ډېر راته ګران دی نو موږ هم دامهال په کابل کې و ،ده ته مې له وېرې ټېلیفون وکړ ما ویل وروسته خوخبرېږي ،بیابه په غوسه وي،هغه هم دشپې زموږ کورته راغی .

دجمعې په ورځ راته ډېر کارونه پر غاړه وو ،د اخبار د ډیزاین چک کول، دټېلیفون دنمبروکتابچه مې زړه شوې وه ،نمبرې او نومونه راته رفیع الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



(روشن) او امیرزېب (دراني) پخوا کمپوز کړي وو دا باید په جېبي بڼه ډیزاین، صحافت او کلک پوخ ورکړل شوی وای، سفري بیک ،د احرام څادرونه،چپړې،او د سفرنور لوازم مې یوهم نه وو او په بازارکې یې پېرل غوښتل تر ټولو مهمه دا چې ما باید په همدې ورځ هرات ته هوايي ټکټ موندلی اونن مې هرات ته هم ځان رسولی وای.

د جمعې په ورځ سحر مې په کور کې چای وڅښه ،ماما مې ډېر اصرار وکړچې تر هوايي ډګره مې ملګرتیا وکړي خو ما ورسره ونه منله او خپل کارته مې رخصت کړ.

لومړی د محاذ دفتر ته ولاړم خپل ملګري قاضي نورحسن (بدوي) چې دامهال د شمشاد تلویزیون د دیني خپرونو مسوول و او خپل زوی طارق ته مې د سودا لست ورکړ هغوی مې سودا پسې ولېږل او زه وزیر اکبر خان ته ولاړم، له څه شېبه ګرځېدو وروسته مې په پنځه سوه افغانیو لوړې بیې (۴۵۰۰) افغانیو د پامیر هوايي شرکت د غرمې د دولسو بجو دالوتنې ټکټ تر لاسه کړ، دکابل د هوايي ډګر د اصولو له مخې زه باید لس بجې له خپل سامان سره په هوايي ډګر کې حاضر وای ، له وزیر اکبرخان څخه تایمنو ته لاړم د دولس مخه اخبار د محتوی او ډیزاین کتل او سمول هم اسانه کار ندی.

زما له نصیبه زما تکړه مرستندوی او ښي لاس رفیع الله (روشن ) هم د جمعې په رخصتۍ د پنجشنې په ورځ مازیګر کور(لغمان )ته روان شوی و .

پاوکم یوولس بجې وې چې د اخبار له کاره اوزګار شوم او د ټېلیفون کتابچه مې هم چمتو شوې وه .له تایمنیو په نوي سړک دهوايي ډګر هغه سړک ته ووتم چې دا ډګر له تایمنیو او بالاخره له کانټیننټل هوټل سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننبلوي، دجمعي ورځ وه بیروبار هم کم و په لس دقیقوکې هوایي ډګر ته ورسېدم خو قاضي بدوي صاحب او طارق لا نه وو را رسېدلي، په ټېلیفون یې ډاډ راکړ چې هغوی هم را نږدې دي، دوه دقیقې تېرې نه وې چې له ټکسي رانښکته شول، دهوایي ډګر په څلور لارې کې مې ترې بیک واخست له دوارو سره مې خدای پاماني وکړه طارق ژړغونی شو، نږدې وه چې زما زړه هم نری کړي خو ژر مې مخ واړوه پر لاره شوځایه زه او بیک دواړه تالاشي شوخو چې کله به مؤظفینو دکورني پرواز (الوت) خبرله ما واورېده نو تالاشي به یې سسته کړه.

## هرات که د افغانستان دوبۍ

ما په هرات کې خپل یوه ملګري غلام حبیب سیفي ته ټېلیفون وکړ او هرات ته مې له خپل تګ څخه خبر کړل، هغه د الوت او هلته د وررسېدلو وخت وپوښت خوله بده مرغه نه د افغانستان دولتي الوتکې اونه هم د خصوصي شرکتونو الوتکې په خپل وخت الوځي، موږ هم پوره یو ساعت وځنډېدو یوه بجه الوتکه والوته او دوه بجې په هرات کې کښناسته.

په الوتکه کې مسافروته یوائې یو کوچنی بوتل اوبه ورکړل شوې او بس، دخوړو او شربتونو درک هم نه وو.

دسفر دومره نږدې واټن، دومره لوړه کرایه او دمسافرو په اړه دومره بې اعتنایي واقعاً سړي ته شهر ناپرسان وریادوي .

کله چې له ترمینل څخه ووتم ګورم چې څلورتنه ملګري راته ولاړ دي چې دریویې یوله بل سره نه پېژندل حیران شوم چې دانور چا خبر کړي وو ډېر مې راټینګ کړل خو حال یې راته ونه ویلې ، له سلام او روغبړ وروسته غلام حبیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیفي له هغو نورو وړاندې شو زما بیک یې له هغه موټر څخه را واخست، چې کارګوله الوتکې بهر لېږدوي، او د خپلې سپیني کرولا شاته سېټ کې یې کېښنود.

هغو نورو ملګرو په ټینګه ورته وویل چې دی به زموږ سره لاړشي، خو خدای ج دې هر مسلمان د غلام حبیب له ضد څخه ساتي.

د غلام حبیب دوی کور د هرات ښار په زړه کې ارګ ته نږدې د خرقې د جامع مسجد څنګ کې دی، دا هغه مسجد دی چې د طالبانو په وخت کې داکټرو کتونکیو په باور ایراني استخباراتو ،یوا ځینی سني لوی عالم ملا موسی پکې شهید کړ،ملا موسی په ایران کې د سنیانو د حقوقو غوښتونکی و په همدې جرم !!ایران هغه فرار او بالاخره همدلته په داسې حال کې شهید کړ چې د جمعې له لمانځه راووت.

د غلام حبیب دوی په کورکې له چای څښلو وروسته په پاتې سودا پسې ووتو له سودا وروسته د ازادۍ باغ ،ملت پارک،د صفرتخت ،د حضرت مولنا عبدالرحمن جامي، امام فخرالدین رازي،ګوهرشاد بېګم او د حضرت خواجه عبدالله انصاري زیارتونو ته لاړو ،د ماښام لمونځ مو په تخت صفرکې وکړ او ماسخوتن کورته لاړو.

هرات د افغانستان له اداري واحدونو څخه لومړی درجه واحد دی او د قانون له مخې پر نورو لومړی درجه ولایاتو کوم فوق العاده لوړتیا او امتیاز نلري.خو که څوک هرات د افغانستان له نورو لومړی درجه ولایاتو سره پرتله کړي نو حیران به شي ، هرات دومره پرمخ تللی او دومره کار ورته شوی چې اصلاً څوک پرې د افغانستان دیوې برخې باور نشي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې پارکونو کې ډول ډول ګلان او نور د تفریح وسایل ،هغه هم لویانو ته بېل او کوچنیانو ته بېل ،لوی حوضونه ،فامیلي مېلې د خلکو پام ځانته اړوي، غلام حبیب راته وویل چې دلته خلک له خپلو کورنیو سره راځي د شپې تر دوه بجو ښځې او نارینه مېله کوي.

په دې ورځ هم سلګونه ښځې او انجونې راغلې وې هراتۍ انجونې د ایران په تقلید چل کوي ، ددوی کورنۍ جامه دومره تنګه او نازکه وي چې ځینو ته یې اروپایان هم نه رسېږي پتلون او کوبای هم اغوندي، خوچې کله بهرځي نو بیا پرې لوی څادر واغوندي، دا جامه پټه کړي ته به وایي چې خیر او خیریت دی او درنه جامه یې پر تن ده.

دهرات ښار سړکونه دوطرفه او ښه لوی دي،په ټول ښار کې خام سړک نه لیدل کېږي ،آن لېرو ولسوالیو ته هم څلېرویشت ساعته برېښنا تللې ده ،په سلګونو فابریکې پکې فعالې او خلک پکې بوخت دي.

هرات نن د افغانستان ستر سوداګریز او صنعتي ښار دی،په هرات کې دبیا رغونې دا کارونه اسماعیل خان په هماغه وخت کې کړېدي چې دلته په ننګرهار کې حاجي عبدالقدیر او حاجي دین محمد والیان وو ،دهرات په ودانولو کې هم د ګمرک او ولایت عواید کارول شوي او د حاجي عبدالقدیر او حاجي دین محمد په واک کې هم ترهرات مهم ګمرک او ولایت و.

په ننګرهار کې ددوی د حاکمیت پرمهال ډېر کم کاروشو چې له هرات سره هېڅ د پرتلې وړ ندی خو په هرات ښار کې د اسماعیل خان په واکمنۍ کې یوانچ سرک هم خام پاتې نشو ، دلته نو د الفت صاحب شعر د انسان سترګو ته نبغ ودرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر تفاوت دی په انسان کې د معنی په لحاظ
واړه لګيادي ځينې ځان ځينې جهان جوړوي

داچې په ننګرهار کې ولی کار ونشو، چا ونکړ. مهم او دی‌اد وړخنډونه کوم و، اوايا داخنډونه له منځه تلل او که نه، ولس د دې خنډونو مقابله کولی شوه او که نه، له ولس څخه د دې خنډونو د مخنیوی لپاره ولې مرسته ونه غوښتل شوه، هرات ولی جوړ پاتې او ننګرهار چور شو... ښايي حاجی صاحب دین محمد يې چې یو دروند او ولسی مشر دی دیوې لیکنې په ترڅ کې ځواب ووايي. داچې د حاجی صاحب دین محمد او حاجی عبدالقدیر دولایت پرمهال ولی ننګرهار ته کافي خدمت ونشو په دې اړه له ننګرهاریانو سره څه اندېښنې شته او څومره چې زه خبر یم له حاجی صاحب دین محمد سره کافی دلایل شته او وس يې لیکوالی ته هم مخه کړې ده، ښه قلم هم لري ښايي د خپلو خاطرو لیکلو په ترڅ کې دې اندېښنو ته هم ځواب ووايي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

## الانتظار اشد من القتل

د شپې مې سيد نصير هرات ته له رارسېدو خبر کړ، هغه راته د محمد عارف په نوم د دوی د يوه شريک د ګرځنده ټېلېفون نمبر راکړ محمد عارف ته مې ټېليفون وکړ هغه راته ادرس راکړ ويل يې سبا اته بجې دفتر ته راشه، سبا چې کله د دفتر مخ ته ورنږدې شوم ګورم چې لسګونه حاجيان د دفتر مخ ته راټول شويدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد عارف راته وویل چې دکام ایر دهوایي شرکت اوزموږ دتوافق پر بنسټ همدا نن ماښام اوه نیمې بجې زموږ الوت ووخو

ستونزه داده چې دهرات په هوایي ډګر کې مېشت بهرني پوځونه هېڅ افغاني الوتکې ته اجازه نه ورکوي چې دمازیګر له پنځوبجو وروسته دسحر تر اوو پورې دهرات په هوایي ډګرکېښني او یا ترې والوځي، کام ایر شرکت له دوی سره داخبره سپینه کړې نه وه ځکه یې زموږ دنن ماښام داووبجو الوت ته اجازه رانکړه اوس موږ منتتظریوچې له سره الوتنه تنظیم شي،حاجیانو چې ترې خپلو کور ونوته دتللو اجازه وغوښته پردې دلیل یې اجازه ورنکړه چې کېدای شي موږ ته نن یا سبا د الوتنې خبر راشي، نوبیا خودهرات له لېرې ولسوالیو اوبادغیس څخه ستاسو رارسېدل ممکن ندي نو ځکه باید تاسوله ښاره ډېر لېرې لاړ نشئ ،موږټول ددوی غږته په تمه وو هر سحر به حاجیان دشرکت مخ ته راټولېدل، یوساعت ،دوه ساعته به ناست وو خومثبت ځواب به یې نه موند.

حاجیانوبه مسؤولینوته ویل چې موږپه هوټلونوکې اوسو، کومې پیسې موچې دحج د خرځ لپاره را اخستې وې دلته یې لګوو ،په خپل ولایت کې موله کورونومسافر کړي یویا موږ ولېږئ او یا اجازه راکړئ چې خپلو کورونوته لاړشو هر کله موچې د الوت نېټه کوټلې وټاکله نو په ټېلیفون موخبر کړئ، خو دمقابل اړخ استدلال دا و چې حاجیان اوس راټول شوي او که یو ځل خپاره شول بیایې راټولول سخت کار دی،دوی به ویل چې دځینو حاجیانوپه سیموکې ټېلیفون کار نه کوي،که اوس یې رخصت کړو بیایې څنګه را خبر کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور په هرات کې اته ورځې ایسار پاتې شو ،هره ورځ به سحر اته نیمې بجې شرکت ته ورتللم څو شیبې به ناست وم بېرته به راووتلم .د شرکت مسؤولینو ددې لپاره چې حاجیان بوخت وساتي خپل دحج په ښوونکي هر سحر ددوی حاضري اخسته او دماښام او سحر وعدې یې ورکولې.

## څه موده د یاسمین په رول کې

ما پوره وخت درلود چې په هرات کې خپل دوستان ووینم،شرکت دحج او اوقافو په ریاست پېژند لیک راکړ چې واکسین راته وکړي یوولس نیمې بجې وې ریاست ته ورغلم ګورم چې واکسین ته دحاجیانو لوی کتار ولاړ دی ،په همدې وخت کې مې ټېلیفون وشرنګېد له اورم وروسته مې له هغې خوا دبي بي سي رادیو ددري او پښتو سروېس دتکړه خبریال(س اغا) غږ واورېد. (س آغا) اصلاً دشمال او سېدونکی او دیوې مجاهدې او شهید پالې کورنۍ غړی دی، تره یې په تخار کې دحزب اسلامي افغانستان مشهورقوماندان وو چې دمجاهد ډوله سکتارستو او ائتلافي کړیو لخوا په شهادت ورسېد دهجرت او جهاد په چاپېریال پېښورکې مې هم پیژنده له رسنیوسره یې کارکاوه په سهار ورځپاڼه او شهادت ورځپاڼه کې یې هم ډېر کار کړی دی او په پژواک کې څو کاله یوځای وو ښه ګپ مو برابر وو.

ټوکې ټکالې یې وکړې (رښتیا ووایه حج ته ځې او که سیاحت ته؟ دوبۍ ته روان یې او که ؟ (س اغا) ډېر ښه هلک یا سړی دی دوخت ښه قدر کوي په چټ کې چې کله انلاین وي ځان bussy (مصروف) ښیي ، زه اونور دوستان چې کله پرې غږ کوو نو یا خو ځواب نه راکوي او که رایې هم کړي دخپل وخت ډېر احسان راباندې باروي خو اوس داسې ندی .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



مابه تل ورته ويل چې اغا صاحب دومره بوخت هم نه يې خو هسې پر موږ ځان لوړ پلورې او مهم يې ښيې .

زه كه تاسو ته د ښاغلي(س اغا)نوم نه وايم ياپې نښې درته نه ښيم لامل يې داندى چې ګوندې ترې وبربږم ،هغه كه هرڅومره قوي دى خو ماداسې درس وركړى چې ماخو پربږده ،بلكې دهرملګري پرورانددې يې مات وبولئ، اوس چې ما ،زموږ اوستاسو ټولو دګډ كبرجن ملګري (س اغا) كبر او غرور مات كړى او په اصطلاح پخپل رنګ كې مې كوټ وركړى نو حق لرم چې مننه رانه وكړئ او افرين راته ووايئ كه نه ، ستابه ورسره ضرور كار وه ،غږ به دې پرېږې وكړ،ده به په انټرنېټ كې هاكې كوله خو تاته به يې ويل:( فلانى صاحب وبخښه ډېر بوخت يم)

يومشرراته كيسه كوله هغه مهال چې شهيد موسى شفيق دافغانستان صداعظم وو نوننګرهار ته راغلى و اودلته په انګورباغ كې دكانال لاندې كوم كور كې اوسېده( دننګرهار كانال په لوړه او داكور ترې ډېر ټيټ دى ) نوموږ ډېر مشران ورغللو ، عسكر ته مو له هغه سره دكتنې وويل ، هغه ننووت اوبېرته راغى موږ ته يې وويل چې شفيق صاحب اوس نشته خو ژرراځي، خوښه مو چې دلته مېلمستون كې كېنئ او كه نيم ساعت وروسته راځئ، موږخپلو كې وويل چې ځئ دانيم ساعت به د كانال اخوا دهډې په فارم كې وګرځو بېرته به راشو ده وويل چې كله دنهر سرته وختو نو لاندې كورترې ښكارېده ګورو چې شفيق صاحب له يوې انجلۍ سره بدمنتون لوبه كوي .

دنه معرفي كولو يولامل خو يې دادى چې پخپله يې ډېر عذركړى دى ، دهمدې لپاره يې مېلمستياوې منلې چې چاته يې ونه ښيم ، بل داچې احمدضيا رحيمزي خوارشوي اخطارراكړى چې كه داسرى رسوا كړې نو ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارواښاد مولوي صاحب خالص په وینا (هغه یو جهادي رهبر ښودلی وو
)

رحیمزی داور پرتوګ دی چې که اغوندې یې سوځوي دې او که نه یې اغوندې نو بې سیرته کېږې .

هغه مهال مو چې په پژواک کې ګډه کار کاوه نو یوځل پر رحیمزي زما یوې ټوکې بد اثر کړی وو په ډېره غوسه یې دهمکارانو په مخ کې راته و ویل چې والله که رانه خلاص شې له دفترخخه بهر مې( دکورنیو چارو وزارت مخ ته) ستا وهلو ته درې تنه کېنولي پرکومې به لاړ شې؟

له هماغې ورځې راهیسې ترې وېرېږم .

هیله کوم ،ناځوانه مې مه بولئ او مه مې پردې ملامتوئ چې ولې درته دځوانانو خصوصي بنډارونه رسواکوم او یا دخرابات دکوڅې رازونه درسره شریکوم که تاسو هم زما پرځای وئ نو هرومرومو دزړه دادرد له ملګروسره شریکاوه .ښاغلیه نقاده !دا اسانه خبر نده چې ستادې له خپل یوخوږ ملګري سره ضرورکاروي اوځوځو ځله دې په چت کې پرې غږوکړې خوهغه دې یا ځواب نه درکوي او که دریې هم کړي نو همدومره وي ( فلانی صاحب وبخښه بوخت یم)؛ خو له یوې خیالي او رومانتیکې انجلۍ،سره دې په چتنګ کې ساعتونه ساعتونه ګپ لګوي.

کېدلی شي چې پخپله تاسې هم د(س اغا) ددې بې تفاوتۍ قربانیان یاست او زما ددې لیکنې په لوستلو مو دزړه تناکې وچوي .

د(س اغا) دې بې غورۍ زما حوصله تنګه کړه آخر مې ورسره یو چل وکړ ماویل هغه د میراوس خبره راځه په ناګومان یې راتاوکړه ،ده په هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې تازه پژواک پربښې و ، د یاسمین په نوم مې یوه ای ډي (ایمیل ادرس) جوړ کړ، په ګوګل کې مې دیوې ایرانۍ ښکلې انجلۍ عکس وموند او په Google talk کې مې دعکس پر ځای ولګاوه ،په دې خاطر چې (س اغا) راباندې پوه نه شي نو لومړی مې له همدې ادرسه خپل ملګري احمدضیا رحیمزي ته بربښنالیک واستوه. رحیمزي او مادامهال په پژواک کې یوځای کارکاوه

هغه ته مې وویل چې زه ستا ډېره ارادتمنده یم ،ستا مضامین او مرکې مې په نیټ کې لوستې . . . زه پوهېدم چې هغه هره خبره له (س اغا) سره شریکوي، هغه همداسې وکړل زما دا ای ډي یې (س اغا)ته فارورډ کړې وه .
اوس چې څوک رحیمزي ته ساده وایي نو ماته پخپله هماغه ساده ښکاري ځکه چې د ښېښې له رسوایۍ وروسته یې راته وویل چې ماته دالیک په هماغو لومړیو کې مشکوک او په اصطلاح قابل تعمق ښکاره شو ځکه چې دې انجلۍ راته لیکلي وو چې زه ستا په مضامینو او مرکو مئینه یم او ماخو کله مضامین لیکلي ندي نو انټرنیټ ته مې څه ورکړل او دې څه شی ولوستل چې پرې عاشقه شي ،ځکه مې ډېر ورسره ځان ونه مښوده او احتیاط مې کاوه .

(س اغا)سمدستي ماته داسې آیمیل راولېږه چې ډېر احترامانه او ادبي الفاظ یې کارولي وو ، هیله یې کړې وه چې په په ګوګل ټاک کې یې له ځان سره add (ثبت) کړم همداسې وشول له یوبل سره مو ځانونه add کړل ماهغه ته ځان ایراني الاصله کویټۍ او دیوه شتمن سوداګر لور وروپېژندله ،ورته مې وویل چې اوس په کابل کې دیوناما په دفتر کې کار کوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر به ورسره په فارسي، کله عربي ،کله اردو او کله کله په انګلیسي غږېدم، زما انګلیسي، او اردو دومره قوي نه او د (س صاحب) ډېر قوي دي خوبیا هم هغه مې تېر وېستلی شو ځکه چې عاشق ړوندوي.

دیاسمین او (س اغا) چټ به کله کله دري نیم سوه کرښې هم شو هغه به زما (یاسمین )د واده، عمر ،زده کړې زوکړې او کورنۍ په اړه ډېرې پوښتنې کولې کله کله به یې وپوښتل چې داعکس پخپله ستادی ؟ هغه به په کابل کې زما دټېلیفون نمبر وغوښت، په ډېرې عاجزۍ به یې له ماسره له نږدې لیدل غوښتل خومابه په نن او سبا اوګڼوپلمو لکه ددفتر لخوا داجازې نشتون اونورو قیوداتو ځان ترې خلاص کړ،کله کله به شکمن شو ،خوکله به چې زه نېټ ته ناست نه وم یابه چېرې لېرې تللی وم،نوبیابه مې پاسورډ ډېر چالاکه اوحاضر ځوابه شخص لیکوال اوادیب نعمان دوست ته چې هغه دچاخبر داوو... سرونه یې ګرولي دي ورکړ ،هغه مې په دسیسه خبر کړی و او ورسره به لګیاوو ، کله کله به مې دیاسمین په ادرس ورسره یو ساعت ګپ لګاوه، خوچې دهمدې ګپ په جریان کې به مې دحقیار له ادرس ځخه پرې غږوکړ نو یاخوبه یې هېڅ ځواب نه راکاوه، اویابه یې یوه جمله ولیکله (حقیارصاحب وبخښه بوخت یم) دې ډرامې ډېر وخت دوام وکړ، ډېرې صحنې بدلې شوې، ډېرپرمختګ مووکړ.نږدې وو چې دوبۍ ته راپسې راشي . ځکه ماورته یوځل وویل چې اوس په دوبۍ کې پسرلی او دتفریح وخت دی او زه دلته له کورنۍ سره تفریح ته راغلې یم که وخت لرې دلته راشه یوبل به ووینو ،ګډې مېلې به هم وکړو ، هغه هم راسره ومنله خو له بده مرغه دا ډرامه لا بشپړه شوې نه وه چې رحیمزي ځوانیمرګ دزدبه پښتاره (پنډې په شاغل) په داسې حال کې چې له (س اغا)سره مې له همدې ادرسه چټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه ونیوم او هغه ته یې زنګ وواهه. له هماغه وخته،یې راته سترګې خړې دي.

(س اغا)له ایټالیاڅخه د هرات له لارې کابل ته روان و هغه له ماخبر نه وکله چې په هرات کې له الوتکې ښکته شوی و نو رحیمزي صاحب ته یې فون کړی و ،هغه ورته په هرات کې زما د شتون ویلي وو، (س اغا) راته وویل چې غرمه د بي بي سي دفتر ته راشه، چې ګپ ولګوو، ماچې وکتل د واکسین نمبر هم لېږلی دی او ډاکټران غرمنۍ ته رخصت هم کوي نو ورسره مې ومنله په هرات کې د بي بي سي خبریال محمد قاضي زاده، چې زما پخوانی ملګری هم دی په ټېلیفون راته وویل چې د مخابراتو د ریاست په کوڅه کې زموږدفتر دی ته چې کله له موفق څلورلارې دمخابراتو ریاست خواته را تاو شوې،نو ماته زنګ ووهه، زه به درشم .ما ټکسي ته همدا ادرس ورکړ، هرات ښه دی ،د لارو او سړکونو دبندښت ستونزه پکې نشته، پنځه شپږ دقیقې ،وروسته دمخابراتو په جاده کې ښکته شوم، ټکسي مې ځکه رخصت کړ چې خپله په ورکه پسې روان وم قاضي زاده ته مې فون وکړچې په کومه درشم هغه به راته ویل چې فلاني ځای ته راشه چې هلته به ورسېږم بیا به مې ورته فون وکړ ، اخر (س اغا) راته وویل چې همدلته ودرېږه موږ درغللو شېبه وروسته هغه او قاضي زاده دواړه په موټر سایکل راغلل له روغبړ وروسته مو قاضي زاده په موټر سایکل ببرته ولېږه زه او (س اغا) وررپسې پلي روان شو ځو ځو اخر نږدې هماغه ځای (دحج او اوقافو ریاست ) ته ورسېدو له کوم ځایه چې ما ددوی څنګ ته د تللو په موخه ټکسي نیولی او ترې روان شوی وم ،ماله (س اغا)سره ټوکه وکړه چې اخر تا هم په ناګومان راتاو کړم، دټکسي او ددوی څنګ ته دراتللو کیسه مې ورته وکړه خودهغوی دلیل معقول وو ،ویل یې موږ ستاله موقعیت څخه خبروو؟ له قاضي زاده او (س اغا) سره مو بنډار وکړ د ایټالیا کیسې یې راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړې،قاضي زاده مې لس کال وروسته ولید ،په هرات کې زما د دندې پرمهال مو راشه درشه ډېره وه ماسپښین لمونځ مو وکړ (س اغا) دکابل ټکټ اخستی و هغه مو هوايي ډګرته رخصت کړ،زه بېرته د واکسین لپاره ریاست ته لاړم، په واکسین کوونکیوډاکټرانو بیرو بار نه و څوډوله واکسین يې راته وکړ ،کارت يې راته جوړ کړ، کله چې د واکسین له خونې را ووتم ګورم چې زما پخوانی ملګری فقيرالله عطايي ولاړدی ،له سترې مه شې وروسته يې راته وويل چې دی همدلته دارشاد او اوقافو درياست اداري مديردی، له هغه مې دبيا کتنې ترژمنې وروسته رخصت واخست.

# د يارانو بنډارونه

سبا دملا رحمت الله فيضان ليدلوته ورغلم، فيضان دامارت په وخت کې، داطلاعاتو اوکلتور وزارت داسناد اوارتباط رئيس و ،په کابل کې موهم ملګرتیاوه وروسته دهرات د اطلاعاتو او کلتور رئيس وتاکل شو ،کله چې زه دجنوب لوېديځ زون د کانو او صنايعو لوی رئيس وټاکل شوم نو په هرات کې موبياله يو بل سره پالله کله کله، موپته دده په دفتر کې موسيقي هم اورېدله،اوکله کله به دليکوال اوشاعراجمل يوسفزي په ملګرتيا د ولي شاه بهره کره لاړو ،بهره به راته د حضرت بېدل کلام درباب له نغموسره را اوروه،دطالبانو پرمهال دموسيقۍدقدغن په ورځو او شپو کې د رباب نغمو هم خاص کيف درلود. فيضان دشپې مېلمه کړم، خپل خسر عبدالخالق همايي يې چې زما ملګری هم دی هم راغوښتی و ،فيضان ته هرات خوند ورکړ،دطالبانوله ماتې وروسته يې همدلته دوهم واده وکړ،اوپاتې شو.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هرات کې زما دانتظار په ورځو کې د ولایت تر څنګ د مولنا په ښکلي تالار کې د ایران څلورورځنی صنعتي نندارتون هم پرانستل شو، . دې نندارتون له دوشنبې تر پنجشنبې دوام درلود ،زه هم دې نندارتون ته ورغلم، په تالار کې ارامه ایرانۍ موسیقي اوریدل کېده زه په دریمه ورځ ورغلم خوبیا هم دښځینه وو او نارینه وو بیربار ډېر وو.

په نندارتون کې له نظامي توکیو پرته دژوند له هرې برخې سره تړاو لرونکي تولیدات آن لوی لوی ماشینونه چې لېږد یې ډېر زور او ځای غواړي ایښودل شوي وو، ځینې یې هملته هم پلورل او دځینو نورو به یې پته ورکوله ،دکارځایونو (کارخانو) دمشهورتیا اوپېژندنې کوچني کارتونه بروشرونه، او سي ډي ګانې وېشل کېدلې. زما استوګنځای په هرات کې افغانستان دملي اسلامي محاذ نماینده ګي وه، ددې دفتر مسؤول په سیاووشان کې دقادریه طریقې د خانقا دمهتممې او روحاني کورنۍ غړي سید عبدالبصیر ګیلاني دی. دده په وینا ، دګذرې ولسوالۍ دسیاوشان په کلي کې ددوی خانقاه فعاله ده او هره دجمعې شپه ورته ددوی مریدان او دتصوف د قادریه طریقې لارویان ورځي او ذکر او فکر کوي، ددې طریقې ذکر بالجهر(په لوړ اواز) وي. ددې خانقاه مشر اروابښاد سیدعبدالباسط ګیلاني دسیدعبدالبصیر ګیلاني مشر ورور و چې ددې کرښو له لیکلودوه اونۍ وړاندې په ځوانۍ کې د زړه دسکتې له امله په حق ورسېد (اناالله وانا الیه راجعون) عبدالباسط ګیلاني ماته هم بلنه راکړه چې ددوی د ذکرپه ناسته کې ګډون وکړم. ددوی مشر ورورسید حامدګیلاني دهرات دسرحداتورئیس دی بل ورور یې سید باقر ګیلاني د اطلاعاتواوکلتور دریاست مرستیال او مسعودګیلاني یې په ښاروالۍ کې دنده لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی به هره ورځ د خلکو په غم ښادۍ کې خبر و زه به یې هم په وچ زور په طفیلي ډول له ځان سره بېولم.

په هرات کې ګیلاني کورنۍ لویه خوډېره بې کبره او عاجزه کورنۍ ده.

په هرات کې مې ډېر دوستان ولیدل ځینې د مطلب یاران مې هم وپېژندل، په ټوله کې د هرات ډېر مېلمه پال ،صمیمي او خواږه خلک دي

.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مرمرین قبر

دهرات د جامع مسجد له سویلي دروازې سره روان وم چې له مرمرو پرجوړو شنا ختواو کتیبو مې سترګې ولګېدې، دوکان ته ورتاو شوم له مرمروجوړ ډېر ښکلی د صندوق په بڼه قبر ایښی و قبر جوړوونکي د قبر په تراشلو، په دایروي ،منحني او بیضوي بڼه دمرمر و په تاوولو کې ځانګړې مهارت اوظرافت ښوولی وو ،له سلام وروسته مې له مقدمې پرته ورته وویل چې دا قبر خو دې دومره ښکلی جوړکړی چې زما دې همدا اوس مړ کېدلو اوپه دې قبرکې ننوتلوته شوق راووست ،ویې خندل دقبر بیه یې دوه لکه افغانۍ وښوده مادمرمرو د بازار او دده دکاروبار په اړه ورسره خبرې کولې خوده دواړه سترګې پرماګنډلې وې.

اخر یې صبر تمام شو، ویې پوښتل :

نوم دې څه دی او دکوم ځای یې ؟

نوم مې حسن او د ننګرهار یم.

څه کار وبار کوې ؟

له رسنیو سره همکاري .

دده ځیر ځیر کتلو اوپوښتنو شکمن کړم، که څه هم ډاډه وم چې ما په هرات کې دخپل ریاست په دوره کې له چاسره بد چلندندی کړی خو غوښتل مې چې دده په غرض ځان پوه کړم بل داچې هسې نه دالقاعده په توردحج پرځای ګوانتاناموته لاړشم.

ناکاره مې ترې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه چې د چاشک دې راباندې وکړ ؟

هو !

دچا ؟

دلته ستاسو دجلا ل آباد یو رئیس و .

نوم یې څه وو؟

حقیار

پوروړی خوبه دې نه وي هسې نه چې پور یې له ماڅخه وغواړې ؟

نه نه ډېر شریف انسان وو .

نوپرما څنګه شکمن شوې ؟

تاته ډېر ورته وو .

ښه ښه ، مطلب داچې دهغه پرځای ما ونه نیسې.

نه هغه پر ما ډېر ګران و ، موسکی شو اوس چې تا وینم نو دهماغه مینه مې درباندې ماته شوه.

ماورته وویل نو څه توره یې درسره کړې چې دومره یې ستایې او ستانوم څه دی؟ ویل یې چې نوم مې فضل الرحمن اوتخلص مې حکاک دی ،او حقیار چې دلته رئیس وونو له مراجعینوسره به یې ښه چلند کاوه، دچاکار یې نه ځنډاوه ، څوځو ځله یې دمالګې غټ غټ سوداګر چې له نمکساره یې مالګه پټه کړې وه ونیول او تر هغې یې بندیان کړل ترڅویې چې ټولې پیسې پرې بانک ته تحویل کړې . ماورته وویل ته ترې څنګه دومره ډېر خبریې ؟ ویې ویل چې ماهغه وخت هم دمرمرو کار کاوه او څوځله ورسره دکانونولیدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته تللی یم،زړور اوښه مدیروو بیایې وخندل: ډېر جاسوسان یې درلودل آن په شینډنډ کې یې دغلاشوې مالګې تېلرونه او ده سلنډونه ونیول او هرات ته یې راوستل.

ماچې دده څرګندونې اونظر واورېد ډاډه شوم، دی مې ذهن ته راغی خو لومړی مې څکه ونه پېژنده چې ترمنځه لس کاله تېروو ، د مخامخ مسجد له لوړو مناروڅخه داذان ملکوتي انګازې راغلې ،ماته یې وویل چې که مسجد ته نه ځې په دې چوکۍ کېنه زه لمونځ کوم ژر راځم زه هم لاړم لمونځ مو په جمع وکړ، دده ټینګار داوو چې کورته ورسره لاړشم ،ماته هم دده خبرې په زړه پورې وې خو دامې هم نه غوښتل چې کورته ورسره لاړشم څکه په هرات کې دروشن زرمل دشرکت دنمایندګۍ له مسؤول فضل الرحمن او هېواد خان سره مې وعده وه .حکاک مې دمسجد په غولي (حویلۍ)کې پر سپینو مرمرو کېناوه،کوم نیم ساعت یې دهرات داوسني وضعیت ،ددولت او ولس دفاصلې په اړه راته معلومات راکړل.

حکاک وویل چې دوی اصلاً احمدزي دي او دهرات چارواکي ورسره تعصب کوي،له همدې امله یې دورور په تقرکې خنډ پیداکوي، سره له دې چې ورور یې لسانسه دی،په اداري اصلاحاتو کې بریالی دی ټول قانوني پړاوونه یې وهلي له مرکز نه یې مکتوب راوړی خو دلته یې کار ته نه پرېږدي، څکه چې هغه قومي تخلص لري او له نوم سره احمدزی لیکي.

ماورته وویل چې زه خوهم احمدزی یم، ددې خبرې په اورېدو لا خوشحاله شو ،ویې ویل چې دلته یخ دی هرومرو به راسره کورته ځې ماورته له هغه بل فضل الرحمن سره خپله ژمنه ډېره ډېره ټینګه کړه،خو ګټه یې ونکړه، لوکس او لوړبیه کور یې دښار په مرکزي برخه کې دهرات د نوموتي سوداګر صوفي قدوس کورته مخامخ وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور ورونه یې هم راغلل، په هرات کې یې له پښتنو سره دچارواکیو د تبعیضي چلند په اړه ډېر معلومات راکړل ، هوښیار او دهېوادله حالاتو باخبره ، لسانسه ښکلي ځوانان وو ،یو یې هم په پښتونه پوهېده خو پښتني جذبه ،مېلمه پالنه او پښتني احساسات پکې ژوندي وو ،دوی ویل چې دولسمشری په ټاکنوکې داشرف غني احمدزي کمپاین کوونکي وو ،آن له خپله جېبه یې لګښت کړی او له هماغې ورځې راهیسې دچارواکیو دغضب له ښکېړې سره مخ شوي دي.

له ډوډۍ وروسته مې فضل الرحمن ته ځان وروښود خوشحاله شوخو ویې ویل چې کله له لمانځه وروسته په مسجدکې راسره کېناستې نو زه باوري شوم چې همدا ته پخپله حقیار یې ،تر یوولس بجو یې دهرات دکانو او صنایعو دریاست دناقانونه کړنو اودغلا دتودبازارپه اړه معلومات راکړل.

راته و یې ویل چې که وس دې رسېږي نو خپلې دندې ته راشه،یوولس بجې یې پخپل موټر کې دمحاذ دفتر ته راورسولم.

ده اوغلام حبیب په هرات کې دیوبل نالیدونکي اوتحت الارضي (ځمکلاندې)ځواک څخه خبرکړم،داسې ځواک چې هغه دصوفیانوپه وینا دهرات غوث الزمان، قطب الاقطاب او اصلي واکمن دی.

داسې شخص چې والي ،امنیه قوماندان او دامنیت رئیس دده په اشاره ټرخي ،دده له اجازې پرته په هرات کې ځوک یومدیربدلولی یا ټاکلی نشي ،هغه شخص چې ولایتي شوری ،دهرات پې ارتي،په هرات کې مبشت بهرني ځواکونه ټول ده ته غوږ غوږ دي،دده په وینا نیول ،وژل،اوتړل هم کوي او خوشي کول هم، دده وینا ورته نعوذ باالله شرعي قاطع نص دی.

هغه شخص چې لسګونه میلیونه ډالره ،شخصي اجرتي قاتلان ،تښتوونکي اوترورونکي لري،ستاسودذهن غشی به هرو مرو داسمعیل خان خواته تللی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي،نه نه دا اسمعیل خان نه دی،بلکې اسمعیل خان هم دده له لاسه هرات پرېښی دی. آن ویل کېږي چې په اسماعیل خان ځومیاشتې وړاندې په سر تېرې بریدکې هم دده لاس وو، که څوک ددې متصرف الهرات قد او قواره ووینې نو په سلوکې پنځه به هم باور ونکړي چې دا سړی به هم دومره خطر ناک وي، خومتل دی چې(بلا له هغه پاڅي ـــ چې .....له پوزې څاڅي) دا شخص دیني عالم اودهرات دعلماوو د شورى مشر مولوي خدایداد دی چې کرزی هم ورته ډېر درناوی لري.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځان پخپل کور کې مېلمه راته ښکاره شو

په هرات کې مې یو جوړېل احرام اویو جوړ نورې داحرام چپلکې ( چپړې) هم واخستې، پاتې سوادامې هلته پوره کړه کله به مې له سیدنصیر اوکله هم حاجي عارف سره ټیلیفوني تماس ونیوه او د سفر په اړه به مې ترې پوښتل ،خوځواب هماغه نن اوسباوو.

ورځ به مې ډېره په کتاب پلورنځیو کې تېرېدله ،کله کله به د روشن زرمل شرکت نماینده ګۍ ته دفضل الرحمن اوهېواد خواته ورغلم ،فضل الرحمن دمولوي میرحمزه زوی د لغمان ولایت ددولت شاه ولسوالۍ اوسېدونکی پشه یي ژبی دی، خوزوکړه یې د هجرپه محیط کې په پېښور کې شوې نو ځکه یې ترپشه یي پښتو ډېره سوچه او قوي ښکاري ،ډېر دیندار ه ،پاک اوربنتونی نوی ځوان دی ،لویه اوسوچه رېږه لري،په همدې ورځوکې یې دهرات په نوي ښار کې دصرافۍ ترخنګ په اریامارکېټ کې له هېواد سره یوځای دروشن زرمل نماینده ګۍ پرانیستې وه.

هېواد دننګرهار اوسېدونکی دی خو عمر یې په پېښورکې تېرکړی دی، ټوکي اودخو اخلاقوخاوندځوان دی په ټکي فارسي نه پوهېده.کله به یې چې له مجبوریته له فارسي ژبو سره پښتوویلې نو ماته یې ډېرخوندراکاوه .

ولي شاه بهره چې دامهال هلته داطلاعاتواوکلتور رئیس دی څومیاشتې وړاندې په کابل کې دابن سینا په موسسه کې راسره مخ شوی اوټینګاریې کړې و چې که هروخت هرات ته لاړم نو دی باید ووینم ،دهرات په رسمي دولتي ورځپانه اتفاق اسلام ،رادیو ،ټلویزیون اومجلوکې مې دپښتوبرخه ډېره خواره ولیده په ورځپانه کې خویې یوټکی هم پښتونه وو ومې پتېبله چې په یوه غشي درې ښکاره وکړم،بهره او په اطلاعاتو اوکلتورکې به نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستان هم ووینم، د پښتولپاره به هم کچکول ورته ونیسم،اودهرات دارګ یا اختیارالدین کلادلیدلولپاره به ترې لیک هم واخلم.

دحامدکرزي په حکومت کې رهین دخپل وزارت په تېره دوره کې ټولوپښتون مېشتو سیمو ته رسمي مکتوبونه لېږلي ووچې په خپلو خپرونوکې باید کم ترکمه په سلوکې دېرش،دري ژبې ته ځای ورکړي آن هلته هم چې نه دري ته اړتیا شته اونه دري ژبي لري،په عنعنوي او تاریخي توګه هم دې ورځپاڼوآن دخپل تاسیس (۸۰_۲۰)کالو راهیسې پښتوخپروني کړي اودخلکو غوښتني يې اشباع کړيدي.

دننګرهار، پکتیا او کندهار په څېرپښتون مېشتوسیموکې داکارعملي شوخود هرات بلخ،بدخشان،بغلان،تخار،جوزجان،پروان،بامیان ،دایکندي،غور، بادغیس،فاریاب،کاپیسا،فراه اونیمروز په دولتي خپرونوکې یا پښتوله سره نشته اوکه په ځینوکې يې شته په اوړوکې له مالګې هم کمه ده.

نه پوهېږمه چې رهین هلته ،مکتوب ندی لېږلی،هلته دپښتنو شتون نه مني اوکه څوک دده مکتوب نه مني،اوکه نه يې مني ولې غبرګون نه ښیي؟

رهین ماته هېڅ داسې ولایت نه شي راښودلی چې هلته دې پښتانه نه وي، خوزه داسې ولایتونه ور ښودلی شم چې اوسېدونکي يې ټول پښتانه وي،خوده پکې فارسي خپروني پیل کړې.

دهرات په سلوکې اتیا اوسېدونکي له ختي پښتانه دي.لوی احمدشا بابا په هرات کې زېږېدلی دی خو پښتانه نن پخپل کورکې مېلمانه بلل کېږي او دمېلمنو چلند ورسره کېږي . له بده مرغه ډېرپښتانه هم هلته په خپل کور کې هغه دحمزه بابا خبره ځانونه پردي او مېلمانه بولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر هغه هراتیان چې یا دنا پوهۍ اویاهم دنورودلمسون پر بنسټ له پښتنوسره تعصب کوي،اوپه پښتونه پوهېږي ،هم له ختې پښتانه دي.یابه الکوزی ،یاعلیزی،بارکزي،نورزي، اسحق زي وي اویا پوپل، محمدزي، سدوزي ، هوتک اویااحمدزي وي.

په هرات کې اوس هم ډېرپښتانه اوسي خو درهین په انصاف نامه کې دوی حق نلري چې په خپله ژبه په دولتي خپرونوکې څه ولولي اویا تري څه واوري.

آن د عطامحمد نور دامارت اوخپلواکي واکمنۍ په ساحه کې (بلخ) کې پښتانه ترنوروقومونوډېر (ځلوېښت سلنه) دي،دا لاپې اومبالغه نه ،بلکې په عیني واقعیتونولاړ حقیقت دی چې په بلخ کې بل هېڅ داسې قوم نشته چې په یواځې توګه تر پښتنو ډېریادپښتنوپه اندازه وي.

په بلخ کې نه دتاجکو،نه دازبکو،نه دهزاره ،ترکمنواوایماقو شمېرله پښتنوډېردی،نه دنورو.خودلته هم دالوی اوغوڅ اکثریت درهین په قاموس کې په دولتي میډیاکې حق نلري ،خوپه ننګرهار، زابل، کندهار، پکتیکا، اوخوست کې بیامسؤولین اړ دي چې کم ترکمه دېرش سلنه دري خپرونې ولري ،که څه هم اورېدونکي ،اولیدونکي او لوستونکي ونلري.

بهره په دفترکې نه وو، دهغه مرستیال باقرګیلاني اوهمایي موولیدل، له هغوی سره مې پدې اړه ډېر بحث وکړ، لویه پلمه یې دپښتنولیکوالانو نه شتون وو، خوداپلمه دمنلوځکه نده چې هلته اوس پښتانه لیکوالان فعال دي نعیم افغان،تېمورشاه یوسفزی،ډاکټرشېرزاد ،اریانانظري، شېراحمد ستانکزی او نورو د سپیني ادې کلتوري ټولنه جوړه کړې ،دمرچل په نوم سایټ اودهریواپه نوم مجله هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د اطلاعاتو او کلتور دې چارواکیو ژمنه وکړه چې په راتلونکې کې به پښتوته پام کوي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارګ یا اختیارالدین کلا

دجرمني لرغونپوهانو په وینا ، هرات ښار دوه نیم زره کلن تاریخ لري او له مقدوني سکندر وړاندې اباد شوی دی .

ددوی په وینا ، په هرات کې ټول **۷۵۰** لرغوني ځایونه او ابدې شته دي چې تراوسه یې **۴۵۰** په رسمي توګه تثبیت شوي او دنورو د پېژندنې کارروان دی.

اختیارالدین کلا دامهال ترترمیم لاندې وه په امنیتي مسؤلینومې له دوی اجازه لیک واخست اولیدلوته یې ورغلم.

موږ په محاذاوونیزه کې داختیارالدین کلاد ترمیم (بیار غوني) خبرخپورکړې وچې یونسکو ورته میلیونونه ډالر ببل او افغان چارواکیوته یې ورکړیدي.

داکلا دخرقې مسجد ترڅنګ دهرات ښار په مرکزي برخه کې پر یوه لوړه جوړه شوې ده ،چې هراتیان یې ارګ بولي.

پدې ښارکې ودانه د اختیارالدین داکلا هم له میلاد څخه درې سوه کاله وړاندې مقدوني سکندر جوړه کړه او همداځای یې خپل تخت وګرځاوه .، داکلا درې برخې لري ، لومړۍ برخه انتظارخونه ،دوهمه برخه دملکې حمام ،او دریمه برخه ارګ، له حمام پرته چې خونې یې له لسو کمې دي نور دهرې برخې خونې له دې شمېرې ډېرې زیاتې دي . دې کلا دغوریانواو سلجوقیانو امپراطورۍ هم لیدلې دي. دتیموریانو مقتدر پاچا اختیارالدین له سره اباده کړه .چې اوس هم دهمده په نوم یادېږي په **۷۲۰** هـ کال دتیمورشاه زوی شارخ مېرزا له سره ودانه کړه ، دملکیار په نوم کوم والي هم رغولې وه په **۱۳۳۲** هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال دهغه وخت نظامي قوماندان ددې کلا رنګول او دلته نظامي هډه جوړول وغوښتل خو اجازه ورنکړل شوه . په ۱۳۵۵ هـ لمريزکال يونسکو داکلا ورغوله .

دکمونستانو ،مجاهدينواو طالبانو په وخت کې ترې دنظامي هډې په توګه کار اخستل کېده .دکرزي په دوره کې داطلاعاتو او کلتور رياست ته وسپارل شوه.

دمجاهدينو په تېره دوره کې چې هلته اسماعيل خان امير او بې تاجه پاچا و دبسم الله دېوانه په نوم يو قوماندان له دې کلاڅخه شخصي زندان اونظامي قرارګاه جوړه کړې وه .

ددې کلااوږدوالی ۲۵۰ او سوروبی ۷۰متره دی دهرات ښار شمال لوېديځ ته پرته ده، يوولس ستر برجونه لري.

ددې کلا شاوخوا حوض و خو په ۱۳۸۲ هـ لمريزکال داحوضونه ډک او پارکونه شول . په ۱۳۸۰ کال يې ښکتنی پوړ موزيم وګرځول شو په ۱۳۸۲ کال يې يوځل بيا ترميم پيل او په ۱۳۸۹ کال پای ته ورسېد . کله چې د ۱۳۸۹ کال دلړم په اتلسمه زه ورغلم نو هلته کارروان وو خو کله چې د ۱۳۹۰ کال دوري په وروستيو کې دهريوا په لمن کې مشاعرې ته هرات ته لاړم او بيا له ځينو فرهنګي ملګروسره ددې کلا کتنې ته لاړو نو کار پای ته رسېدلی وو .

اختيارالدين کلا دافغانستان له مهموتاريخي کلاګانو څخه ده داکلا له بهر څخه کوچنۍ ښکاري،خودننه ډېره لويه او څو برخې ده،دکلا دننه ودانۍ اوخونې ډېرې پېچلې او يوه په بله کې ننوتې ښه لري،په کوچنيتوب کې مې دجلات خان اوشمايلې په فولکلوريکه کيسه کې اورېدلي وو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشمايلې پلار خونکار پاچا ،اعلان کړی و چې شمايله به هغه چاته ورکړي چې دلرګي په تبر داوسپنې تخته ماته کړي، دده دکلا په تاوراتاو دېوالونو او يو په بله ننوتوخونوکې شمايله راپيدا کړي اوبله داچې خونې( وژونکي ) غوا ولوشي.

اختيارالدين کلا هم دشمايلې دپلار دکلا په څېر يو په بل کې ننوتې خونې لري ،سړی حيران شي چې داخونې به يې څنګه روښانه کولې،ځکه چې په هغه وخت کې خوبرېښنا هم نه وه .اوسنيومعمارانوهڅه کوله چې دکلا تاريخي بڼه او لرغونی سبک اوطرز ژوندی وساتي.

دکلا لويې دروازې ته نږدې هغه پخوانۍ درنې ، اوږدې څلور ګوټيزې مرمري ستنې هم پرتې وې ،چې دچاروا کيو په وينا ، ايرانيانوپه غلا ايران ته قاچاق کولې،او افغان امنيتي ځواکونونيولې وې،ددې تيږو سور له يوفټ څخه ډېردی اوپرڅلورخواووېي په هفت رنګ ډول ليکنې حک شوې وي،پر تيږه ليکنه آسانه وي خو دا چې تيږه وتراشل شي ، اوپه هفت رنګ قلم پرې ليکنه وشي نودابيا ډېره ګرانه ده .

ماانګېرله چې هفت رنګ به درنګ اوه ډوله وي ،خودخواجه عبدالله انصار په زيارت کې مې ،دهېواد دنوموتي خطاط عزيزالدين وکيلي په لاس په يوې ليکل شوې کتيبې چې د تراش په ډول يې د مرمرو په ډېره کړې وه دا اشتباه سمه شوه او پوه شوم چې هفت رنګ يعنې اوه ډوله خط .

# د يو انتظار پای او د بل پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نومبرپه پنځمه مو دجمعې په ورځ دماسپښین لمونځ دهرات په جامع مسجد کې اداکړ سیدنصیر راته ټېلیفون وکړ چې ددوی دفترته ورشم، مازیګر څلور بجې ورغلم ګورم چې حاجي عارف ،عبدالله ،سیدنصیر اونور ټول راغلي ،دحاجیانو ګڼه ګوڼه وه.

ددفتر په دریم پوړ کې مولوي محمود احمدي،په وره (دروازه) کې ولاړ و دلست له مخې به یې درې درې نفره پاس لېږل هلته به یې پرې په پاسپورت ګوته کېښوده اوورته به یې وویل چې سباشپږ بجې دهمدې ودانۍ مخې ته راټول شي، ځکه چې سباله غرمې مخکې لس بجې پرواز دی،چا غږ وکړ چې په هوایي ډګرکې تالاشي ډېر وخت نیسي باید حاجیان وختي را وغوښتل شي پاتې حاجیان یې څور بجې راوغوښتل هغه چې تللي ووڅوک یې په ټېلیفون خبر کړاو څوک یې نوروته وسپارل .

حاجیان ټول خوشحاله او انتظار یې ختمېدونکی وو ،اکثروحاجیانولس دولس ورځې ،ځینوآن اتلس ورځې انتظار اوشپې په هوټلونو کې تېرې کړې وې،دهرات ولایت یوتن پښتون اوسېدونکي عبدالصمدراته کیسه کوله چې کور یې په ایران کې دی،اودی دروژې په پنځلسمه د حج دداخلې او حج ته دتللو په نیت راوتلی دی،ددولت په حساب په قرعه کې یې نوم راونه ووت ، کابل ته لاړ هلته یې هم کارونشو تردې چې پدې شرکت کې یې نوم راووت .دی وایي چې تر اوسه کورته ندی تللی اوهمدلته یاله دوستانوسره اویاپه هوټلونوکې شپې سباکوي.

دشرکت مسؤلینو له نورو پاسپورت اوټکټ له ځان سره ایسار کړل خوزما ټکټ اوپاسپورت یې دواړه راکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غـلام حبیب راپسـې راغـی پـه وچ زور یـې کورتـه بـوتللم،ددوی کورلـه شرکت سره نږدې و ،دشپې موډبرګپ ولګاوه،دټیلیفون زنګ مودسحر څلوروبجوته برابرکړ،زه پوهېدم چې حاجیان څلوروبجوته نشي را ټولېدلی ځکه چې هغه وخت څه باندې پنځه بجې دسحرد لمانځه اذان کېده،موبایل مې،پـه ټـاکلي وخـت زنـګ (ټـالی)ووهله،راپاڅېـدو اودس او تهجـد مووکړل،غلام حبیب ته مې دمیرعثمان ماما نمبرورکړ،ماویل راځه لږ یې په عـذاب کړوهغـه هـم زنـګ ورتـه وواهـه کلـه چـې یـې okکـړ ده دټیلیفـون دلاسپیکر loud speakerتڼی کېکاږله، چې له هغې طرفه اواز وشو :

څوک یې او څه وایې؟

هېڅ! ماویل چې لمانځه ته دې پاڅوم.

هغه چې داخبره واورېده پوه شوه چې څوک یـې ځوروي، خبرې اورېدې شوې ماما مې دده له هراتۍ لهجې پوه شوچې ددې ځوروني تر شا دچا لاس دی نو یې زما پوښتنه ترې وکړه،هغه داهم وویل چې په ننګرهار کې اذانونه شـوي دي اوس هسـې هـم پاڅېـدم ، دننګرهـار اوهـرات تـر منځ شـاوخوا څلوېښـت دقیقـې دوخـت تـوپیر دی،یعنـې پـه ننګرهـار کـې ورځ تـر هـرات څلوېښـت دقیقـې وړانـدې پیلېږي،پاوبانـدې پنځـه بجـې شـرکت تـه روان شو،لار لنډه وه غـلام حبیب مـوټر چالان کړ خوما اجازه ورنکړه چې ویـې باسي ،دهغه کشر ورور غلام حضرت زما بیک پخپلو (د بیـک) پـه ټایرونو روان کړ.

غـلام حبیب اوغـلام حضـرت زمـاد ډېرخـواږه ،دینـداره ، رښـتوني، آرام، مخلص او وفاداره دوست شهید غلام حیدر کوچنیان ورونه دي غـلام حیدر پـه اومـر مـاین پاکولومؤسسـه کـې دیـوې ډلـې مشـر وو چـې مـوټر یـې پـه

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلمند کې په ښخ کړل شوي ماین ور برابر شو ،اوله ډېرو ارمانونو ،دین اوهېوادته دخدمت له سترو هیلو سره په شاوخوا ۲۲کلنۍ کې په شهادت ورسېد ،ځوانه کونډه ، اودغلام شعیب او غلام محبوب په نوم دوه زامن او یوه لور ترې پاتې شول.په ځوانۍ کې یې دتقوا کچه داوه چې تهجد او هغه هم په مسجد کې ترې نه قضا کېدل.زه به چې ورسره مېلمه وم نو له شرمه به زه هم ورسره د سحر له اذان یو ساعت وړاندې مسجد ته روان شوم، دخرقې دجامع مسجد دشورى مشر او خادم وو.

کېدلی شي چې دده پر وژنې به هم کوم داسې چا چې لمونځ به یې هم زده نه وي ځان غازي ګڼلی وي .!!

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درې نیم ساعته ولاړه

کله چې د شرکت مخې ته راورسېدو نو حاجیان راټول شوي وو، لمونځ مې یوائې اداکړ مسؤلینو حاجیانو ته ټکسي موټر نیول او هوایي ډگر ته یې لېږل کله چې هوایي ډگر ته ورسېدو نو ټکسي موټر یې هوایي ډگر ته دننه نه پرېښود ،ترې ښکته شو، یو ۳۰۳ موټر راغی هوایي ډگر ته یې دننه کړو ،هلته د حاجیانو لپاره خېمې درول شوي وې،تشناب هم ډېر و گرمې اوبه په کې وې، د احرام لپاره مو غسل وکړ، بیکونه ځوځایه تالاشي شول،طارق زما لپاره پوستکي والا بادام اخستي وو هغه یې هم په تالاشۍ کې رانه واخستل،خروجي مو ووهله ، لوی بیکونه یې رانه واخستل خو کوچني یادغاړې راسره وو ،له ترمینل دننه په هوایي ډگر کې خېمه ولاړه وه هملته مو احرامونه وتړل تلبیه مو وویله دلمانځه ځای نه وو او نه له موږ سره جای نماز یا څادر وو،په قیر سړک ودرېدو دوه رکعته لمونځ مو وکړ،داټولې چارې تر اووه نیمو بجو ختمې شوې، نورنو انتظار بیاپیل شو،دهرات کاروان په نوم د یو بل شرکت حاجیان هم راغلل زموږ په ټکټ کې دالوتنې وخت دد سمبر (۲)مه او دغرمې یوولس بجې لیکل شوې وې.

له (۳۰۰)تنو ډېر حاجیان چې لسگونه ښځې هم پکې وې،دننه په هوایي ډگر کې منتظر ولاړوو ،دلته نه دناستې ځای وو نه ددمې، نه تشناب ،نه کانتین،حاجیان په احرام کې هم وو ، کښېناستلی هم نشول له احرام سره هم نابلده و ،د دمې او ناستې ځای اوڅوکۍ هم نه وې ، حاجیان په ولاړه ستړي شول ،چیغې پورته شوې، خو دهوایي ډگر اړوندو مسؤلینوویل چې ټول حاجیان همدلته انتظار وي،تاسو هم بله چاره نلرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوا هم یخه وه ،آن چا ځادر هم نه درلود چې ځان لاندې یې هوار کړی وای، هلته یوه الوتکه چې بهرنۍ الوت یې درلود او سپرلۍ یې هم پکې ناسته وه،نه چالانېده، بلې الوتکې پسې یې کېبل کړه ،خواري یې پرې وکړه، اخواد ښخوا یې بوتله خو چالان نه شوه ،زمونږحاجیان وارخطا شول چې زمونږ الوتکه دوی ته ورنکړي.یازمونږ الوتکه هم خرابه نشي،بالاخره څه کم لس بجې له کابل څخه دکام ایرالوتکه راغله،مونږ ټول کتار ولاړوو خوشحاله شو ،الوتکه ښکته شوه، ودرېده،شل دقیقې وروسته مونږ ته دورختلو اجازه وشوه،د ټکټ یوه پاڼه یې اخستې او بولډینګ کارټونه یې راکړي وو ،لومړی ښځې وروختلې، بیا نارینه، ما ښي خواته د الوتکې په منځنۍ برخه کې شیشې ته ځای ونیوه.

## جدې ته الوت

څو دقیقې وروسته الوتکه چالان شوه ځغل لیکې ته ورغله، او پاو کم یوولس بجې والوتله، الوتکه د هرات ښار سوېل ختیځ ته په ګذرې ،او انجیل تاوه شوه نورنودسیمو پېژندل سخت شول، آن په دې هم نه پوهېدم چې په کوم هېواد کې یو، دالوتکې یوه خادم ( استیورد )مې وپوښت چې الوتکه پر کومه لار جدې ته ځي،هغه راته وویل چې د ایران پر مشهد اوبندر عباس تېرېږي، بیا څلوېښت دقیقې په بحر الوځي،بیا عربي متحده اماراتواوبحرین اوبیا سعودي، ته اوړي.

کله کله به د سپینو وریځو داسې طبقه مخې ته راغلله ، چې تابه ویل لاندې مالوچې ځمکه ده،د وریځو سپین غرونه په حرکت وو ،کله به له یوبل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثخه بېل شول، دې منظرې انسان ته هغه الهي انځور وریاداوه او دقیامت منکرینوته یې داسوژه، عین الیقین ته نږدې کوله چې دوربځو دا غرونه ثنګه له یوبل ثخه بېلېږي غر په ذراتو بدلېږي، دلیدونکي له انده داستره جامده کتله ،په مالیکولونو بدلېږي.او هرثه دده دسترګوپه وړاندې ترسره کیږي نو ایاداعقل نه مني چې یوورځ به داډېرین غرونه هم یا د ډیرتبخیراوتودوخي له امله اویا دبینګ بانګ [ستري چاودنې]له امله له منځه ځي اوهمداسې به ذره ذره کېږي هغه بینګ بانګ چې دمورخینوله نظره یې په پایله کې دا نړۍ منځته راغلې اوالله ج هم په قران عظیم الشان کې ورته اشاره کړې ده (أَوَلَمْ يَرَى الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا ..... ) یعنې: (ایا کافرانو داندي لیدلي چې اسمانونه او ځمکې سره نښتي وو بیا مو سره بېل کړل او په اوبومو هرشی ژوندی وګرځاوه ) الانبیاء ۳۰

الله ج په سوره قارعه کې د غرونو الوځولو ته هم اشاره کړې، فرمايي: داسې به والوځي لکه نداف چې په ډانډس مالوچ الوځوي.

پر لاره سیندونه او آبادۍ هم لیدل کېدلې، خوډېره سیمه دښتې او غونډۍ وې کله کله به له آبادۍ او ښار سره هم مخ شو ،خودالوتکې د لوړتیا له امله سم نه پېژندل کېدل.

له الوتنې وړاندې مونږ ته وویل شول چې الوتکه شپږډېرش زره فوټه لوړه الوځي اوڅلور ساعته وروسته به جدې ته رسېږي، نو سخته وه چې له دومره ارتفاع ثخه دې مونږ ښارونه وپېژنو.

له ساعت مونږ بر مزل کړی وو چې شنې اوبه مو ولیدې الوتکه یوه شیبه دهمدې شنو اوبوپر غاړه د اوبوپر سر روانه وه،دوه درې ځایه، خوآن له یوکیلو متر هم اوږد پول د سمندر منځ ته تللی وو په قوي ګومان دابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندرعباس وو .د سمندر پر غاړه ،ښکلې لوړې ودانۍ او ښکلي منظرې لیدل کېدلې، الوتکه ورو ورو د اوبو فضايي منځ ته تلله په سمندر کې ځای ځای لویې لویې بېړۍ لیدل کېدلې ،یوځل خومې اته بېړۍ وشمېرلې چې پریوه لیکه رواني وې،کله کله به یو نیم ټاپو هم ولیدل شو، موږته ویل شوي و چې الوتکه به څلوېښت دقیقې پرسمندر ځي خو موږله یوه ساعت هم ډېر مزل پرې وکړکله چې له سمندرڅخه په وتلو شوښې لاس ته ډېرې ښکلې ابادۍ ښکارېدې، استېیورډ دا وچه متحده عربي امارات وښودل لږ وړاندې چپ لاس ته بله وچه ښکارېده. دایې بحرین وښود ، الوتکې خپل مزل لنډاوه، دښتې غونډۍ او په منځ کې یې کوچنۍ کوچنۍ ابادۍ کله کله به پرځمکه توره کرښه ولیدل شوه،خود لوړوالي له امله ،نه پېژندل کېده،چې دا به سړک و اوکه سیند.

وړاندې له ګردو (دايروي) پټیو سره چې ډېر ښکلي برېښېدل مخ شو، دا پټې لوی لوی اوپه ځانګړې ډیزاین جوړ او د ستورو بڼه یې درلوده، استېیورډ وویل چې دادسعودي خاوره ده، مکه ،جده او مدینه د سعودي په لوېدیځه برخه کې د سمندر په غاړه پراته ښارونه دي، دافغانانو په څېر ،څوک چې دې ښارونوته له ختیځې خواڅخه ځي نو د سعودي له ختیځ څخه لوېدیځ ته پر ټول سعودي به تېرېږي، الوتکې به یو نیم ساعت مزل کړی و چې،په بندو کراچیو کې یې ډوډۍ راوړه موږ سحر هم چای نه وو څښلی ښه اشتها مودرلوده،ډوډۍ یې په نسبي ډول ښه وه، یو بوتل اوبه ،یوګیلاس شربت او یوګیلاس چای یې هم ورکاوه، د الوتکې په خدموکې ځواني ښکلې او شیک پوشه انجونې هم وې، چې سرونه یې لوڅ، تنګ او په بدن پورې نښتې جامې یې په تن وې، دالوتکې عملیې اعلان وکړ چې څو دقیقې وروسته جدې ته رسېږو اوکمربندونه مو وتړئ، د جدې د ښکلا په

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه به همدا بس وي چې کله الوتکه پردې ښار ښکته شوه او موږ د جدې لوړې او دنګې ماڼۍ ،ښکلي او پراخ سړکونه چوکونه او ددې بندري ښار، ښکلا اوپراخوالی ولید نو د ډېرو حاجیانوله خولې بې واکه ( به به به به ) ووتل،ټولو سرونه شیشو ته نږدې کړل اولاندې یې په حیرانتیا کتل ، ما هم له ځان سره ډېر (چشم بد دور) تکرار کړ،ماویل خدایه ښکلایې د کابل په څېر له نظره مه کړې، د ښارډېرو اسمانځکو سپین نګ درلود.

الوتکه د افغانستان په وخت پاوکم درې او د سعودي په وخت پا وباندې یوه بجه کېناسته،خودترمینل خواکې چېرې چې مسافر له الوتکې ښکته کېږي ، دبیروبار له امله ،مسافروته په الوتکه کې د پنځلس دقیقو انتظار اوله ځوکیو د نه پاڅېدلو وویل شول، پنځلس دقیقې وروسته الوتکه بېرته روانه شو او د ترمینل په مخکې ودرېده. له الوتکې ښکته او په بس موټرو کې پورته شو ، ځوګامه وړاندې یې د ترمینل په دروازه کې ښکته کړو.

www.melitahrik.com 0777 400 116

# میقات

کوم خلک چې دمیقات له ساحې څخه بهر ژوند کوي هغوی ته افاقي ویل کېږي داکه دسعودي او سېدونکي وي اوکه دنورې نړۍ، دوی چې کله حج یاعمرې ته راځي نو دوی ته دمکې معظمې په څلوروخواوو کې سیمې په نښه شوې دي چې له دې سیموباید له احرام پرته دمکې معظمې خواته لاړ نشي،اوکه له دې ټاکل شویو سیمو څخه له احرام پرته دمکې معظمې پرلور وړاندې لاړنو دده داکار جرم بلل کېږي.اوپه ناغې کې یې باید قرباني (وینه تویه) وکړي.

دې ټاکل شویو سیموته په فقهي اصطلاح میقات ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې میقاتونه یاهغه سیمې چې حاجي یاعمره کوونکی حق نلري له احرام پرته ترې تېر شي مکې معظمې ته نږدې او ځینې یې لرې وي.

رسول الله(ص) دا پنځه میقاتونه په خپله ټاکلي دي.

ذوالحلیفه:ددې میقات دوهم نوم ابیارعلي دی،په مسجد شجره او مسجد میقات هم یادېږي،دامیقات دمدینې منورې په اوسني جغرافیوي تشکیل کې دی چې له نبوي حرم څخه لس کیلو متره جنوب دمکې معظمې پر لار له مکې معظمې څخه ۴۱۰ کیلومتره لېرې دی دادمدینې داوسېدونکیو یاله دې خوا مکې حرم ته دتلونکیو میقات دی چې همدلته باید احرام وتړي، اوس دلته په نهه زره متره مربع ساحه کې یو لوی او ښکلی مسجد جوړشوی چې پنځه زره تنه پکې ځایېږي، دامسجد ۶۴ متره لوړه مناره او ۲۸ متره لوړ ګنبده لري.

له مکې څخه مدینې ته اویا له مدینې څخه مکې او جدې ته تلونکي حاجیان ددې مسجد ترڅنګ تېرېږي.

قرن منازل: داله یوه لوړ غره څخه د ښېل شوي غره لمن ده،قرن منازل دنجد،خلیجي سیمو،ریاض اوطایف له لوري د راتلونکیو حاجیانو میقات دی چې له مکې معظمې څخه ۸۰ کیلومتره واټن لري،له دې سیمو څخه مکې ته دوه لارې دي چې بیا په یوه نقطه (زیرومیقات پواینټ)کې سره یوځای کېږي پر دواړولارو لوی لوی مسجدونه جوړ شوي دي،چې یوه ته سیل کبیر اوبل ته وادي محرم وایي،سیل کبیر مسجد له حرم څخه اتیا کیلومتره لېرې شمال ختیځ ته دی چې له طائف څخه هم څلوېښت کیلومتره واټن لري دامسجد په ۱۴۰۲ هـ سپوږمیز کال په ۲۲۰۰ متره مربع ساحه کې جوړ اودرې زره لمونځ کوونکي پکې ځاېېږي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



وادي محرم مسجدته دمکي اوطائف پر سړک لار ده چې له حرم څخه ۷۶کیلومتره لېرې دی. ددې دواړو ترمنځ ۳۳کیلومتره واټن دی دامسجد ۱۳۵۷متره مربع ساحه کې جوړ شوی ،ددې مسجد په سویل لوېديځه برخه کې دېرش متره لوړه مناره جوړه شوې ده په دې اودمیقات اوداحرام تړلو په ټولو مساجدو کې دغسل، اوداسه اودحاجت پوره کولوټولې اړتیاوې پوره کېږي، کله چې رسول الله(ص) په ۶۱۹ میلادي دنبوت په لسم کال دطائف له خلکو نهیلی اوخفه راروان شو نو حضرت جبریل ورته په همدې قرن منازل کې دالله(ج) پيغام راووړ.

ذات عرق: دادعراقیانو اوله دې خوا دتلونکیو حاجیانو میقات دی پدې خاطر چې دلته دعرق اسود په نوم یولوړ غر دی دا میقات یې په دې نوم ونوماوه.

حضرت عایشه رض روایت کوي چې رسول الله ص دعراقیانولپاره ذات عرق میقات وټاکه. ذات عرق دمسجدحرام شمال ختیځ ته په نوي کیلومترۍ کې پروت دی، داساحه دقرن منازل له سیل کبیر مسجد څخه پنځه دېرش کیلومتره لېرې ده ،دلته پخوا یونړېدلی مسجد و اواوس ملک فهد په ۱۴۱۴هـ.س کال دلته دیو نوي مسجد دجوړولو حکم وکړ.

یلملم: داله مکي معظمې څخه سل کیلومتره لېرې دیمن اوجنوب له لوري دراتلونکیو حاجیانو میقات دی،داځای نن سباپه سعدیه یادېږي ،دلته پخوانی مسجدهم وو ،کله چې دمکې اوجازان ترمنځ نوی سړک جوړ شو ،نودلته دحاجیانو تلل او رسېدل سخت شول،له همدې امله ددې میقات په برابرۍ لوېدیځ خواته،دلویې لارې پرسر،په ۲۲۵متره مربع مساحت کې یومسجدجوړ شو ،چې شاوخوایونیم زرتنه پکې ځایېږي دانوی مسجدله مسجدالحرام څخه یودېرش کیلومتره لېرې ،دپخواني مسجدجنوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوېدیځ ته په یوویشت کیلومترۍ کې دی.یلملم دچین ، هندوستان ، پاکستان، افغانستان جاپان او له دې خوا دورتلونکیو حاجیانو میقات ځای دی.

جحفه: دادمصر،شام اوله دې لوري دراتلونکیو میقات دی چې دمسجدالحرام شمال لوېدیځ ته په ۱۸۷کیلومترۍ کې واقع دی دجحفې جنوب لوېدیځ ته په اوه لس مترۍ کې رابغ ښاراوختیځ ته یې په پنځلس کیلومترۍ کې سره بحیره پرته ده. داسیمه دمدینې اومکې پرعمومي سړک یاپر هجرت روډ پرته ده .له مکې دمدینې په لور ۲۱۱کیلومتره وړاندې ددې میقات برابري راځي،پر همدې برابرۍ له دې سړک څخه دامیقات پریوه لویه لوحه دلوی غشي په واسطه ښودل شوی دی،دلته هم په ۹۰۰متره مربع مساحت کې یولوی مسجد جوړشوی دی،کله چې رسول الله ص دمکې دفتحې په نیت له مدینې څخه مکې ته روان وو ،نودرسول الله ص تره حضرت عباس ابن عبدالمطلب دهجرت په نیت له مکې څخه مدینې ته روان وو ،نو تره اووراره همدلته سره وکتل.

حل:دمیقاتونواومکې معظمې دحدودوپه منځ کې چې کومه ساحه ده،دې ساحې ته حل ویل کېږي. ددې ځایونواوسېدونکي داهل حل (دحل داوسېدونکیو په نوم یادېږي) داخلک به دحج اوعمرې احرام له خپلوکورونو څخه کوي.

# په ژمي کې دوبی

ترمینل ته له رسېدو وروسته نو د هر حاجي لومړی کار د سعودي سیم کارت اخستل او خپلو کورنیو ته د رسېدلو ډاډ ورکول وو. همدلته د یوشوکیس شاته ځوان هلک ناست وو ګڼ سیمکارتونه او کرېډېټ کارتونه یې مخ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایښي و ، حاجیان پرې ور مات شول، د سیم کارتونو پېرل پیل شول، هلته هم ځو ټیلیفوني شبکې کار کوي، موږ نه پېژندلې او نه مو انتخاب کولی شو ، یو سیم کارت په پنځه ویشت ریاله وو ، او پنځه ویشت دقیقې کرېډیت پکې وو ، ماهم یو سیم کارت واخست ، ټیلیفون ته مې واچاوه خو کار یې نه کاوه، سره له دې چې د سیم کارتونو په پلورونکي، چې په عین وخت کې صراف هم وو ډېر بیروبار و خوورغللم او مرسته مې ترې وغوښته هغه هم زما ټیلیفون واخست سیم کارت یې پکې تاو راتاو کړ خو ونشو ، ویې ویل چې ستا ټیلیفون خراب دی، پر هغه بیروبار ډېر و ماهم ډېر ونه چېړه، ګورم چې ځوتنه نور هم له همدې ستونزې سره لاس او ګرېوان دي، خیر له ډېرو هڅو وروسته مې سیم کارت فعال کړ. کورته مې زنګ وواهه وروسته مې چې خپل کرېډیټ وکوت نو دهرې دقیقې په سر یې رانه ۳،۷ریاله ګرځولي وو ، زما سیم کارت (مبایلي کمپنۍ) او نمبر مې ۰۵۴۴۴۳۹۹۸۳ووچې له ټیلیفون نه ورګار شوم نو سیم کارت پلورونکي راباندې غږ کړ چې ورغلم ویل یې له خلکو سره په ژبه نه پوهېږې له ستونزو سره مخ دی، له مایې د ژباړې هیله وکړه ماهم له ځو تنو خلاص کړ.

دلمانځه وخت و ، اوداسه ته لاړم چې اوبه مې راپرېښودې سمې ډېرې تودې وې، ما ویل سهوه شوی یم ، یواځې دتودو اوبو نل مې پرانستی دی راځه تودې او سړې یو ځای کړه خو په دواړو نلونو کې سړې اوبه نه وې، هوادومره ګرمه وه چې دنل اوبه لکه په اور چې تودې شوې وي، د ماسپښین لمونځ مو مسافرانه وکړ.

دهوا تودوالي واسکټ هم راباندې درونډ کړ. له موږ لږ وړاندې د مالېزیایي حجاجو الوتکه راغلې وه، دهغوی پر پاسپورتونو دخولې وهل ، له عکس سره د شخص کمپیوټري کنټل او... ډېر وخت غوښت ، هغوی لسو غرفوته کتار ولاړ وو کوم یو ساعت موږ منتظر وخو ځوکې پرېمانه وې ځوک ولاړ نه پاتې کېدل د هغوی له خلاصېدلو وروسته موږ همدې لسو غرفوته په نوبت ودرېدو ، دهر چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویزه ،د پاسپورت نمبر، دګوتو او سترګو نښې په کمپیوټري کامرو کټل کېدل،کار ډېر دقیق او ددرغلۍ امکان کم وو له دې ځایه تر فارغېدلو وروسته یې زموږ بیکونه راکړل خو یو ځل بیایې په یو بل ځای کې همداسې غرفوته کتار ودرولو، په نوبت یې رانه پاسپورتونه واخستل او څه کوچني کوچني کمپیوټري سټیکرونه یې پرې ونښلول،موږ ته دا سټیکرونه اضافي او نا اړین بربښېدل خووروسته جوته شوه چې داهم د کار شی دی، چې وروسته به یې پخپل ځای کې ورته اشاره وکړو .زه په کتار کې ولاړ وم چې یو تن پکولي مې پر اوږه لاس کېښود :(اوجوانیمرګ ایجه چی میکنی)ګورم چې محمد شریف حنیف رباطی مې شاته ولاړ دی ، رباطي د حج او اوقافو وزارت مشاور او د افغاني بعثې غړی دی، نو موږ زماپخوانی ملګری دی، زما کتاب (ښځه په اسلام کې) دواړه ټوکه اتلس کاله وړاندې هم ده کمپوز او ډیزاین کړي دي له دې ځآیه چې ووتو نو دافغانستان ۳۰۳ته ورته موټرو ته بوتلل شو ،سامانونه یې په ځانګړې کراچۍ کې راوړل،او په لفټ یې د موټر سرته پورته کړل. داهرڅه حاجیانو ته دسعودي دحکومت لخوا دجنوبي اسیا مکتب له لارې نیول شویومزدورانو کول . مازیګر لمونځ مو هم همدلته وکړ، لمر پرېواته مکې ته روان شو.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جده

جده ډېرلوی او له نړیوالو ښارونو ګڼل کېږي. دا ښار د سمندر پرغاړه پروت او له ساحلي او بندري حیثیت پرته صنعتی امتیاز هم لري، د سعودي سترې فابریکې ډېرې په همدې ښارکې دي کوم هېوادچې له سمندر سره پوله لري نو خولې یې په غوړیوکې وي، الله ج دخپل حبیب په خاطر په سعودي دا احسان هم کړی دی چې سمندر یې هملته وررسولی دی. که په نقشه کې وکتل شي نو له جدې سره نښتی سمندر، تړانګه او ډېر کم سوری ښکاری چې آن تر مدینې منورې رسېدلی دی، الله ج په همدې نرۍ تړانګه سعودي له نړۍ سره نښلولی او له سیالانو سره سیال کړی دی،

اوس چې دنړۍ له هرګوټ څخه حاجیان د هوا له لارې سعودي ته راځي نو ځینې یې په مدینه منوره کې خوډېر زیات یې په جده کې له الوتکو ښکته کېږي، جدې ته دحرمینو دروازه هم ویل کېږي.

کله چې په ۲۲ سپوږمیزکال دریم خلیفه حضرت عثمان رض له مدینې څخه مکې معظمې ته تشریف ورووړنو نو دمکې اوسېدونکیو ورته وویل چې د شعیبي دبېړیو تمځای له مکې لېرې دی ،که دجدې پر ساحل نوی تمځای جوړ شي نو ښه به وي،حضرت عثمان پخپله جدې ته لاړ هغه ځای یې وکوت او دبېړیو دنوي تمځای دجوړولو امر یې وکړ.

جده دعربي نړۍ اوپه ځانګړې توګه دسعودي ستربندري ښار دی چې هم دسمندر او هم د هوا له لارې میلیونونه خلک له همدې لارې سعودي ته دحج او نوروچارو لپاره راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جده تر ۱۹۸۰ زېږدیز کوچنی ښار وو ،په دې وخت کې یې مساحت تر ۱۲۵۰ کیلومترو او نفوس تر یو میلیون وګړیو ډېر و دا ښار اوس په طبعي او مصنوعي ښکلا کې له آمریکایي او اروپایي هېوا دونو سره سیالي کولی شي، دباب الحرمین الشریفین( دحرمینو دروازه ) او عروس البحر الاحمر( دسرې بحیرې ناوې) لقب یې ګټلی دی.

په جده کې دسمندر پرغاړه دواکمنو او شتمنو اسمانځکو ماڼیو دا ښار لا ښکلی کړی دی .لوی پوهنتون ،ګڼ نورعلمي او کلتوري مرکزونه پکې شته دي.

داخبارالمکه لیکوال( فاکهي) دحضرت ابن عباس په روایت وایي چې دحضرت بي بي حوا دحضرت ادم ع دمېرمن او د ټول انسانانو دمور قبر په جده کې دی.

علامه محمدطاهرکردي،په تاریخ القویم کې دالرحلة الحجازیه دلیکوال علامه بتنوني له خولې وایي چې دجدې ختیځ ته په باب مکه کې یو لوی ۱۵۰ متره اوږد ،یومتر لوړ اودرې متره پلن قبر دی چې خلک یې دبي بي حوا قبر بولي خودوی داخبره نه مني.داقبر اوس هم په جده کې موجود دی.

کله چې مکې ته لاړو نو هلته مولنایارمحمد مورېته وویل چې دبي بي حوا قبر ته به ځو خومونږ هلته دحرم اوکعبې دومره مجذوب نه وو چې بېرته جدې ته مو دتللو وخت موندلی وای ،اویاموددې احتمالي او نامعلوم قبر لپاره دحرم د جماعت لمونځ پرېښی وای ځینې خلک وایي چې ددې ښار نوم دهمدې لپاره جده اېښودل شوی چې زمونږ ټولو جده (نیا)بي بي حوا چې کله له جنت څخه را ووېستل شوه او ځمکې ته راولېږل شوه،نولومړی همدې ځای کې راښکته کړل شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملک عبدالعزیزنړیوال هوایي ډګر

هغه هوايي ډګر چې موږ پکې ښکته شو ډېرلوی او له جدې ښارڅخه نولس کیلو متره لېرې دی او لکه چې ومو ویل دهواله لارې راتلونکي حاجیان په سلوکي نوي هملته ښکته کېږي ددې ډګرد ودانولوکارپه ۱۳۹۴هـ سپوږمیز، ۱۹۷۴زیږدیز کال پیل اوپه ۱۴۰۱ سپوږمیزیا ۱۹۸۱زیږدیزپای ته ورسېد خواوس یې هم دپراختیا کارونه روان دي دا ډګرپه درې برخوو ېشل شوی دی ،یوه برخه یې دسعودي دکورنیو الوتنو لپاره ، دوهمه برخه یې د نړیوالو هوايي الوتنو لپاره او دريمه برخه يې دحاجيانو لپاره ده ،داهوايي ډګرددوبۍ په څېر دعربي نړۍ ترټولوډېر بوخت هوايي ډګردی،ددې ډګر ترمینل په یو وخت کې داتیا زروحاجیانو ورتیالري او دهوايي ډګر په منځ کې د ۱۲۰متره مربع ګلبڼ په جوړېدوسره په دووبرخو وېشل شوی دی.

دحاجیانودډګر ترمینل،دپایبر ګلاس په نوم له یوډول موادوڅخه ددوه سوه او یو خېمو په بڼه جوړ شوی دی ،داخېمې تجیرته ورته دي،ډېرې دنګې،ښکلې ،سپینې او دځانګړي ډیزاین درلودونکې دي.

داخېمې دتودوښې ،اوبو،باران،لمده بل اوهرډول هوا پروړاندې مقاومت کوي.

داډګرپه ۵۱۰۰۰۰متره مربع ځمکه کې جوړ شوی اودننني عصر هره آسانتیا پکې شته دی ،دې ډګر په ۱۹۸۳زېږدیزکال داغاخان د اسلامي ښکلې ودانۍ جایزه هم ګټلې ده.

www.melifahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فيوضاتو ښار ته

د شنبې ورځ خپله لمنه او لمر خپلې زرينې پلوشې ټولولې مور. له جدې څخه مکې معظمې ته روان شو، په موټروکې دوبش او دحاجيانو دلېږد کار منظم وو، څلور لوی بس موټرونه چې په هريوه کې پنځوس څوکۍ وې رارسېدلي وو، په موټرو (ابوسرهد)ليکلي وو خو چې په جده کې به دې پر هر لوی سپرلۍ وړونکي موټر سترګې ولګېدلې نو ابوسرهد به پرې ليکلي وو، له سلو ډېر موټر مو په دې نوم وليدل ماته د موټرپه مخکينۍ څوکۍ د چلوونکي ترخنګ د ناستې زمينه برابره شوه، موټرته يو تن غنم رنګه ځوان چې بربت او ږيره يې په سنتو برابر او افغاني جامې يې پر تن وې ناست وو، په عربي مې ترې وپوښتل چې ولې يې په دومره ډېرو موټرو ابوسرهد ليکلي دي، هغه راته وويل چې ابوسرهد ديو شرکت نوم دی، ددې شرکت مشر ابوسرهد نومېږي چې اصلاً د پاکستان د پېښور، پښتون اوسېدونکی دی.

دده د معلوماتو له مخې، دې سړي اوس د سعودي تابعيت اخستی دی، او د سعودي په شتمنوکې شمېرل کېږي، ده وويل چې اورېدلي يې دي نوموړی شپږدېرش زره عرادې همدا ډول بس موټر لري چې په سعودي کې، چلېږي او دحج په مراسموکې هرکال د حاجيانو د انتقال لپاره له سعودي حکومت سره قرارداد کوي. ده، وويل چې له دا ډول بهرنيو شتمنو اودې ډول سترو شرکتونو سره معمولاً سعودي شاه زويان (شهزادګان)شريک وي خو له ابو سرهد سره له دې ډول کوم شراکت څخه خبر ندی.

دجدې او مکې معظمې ترمنځ شاوخوا اتيا کيلومتره واټن دی، خوابادې ډېره شوې، دمکې او جدې ښارونه پراخ شوي دي، په ځانګړې توګه جده

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره لويه شوېده، داسې برېښي چې څو کاله وروسته به د مکې او جدې ښارونه له يو بل سره وتړل شي.

له جدې تر مکې تر ډېره حده د سړک دواړو خواوو ته دوکانونه دي، ماښام لمونځ مو پرلاره په يو مسجد کې اداکړ ،دالومړی لمونځ وو چې موږ په سعودي کې په جماعت او په مسجد کې وکړکله چې مسجدته ننوتلم،دمسجد ښکلا اودقيمتي غاليو جګړي فرش مې ذهن دومره بوخت کړ چې نږدې و رکعت رانه تېر شي، ماته دعربانو اوږدلمونځ،امين بالجهر،رفع اليدين ،په لمانځه کې خشوع او اهتمام نوی کار ځکه نه برېښېده چې په پوهنتون کې مو په سلوکې اتيا استادان دعربي نړۍ اتباع وو ،خونور حاجيان يې حيران کړي وو. له لمانځه وروسته د اوداسه د ځای کتلوته ورغلم پرېمانه اوبه،د اوداسه ،استنجا او د معذرت دپوره کولو لپاره کافي ځايونه وو.

وږی وم په الوتکه کې له خوراک وروسته موڅه خوړلي نه وو اخوا دېخوا مې وکتل چې که نږدې کوم دکان وي،او دخوړلو لپاره څه واخلم. دوکان ووخولږ لېرې ،ما ويل که ورځم نو موټر روان نشي ،رښتياهم موټر ژر روان شو.

دموټرچلوونکي عربي ډېره کمزورې وه ما يې ترې لامل وپوښت ويل يې چې عربي يې خپله ژبه نده ما يې ترې ځای وپوښت خوځواب يې هم خوښ او هم حيران کړم :ويل يې افغان يم اوپه افغانستان کې دننګرهار دسره رود ،دولسوالۍ دبابړيانو اوسېدونکی ، دستي مې ورته په پښتو وويل :ځوانيمرګه ته خوزما وطندارځه چې کليوال هم يې ،ښه پوهېږې چې موټرکې درسره افغانان ناست دي نو بيا ولې عربي وايې،که وايې چې عربي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی تا پیل کړه نو ماخوته نه پېژندلې تاولې راسره پښتو پیل نکړه؟، په خنداشو.

سعودي ته د راتللو په اړه يې وويل چې دلته يې شپاړلس کاله وشول او له پاکستان څخه راغلی دی،هغه وويل چې دی اصلاً بل چېرې منشي دی،خو دابوسرهد شرکت مسؤولینو ترې غوښتي چې د حج په موسم کې درې میاشتې ددوی موټر وچلوي، ده ډېره سوچه پېښوری پښتو ویله خو مورنۍ ژبه يې سرخرودۍ دري وه ،اصلاً چا ګومان هم نه کاوه چې دی به پښتون نه وي.

## د وقار او پرتم ښار

زه په زړه کې دېته شېبې شمارم چې کله به مې سترګې پر هغه ښار ولګېږي چې د ځمکې بله هېڅ ټوټه هم په سپېځلتیا کې ورسره سیالي نشي کولی،هغه ښار چې عظیم الشان قرآن ورته بلد الامين، کعبه ،بکه، مبارکه ،مکه ویلې او الله ج يې پرسپېڅلتیا او عظمت سوګند یاد کړی،هغه ښار چې دوحې مهبط ،دجبریل منزل دسیدالکونین د تولد او خاپوړو د حضرت اسماعیل دذبحې دپېښې شاهد او قربانګاه، دسلګونوانبیاوو د رسالت ،دعوت ،زیارت،اقامت او امامت ځای او دالله ج دکور ویاړ اوشرف لري.

څومره چې مکه رانږدې کېږي همدومره زما د زړه درباً ډېرېږي د رسول اکرم د مکې ژوند هره خاطره، هرڅپرکی او هر پړاو مې دذهن د تلوېزيون په سکرين کې تاوېږي.

کله کله پرځان بې باوره شم،هلکه ته خوبه خوب نه وينې،ته ځان ته وګوره او دالله ج کور. په همدې سوچ کې وم چې د سړک غاړې ته پر يوې لوحې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې ولګېدلې (لدې ځایه اخوا لـه مسلمانانو پرته بل چاتـه د ننوتلو اجازه نشته)پوه شوم چې مکې معظمې ،بلدالحرام او د اسلام دپـرتم او نشـئت ښـارته ننوتم.

دې لـوحې مـې دذهـن مسـير واړوه،د اسـلام د عظمـت ،قـوت،ويـاړ او شـهامت دوره را يـاد شـوه، چـې څنګـه يـې دلتـه د نامسـلمانو ننوتـل منـع کړي،دا د اسلام دبريا ، لويې،ځواک ننبه ،اونامسلمانوته دابنوول دي،چې عزت، شرافت ،پاکي او درناوی په اسلام کې دی،په ژوند کې يواځې مادي او جسـمي پـاکوالی بـس نـدی، بلکـې روحـي او معنـوي طهـارت هـم پـه کـار دی،مکه معظمه د نړۍ د ټولو مسلمانانو قبله ده ،دلته د الله(ج) کور دی،دا په نړۍ کې تر ټولو سپېڅلې او عزتمنه ټوټه ده ،له دې ځآيه له اسمان ،عرش العظيم، بيت العمور،اوسدرة المنتهی سره نبغې اړيکې نيـول شـوي نـو دې ځـای تـه دننوتلـو لپـاره د بـدن پـاکوالی کفايـت نـه کـوي، بلکـې حقيقـي او معنوي خيری هم ليرې کېدل غواړي او روحي تزکيه هم په کار ده.

هرڅـوک چـې دې ښـآر تـه ننـوځي نـو پـه کـار ده چـې زړه ، روح ،ضـمير ، وجدان،بدن ، هرڅه يې پاک ، دايمـان اواسلام تلپـاتې ډيـوه يـې پـه لاس او داسلام په نور منور وي.

دې ښارته ننوتل داسلام پاسپورت او دايمان ويزه غواړي.

دلته يومسلمان پوهېږي چې زه څوک او زه څومره عزيز يم. دلته سړي ته د اسـلام د عـزت او وقـار پرتمينـه دوره وريـه زړه شـي ،هغـه چـې قـرآن د نامسلمانوذميانو په اړه فرمايي (ترهغې چې جزيه په خپـل لاس درتـه راوړي او د ذلت او سپکاوي احساس وکړي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسخوتن د مکې معظمې په ښار کې روان وو له موږ سره په موټر کې د نورو شرکتونو حاجيان هم وو، د هغوی لپاره په پام کې نيول شوي د استوګنې ودانۍ (عمارې) په بل ځآی کې وې او زموږ په بل ځای کې ډرېور لومړی هغوی ځای ته رسول.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شهزاده ملنګ

موټروان دتفویج الحجاج په نوم یوې پراخې ساحې ته موټر تاوکړ، داځای تم ځای ته په ورته نقشه جوړ شوی د موټرو اوحجاجو د هر کلي ځای دی . حاجیان چې کله مکې معظمې ته راورسېږي نو لومړی یې دلته راولي، دلته یو بوتل د زمزم اوبه ،یو جوس،بسکېټ ،کېک ،کلچې او کاغذي دستمال په یوه کاغذي قوتۍ کې بند وي او وجبة الحجاج پر لیکلي وي،هر حاجي ته یوه قوتۍ یا یوه وجبه، (خوراک) ورکوي، هر موټر باید پنځلس دقیقې دلته ودرېږي، حاجیان په خپلو څوکیو ناست دمه جوړه کړي،که غواړي خپله وجبه و خوري بیا موټروانېږي موړ وړي او دې شیانو ښه خوند وکړ.

موټر روان او په یوښکلي ښارګوټي وربرابر شو زما او نورو دوستانو د اټکل له مخې ددې کالونۍ سور به یونیم کیلو متر او اوږدوالی به یې دوه نیم کیلو متره و، ټولې ودانۍ دوه پوړه په یوه نقشه یوه ډیزاین او یوډول وې په منځ کې پراخ پراخ پاخه سړکونه و. ډرېور وویل چې داد اسامه بن لادن ښارګوټی(کالونۍ) او دا ساحه اوکورونه دهغه شخصي ملکیت دی چې عرب مجاهدینوته یې جوړ کړیدي.

دمکې معظمې د ښار په زړه او دومره ګران بیه سیمه کې چې ښایي د بیې دلوړوالي ساری به یې په نړۍ کې کم وي دومره ستر ملکیت او ددومره کورونو درلودل د اسامه دشتمنۍ ننښه ده او داڅرګندوي چې هغه کوم ګدا ندی اوکه وغواړي دښه ژوند ټولې اسانتیاوې ورته برابرې دي ، ددومره شتمنۍ ددرلودلو سره بیاهم دتورې بوږې په غروکې د اسامه ژوند ددې ښه څرګندوی دی چې د اسلام مینه له شهزاده څخه ملنګ جوړوي، په سعودي کې د اسامه دکورنۍ ددرناوي ، عزت او حیثیت په اړه به یې پخپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـای کـې بحـث وکـړو خـو اوس همـدومره وايـو چـې ددوی کـورنۍ د سعودکورنۍ ته ډېره نږدې او ډېره محترمه ده او پلاريې د سعودي حکومت وزير و په داسې حال کې چې سعودکورنۍ حکومت خپل ميراث ګڼي او ډېر کم له خپلې کورنۍ پرته بل چاته وزارت ورکوي .

استاد داهم وويل چې سعودي اوس ددې ښار پاتې کار بند کړی دی.

(ددې کرښو دليکلو په وخت کې امريکايانو داسامه رح دشهادت ډرامه وړاندې کړې نه وه)

دمکـې پـه ښـار کـې تـاو راتـاو کېـدو ،بالاخره مـوټر د سـړک پرغـاړه ودرېد ،ډرېور لا دمخه چاته ټيليفون کړی و ،درې تنه موټر ته راوختل ،تور تور وو ،په ورين تندي يې سلام وکړ ،هر تن ته يې دلته هم هماغسې يوه يوه قوتۍ خوراکي توکي ورکړل ، ،دلته يې هر حاجي ته يوپلاستيکي لاس بند ورکـړ پـه لاس بند دخدمت د مطـوف نمبـر۸۷ اودجنـوبي اسـيا مکتـب پـه کمپيوتري غټ ليک اود دوی ددفترادرس،دايميل اوتيليفون نمبر کوچنی ليکل شوي وو ترکشک لاندې يې د هر شرکت او هېواد نوم په قلم ليکلي وو .

موږ پـه پيـل کـې نـه پوهېـدو وروسـته پـوه شـو چـې مـوږ د جنـوبي اسـيا د اداري اوپدې اداره کې بيا د ۸۷خانګې اړوند يو .

دلته ډرېور زموږ ټول پاسپورټونه دې خلکو ته ورکړل،هغوی هم حاضري اخستل پيل کړل هغوی به نو م اخست اوله حاجي يې غوښتل چې دپلار نوم يې واخلي له حاضرۍ وروسته يې ټول پاسپورټونه لـه ځانـه سره ايسـار او د الوتکې ټکټونه يې ترې راکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ځایه روان شو ،دحرم لیدلو ته بې تابه وم، ډربوته مې وویل استاده کعبه لېرې ده اوکه نږدې ،ویې ویل : له شیشي ښې خواته وګوره یو لوړ برج درته ښکاري ؟ ماچې وکتل رښتیا هم ډېر لوړ برج اوپه سرکې یې ساعت (ګړی) ښکارېده ماویل هو نږدې ده . هغه وویل کعبه ترهمدې برج لاندې ده.

دابرج ډېرنږدې وو ،یوځل مې زړه وو چې استاد ته ووایم ودرېږه همدلته کوزېږم،اوله کوزېدو وروسته په منډه ځان بیت الله ته رسوم او خپله د ټول عمر تنده خړوبوم ، خوزړه نازړه وم اخر مې د ټوکې په انداز ورته وویل خوهغه ونه منله ویل یې چې هلته له مانه ستاسو ټولوشتون اوزه له هغوی تسلیمي غواړم.دشپې پاو کم یوولس بجې وې چې د خپل استوګنځي (عماري)مخې ته ورسېدو دجنوبي آسیا له مکتب څخه د عماري لاربښوونکي او مزدوران راسره ختلي وو ،سامان له موټرڅخه همدوی راښکته او د عماري تر دروازې یې ورساوه په عماره کې دهر چاخونه (اطاق) اوتخت معلوم وو.

موږ په څلور ودانیو (عمارو) ووېشل شو ،ما او مولوي احمدي ته د لومړۍ عمارې په لومړي پوړ کې لومړۍ درې کسیزه خونه راکول شوې وه.

بیکونه مو خونې ته ننویستل د هرحاجي نوم دهغه دتخت څنګ ته پردېوال ټومبل شوی و.

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مكة المكرمة

## د نومونې لامل:

ځيني وايي دې سيمې ته مکه ځکه وايي چې ګناهونه له منځه وړي،اويا داچې اوبه پکې کمې دي (سميت مکة لانها تمک الذنوب ،اى تذهب بها وقيل:لقلة مائها) يا داچې (لانها يوءمها الناس من کل مکان فکانها تجذبهم اليها)يعنې : خلک پرې له هرې خوا بيروبار کوي، ګويا داچې ځانته يې جذبوي يا (لانها تمک من ظلم فيها اى تهلکه)

ځکه چې دلته څوک ظلم وکړي نو له منځه يې وړي،داسيمه فطرتاً دظالمانو اوجابرانو غرور له منځه وړی،لانها تمک الجبارين اى تذهب نخوتهم)(۱)

(۱)شفاءالغرام اوالدرر الفرائدالمنظمة) د زمورد قبلي تاريخ ،دعبدالمالک همت ليکنه)په حواله،

زه پدې انديم چې په مکه کې داټولې ځانګړنې شته دي او دتسميې (نومونې)ټول لاملونه يې له مسمی سره سمون خوري.

مکې ته په عظيم الشان قرآن کې بکه هم ويل شوې ده ،لا مل يې هماغه دمکې ازدحام او ديو بل ټېل وهل دي.

تفسير مظهري وايي مکه او بکه دواړه يوه خبره ده داځکه چې عربان کله کله ميم، باتلفظ کوي،لکه نميط او نبيط ،لازم ،لازب،راتب،راتم او ....

علامه جمال الدين محمد جارالله دمکې معظمې د نومونو شمېر شپږپنځوس ښودلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې پرته په عظيم الشان قران کې دې ښار ته د ام القری يعني د قريو مور (الانعام ۹۲)البلد امنايا دامن ښار(ابراهيم ۳۵)البلد الامين يا ډاډمن ښار (التين۳) البلد الذی حرمهايا هغه ښارچې محترم يې ګرځولی دی (النمل ۹۱)حرم آمن ياد امن يا ډاډ حرم (القصص ۵۷)، وادغير ذی زرع يا بې کروندې دښته ( ابراهيم ۳۷)معاد يا د ورګرځېدو اصلي وطن (القصص ۸۵) قرية يا کلی (محمد ۱۳)المسجد الحرام يا عزتمن مسجد هم ويل شوي دي .

واعلـــم بـــآن کثـــرة الاســـامی
دلالـــة علـــی ان ا لمســـمی ســـامی

پوهه شه چې ډېر نومونه د مسمي د اهميت او لوړوالي معنا ورکوي.

# د مکې جغرافيه او تاريخ

ځينې روايات وايي چې الله ج مکه معظمه له نورې ځمکې دوه زره کاله وړاندې پيدا کړې ،مکه د سعودي عربستان لوېديځ ته د حجاز په ويړه لمن کې د غرونو اوغونډيو په منځ کې پرته ده،د مکې معظمې هواره سطحه بطحاء نومېږي،د مکې عرض البلد شمال ته ۱۹_۲۵ او ۲۱ درجې ،طول البلد يې ختيځ ته ۴۲ شمال ته ۴۹او ۳۹ درجې دی د سمندر له سطحې درې سوه متره لوړه ده ،مکه د ځمکې د کرې په منځ کې واقع ده.

مکه د تهامې په ختيځ کې چې شمال ته يې مدينه منوره ،ختيځ ته يې نجد او رياض جنوب ته يې يمن او لوېديځ ته يې جده او بحرالاحمر (سور سمندر) پراته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مکه معظمه کې رواني اوبه نشته همدا لامل دی چې کرهڼه پکې کمه ده او آن د څښلو اوبه هم له کوهیانو را وېستل کېږي.

په مکه مکرمه کې اوس د څښلو او کارولو د اوبو کمی نشته دی ،اوس د خلکو سویه او اقتصاد لوړ شوی دی، هلته هېڅوک هم د بمبو اوبه نه څښي، بلکې بوتلي ،یا چاڼ شوې اوبه څښي.

دمکې هوا ډېره توده او سوځنده ده،باران پکې کم وي کله کله په ژمي کې هم د حرارت درجه تر ۳۵_ ۴۰ پورې رسېږي او په دوبي کې خو ډېرځله تر ۵۰ لوړېږي یو عرب راته وویل چې په دوبي(اوړي)کې ځینې وخت د تودوخې له امله د سړک قیر هم روان شي، دلته ډېروخت د شپې او ورځې په هوا کې ډېرکم توپیر وي، دمکې او سېدونکي وایي چې الله ج اویا ډوله هوا وې پیدا کړېدي چې نهه شپېته یې په مکه او یوه یې په ټوله نړۍ کې چلېږي.

دمکې د خپلو اوسېدونکیو شمېرله یو میلیون څخه اوړي.

# د مکې مکرمې فضایل

الله ج په هر شي او هر مورد کې یو شی پر نورو غوره ګرځولی او امتیاز یې ورکړی دی .د بېلګې په توګه په شپو کې د قدر شپه ، په ورځو کې د اختر او عاشورې ورځ ،په انسانانو کې حضرت رسول اکرم ص، د اونۍ په ورځو کې جمعه،په میاشتو کې رمضان المبارک، په جنتونو کې فردوس په ایتونو کې ایت الکرسي،په کتابونو کې عظیم الشان قرآن ،همدا ډول یې د ځمکې پر سر تر ټولو غوره ځای او تر ټولو سپېڅلی خاوره مکه معظمه ګرځولې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله ج داقانون دی چې پرهغه شي سوګند خوري چې دهغه پر وړاندې عزتمند اومهم وي او الله ج په عظیم الشان قران کې دوه ځایه پرمکه معظمه سوګند یاد کړی دی:

والتین والزیتون والطورسنین وهذاالبلد الامین.(التین ۱_۳)یعنې پر انځر اوزیتون اوپر طور سینا اوپر دې امان ورکوونکي(امین)ښا سوګند . . .

: لااقسم بهذاالبلد :یعنې سوګند خورم په دې ښار (مکې)

په تاریخ مکه کې لیکي چې په عظیم الشان قرآن کې الله ج پنځوس ځایه مکه معظمه یاده کړېده: ان اول بیت وضع للناس ببکة مبارکا وهداً . . .(ال عمران ۹٦)

یعنې : (له شک پرته لومړی کوټه کې چې دخلکو (دعبادت )لپاره جوړه شوه په مکه (مکرمه) کې ده چې برکتناکه او خلکوته لارښوونکې ده پدې کې څرګندې نښې دي،یوپکې مقام ابراهیم دی،اوهرڅوک چې (حرم ته ) ننوځي، نوپه امن کې شو.)

حضرت عبدالله ابن عباس رض فرمایي رسول الله ص مکې معظمې ته په خطاب کې وفرمایل(ماطیبک من بلد واحبک الی ولولاان قومی اخرجونی منک ماسکنت غیرک) (۱) مشکوة

یعنې ته څومره ښکلی ، خوشبویه اوپرماګران ښار یې که قوم مې له تاڅخه وېستلی نه وای نو زه به له تا پرته بل چېرې نه وای اوسېدلی.

عبدالله ابن عدي وایي ما رسول الله ص په حزوره نومي ځای کې ولاړ ولید چې مکې معظمې ته یې په خطاب کې فرمایل:په رښتیا ته دخدای ج غوره اوخدای ج ته ګرانه ځمکه یې ،که زه له تاڅخه وتلوته اړ شوی نه وای نو هېڅکله به درڅخه وتلی نه وای.

(۱)مشکوة

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ص فرمايي:**صلاة فی مسجدی هذا افضل من الف صلاة فیماسواه الا المسجدالحرام والصلوة فی المسجدالحرام افضل من صلوة فی مسجدی هذا بمأة الصلوة .**

زما په مسجد کې لمونځ له نورو مساجدو زر ځله غوره دی خو له مسجد حرام پرته ځکه هلته يو لمونځ زما په مسجد کې له لمانځه څخه سل چنده غوره دی.

حسن بصري وايي: ددې حديث منظور دادی چې په مسجدالحرام کې يو لمونځ دبل ځای له لمانځه څخه سل زره چنده غوره دی.

حسن بصري فرمايي:په مکه معظمه کې يوه ورځ روژه دبل ځای له روژې يولک چنده ډېر ثواب لري هلته يو درهم خيرات په بل ځای کې ديولک درهمو له خيرات څخه ډېر اجر لري،همدا ډول هلته هره نيکي په بل ځای کې له نيکۍ څخه يولک چنده ډېر ثواب لري.

الله دې ښارته دخپل کور دجوړېدو او داشرف المخلوقات حضرت محمد ص دپيدا ينبت ويار ورپه برخه کړ.

همدا راز داوياړ چې هرڅوک ورننوځي نو په امن کې شو.

الله ج دې ښار ته دکفارو او انسي اوجني دجالانو ننوتل منع کړي دي،دې ښار ته پښې غځول ،د انساني حاجت پوره کولو په وخت کې دې خواته مخ کول،مکروه دي.

لکه څنګه چې په دې ښارکې نېک اعمال ډېر ثواب لري همدراز دلته ناروا کار هم ډېر ګناه لري،الله ج فرمايي:(من يردفيه بالحاد بظلم نذقه من عذاب اليم)يعنې اوهرڅوک چې په ظلم اوناروا پکې دبېدينۍ خبر وکړي نو ددردناک عذاب خوند به وروڅکو(۱) : الحج **۲۵**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې ښارکې داسې ځایونه دي چې دعا پکې ډېره ښه قبلېږي، طاعت اونېک کارونه پکې ډېر ثواب لري.

رسول الله ص دمکې دفتحې په ورځ وویل :الله ج له هغې ورځې راهیسې دې ښارته عزت ورکړی دی چې ځمکه او اسمانونه یې پیداکړي دي.

او دا عزت به دقیامت تر ورځې دوام مومي ،په دې ښار کې له ماپرته بل چاته دجنګ اوجګړواجازه نشته ده او ماته هم دا اجازه دڅوساعتولپاره راکول شوې وه،نور تر قیامته ددې درناوی ساتل شوی دی ،نه به یې څوک کوم مارغه اویا ښکاروي ته،تکلیف او زیان رسوي،آن دعامې لارې له سر څخه هم ځانته د اخستلو په نیت دمونډل شوي شي پورته کول رواندي،مګر ددې لپاره چې اعلان وکړل شي اوخاوند ته یې وسپارل شي،نه به یې څوک واښه او ونې پرې کوي.

(۱)مسلم کتاب الحج.

# د حرم حدود

دمکې معظمې ددرناوي په اړه چې کوم روایات راغي دادرناوی یوازې دکعبې تر ودانۍ پورې محدود ندی ،بلکې الله ج دخپل رحمت اودحرم دعزت اوشرف له کبله دحرم چاپېر چل ته هم دا درناوی ورکړی دی.

یو روایت داسې هم دی چې حضرت جبریل ع حضرت ابراهیم ع دحرم پر حدودو وګرځاوه اودتیګو په واسطه یې ددې حدودو د په نښه کولو امرورته وکړ،اوحضرت ابراهیم ع هم داکار وکړ.

دمکې له فتحې وروسته رسول الله ص تمیم بن اسد الخزاعی ته ددې حدودو دتازه کولو امر وکړ او هغه هم داکار په ښه توګه وکړ.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترهغه وروسته هم په بېلابېلو وختونوکې مسلمانو واکمنو داکار کړی دی،اوپه دې حدودوکې یې ۹۴۳ نښې ایښې دي خوددې نښوډېره برخه په غرونو ،غونډیو،خوړونو او ناهوارو برخوکې ده،چې اوس دانښې ډېرې کمې پاتې دي.

دحرم یاکعبې خپل مساحت ۱۳۷ کیلومتره مربع اوټوله ساحه یې پنځه سوه پنځوس کیلو متره ده چې حدود یې په دې ډول دي :

تنعیم یا د حضرت عایشې رضی الله تعالی عنها مسجد.

تنعیم دحرم شریف شمال ته دمدینې منورې پرلار له حرم څخه اوه نیم کیلومتره لېرې واقع دی حرم ته داتر ټولو نږدې حد دی ،په مکه یادحرم په ساحه کې اوسېدونکي ډېر حاجیان دعمرې داحرام لپاره همدلته راځي تنعیم دحل په ساحه کې دی.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جعرانه

ددې ځای نسبت دبنو تمیم دقبیلې یوې احمقې اوناپوهې ښځې ته شوی چې خپل نوم یې ریطه اولقب یې جعرانه و ،هغې به تړوله ورځ وړی وربشلې اوچې مازیګر به شونوخپل کړی کاربه یې خراب کړاوخپلې وربشلې وړی به یې بېرته سپړلې،(ولاتکونوا کاالتي نقضت).... ایت دهمدې په اړه راغلی داځای دحرم په ۲۴کیلومتری کې شمال ختیځ ته واقع دی .

ددې ځای اوبه په خوږوالي کې نوم لري،اوآن خلک یې دضرب المثل په توګه یادوي،دلته هم ملک فهد په ۴۳۰متره مربع ځمکه کې دزر(۱۰۰۰) لمونځ کوونکي په ګنجایش یوښکلی مسجد جوړکړ.

# حدیبیه

دادحرم له ساحې بهر دجدې پرزاړه سرک پرته له حرم څخه ۲۴کیلومتره لرې سیمه ده،اوس یې خلک شمیسي بولي،دلته پخوا دحدیبیې په نوم یو کوهی وو اوداسیمه هم دهمدې کوهي په نوم یادېده،شمیس هم دیوه پخواني تاریخي کوهي نوم دی چې قاسي(۸۳۲هـ سپوږمیزمږ)هم یادکړی دی،دلته دحرم له حدودو دوه کیلومتره لېرې یوښکلی مسجد هم جوړ شوی دی،دبیعت رضوان او دحدیبیې دسولې مهمې پېښې هم دهجرت په شپږم کال همدلته ترسره شویدي.

دلته پخوا ترکانو هم یومسجدجوړکړی وو.

## نخله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادمکې اوطائف ترمنځ سیمه ده چې دحرم دختیځ اوشمال حدود تاکي،دادوه برخې دي یوې ته یې نخله یماني وایي چې طائف ته د تللې سړک ښې خواته ده اوبلې ته یې نخلهٔ شامي یامضیق وایي چې له حرم څخه پنځه څلوېښت کیلومتره لېرې پرته ده،ددا ءة په نوم دغره یوې اوږدې لړۍ دادواړه نخلې یوه له بل څخه بېلې کړې دي.

کله چې رسول الله ص دهجرت په لسم کال دطائف له سفرڅخه راستون شو،نود پیریانویوې لویې ډلې همدلته عظیم الشان قرآن واورېد ،او مسلمانان شول،دعبدالله ابن جحش په مشرۍ یوه اته کسیزه سریه هم درسول الله ص لخوا دقریشو دکاروا ن دڅارلولپاره همدلته ولېږل شوه،دې سریې پردې کاروان حمله وکړه دعمر ابن الحضرمي په نوم یوتن یې وواژه او عثمان بن عبدالله او حکم بن کیسان یې ژوندي ونیول،اونور وتښتېدل،داپه اسلام کې دلومړني کافروژل اودمسلمانانوپر لاس د لومړنیوبندیانو نیول اوددوی مال لومړنی غنیمت ګڼل کېږي.

دعزاپه نوم مشهور اوستربت چې الله ج په عظیم الشان قران کې یاد کړی دی،(افرأُیتم اللت والعزی)(۱)نجم ۱۹

یعنې (اوتاسولات اوعزی ولیدل)هم په همدې نخله کې وو چې رسول الله ص یې دمکې له فتحې وروسته دماتولولپاره حضرت خالدبن ولید ،وګوماره،کله چې رسول الله ص دمکې له فتحې وروسته له حنین څخه طائف ته تشریف وړه نو په نخله یماني اوقرن منازل تېرشو.

**اضاءة لبن**

(c) ketabton.com: The Digital Library



داجنوب اړخ ته ۱۲کیلومتره لېرې دحرم حد دی نن سبا ورته عقیشه وایي عقیش دیوشخص نوم دی،چې په نوي یمو هجري کلونوکې ددې ځای ښتن وو ،لبن شیدو (پیو)ته وایي.

دې جهیل ډوله ځای ته ځکه لبن وایي چې ورته نږدې غرونه سپین ته مایل رنګ لري،دادرسول الله ص دحلیف قوم خزاعه سیمه وه.

# حرم یا کعبه

د کعبې نومونه:

کعبه ډېر نومونه لري اوداډېر نومونه دکعبې ددرناوي او اهمیت په معنی دي،خوپه عظم الشان قرآن کې ورته داپنځه نومونه کارول شوي دي.

**۱:کعبه**

(جعل الله الکعبة البیت الحرام قیاماً للناس) (۱)مائدۀ۹۷

:یعنې الله ج کعبه عزتمن او خلکو داوسېدوځای ګرځولی دی،کعبه په عربي کې لوړې اویواځې ته وایي دامعناګانې پرکعبه تطبیقېږي .

**۲:بیت الحرام**

په پورتني ایت کې کعبې ته بیت الحرام هم ویل شوی .

**۳:بیت الله**

(وعهدنا الی ابراهیم واسمعیل ان طهراً بیتي للطائفین)(۱)البقرۀ ۱۲۵ .

یعنې:اوموږپه ابراهیم او اسمعیل ټینګارکړی وو چې زماکورطواف کوونکیو ته پاک کړه.

**۴:البیت العتیق**

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



(...والیطوفوا بالبیت العتیق) (۱) الحج ۲۹

یعنې او د بیت العتیق طواف دې وکړي

دعتیق معنی، پخوانی، لوړشانه، نه ډوبېدونکی ازاد او خپلواک دی، یاداچې چا ددې کور زیارت وکړنو ددوزخ له اور څخه خلاص شو.

۵: **قبله**

فلنولینک قبلة ترضها (۱): البقرة۱۴۴ .

یعنې: نوژر ده چې هغه قبلې ته به ستا مخ واړووچې ته یې خوښوې

www.melitahrik.com 0777 400 116

# د کعبې تاریخ او ودانوونکي

له تاریخي روایاتو څرګندېږي چې تر اوسه دبیت الله ودانې دولس ځله جوړه شوې ده، که څه هم په دې اړه ځینې روایات قوي ندي خود ځینوسند پیاوړی دی.

**د بیت الله ودانوونکي**

تاریخ دبیت الله ودانوونکي داسې راپېژني.

۱: پرښتې.

۲: حضرت ادم ع.

۳: حضرت شیث ع.

۴: حضرت ابراهیم او حضرت اسمعیل علیهم السلام.

۵: دعمالقه ووقوم.

۶: دجرهم قبیله.

۷: قصی د کلاب ځوی، دنبي ع له نیکونو څخه یوتن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸:دمکې قریش له هجرت څخه ۱۸کاله وړاندې.
۹په ۲۵هـ عبدالله دزبیرزوی.
۱۰:په ۷۴هـ حجاج دیوسف زوی.
۱۱:په ۱۰۴۰هـ ترکي سلطان مراد.
۱۲په ۱۴۱۷ شافهد دعبدالعزیز زوی.

حضرت عبدالله ابن عمر رض فرمايي کله چې الله ج حضرت ادم ع ځمکې ته راولېږه نو ورته یې وویل چې زه له تاسره یو کور هم لېږم چې له دې کورڅخه به داسې طواف کېږي لکه څرنګه چې پرښتې زماله عرش څخه طواف کوي،اوددې کور شاوخوا به داسې لمونځ کېږي لکه څنګه چې زما دعرش شاوخوالمونځ کېږي.

راوي وايي چې دحضرت نوح ع دطوفان په وخت کې ،کعبه پورته شوې وه، سره له دې چې دقيق ځای یې معلوم نه وو،خوبیاهم د پرو پیغمبرانو په خپل وخت کې،دهغې طواف کړی دی،الله ج حضرت ابراهیم ع ته دکعبې دقیق ځای وښود بیا حضرت ابراهیم ع دپنځوغرو( حرا ،شبیر،لبنان،طوراوجبل خیر)څخه تیګې راوړې،اوکعبه یې ودانه کړه.

(۱)هیتمي اومجموع الزوائد۳ ،۲۸۸ دتاریخ مکه په حواله

ځینې خلک له دې پنځوغروڅخه ،دحضرت ابراهیم ع په واسطه دتیګوراوړلو خبره نه مني ځینې دارروایت هم صحیح نه ګڼي خو ځینې یې دهغه ع معجزه ګڼي،قران عظیم الشان په دې شاهد دی چې کله حضرت ابراهیم ع خپله مېرمن حضرت هاجره اوخپل ځوی حضرت اسمعیل ع مکې ته راوستل،نوهغه وخت دکعبې،د ودانۍ نښه وه،داحقیقت دهغه ع له دې دعاڅخه ښکاري (ربنااني اسکنت من ذریتی بواد غیر ذی زرع عندبیتک المحرم) (۱)ابراهیم ۳۷.

یعني(ای زموږربه!ماخپل ځینې اولادپه شاړه ځمکه ستا د عزتمند کور ترڅنګ پرېښودل.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادې څرګندوی دی چې پـه هغـه وخـت کـې بیـت الحـرام وو،البتـه تـاریخي روایـات داهـم وایـي چـې پـه هغـه وخـت کـې دکعبـې ودانۍ،اودیوالونـه نړېـدلي وو،خوبنسټ یې لاوو،اودومره کلک وو،چې زرګونـه کالـه وروسـته هم،حضرت ابـراهیم ع پـه همـدې بنسـټونودېوالونه جـوړکړل،الله ج فرمـایي) واذیرفـع ابـراهیم القواعدمن البیت واسمعیل) (۱) البقرة ۱۲۷.

یعني:اوکله چې ابراهیم ع او اسمعیل ع دبیت الله بنسټونه لوړ کړل.

بخاري کې راځي،چې یزید بن هارون وایي کله چې عبدالله د زبیـر زوی،کعبه دودانولوپه موخه ورانوله،نوزه هملته وم،ماولیدل چې هغه حطیم هم دبیت الله پـه ودانـۍ کـې راووسـت،اوماولیدل چـې دبیـت الله بنسـټ داوښ کوهـان تـه ورته،تیګوڅخه جوړ شوی و ،وروسته دفهدپه وخت ۱۴۱۷هـ کې هم کعبه پـه همدې بنسټ جوړه شوې،په دې وخت کې داړتیاله مخې دکعبې دبنسټ یوه برخه ۱،۴۰ متـره وکینـدل شـوه،نو ولیـدل شـول،چې دکعبې دبنسـټ تیګـي لـه کـومې مسـالې اوساختماني مـوادو پرتـه ډېرې کلکـې لګـول شـوې دي،داتیګـي داوښ کوهان ته ورته وې،اواوس هم له کوم ترمیم پرته پرهماغه بنسټ دغـه ودانـۍ جوړه شوېده،دا چې دا بنسټ به له حضرت براهیم ع څوکاله وړاندې جوړ شوی وي الله ج ته معلومه ده.

دادی لـه حضـرت ابـراهیم ع راهیسـې هـم ۵۰۰۰ کالـه تېرشـول،خو دې بنسـټ دهرډول طوفان سېلاب اوهرډول طبیعي پېښومقابله کړېده.

داسلام په تاریخ کې ،تراوسه مسجدالحرام لس ځلې دلاندې اشخاصولخواپه لاندې تاریخ پراخه شوی دی .

۱:داميرالمـؤمنين حضرت عمـر ابـن خطاب لخوا پـه ۱۷هـ چې لـه ۲۳۹زسـره سمون خوري.

۲:داميرالمؤمنين حضرت عثمان بن عفان لخواپه ۲۲هـ چې له ۲۴۸زسره سمون خوري.


۳: دابوجعفرمنصورلخوا په۱۳۷هـ چې له ۷۵۵زسره سمون خوري.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴: دعبدالله ابن زبیرلخواپه **۲۵**هـ چې له **۲۸۵**زسره سمون خوري.
**۵**:دولیدبن عبدالملک لخوا
۶: دمحمدالمهدي عباسي لخوا په ۱۲۰هـ چې له ۷۷۷ز سره سمون خوري.
۷: دمعتضدعباسي لخواپه ،۲۸۴هـ چې له ۸۹۷ز سره سمون خوري.
۸-دمقتدرعباسي لخوا په ۳۰۲هـ چې له ۹۱۸زسره سمون خوري.
۹:دملک عبدالعزیزلخواپه ۱۳۷۳هـ چې له ۱۹۵۳ز سره سمون خوري.
۱۰: دفهد ابن عبدالعزیزلخوا په ۱۴۰۹هـ چې له ۱۹۸۸زسره سمون خوري.



www ... com 0777 40 ... 16

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملک عبدالعزیز په پیرکې د کعبې بیا رغونه

ملک عبدالعزیز یو ځل په ۱۳۴۴هـ یا ۱۹۲۵ ز کې د حرم د ترمیم امر وکړ بیایې په ۱۳۶۸هـ یا۱۹۴۸ز کې داکار پیل کړ د حرم د توسېع او رغونې کار پیل ووچې ملک عبدالعزیزپه ۱۳۷۳هـ ۱۹۵۳ز کې وفات شو.

دملک عبدالعزیزله وفات وروسته دهغه زوی ملک سعود دحرم دپراختیا اورغولو کار ته ادامه ورکړه اوشل کاله یې پرې تېر کړل،دې شاهانو هم دحرم دتوسېع (پراختیا) اورغونې چارې دابن لادن کمپنۍ ته سپارلې وې، پدې ترمیم سعودي له شپږسوه اوشل میلیونو ډېر ریال ولګول.

(۱)تطور عمارة المسجد الحرام ص ۱۹.

دملک عبدالعزیز اوملک سعود له ترمیم او پراختیا سره سره بیاهم حرم تنګ اوزیارت کوونکي زیات وو،بالاخره ملک فهد په ۱۴۰۲هـ یا ۱۹۸۲زکې امر وکړ چې دکعبې چت دې هم لمانځه ته چمتو کړل شي،هماغه وو چې دچت ترمیم پیل شو، په چت کې لوډسپیکرونه (لوړغږي) دیخ او تودوخې ضد مرمروته ورته تیري ،ولګول شوې، دزمزم اوبه پورته شوې،چت رڼاشو ،برېښنايي او عادي زینې ورته پورته شوې،له دې وروسته دچت ۴۲۰۰۰ مربع متره ځمکه د ۱۰۵۰۰۰لمونځ کوونکیو ګنجې ته چمتو شوه ،دچت په دې ترمیم هم شاوخوا دېرش میلیونه ریاله ولګېدل، فهد په ۱۹۸۸کال یا د۱۴۰۹هـ دصفرالمظفرپه میاشت کې دحرم ددوهمې پراختیا بنسټ کېښود چې په ۱۴۱۳یا۱۹۹۳کې پای ته ورسېد ،په دې پراختیا کې دباب عمره او باب عبدالعزیز ترمنځ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۰۰۰ متره مربع مساحت کې دمسقفلې لورته چې مخامخ ورته دارالتوحيد کانټينينټل. شرکة المکه اوبرج زمزم دی ،يوه لويه ودانۍ پيل شوه دا ودانۍ دوه ځمکتلي (زيرزميني)يوه ګراونډفلور (دځمکې سطحه)لومړی پوړ (چې موږ افغانان ورته په عامه ژبه دوهم پوړ وايو)اوددې پوړ چت لري دمسجد انتظاميه لومړی ځمکتلی د ځان او مسجد لپاره کاروي، په دې ځمکتلي کې دمسجد فني ،تخنيکي او کنټرولوونکي وسايط ځای پرځای شوي ،همدارنګه ځينې ډيپوګان اوتحويلخانې هم پکې دي ،دې ځای ته د عاموخلکونوتل منع دي.

اوددريم پوړ چت دلمونځ کوونکيو استفادې ته چمتو دی.

نوې ودانۍ ډېره ښکلې ده او ټول عصري او پرمختللي وسايل او دهواديخ ساتلو لپاره پکې سلګونه ايرکنډېشنونه کارېدلي دي .

ددې څلورواړو ځايونومساحت ۷۲،۰۰۰ متره مربع دی،دا ودانۍ دومره کلکه ده ،چې د نورو پوړونو تاب هم راوړلی شي او که اړتيا پيښه شي نور پوړونه هم پرې جوړېږي، په وروستي چت ښکلې درې ګنبدې ۱۵×۱۵=۲۲۵ متره مربع کې جوړې شوې دي، اوهره ګنبده ديارلس متره لوړه ده ،هر پوړ ته د عادي زينو (پوړيو)ترڅنګ خوځايه بريښنايي زينې هم پورته شوېدي،هر پوړ ۵۳۰ستني لري دهرې ستن په بيخ او پورتنۍ برخه کې څلور خواوته ايرکنډېشن لګېدلی دی.

دسعودي پاچايانولومړی توسبع (پراختيا)شمال ته د مروې اوباب العمره پر خواچې باب الزبير ،باب الندوه، باب حجراسمعيل ،باب المدينه،باب مهدي،هم پکې راځي وه او جنوب ته دصفاله غونډۍ تر باب عبدالعزيز پورې چې باب حنين ،باب اسماعيل هم پکې ده غځېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملک فهد په وخت کې

دسلطان مراد ترکي لخوا دکعبې له رغوني درې سوه پنځه اویاکاله تېرشوي،اودکعبې ودانۍ بیارغونه غوښتله له همدې امله ملک فهدبن عبدالعزیزچې ځان ته یې دحرمینوخادم وایه ، دکعبې ترمیم د ۱۴۱۷هـ سپوږمیز کال په محرم کې پیل کړ او کعبه یې بنسټېزه ورغوله،په دې ترمیم کې یې دکعبې ددېوالونوتیګې هوارې ا و یو برابرکړې وې .

بهرنۍ برخې :دتیګوله منځه یې پخوانۍ مساله راووېسته،نوې سیمنټي مساله یې ور نوېسته،دواړه چتونه یې نوي ترمیم کړل،درې واړه ،ستني یې ورته نوې کړې،لدې رغونې وروسته دکعبې لوړوالی ۱۴متره دملتزم اړخ یا له حجراسودڅخه ترحطیم پورې ددېوال اوږدوالی،۱۲،۸۴ ،د حطیم له پیل څخه دحطیم تر پایه یاتررکن شامي پورې ۱۱،۲۸متره ، له رکن شامي یادحطیم څخه تر رکن یماني پورې۱۱،۱۲ اوله رکن یماني څخه ترحجر اسود پورې ۱۱،۵۲ . متره د ه .

په ۱۴۱۷ه سپوږمیزکال دکعبې دترمیم،ویاړ د ابن لادن دکمپنۍ په برخه شو.

## لومړی وصل

له هرات څخه چې الوتلو نو ټول حاجیان په احرام کې وو خو سید نصیر،او حاجي عبدالله همداسې راوختل، ما ورته وویل چې تاسو که په الوتکه کې احرام کوئ نو باید له میقات څخه تېرنشئ اوکه په جده کې یې کوئ نو جده خوله میقات څخه اخوادحل په ساحه کې ده او دم درباندې اوړي ،هغوی راته وویل چې موږ بیاله جدې څخه جحفې ته داحرام لپاره ځو زه هم چپ شوم ،دوی دواړه له موږ سره په موټروکې مکې معظمې ته هم را نغلل حیران وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دوی ولې داکار وکړ؛ بیا وروسته پوه شوم چې دوی دواړه شیعه ګان دي، دعبدالله رنګ خو هزاره ګانو ته ورته وو خو سید نصیر هزاره هم نه وو اصلاً دکابل دچهاردهي اوسېدونکی وو، چا ګومان هم نه کاوه چې دی به شیعه وي.

خونوته د ننوتلو په وخت دمولانا یارمحمد په نوم یو تن چې ښکلی سور او سپین رنګ، سره او توره ګډه وډه ږیره یې وه راغی ځان یې په مکه مکرمه کې د شرکت له مسؤولینو معرفي کړ. او ویې ویل چې یوولس بجې رانښکته راشئ چې عمرې ته ځو، موږ خپل سامان ځای پر ځای کړ، ما په هرات کې هم د احرام لپاره غسل کړی و، خو په جده کې ډېر خولې شوی وم دلته تشنابونه اوګرمې اوبه هم پرېمانه وې له سره مې غسل وکړ ټول دعمارو مخ ته کوچنی میدان ته راووتو موږ یوه ته هم لار معلومه نه وه. مولنا یار محمد چې په مولنا مشهور وو له دري څلور ملګرو سره زموږ لارښود شوه لاره یې راته تشریح کړه، دعمارو موقعیت یې حفایر شارع ستین (شپتم سړک)وښود د سړک پرغاړه د متحده په نوم درملتون ووچې په ټول سعودي کې نماینده ګۍ لري په مکه او مدینه کې خو یې ما خپله شپږ اوه نماینده ګۍ ولیدلې.

دلته په څلورو کتارو کې منظم ودرېدو دهرکتار لپاره یو تن مسؤول وټاکل شو، چې حاجیان بې نظمۍ ته پرېنږدي، یوکتار ماته را وسپارل شو، زموږعماره له حرم شریف سره په مستقیم لوی سړک حرم ته نسبتاً نږدې پرته وه ، کږې وږې لارې او فرعي سړکونه نه وو خو دعمارې دروازې لوی سړک ته نه وې، بلکې ددوو عمارو شا لوی سړک او ددوو دروازې بیا مخ په جنوب ددې نورو عمارو دروازو ته وې کله چې لوی سړک ته را ووتو ګورو چې ټول سړک له خلکو ډک دی ، څومره چې دا دوطرفه سړک ښکاري نو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو ډک دی ،ښځې او نارینه ،ډول ډول جامه، ډول ډول رنګ . ډېر یې حرم ته او لږ یې له حرم څخه خپلو استوګنځایونو ته روان وو ځوځایه مې په داسې خلکو سترګو ولګېدې چې نارینه یې د احرام په جامه کې خو ښځو یې یو ډول یونیفورم ( یو ډول څادر ،کمیس ،پرتوګ په څادر نښه )درلوده او یو ځای به روان وو چې دوی له نورو سره جوت پېژندل کېدل، ،پرلوی شا وخواشپاړلس متره سړک هغه د چاخبره د قدم ځای نشته دی ،د تلبیې ملکوتي ازانګو فضا سندریزه کړې وه، موږ د سړک پر ښي خوا مخ پر شمال لوېدیځ حرم شریف ته روان شو څو ګامه وړاندې ښي خوا ته یو لوی مسجد پرمخ راغی مولنا وویل چې دا مسجد په ټوله مکه کې مشهور او داسامه پلار ابن لادن جوړ کړی دی او د ابن لادن په نوم یادېږي که له چا ځای ورک شو نو ددې مسجد پوښتنه دې وکړي .له مسجد سره سم پیچومی پیل شونور نو د ساعت برج موږ ته ډېر نږدې دی.

دکعبې لیدلو تلوسې ډېر نا ارامه کړی وم ،موږ د هغه ځای چې حرم ترې پر خپلو سترګو لیدلی شو ،په څو متری کې وو ،بس چې دهمدې پیچومي چې په حقیقت کې پول وو سرته ورسېږو نو حرم ته رسېدلي بلل کېږو زه خپل شل کلن ارمان او د خپلې مینې وصل ته رسېدونکی وم،همدا څو متره فاصله لکه څو کیلومتره اوږده شوه کله چې د پله سرته ورسېدو نو الله اکبر او د( اللهم لبیک لبیک لاشریک لک لبیک ان لحمد والنعمة لک والملک لا شریک لک) انګازې لوړې او ژړاګانې پیل شوې،مولنا راته وویل چې دا مخامخ منارې د بیت الله دي،تلبیې او ژړاګانو زور واخست له پله ښکته اوله سړک تېرشود حرم صحن ته له ننوتلو سره مولنا ټول کېنول ،له یو بل څخه د بېلېدلو په صورت کې یې دراټولېدلو ځای د دارالتوحید کانټیننټل هوټل مخ ته تلو یزیون ته ورته د اعلاناتو سکرین وټاکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولنامخکې موږ ورپسې دحرم شریف ښې خواته روان شو ،دحرم شریف حویلۍ او شاوخوا یې سپین پړق وو ،دلته دتیارو ځای نه وو له زرګونو کالو راهیسې دلته تیاره مغلوبه او رڼا او نور غالب وو ، دلته دوامدار ،انوار رااوري، تیاره فکرونه ،تیاره نظریات له دې ځایه کوچېدلي ځای یې الهي انوارو او دمعرفت او تعقل رڼا نیولی دی ،دعظیم الشان قرآن پر نزول سره دا رڼا تلپاتې شوه په حرم کې شپه نشته تول ورځ ورځ او رڼارڼا ده.

هغه مکه چې اوسېدونکیو یې یووخت دشیطان څراغ دبلولووس نه درلودن تول چراغان ده.

مولنا په یوه دروازه ور ننوېستو اوس نو څو ثانیې پاتې دي چې د څه کم دوه میلیاردو مسلمانانو قبله ، دبشرپه تاریخ کې دځمکې پر مخ لومړنۍ ودانۍ ،او تر تولو سپېڅلې او مبارکه خونه ووینم ، هغه چې هره ورځ یې کم تر کمه یوولس ځله یادوم او دلمانځه په هر نیت کې وایم (مخ مې دکعبې شریفې په لوري)هغه چې که په لمانځه کې ورته مخ نکړې نو که هرڅومره دې نور شرایط اوارکان برابرهم وي لمونځ دې دمنلوندی،هغه چې په بیت الخلا او استنجا کې ورته مخ کول خو پرېږده آن پښې غځول اولاړې توکول یې هم خواته منع دي.

هغه چې په ژوند اووینه هم ورته مخ کوو ،خوب موهم همدې خواته دی ،او له مړینې وروسته په قبر کې هم همدې خواته مخ اړوو .هغه ځای چې تول ساکښان یې هم تعظیم اوتکریم پیژني او آن توتکۍ یې هم له فیلانو ساتي.

له ننوتلو سره سم ژړاګانې دومره ډېرې لوړې شوې چې تلبیه یې تر شعاع لاندې راوسته مخامخ راته دکعبې خونه وه ، په همدې نیمه شپه کې لدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمعې څخه لسګونه زره پتنګان تاوېدل . پرته لو داسې کیفیت او دجذب حالت راغلی چې دتشریح لپاره یې الفاظ او دبیان لپاره یې لار نلرم.

سترګې مې پر کعبه ګنډلې وې خوزړه مې باور نه کاوه چې زه به اوس دهغې لیلا وصل ته رسېدلی یم چې میلیونونه مجنونان لري، دوه سترګې مې ځلور ،ځلور مې اته،او اته مې شپاړلس کړلې په غټو غټو مې وروکتل.

نور نودتاب متره نه وه،ماهېڅکله هم فکر نه کاوه چې زما کاڼی زړه به هم کله نرم شي ژړا اوسلګۍ خوپرېږده. خوهلته کیفیت او حالت داسې وي چې دکاڼي زړه خو لاڅه چې آن له الماسو هم موم جوړوي .

یو وخت مې چا پر اوږه لاس کېښود ویل یې بس کړه ځه چې ملګري طواف ته بښکته شول بیا یې موندلی نشو .

ماهلته داسې ځوانان هم په کریکو ولیدل چې که ددنیوي غم غرونه یې هم په سر کېښودل شي ښایي ورمېږ یې کوږ او سترګې یې لمدې نشي.

طواف مو په مطاف کې پیل کړ ،زموږ طواف دعمرې وو، په لومړیو درې شوطو(دورو) کې موباید رمل(اودپهلوانانو په څېر منډه او اوږې پورته پورته )کړې وای،خودبیروبار له کبله داکارناشونی و ،دمنډې خو پرېږده آن دعادي تګ امکان هم نه و ،ډېر ورو ورو روان و کله کله به موهسې اوږې پورته پورته کړې کله به مو چور هېر شول ،طواف مو دژړا او انګولا په بدرګه وکړ،زما سترګې له کعبې نه اخوا کېدلې ،له دې کتو مې داسې خونداخست چې محسوسېده خو دکیفیت بیان یې نشم کولی. له طواف څخه چې فارغ شو نو لومړی ځل وو چې پخپله مې د زمزم اوبو ته ګیلاس ونیوه هملته مطاف کې ورتاو شوم ښې ډېرې اوبه مې وڅښلې موږ په

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتيانادیده وو په خونديې نه مرېدو، دوه رکعته لمونځ مو وکړ،وروسته مولنا دصفا او مروه ترمنځ سعې ته روان کړو.

ماداسې انګېرله چې صفا او مروه به له کعبې لېرې سپېرې غونډۍ وي ،دخوړ له پاسه به پول وي په دې پول کې به چېرته دوه شنه راډونه وي چې دمنډې ځای ښيي خو داسې نه وو له مطاف څخه دکعبې دهغې دروازې خواته چې دصفا ددروازې په نوم يادېږي په زينه راوختو، دا دطواف دپيل او پای زينه ده څوقدمه چې وړاندې لاړو لاد کعبې له محوطې بهر نه وو وتلي چې مولنا يوې پر مرمروپوښلې لوړې ته بوتللو ويې ويل چې دادصفا غونډۍ ده دا وړاندې شنه راډونه دي او هغه بل خواته همداسې لوړه ده هغه مروه ده.

تاسې موسعې وکړئ زه همدلته درته ناست يم يواځې د صفا او مروه په اړه، نه بلکې په ټوليزډول د کعبې او دحج د مناسکو د ټولوځايونو په اړه زمااټکل بل ډول وو.

صفااو مروه او ددوی ترمنځ د تګ راتګ لارې خو دومره ښکلې او په عصري ساختماني موادو اونقشې جوړ شوي چې دافغانستان ارګ ورسره سيالي کولی نشي.

سعی د حج او عمرې له واجباتوڅخه ده او تر تيب يې داسې دی چې لومړی به دصفا په لوړه ودرېږې (صفاپخوا غونډۍ وه او دوخت په تېرېدو او دحکومت په هڅو اوس دکعبې له سطحې لږه لوړه پاتې، نوره ختمه ده )

دلته به مخ کعبې ته کړې ځانګړې دعا به کوې بيابه دمروې خواته حرکت وکړې کله چې شنه ميل ته ورسېږې نو له دې شنه ميل څخه به تر بل شنه ميل پورې منډه وکړې ،داميليونه صفاته نږدې دي کله چې مروې ته ورسېږې نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته به هم ودرېږي مخ به کعبې ته کړي دعابه وکړي او دصفا په لوربه راروان شي، دسعې لپاره صفاته دتللو لار بېله او مروې ته بېله جوړه شوې ده ،ددواړو لارو ترمنځ دوه کوچنۍ نورې لارې هم شته دي .کله چې شنه راڼ ته راورسېږي نوتر بل شنه راڼ پورې به منډه وکړي،دصفا او مروه ترمنځ اوه ځله تلل راتلل سعې ده هرځل به هم په صفااو هم په مروه کې ودرېږي مخ به کعبې ته کړي دعابه وکړي له صفا څخه مروې ته اوله مروې څخه صفاته پر دواړو لارو دواړو خواوته دوه دوه شنه څراغونه چې راڼ ته ورته دي اود فقهې په کتابونوکې ورته میلین اخضرین ویل کېږي نصب شوي دي.

سعې مو وکړه څوک ژر اوڅوک لږناوخته فارغ شول .

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په دوه تنو د ۱۲۰ حاجيانو سرخربيل

اوس راته يو د سر خرييل پاتې وو چې له احرامه ووځو او خپلې جامې واغوندو.

مولنا موږته وويل چې دلته سرونه مه خربيئ ځکه چې نايان لس پنځلس رياله اخلي ،هلته په عماره کې هلکان شته که پنځه پنځه رياله ورکړئ ښه په راحت به يې درته وخريي موږ هم هلته سرونه ونه خربيل ،نابلدي هم وه خو چې عماروته راغللو دمجيب اونعمت په نوم دوه افغان هلکان وو او موږله يوسل اوشپيتو تنوډير ووفکر مووکړ چې که دوی ته انتظار کووا ونوبت ته کښنو ښايي ډير وځنډيږو مولناته موهم غوسه راغلله چې ولې يې غلط وپوهولووروسته پوه شو چې مجيب دمولنا اوښی اوله نعمت سره يې هم دخپلوئ کومه اړيکه وه ده غوښتل داپيسې ددوی په جيب کې ولوېږي.

ماملګروته مشوره ورکړه چې راځئ خپله يودبل سرونه وخربيو. لومړی زه يوه ملګري ته چې لامې نه پېژانده او سر يې مخکې خرييل شوی وکښناستم سر يې راته وخربيه،داوښتته ماپنځلس کاله نه ووخربيلي او په همدې هيله مې ساتلي وو چې دا به په حج کې خربيم او الله ج مې داهيله تر سره کړه،درې نيمې بجې له عمرې فارغ شو ،احرام مووو پست، جامې مو واغوستې. څه ملګري ويده شو ځکه چې ډير ستړي وودشنبې شپه ،دشنبې ورځ ديکشنبې شپه ټول په سفر او ګرځيدو تيرشول خو زه بيرته حرم ته لاړم لار اسانه وه پر سړک بياهم خلک نه ځايېدل ،لمانځه ته وخت کم وو لاندې په مطاف کې دطواف اجازه نه ورکول کيده تهجد مو وکړل او په کعبه کې په جماعت دلومړي لمانځه ويار راپه برخه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صفا او مروه

**صفا**:

دایوه کوچنۍ غونډه ده چې دصفا او مروه ترمنځ دسعې پیل هم ترې کېږي دادکعبې دخونې په یو سل اودېرش مترۍ کې سوېل ختیځ ته پرته ده خو دکعبې په اوسنۍ ودانۍ کې دننه ده اوس ددې غونډۍ په سر یو ګنبد ډوله چت دی .

**مروه**

داهم یو کوچنۍ غونډۍ ده ددې دتیګې نوم مروه ده چې سپین ته مایل رنګ لري اوډېره کلکه ده ،داغونډۍ د کعبې له شامي رکن څخه شاوخوا درې سوه متره لېرې شمال ختیځ ته پرته ده سعې یااوم شوط همدلته پای ته رسېږي .

**مسعی**

دصفا او مروه تر منځ د تګ راتګ (سعې)لارته مسعی ویل کېږي صفا او مروه دوه غونډۍ وې. ددواړو غونډیو ترمنځ **۳۹۴,۵**متره مسافه ناهواره لوړه او ټیټه وه ،له شګو او کروت کاڼو ډک د پنځوس متره سور په اندازه خوړ هم پکې وو دتاریخ په بېلابېلوپړاوونوکې داځای هوار ،ترمیم او جوړ شوی دی ،یووخت داځای له بیت الله څخه بېل وو او ددواړو تر منځ دوکانونه او ودانۍ وې خو په بېلابېل وخت کې چې دبیت الله دپراختیاپروژې عملي شوې نودا ساحه هم په بیت الله کې راغله اوس خودبیت الله حویلۍ له صفا او مروه څخه هم ډېره وړاندې تللې ده. دبیروبار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکموالي او دخلکود اسانتیالپاره د صفا اومروه تر منځ سعې ته څلور لارې جوړې شوې دي یوه ځمکتل (زېرزمیني) ،یوه دځمکې پرسطحې ، بل دوهم او بـل دریـم منـزل څلـور واړه پـوړه پـه ډېـر ښـکلي ډیـزاین، ډېـرو قیمتـي ساختماني توکیو په عصري او پرمختللي ډول په ډېر جذاب اومناسب رنګ جوړ شـوي دي. لـه صفا څخه مروې تـه دتللو پـه ډېرو قیمتـي مرمروپوښـل شوې لار ښیله ،له مروې څخه صفاته د راتللو همدا ډول لار ښیلـه او پـه منځ کې دناروغانو او ویلچیرانو (دناروغانو دبایسکلونو)دوه لارې ښیلې دي پـر هر لار دزمزم داوبودوه ځایه دي چې په هر ځای کې شاو خوا لـس نلکـې دي او په یووخت کې ترې شاوخوا څلوېښت تنه اوبه څښلی شي ،دمسعی د هر منزل سور شل متره دی د لومړي منزل لـوړوالی ۱۱،۷۵او ددوهم ۸،۵متـره دی، اوس په لکونو حاجیان دلته په یو وخت کې سعی کولی شي.

هر پوړ ته پراخې پراخې عادي او برېښنا یې زینې (پوړۍ) اولفټونه ختلي دي ،دهر پـوړ ټـول مساحت ۷۸۹۰متـره مربع دی برېښـنا یـې زینـې د بـاب الصفا(دصفا دروازې )بهر او لفټونه یې دننه دي.

دصفا او مروه تر منځ له عامو دروازو پرته اوه داسې پلونو تـه ورتـه لارې دي چې هغه خلک پرې تـګ راتـګ کـوي، چې لـه بهـر څخـه نېغ حرم تـه تلل غواړي له دې لارو تلل د سعې کوونکیو د مزاحمت مخه نیسي.له دریم پـوړ پرته په نورو پوړونوکې پکې او دومره ایرکنډیشـنونه دي چې دسعودي پـه ګرمۍ کې خلک پکې یخ نیسي،لسګونه قندیلونه پکې ځوړند دي.

له بهرنـي صحن څخه صفا دروازه د کعبې لسمه دروازه ده چې تـر مـروه پورې دا شمېره یو دېرشمې ته رسېږي په دوی کې هوایي پول ته د ورته لارو دروازې هم شمېرل کېږي په دې منځ کې مشهورې دروازې باب الصفا ،بـاب بني هاشـم ،بـاب علـي ،بـاب العباس،بـاب النبی،بـاب السـلام یابـاب بنـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپېبه،بآب الحجون ،باب المعلاة ،باب المدعی اوباب المروه دي او دصفا او مروه له منځ (مسعی)څخه دکعبې سالون يا مطاف ته مشهورې دروازې باب مراد ،باب المحصب او باب عرفه دي.

مروه تر ۱۴۱۷هجري سپوږمیز پوري غونډۍ وه خو له همدې کال څخه تر ۱۴۲۳داغونډۍ هواره شوه اوس دتیګو کلکه لړه ننبه پاتې ده پرسر یې دموم په څېر سپین ته ورته ژېړ مواد پراته دي،چې پښې هم نه ژوبلوي او انسان پرې ښوېږي هم نه، دصفا له غونډۍ شیشه یې کتاره تاوه ده.

دصفا اومروه تر منځ له شنو راډونوسره دعباس ابن عبدالمطلب کور وو ، تر ۱۳۷۲هـ سپوږمیز کال حکومتونو ترمیماوه خو په همدې کال یې دصفااومروه دپراختیا لپاره ونړاوه.

(۱)اخبار مکه دفاکهي ،دتاریخ مکه په حواله

اهل کتابوداسې عقیده درلوده چې داساف په نوم یوتن نارینه له نائلې نومې ښځې سره په کعبه کې ناروااړیکې ونیولې چې الله ج دواړه مسخ او تیګې ترې جوړې کړې خلکو هم د عبرت لپاره اساف د صفا اونائله د مروه په غونډۍ کېښودل .

دوخت په تېرېدوسره خلکو ددې دواړو بتانو عبادت پیل کړ او دایې محترم بلل،د جاهلیت (ناپوهۍ)په پیر کې،هم خلکو د صفااو مروه ترمنځ سعی کوله داسلام د رڼا په خپرېدلو سره هم خلکو داسعی کوله خوځینو داګومان کاوه چې ګویا داسعی دهمدې بتانو (اساف او نائلې)له کبله ده او دا دود باید بند کړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ج د همدې شک دله منځه وړلو لپاره وفرمایل چې (ان الصفا والمروة من شعائرالله...) یعنې یقیناً صفا او مروه دالله ج له نښو څخه دي ) (۱) البقره ۱۵۸

دصفا او مروه تر منځ سعې د حج یا عمرې له واجباتو څخه او دحضرت ابراهیم او حضرت هاجرې سنت دي ،رسول الله ص هم دا ابراهیمي سنت اداکړیدي.

دبخاري په باب احادیث الانبیاء کې له حضرت ابن عباس څخه روایت دی چې رسول الله ص فرمایي: حضرت ابراهیم ع خپله مېرمن حضرت هاجره او خپل زوی حضرت اسمعیل راوستل اودواړه یې دکعبې ترڅنګ له یوکڅوړې خرما او یو مشک (زي)اوبو سره پرېښودل په دې وخت کې حضرت اسمعیل ع تی خوره کوچنی وو او په مکه کې نه کوم کلی و اونه کوم کور یا ښار.

کله چې حضرت ابراهیم له دوی دواړو څخه روان شو نو حضرت هاجرې ترې په حیرانتیا وپوښتل چې ته موږ په دې سوځنده ،بې اوبو ،بې ونښو اوبې ځوکه دښته کې ولې پرېږدې ،خو حضرت ابراهیم ځواب ورنکړ کله چې حضرت هاجرې څوځله داپوښتل او حضرت ابراهیم ځواب ورنکړ نو حضرت هاجرې ورته وویل آیا داد الله ج حکم دی؟ هغه ځواب ورکړ هو.

دده داځواب حضرت هاجرې ته دغره په څېر ډاډ و، ورته یې وویل کله چې داد الله ج امر دی نو باور لرم چې هغه به موږ وساتي.

حضرت ابراهیم لږ اخواپه داسې ځای کې چې حضرت هاجرې نه لیده ودرېد مخ یې قبلې ته کړ او دادعا یې وکړه (ربنا انی اسکنت ....)یعنې( ای زموږ ربه ما خپل اولاد په بې کروندې دښته کې ستادعزتمن کور تر څنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پربښود ای ربه ددې لپاره چې لمونځ وکړي نو دخلکو زړونه ددوی خواته راواړوه او هغوی ته له مېوو څخه روزي ورکړه چې ستامننه وکړي )
دحضرت ابراهیم له تللو وروسته هاجرې خپل زوی ته تی ورکاوه او هماغه اوبه او خرمایې کارولې خولې وروسته له تندې سره مخ شول، حضرت هاجرې به چې معصوم اسماعیل ته وکتل نو خفه او وارخطابه شوه با الاخره تاب ورنغی، نږدې غونډۍ صفا ته پدې هیله ورو ختله چې ګوندې څوک ووینې او اوبه ترې وغواړي خو ،په دې سوځنده اووچه دښته کې هېڅوک هم نه وو، له هغه ځایه راښکته شوه او دمروه پر لور لاړه کله چې له صفا ښکته خوړ ته ورسېدله نو حضرت اسماعیل ع یې له نظره پناشو نو له دې خوړ څخه په منډه تېره شوه ، چې حضرت اسمعیل ووینې ،هسې نه چې کوم ځناور زیان ورته واړوي، مروه ته ورسېدله هلته یې هم څوک ونه لید اوه ځله د صفا او مروه تر منځ لاړه او راغله او په دې خوړ کې یې منډه کوله(ددې خوړ په ساحه کې اوس شنه راډونه دي او دلته اوس هم حاجیان منډه کوي.)په اوم ځل چې مروه ته وختله یو غږ یې واورېد ،باور یې هم نه راته،خو فکر یې کاوه چې کوم کس دده مرستې ته راغی بیایې غوږ ونه څک کړل،ګوري چې یوه پرښته پرځمکه خپل وزر وهي چې له دې ځایه د اوبو چینه راووته، هاجره راغلله له دې چینې څخه یې د حوض په څېر کوچنی دېوال ددې لپاره تاوکړ چې اوبه ونه وځي ،دتحصیل په دوران کې مې چېرې لوستې وو چې دالله ج رسول ص فرمایلي دي الله دې پرهاجرې ورحمېږي اوبوته یې زم زم (په عبراني ژبه ودرېږه ودرېږه ودرېږه)، وویل او ددې له غوښتنې سره اوبه ودرېدلې که هغې اوبو ته زم زم نه وو ویلې نو په مکه کې به له دې اوبو نهر روان شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينو خلکو بيا له دې کيسې سره اسرائيليات يوځای کړي،داسې کيسه يې جوړه کړې چې ګويا ،حضرت ساره د حضرت ابراهيم ګرانه مېرمن او دهغه د تره لوروه او هاجره يې ازاده وينځه په نکاح کړې وه ددواړو بنو يوځای ګوذاره نه کېدله ،حضرت سارې په حضرت ابراهيم زور راووړ چې هر ډول کېږي له دې بنې او بنتون څخه به يې خلاصوې هماغه وو چې حضرت ابراهيم ع بې له دې چې هاجرې ته څه ووايي هغه له شام څخه حجاز ته را روانه کړه او دلته يې بې هرډول توښې او هر ډول سرپنا او سر پرسته پرېښودله.

داپر يوه اولوالعزمه رسول بهتان دی يو اولوالعزم رسول خوپرېږده چې هېڅ عاقل انسان به له خپل اولاد اومېرمنې سره داسې کار ونکړي.

لکه څرنګه چې په پورتني حديث کې هم راغلي حضرت ابراهيم داکار يوائې او يوائې د الله ج په حکم او دهغه د رضا لپاره وکړ او حکمت يې هم ښکاره دی الله ج ددوی په واسطه هلته د يو لوی تمدن بنسټ کېښود ،ابادۍ وشوې، دحضرت ابراهيم ع دعاقبوله شوه، الله ج په ټوله نړۍ کې د خلکو زړونه کعبې ته ور مات کړل. نن سبا له ټولې نړۍ څخه هر وخت خلک کعبې ته د حج او عمرې لپاره ځي، د زمزم پر اوبو ځان خړوبوي ،او ابراهيمي ،اسماعيلي او د هاجرې سنت عملي کوي.

له هماغه وخت را هيسې کعبه د خلکو قبله ده او د ابراهيم ،اسمعيل او هاجرې په قدموقدم ردي ،دهغوی پر تقليد قرباني کوي دهغوی پر تقليد شيطان ولي او .....

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن هر کال میلیونونه خلک د کعبې د زیارت په اړه د حضرت اسمعیل غږ ته لبیک وایي،او په دې وچه ،سپیره بې وښو او بې اوبو دښته کې د نړۍ ټولې مېوې په هر موسم کې موندل کېږي .

له صفا غونډۍ سره د اسلامي تاریخ ډېرې پېښې تړلې دي، دبېلګې په توګه کله چې الله ج خپل رسول ص ته امر وکړ چې خپل نږدې دوستان وویروه (۱) (شعراء۲۱۴)

نوهغه دصفا غونډۍ ته وخوت او خپل قوم په ځانګړې توګه فهر او عدی یې را وبلل ورته یې وویل که زه تاسو ته ووایم چې ددې غونډۍ له شاه ددښمن یو لوی لښکر راروان دی او پر تاسو د برید نیت لري نو تاسو به زما پرخبره باور وکړئ؟،هغوی ورته وویل هو ځکه چې موږ له تا هېڅکله هم دروغ ندي اورېدلي هغه ص ورته وفرمایل نو زه موله یو سخت عذاب څخه وېروم چې ډېر ژر راتلونکی دی ابولهب ورته وویل چې (معاذ الله) خدای دې خوار کړه آیا د همدې لپاره دې راوبللو؟. په همدې خاطر بیا دا ایت نازل شو (تبت یدا ابي لهب ......) (۱)

بخاري له ابن عباس څخه.

حضرت عبدالله ابن عباس فرمایي چې قریشو رسول الله ص ته وویل ته خپل رب ته دعا وکړه چې دادصفا غونډۍ سره زر وګرځوي، که داکار وشو موږ ایمان راوړو ، خوحضرت جبرائیل ع، رسول الله ص ته د الله ج دسلام له رسولو وروسته وویل که داکار هم وشي نو دوی ایمان نه را وړي که ته غواړې زه به داکار وکړم خو که بیاهم ایمان رانه وړي نو زه به سخته سزا ورکړم.خوکه ته غواړې همداسې یې پرېږده زه به د خپل رحمت او توبې دروازې ورته خلاصې پرېږدم رسول الله ص هم ورسره پرهمدې توافق وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له همدې صفا سره ابوجهل د رسول الله ص بې احترامي وکړه او حضرت حمزه يې ډېر ژر غچ واخست.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# په مکه کې لومړۍ ورځ او دوستان

سحر له لمانځه وروسته مې طواف وکړ بیا مې خپل ماما حبیب الرحمن استاد ته ټېلیفون وکړ، هغه هم په حرم شریف کې و هغه له ماښخه دیارلس ورځې وړاندې تللی وو، د حرم شریف په حوېلۍ کې د ساعت له یو کوچني برج سره مو وعده وکړه زه چې ورغللم هغه هلته تیار ولاړ و. د یو بل په لیدلو ډېر خوښ شو له سلام او ستړي مه شي وروسته له هغه سره د هغه اطاق ته روان شوم له حرم څخه ورته ۴۰ دقیقې پلې مزل وو، دده په لیدو مې ټوله ستومانتیا ووته، له هغه سره مې د سحر چای وڅښه د کور او کلي د خبرو تر ځنګ یې په مدینه منوره او مکه معظمه کې د خپل دیارلس ورځني ژوند په اړه هم معلومات راکړل، ویل یې چې مدینه منوره ډېر ښکلی او پاک ښاردی، ښه هوا، ښه فضا، پراخ سړکونه، پراخ چاپېریال نسبت مکې ته ارزاني، پکې شته ده د نبوي مسجد ډېره ستاینه یې وکړه. حبیب الرحمن استاد زما، ماما او ترما کوم شل کاله مشر دی خو ټول عمر مو سره یو ځای تېر کړی دی د سکه مشر ورور په څېر یې له موږ سره چلند کړی لکه چې کور، کټه او تاوان مو یو وي.

ده راته وویل چې زموږ کلیوال غلام دستګیر، حاجي شېرزمان او شېر زموږ په خواکې په ۱۳۲ عماره کې اوسي هلته ورغللو خو د عمارې عرب څوکېدار د ننوتلو اجازه رانکړه، ماما مې خپل ملګري ډاکټرعبدالقدیر ته چې په مدینه منوره کې ورسره د اطاق ملګری او د ننګرهار ولایت د سره رود د ولسوالۍ د فتح اباد (فتیوات) اوسېدونکی دی، ټېلیفون وکړ هغه هم په همدې عماره کې اوسېده، ډاکټر عبدالقدیر رابښکته شو، لومړی یې خپل

www.melitabrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطاق ته بوتللو هغوی کبان پاخه کړي وو خو موږ ماړه ووهسې مو یوه مړۍ ورسره و اخسته ،ډېر خوندور وو.

له هغوی څخه د شېرزمان دوی خونې ته لاړو.

په دې خونه کې یو حاجي شېرزمان و چې د سره رود ددوه سرکې اوسېدونکی دی تر ما ډېر مشر دی خو انقلابی مجاهد او په وینا یې موحد سړی دی ،زموږ دوستان دي ملګرتوب مې هم ورسره دی په کابل او پېښور کې په یوه مېنه کې اوسېدو.

غلام دستګیر زموږ کلیوال ډېر نېک سړی له ښو اخلاقو او اوږدې ږیرې یې د شیخ لقب ګټلی دی.

دابل شېرزمان زموږ قومي اوعزیز دی،زما ترور زی هم دی،ښایي کوم کال له ماکشر وي،په سر خرود کې زموږ او دوی تر منځ یو خوړ دی.

له نېکه مرغه ددوی خواته ګلاجان هم راغلی و ګلاجان ددې کشر شېرزمان مشر ورور دی، هغه هم له یو شرکت سره تر دوی وروسته او تر مامخکې راغلی وو او حرم ته نږدې په یوه عماره کې اوسېده.

یوساعت بنډار مووکړ یوولس بجې شوې، ټول حرم شریف ته دماسپښین د لمانځه لپاره ولاړ شو، ماسپښین لمونځ په پاو باندې دولس بجو اداکېده،خو له لمانځه او جنازې چې تر څو فارغېدلو نو یوه بجه شوه .

له لمانځه وروسته خپل اطاق ته لاړم ډوډۍ مو وخوړه زموږ په اطاق کې یو شنه غالۍ، درې تختې، پر هر تخت یو غټ اسفنج ،درې کوچنې بالښتونه یوه بړستن یوه روجایي ،یو ایرکنډېشن یو پکی دوه راډونه وو.
زما داطاق ملګری دهرات ښار اوسېدونکی مولوي محمود احمدي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمدي دهرات په محکمه کې قاضي هم و . مورېچې په کومه عماره کې اوسېدو، داځلور پوړه وه په هر پوړکې دوه دوه اپارتمانه او په هر اپارتمان کې دوه خونې، یو کمود ،یوتشناب له تفت سره ،یود لاس وینځلوځای (دستشوی) له نغریو او لوازمو سره یو پخلنځی او یو فریج (یخچال) وو.

## سعودي له نبستمنو سپین ږیرو پرافغانستان خپل پور غواړي

مورېچې کله له هرات څخه را تللو نو په الوتکه کې دځای د نه شتون له کبله شرکت یوویشت تنه په بله الوتکه کې کابل ته راولیږل چې له دې ځایه په بله الوتنه کې جدې ته راشي،دوی ته ویل شوي وو چې تاسې به په کابل کې نه ایساریږئ له یوې الوتکې به بلکته کېږئ او بلې ته به خېژئ آن له تر مینل څخه به هم نه وځئ خو هلته یې یوه شپه او یوه ورځ ځنډولي وو. دوی له مورېڅخه شپږ ویشت ساعته وروسته مکې معظمې ته راورسېدل، په دوی کې له څلور تنوسپین ږیرو پښتنو بادغیسیانو څخه په جده کې د سعودي حکومت سرې سر دولس سوه ریاله اخستې وې، اوورته یې ویلې ووچې شرکت یا حکومت ستاسو خاک پولې یادخدماتو پیسې ندي تحویل کړې، سره له دې چې شرکت له دوی پوره پیسې اخستې وې،دابېچاره ګان نالوستي اوناګرځېدلي خلک ووخپل حق یې هم نه شو غوښتلی خوماددوی مظلومیت زغملی ونه شو ،دشرکت مسؤول سیدنصیر مې اړکړ چې ددوی دحق پوښتنه وکړي.

خوهغه سباشپه راته وویل ،چې دی په جده کې دسعودي اړوندو چارواکیو ته ورغی او ددوی پیسې یې ترې وغوښتې خو هغوی ورته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ستاسو حکومت(افغانستان)زموږ پنځه میلیونه ډالره پوروړی دی ،موږ چې څه نه وایو تاسوخویې بیخي مه وایئ او پیسې یې رانکړې،ماورته وویل چې داکوم انصاف اوعدالت دی،چې د سعودي حکومت پرافغان حکومت پخپل پور کې دخلور تنو بېوزلو ،سپین ږیرو ،بې خولې او بې ژبې پښتنو بادغیسیانو څلور زره او اته سوه ریاله ایساروي؟

،پوه شوم چې غلا هرومرو یا په دوی کې ده او یا دافغان حکومت په چارواکیوکې ،سیدنصیر مې بیاهم پرېښود ورته مې وویل چې:داخلک مظلوم دي څه چې زه اوته د بعثې دفتر ته ورشو زه هلته ډېر دوستان لرم، د هغوی په واسطه به ددوی حق را ژوندی کړو.

هغه هم په ښکاره را سره ومنله خو په نن او سبا یې تېر وبستم.

په کومه شپه چې نوي یوویشت تنه حاجیان راغلل نو په سبایې سید نصیر زموږ خونې ته راغی ویې ویل یې چې ستاسو خونه درې کسیزه ده نو که خوښه مو وي یو تن ښه دروند او لوستی سړی به درته راولېږم. ساعت به مو ورسره تېر وي،موږ هم ورسره ومنله ، یو تن پوخ سړی یې راووست ویل یې دی ډګروال عبدالسمیع دپنجشېر اوسېدونکی دی،سمیع خپل کلی رخه وښود.

حاجیانو به خپله ځان ته خواړه پخول ،ځینوبه دسحر چای ناوخته نهه ،نهه نیمي بجې وڅښه ،بیا به یې غرمه نه ،بلکې دشپې به یې خوړله ،ددوی ډوډۍ دوه وخته وه،ددې کار ګټې اقتصاد اودوخت سپما هم وه ،دکاسو چمچو له ډېرو وینځلو هم خلاص وو ،عبادت ته هم اوزګاربدل،او غوښتل یې چې خپل نفس هم ذلیل کړي،ځکه چې مړه ګېډه خوب راولي،بدن ورسره دروند او نا ارامه وي، ښه عبادت (لمونځ ،طواف،...)نه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زموږ ډوډۍ پر شرکت وه، موږ به درې وخته اوښه ډوډۍ خوړله، ځوځله داسې وشول چې سحر لمانځه ته راغلم نو بیاتر ماسخوتن خونې ته لانه ړم چې غرمنۍ به رانه پاتې شوه، نورو ډېرو حاجیانو به همداسې کول.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حرم حوېلۍ

کله چې حضرت ابراهیم ع د کعبې ودانۍ جوړوله نو هلته د بنو جرهمو څوکورنۍ وې چې وروسته دحضرت ابراهیم ع ددعاله برکته داځای ورو ورو له خلکو ډکېده ،دې خلکو دبیت الله د احترام له امله بیت الله ته نږدې کورونه، نه جوړول او دغره په لمنوکې په کوډلو او کېږدیوکې اوسېدل،کله چې قصي بن کلاب دمکې واکمن شو ،هغه له خلکو وغوښتل چې دکعبې دساتنې لپاره کعبې ته نږدې کورونه جوړ کړي خو قریشو داکار نه کاوه تر دې چې هغه قریشوته د جرئت ورکولو په خاطر لومړی پخپله ددارالندوه په نوم ودانۍ جوړه کړه چې وروسته نوروهم کعبې ته نږدې ودانۍ جوړې کړې قصی داسیمې پرخلکو ووېشلې او په داسې نقشه یې ورته دکور جوړولو حکم وکړ چې دټولو کورونو دروازې کعبې ته وې اوتر دووکورونو وروسته لار پرېښودل شوه.

دې کورونو دحرم حوېلۍ تنګه کړه، دپراخولو اورغولو تروخت (له نبوت څخه پنځه کاله وړاندې) پورې چې دتاریخ پوهانو په آند دوه زره شپږسوه، پنځه څلوېښت کاله (۲۶۴۵)کېږي کعبه چاپراخه کړې نه وه.البته قصی تر میم کړې وه.

درسول الله ص په مبارک عصر کې دکعبې ټول غولی دوه زره متره مربع (یوجریب ) و خو داسلام دپراخېدو ،دمسلمانانو دډېرېدو او زیارت کوونکیو دازدحام له امله لومړی حضرت عمر ابن خطاب دکعبې دحو ېلۍ اومطاف دپراخولو اړتیا احساس کړه هغه چې کله په ۱۷هـ حج ته راغی نودمکې شاوخوا کورونه یې استملاک کړل ،خاوندانوته یې دهغوی بیه ورکړه،دکعبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له غولي سره یې یوځای کړل حضرت عمر له کعبې او مطاف څخه د ېوال هم راتاوکړ او د رڼالپاره یې پر دیوالونو د څراغونو لګولو حکم وکړ.

په ۲۶ هـ کال حضرت عثمان رض نور کورونه هم استملاک کړل، او مطاف یې **۱۴۷۵** متره مربع نور هم پراخ کړ.

وروسته حضرت عبدالله ابن زبیرهم په **۶۴** هـ د کعبې حویلۍ **۳۲۲۵** متره مربع پراخه کړه.

په **۷۵** هـ عبدالملک ابن مروان د مسجدالحرام د برنډې د ېوالونه لوړ کړل د ساج د لرګیو چت یې ورکړ او د ستنو په لوړه برخه کې یې **۵۵** مثقاله سره زر وتومبل.

ولید بن عبدالملک بیا د خپل پلار کارونه لا هم منظم او سمبال کړل، د مسجدالحرام چت یې په ساج لرګیو وپوښه ،میناتوري یې پکې وکړه د ننه په مسجد کې یې مرمر وکارول په برنډه او بالکن کې یې روشندانونه جوړ کړل ،حرم ته یې له مصر او شام څخه د مرمرو ستنې راوړې ،د کعبې د دروازې ،ناوې او د ننه برخې د پسوللو (سینګارولو) لپاره یې نور **۳۲۰۰** دیناره حرم ته ولیږل. دده په وخت کې مسجد الحرم د لومړي ځل لپاره عصري او ښکلې بڼه خپله کړه.

عباسي خلیفه منصور په ۱۳۷ هـ حرم له دارالندوه څخه تر باب السهم پورې پراخه کړ ،دهغه په وخت کې حرم **۴۹۵** متره مربع پراخه شو ،او په لومړي ځل یې د مسجد په یوه کونج کې مناره هم جوړه کړه په ۱۲۱ او ۱۲۴ هـ کې خلیفه مهدي د حرم رغونه پراخول او ښکلي کول پیل کړل خو هغه په ۱۲۹ کې وفات شو ،دهغه پاتې کار دهغه زوی موسی الهادي بشپړ کړ، دمهدي په دواړو دوروکار کې حرم نور هم **۱۴۹۴۰** متره مربع پراخ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له حرم څخه د سېلابونو مخه هم تاوه کړه د حرم شاو خوا يې ژورې کندې او شېلې ډکې کړې او کعبه يې د غولي په منځ کې راوسته ، عباسي خليفه معتمد بالله اوپه ۲۸۱هـ معتضدبالله هم حرم پراخه کړ معتضد بالله حرم ۲۵۰۰متره مربع پراخ کړ.

خليفه معتضد بالله هم د هارون الرشيد د مېرمن زبيدې په واسطه د حرم لوېديځ ته د جوړو شويو دوو کورونو ترمنځ ۹۸۰متره مربع تشه له حرم سره يوځای کړه داوخت د حرم شريف غولی (حوېلی)۱۳۱۹۵متره مربع ته ورسېده.

د ۸۰۲هـ سپوږميز د شوال المکرم په ۲۸مه د شنبې په شپه حرم اور واخست او ۱۳۰ ستنې يې وسوځېدلې دا اور لګېدنه قصدي پېښه نه وه ،بلکې د غفلت له کبله وه ،په ۸۰۳هـ سپوږميز د مصر پاچاملک ناصر فرج بن بربوق، بيسق الظاهري د مصري حاجيانو د بعثې د رئيس په توګه حج ته ولېږه هغه د حج له مناسکو وروسته حرم په ډېره کمه موده کې ترميم کړ،خوپه مکه کې د ښو لرګيو د نه موندلو له امله د حرم د چت کار پاتې شو وروسته په ۸۰۷کې له روم او طائف څخه ورته ښه لرګي راوړل شول او پاتې کار يې بشپړ کړ.

په ترکيه کې د عثماني خلافت په پير کې سلطان سليمان قانوني د استانبول د جامع مسجد ډيزاينوونکی او جوړوونکی نامتو انجنير مکې ته ولېږه چې مسجد الحرام ته ښکلې نقشه جوړه کړي، خو دا سلطان ډېر ژر وفات او کار پاتې شو خو کله چې د حرم د لرګيو چت کمزوری او په ۹۷۹هـ س (۱۵۷۱م )د مسجد ختيځ د الان مطاف ته کوږ شو نو د حرم چاروا کيو د عثماني ترکيې وتلی پاچا دوهم سليم خان له پېښې خبر کړ هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د تکړه انجنيرانو يو پلاوی حرم ته ولېږه ، دې پلاوي له څېړنو وروسته تکړه انجنير محمد جاويش ته دنده ورکړه هغه هم په ۹۸۰هـ س کال دلومړي خور په **۱۵** مه دباب السلام ،(باب بني شيبه)له لوري دمسجد الحرام نړول پيل کړل ،ددې کار په پای کې دڅېړوتيګو په ستنوداسلامي عثماني خلافت په بڼه (**۵۰۰**)کوچنۍ کوچنۍ پيازوته ورته ګنبدې جوړې کړې.

داکار لا په شمال اوختيځ کې روان وو چې سليم خان وفات شو ،دهغه له وفات وروسته دهغه زوی مراد خان داحمدبيګ په نوم تکړه انجنير ته داکار وسپاره اوپه **۹۸۴**کې بشپړشو ،دانوې ودانۍ تر پخوانۍ هغې کوچنۍ په (**۳۸۰۰۲**)متره مربع ځمکه کې ودانه شوه.

دکعبې څلور خواته برنډو کې چې اوس پوښل شوي داوسپيني ګنبدې اوس هم شته دي ،ددې ګنبدوشاته ډېر لوی نور کار هم شوی دی ،دادسعودي حکومتونوکاردی.

همدا راز دبرنډې دننه چې په کومو ستنوژېړې او مرمري ډبرې ښکاري دا ترکي مهندسي ده دا ژېړې ډبرې يې جدې ته نږې دبئر شمسي له غرونو راوړې دي ،عثماني خلافت يا ترکانو حرم ته ډېر زيات خدمت کړی دی چې دحرم مينه وال به يې په زرينو کرښو وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





www.melitahr...
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سعود کورنۍ او حرمین

لـه شـک پرتـه د سـعود کـورنۍ واکمنـان ډېـرې سیاسـي او شخصـي نیمګړتیاوې لري داکورنۍ مستبده اودکتاتوره ده ،خپل ولس تـه نـه دبیان ازادي ورکـوي ،نـه دنظردښـکارولو، لاریونونـو اونـه دغـږ لوړولـو حـق، دحکومت پر درې ګونو قواوو حاکمان دي،پـه ټولـو لـوړو څوکیـو همدوی ناست دي،ولس ته په دولت اوحکومت کې کارنده ونډه اولوړ مقامونه نـه ورکوي، پر سعودي او سپېڅلي خاوره یې امریکایان حاکمان کړي او دوی ته یې نظامي هډې ورکړې دي.

دې موضوع ته وروسته راځو خوله دې ټولو نیمګړتیاوو او کمزوریو سر ه یې حرمینوته پرخدمتونو سترګې پټول ناځواني او بې انصافي ده،دوی حرمینوتـه نـه هېرېـدونکی خدمتونـه وکـړل، ددوی خدمتونـه، حاجیانوتـه برابرې کړې آسانتیاوې او دحرمینو ظاهري اوباطني ښکلا مالیدلې او پـه هره برخه کې مې یادښتونه هم اخستي دي خو زما معلومات کافي هم ندي او پـه ځینـو برخـوکې دحـرم دمتواګـانواو مسـتخدمینوله خـولې دې چـې شـمېرې ،نېټـې کرکټرونـه او...یـې ډېـر دقیق بللی نشـم، دحـرم دمعلومـاتو ځانګې ته ورغللم خو هغـوی ددومـره معلومـاتو راکولوتـه چمتـو نشـول، پـه دې اړه تکړه لیکوال او هڅاند ورور ښاغلي عبدالملک همت په خپل کتاب (زموږ دقبلې تاریخ)کې دسعودي کورنۍ دخدمتونو په اړه ځینې معلومـات راټول کړې دي، دده مراجع او ارقـام دقیـق دي،خو دده لخوا دمعلومـاتو لـه راټولوهم لس کاله تېرېږي. پدې لسو کالو کـې پـه حرم کې ډېر بدلونونه او پرمختګونه راغلي ډېر کارونه شوي دي زه لومړی د ښاغلي همت معلومات

(c) ketabton.com: The Digital Library



رالېږدوم،وروسته به په خپل یون کې چېرې چې زه ګرځم په خپلو لیدلو اواورېدلو کې تاسودرانه لوستونکي له ځانه سره وګرځوم.

# د ملک عبدالعزیز په پیر کې

(کله چې ملک عبدالعزیزبن عبدالرحمن الفیصل آل سعود په ۱۳۴۳ هـ س کال پر حجاز واکمن شو یو کال وروسته یې دمسجدالحرام د ودانولو اراده څرګنده کړه،نو هغه وو چې دمسجدالحرام د هغه مهال د اوقافو مدیر دمسجدالحرام په بیا جوړولو ،ترمیم او اصلاح یې لاس پورې کړ،چې داترمیم دهمدغه کال د حج د موسم تر رارسېدو پای ته ورسېد.

بیاپه ۱۳۴۶ هـ س کال ملک عبدالعزیز آل سعود دټول مسجد الحرام دباندنۍ برخې دبیاودانولو امر صادر کړ او داکار یې شیخ عبدالله دهلوي ته وسپاره ،کوم چې دزبیدې دچینې په کارولو کې یې ځوکلونه زیار ایستلی وو او په دې هکله یې ښه کار جوت شوی وو.

عبدالله دهلوي د مسجد الحرام دبیا رغولو ټول لازم مواد برابر کړل او له هغو کسانو څخه یې مرسته وغوښته چې دزبیدې د چینې په آبادولو کې یې دده سره مرسته او کار کړی وو داکار نوموړي دهمدې کال د ددوهمې خور په میاشت کې پیل کړ او دمسجدالحرام په هره برخه کې یې ترمیم،اصلاح تزئین او نوی والی راووست.

د سعودي پراختیا لومړی پړاو

دمقتدرعباسي دوختونو دمسجدالحرام له پراختیا څخه یو زراو اتیا کاله تېر شول ،په دغو ډېرو کلونوکې په مکه مکرمه او نوره نړۍ کې زښت زیات بدلونونه راغلل ،خو مسجد الحرام یوه لوېشت هم پراخه نه شو،بلکې ډول ډول ودانۍ وار په وار ورته را نژدې کېدلې ،څو ښېخې په مسجدالحرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوري وننبتلي ،دغه حال د صفا او مروه تر منځ دمسعی هم و ،مسعی هم دمهالونو په تېرېدو سره داسې تنګه شوه ،چې دواړو خواووته يې دوکانونه راووتل،حاجيانو به د صفا اومروه تر منځ سره لمر ته پر شګلنه ځمکه د بازار په ګڼه ګونه کې سعی کوله.

دمسجدالحرام دغه تنګ غولی په تېرو مهالونوکې دحاجيانولپاره بس وو ،ځکه چې هغه مهال د مسلمانانو شمېر لږ ، دحج دسفر وسايل محدود اوډېر لږ خلک حج ته تلل.

خووروسته وروسته چې د مسلمانانو شمېر زيات شو ،اودحج دسفر وسيلې موټرونه ،ريل ګاډي ، سمندري بېړۍ،اوالوتکې شوې نو د حاجيانوپه شمېر کې هم زياتوالی راغی ،لکه چې دادی وينو چې داشمېره نوره هم کال په کال مخ په زياتېدو ده، همدا سږکال په ۱۴۲۲ س ۱۳۸۱ل کې وايي چې دوه نيم ميليونه حاجيان مکې مکرمې ته تللي وو( ويل کېدل چې سږکال ۱۳۸۹ لمريز داشمېره دپنځو او شپږ ميليونو ترمنځه وه ).له دې امله د مسجدالحرام او دحج دمناسکو د نورو مقدسو ځايونوپراختيا او نوي رغښت ته ټينګه اړتيا احساسېدله.

خوله بده مرغه هېڅ يوه مسلمان واکمن او چارواکي دې چارې ته پام وانه ړاوه خو چې مرحوم ملک عبدالعزيز پر واک راغی اودمسجدالحرام تر رغونې او سمونې وروسته يې په ۱۳۷۰هـ س کال د حرمينو دسترې تاريخي پراختيا او ودانۍ پلان طرح کړ.

## دکار پيل

دملک عبدالعزيز په وختونوکې دمسجدالحرام دپراختيا اوتعمير دسروې اوډيزاين کار په لاره واچول شو ،خو بشپړ شوی لانه وو چې هغه وفات شو ،تر ده وروسته دده زامنو ملک سعود ،ملک خالد ،ملک فيصل او ملک فهد دده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لار تعقیب کړه، په ۱۳۷۰ هـ س کال د حسن حسین دمیاشتې پرپنځمه اعلان وشو چې د کار هغه آلات چې دنبوي مسجد په ودانۍ کې په کار لوېدلي وو ، ټول دې مکې مکرمې ته ولېږدول شي، څو دمسجد الحرام دپراختیا کار سمدستي پیل شي، بیا دغه کال د صفرې پر شپږمه ددې کار لپاره د درو کمېټو دجوړېدو په هکله پاچایي فرمان اعلان شو.

# د سعودي بن لادن تعمیراتي ګروپ

څنګه چې دحرمینو شریفینو ټول کارونه دسعودي بن لادن د ودانیزې ډلې (تعمیراتي مجموعې یا ګروپ)تر سره کړي دي،اودمسجد الحرام دپراختیا د چارو عمومي مشر هم ددې ګروپ مشر وو او لاندیني معلومات هم ددې کمپنۍ دمعلوماتواو ارقامو پر بنسټ وړاندې شوې دي ، ددې مجموعې ددغو ویاړلو کارونو د تقدیرولو لپاره درانه ګامونه واخستل.

ددرنو لوستونکیو دمعلوماتو لپاره لازمه ده چې ددغې کمپنۍ په هکله هم څه معلومات وړاندې شي، ددې کمپنۍ بنسټ ایښودونکی د(شهید) اسامه رح پلار محمدبن عوض بن لادن الحضرمي دی ،چې اصلاً دیمن د حضرت موت وو او عربستان ته یې نقل مکان کړی دی ، ده چې دتاریخ القویم، دمولف په قول یې لیک لوست نه وو زده پنځه ویشت اولادونه درلودل اودملک فیصل په حکومت کې یې د وزیرپه توګه کار کاوه،دی د سعودي یو ډېر شتمن پانګوال وو.وایي هغه مهال چې سعودي حکومت هېڅ الوتکه نه درلوده،محمد شخصي الوتکه درلوده.؛ چې دهغې په واسطه به یې یومهال دسهار لمونځ په مسجدالحرام کې ،دماسپښین لمونځ په نبوي مسجد کې اودمازدیګر اوماښام لمونځونه به یې په مسجداقصی کې کول،ده پخپله هم دمسجدالحرام په پراختیااو ودانۍ کې فعاله ونډه درلوده، کله چې محمد وفات شو ملک فیصل پرې وژړل او ویې ویل چې نن مې ښي مټ

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوځ شو. په ۱۳۷۵س (۱۹۵۵ع)کال دبن لادن تعمیراتي کمپنۍ دځینو سعودي اوبهرنیو ټیکه دارانوسره یو ځآی دمسجدالحرام دتوسیع لار اولیکه جوړه کړه.

## لومړني کارونه

د ۱۳۷۵ ه س کال ددوهمې خور پر څلورمه داجیادو اومسعی په سیمه کې دبرېښـنا او ټیلیفـون مـزي او د اوبـو پیپونـه لېـرې کـړی شـول،بیاددغو ځایونوکورونـه او دکانونـه ونـړول شـول بیادمطاف ودانـۍ چې پـه هغـوکې د زمزم داوبو دالان وو،ونړول شوې،اووروسته دنورې ودانۍ تهدابونه وکیندل شول.

## د بنسټ دډبرې ایښودل او دکار پیل

دهمدغه ۱ ۳۵۷ هـ ش کال د برات دمیاشتي پردرویشتمه دپنجشنبې په ورځ د باب ام هانی مخې تـه یوه ستره غونډه جوړه شوه چې په هغې کې ملک سعود بن عبدالعزیز،دولتي چارواکیو،دیني مشـرانو او داسلامي هېوادونـو ځینـو اسـتازیوګډون کـړی و ،پـه دې غونـډه کـې ددغـې سـترې ودانۍ د بنسټ ډبره د مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوه،او کار یې پیل شو چې ددې سترې پراختیایي او ودانیزې پروژې دکار په پایله کې دسیلونو د اوبـو سـوبې لـه حرم څخـه جنـوبي لـوري تـه تـر ځمکـه لانـدې ودانـې شـوې ،دمسـعی دوه پـوړیزه ودانـۍ ،دمسـجدالحرام زېرزمینـي برخـه ،دمسـجد الحـرام سـترې دوه پـوړیزې برنـډې ،ددغوبرنـډو څلورشـپېته دروازې ،دمسـجدالحرام اوه منارې دمسـجدد برنډو دوهم پـوړ اوبـام تـه اوه زینـې جوړې شوې،دمطاف غـولی پـراخ او روغ شـو، دزمـزم اوبـو دځـا تاسیسـات ترمځکـه لانـدې جـوړ شول،دمسـجدالحرام پـه بېلـو بېلـو برخـوکې دزمـزم دڅښلوداوبوسبیلونه په کار واچول شول،دمسـجدالحرام شـاو خواترمځکـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لانـدې داوداسـه تـازه کولـو اوځـان مینځلـو ،تشـنابونه او ځایونـه جـوړ شول،دمسـجدالحرام دباندې پنځـه عـام غـولي ودان شول،اودصـفا اومـروه څخه دقراره او شامیه محل په منځ کې نوی سړک ودان شو.

دمسجدالحرام دپراختیا او نوې ودانولو دغه کار(۲۰)شل کاله دوام وکړ او پـه ۱۳۹۵س کـال بشـپړ شـو،چې ددې پراختیـا او ودانـۍ پـه پایلـه کـې ددغـه مسـجد سـاحه لـه (۲۸۰۰۳)مربـع متروڅخـه (۱۸۰۸۵۰) متـره مربـع شـوه،اوپه یـو ه وخـت کـې د(۴۷۰۰۰)تنولمـونځ کوونکیـو پرځـای (۳۱۳۰۰۰)تنه پکې لمونځ کولی شي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بشپړوونکي کارونه

ددې پراختیایي کار په ادامه کې د کعبې او مسجدالحرام ځینې نور ترمیماتي کارونه هم تر سره شول،او دمقام ابراهیم دنوي جوړولو له امله مطاف نور هم پراخه شو،ځکه پرهغه باندې پخوا لویه ودانۍ ولاړه وه چې بیا په اوسنۍ قبله بدله شوه.

دپراختیا دغه کارونه لانه و ختم شوي چې دملک فهد بن عبدالعزیز دور را ورسېد دده په پېر کې په دغو پراختیایي کارو پسې مطاف په سپینه مر مرډبره فرش شوددې ډبرې ښه ځانګړنه داده چې په ډېره سخته تودوخه کې هم پرهغې پښې نه سوځي او یخې وي.

دغه راز په ۱۴۰۲س کال ملک فهد ددغې پراختیا په ادامه حکم وکړ چې دمسجدالحرام د ودانۍ بام دې هم د لمونځ کوونکیو لپاره جوړ شي ،چې په دې ډول دمسجدالحرام پربام باندې دخلوراتیا زرولمونځ کوونکیو لپاره نور دلمانځه ځای زیات شو،ورپسې ملک فهد دمسجد الحرام د ودانۍ دباندې دپنځو خپله خوځندو (خپله تلونکیو راتلونکیو ،اتومات)زینودجوړولوحکم وکړ له دغو زینوڅخه چې پر یوې یې (۳۷۵)مربع متره مځکه نیولې ده حاجیان د ازدحام پرمهال پر عامو زینو سربېره کار اخلي له دغو زینو څخه بنستیزه موخه او مقصد په ځانګړې توګه دادی چې دضعیفو وګړیواو کوچنیانو لپاره لومړي پوړ او بام ته دختلو اسانتیاوې برابرې شي، د مسجدالحرام دفهد دپراختیا پرمهال دوې نورې خوځنده زینې دمسجدالحرام لومړي پوړ اوچت ته جوړې شوې،دغه زینې چې زنګ یې نه وهي اودعربو دروایتي او دودیز طرز تعمیر سره سمې جوړ شوې دي،په هر ساعت کې د (۱۵۰۰۰)تنو کښته پورته رسولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګنجایش لري ،دلته باید ووایو چې ددغو اضافي بدلونونو په رامنځته کېدو سره په حقیقت کې دمسجدالحرام دپراختیا اونوي ودانولو د لومړي پړاو تاریخي کار پای ته ورسېد. چې په پایله کې مسجدالحرام په یوه وخت کې دڅلورولکو لمونځ کوونکیو ګنجایش پیداکړ.

## د سعودي سترې پراختیا دوهم پړاو

لکه چې دمخه مو وویل په سعودي او نوره اسلامي نړۍ کې دپرله پسې اومخ پرزیاتېدو سترو ټولنیزو بدلونونو او دنویو تجارتي هوایي ټرانسپورټونو په پراخ رامنځته کېدو او په لارو کې دآسانتیاوو په برابرېدو سره دحج لپاره مکې مکرمې ته دتلو نکیو شمېر ورځ په ورځ مخ پرزیاتېدو دی ،له دې امله سعودي چارواکیو احساس کړه چې دمسجد الحرام لومړنۍ پراختیا او وداني کافي نده ،ځکه نو هغو وپتېیله چې یو ځل بیا دیوې ښې او هر اړخیزې پروسې په تطبیق سره دمسجدالحرام ګنجایش دوه برابره شي، هغه وو چې د ۱۴۰۹ ه س کار دصفرې په دوهمه خادم الحرمین الشریفین ملک فهد د مسجدالحرام د دوه برابره سترې او پر تمیني پراختیا دبنسټ ډبره د پرتمینو مراسمو په ترڅ کې کېښوده څو دغه ستر جومات دنن مهال د غوښتنو سره سم ودان او په پرمختللیو عصري وسایلو سمبال شي.

د کار دغه پلان داسې جوړ شوی ووچې له یوې خوا دمسجدالحرام په لوېدیځ لوري کې پراختیا راوستل شي کومه چې دمسجدالحرام د ساحې اندازه نوره (۱۷۲۰۰۰) مربع متره زیاتوي ،اوپه یوه وخت کې دیولک نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرو تنو لمونځ کوونکيو ګنجايش برابروي ،اوله بل لوري پخپله د جومات غولى ،زېرخانې او لومړى پوړ نور (۵۹۰۰۰)مربع متره پراخه شي.

ددغې پراختيا کار په مسجدالحرام پورې دنښتي سوق صغير په نړولو پيل شو ،ځو ددې کار لپاره ار شو پراخه شي، په دې توګه په ۱۴۰۹س کال ټوله ساحه د تعميراتي کارونو منځى(مرکز) ګرځېده ،او شاو خوا ټول زاړه کورونه او عمارتونه ونړول شول، او تعميراتي کارونه په لار واچول شول، چې ددې عظيم الشان اوپراخ تعميراتي کار په نتيجه کې د مسجدالحرام ارشو دبرندېواو غولي په ګډون ټوله (۳۶۱۰۰۰)مربع متره شوه،چې په عامو ورځوکې په يوه وخت کې (۷۳۰۰۰۰)تنه او دحج ،روژې اوپه نورور ځانګړيو ورځوکې تر يوميليون زيات مسلمانان لمونځ پکې کولاى شي.

ددې کار په نتيجه کې دمسجد الحرام داسې ستره او ښکلې مانۍ جوړه شوه چې يو يې لاندينى پوړ دى ،چې جګوالى يې درې نيم متره دى او ارشو يې د مسجدالحرام په اندازه ده بل دمځکې يالومړنى پوړ دى چې جګوالى يې لس نيم متره دى، اوبل يې هم دوهم پوړ دى چې جګوالى يې لس متره دى.

دحرم شريف دپخوانۍ عثماني ودانۍ، په هکله په ۱۳۸۳س کال ملک خالد لارښوونه وکړه چې هغه دې دتاريخي اثر په توګه خوندي ،اوپر خپل حال دې پاته شي، چې په دې ډول نوې او پخوانۍ ودانۍ داسې سره ونښلول شوې ،چې پرته له دې چې کوم عيب ولري ډېرې ښې هم ښکاري، البته دياد ونې وړ ده چې د مسجد الحرام عثماني ودانۍ په (۲۸۰۰۳)مربع مترو کې جوړه شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز په دې ودانۍ کې دمسجدالحرام دننه مطاف ،بام او دهغه بهر میدانونه په داسې سپینه ډبره فرش شوي دي ،چې په ډېره سخته تودوخه کې هم پښې نه سوځوي خو د جومات شاو خوا لارې په ګرېنیټ ډبره فرش شوې دي، د مسجد الحرام د ودانۍ تهدابونه داسې کلک او ټینګ جوړ شوي دي چې پرهغو باندې په راتلونکې کې هر ځونوې ودانۍ جوړې شي، زور يې را وړلای شي، او زلزله يې هم نه ورانوي، دمسجد الحرام بنیادونو باندې يې واټر پروف پلاسټیکونه اوار کړي دي څو ودانۍ له نم څخه خوندي پاته شي، د تعمیراتي کار په بهر کې دمسجد الحرام غولی کوم چې کار پرې کېده د پیاده تلونکیو لپاره پرانیستی پرېښودل شوی وو، څو لمونځ کوونکي جومات ته په تللو کې د کومې ستونزې سره مخامخ نه شي، بل داچې په تعمیراتي ارشو کې د ځای کمښت د دې غوښتنه کوله چې تعمیراتي مواد دودانۍ له ارشو څخه لېرې ځای پر ځای او جوړ شي، لکه چې دکانکرېټو د جوړولو اوګډون کوونکیو ماشینونو کې چې پر موټرو به ایښودل شوي وو ، د یوه تونل له لارې په مکه کې دکار ځای ته لېږدول ،په دغه تعمیراتي کار کې د کار شویو موادو په ډله کې د اعلی معیار پنځه څلوېښت زره ټنه پولاد شامل دي په دغه ودانۍ کې د ډبرو او سیمنټو مصنوعي(جوړ شوي )شیشکونه او نور لازم الاجرا استعمال شوي دي کوم چې هم ددې ستر ساختماني کار په چټکه بشپړتیا کې ډېر مرستندویه جوت شول او هم يې د ودانۍ ټینګښت او ښایست زیات کړ، دغه شیان د مکې مکرمې په اطرافو کې په یوه کار ځای (فېکټرۍ)کې جوړېدل، کومه چې ددې پروژې لپاره په ځانګړې توګه تاسیس شوې وه، دمسجد الحرام د ودانۍ د لومړي او دوهم پړاو کارونه يې داسې سره ونښلول چې پرته له کومه عیبه ښځي یو شان ښکاري او څوک يې توپیر نه شي کولای د مسجد

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحرام ساحه د راډیو او ټلوېزين په ستوديو ګانو سمباله ده ،او ډېرې حساسې کمرې او نور آلات پکې درول شوي دي ،په مکه مکرمه کې درې تونلونه جوړ شوي چې د مسجد الحرام پرشا وخوا ګردی ترافیکي سړک بشپړوي چې دغه راز د مسجدالحرام ودانۍ د اور وژنې په ډېرو پرمختللیو وسايلو سمبال شوې ده.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مرمر ډبرې

دمسجدالحرام ددې سترې ودانۍ دننه اودباندې ټول دېوالونه ،غولۍ اوچتونه په مرمر ډبرو فرش اوښکلي شوي دي،دغه مرمر اود ډبرو نور ډولونه ټول دمکې مکرمې دښا وخواځینوغرونو څخه کښل شوي دي ،په دې ډله کې دفاطمې په ناوه کې چې مکې ته نژدې پرته ده د وطني مرمر ډبرې پراخه زېرمه موجوده ده ،چې دمسجد لومړۍ پراختیا پر مهال یې د جومات په بهرنۍ ښکلا کې ستره ونډه درلودلې ده،دمرمر غټې غټې ټوټې ددغې ناوې څخه پنځوس کیلو متره لېرې د جدې په شاوخواکې دسعودي بن لادن ډلې د رخام اوګرانیټ کارځی (فېکټرۍ)ته راوړل کېدلې کومه چې په منځني ختیځ کې په خپل نوعیت کې ترټولولویه اونوې ده،هلته به دمرمرودډبرو ټوټې جوړېدلې،پرې کېدلې اوځلا (پالش)به ورکول کېده،څودهغو طبیعي برخوته ځلا اوښکلا ورکړي، دغه ډبرې د مسجد د ودانۍ ددوهم پړاو پر مهال په دوه اتیازره مربع متره ساحه او ستنو کې کار شوي دي؟

دمسجدالحرام ددننه دېوالونودښکلاکار دایټالیا په یوه کارځی (ورکشاپ)کې ماهرو کارګرانو تر سره کاوه،ددغو دېوالونوډبرې په یوډول کمپیوټري ماشینونو تراشل کېدلې ،چې پای دښو اوفني کارکوونکیو او نوي ټکنالوژۍ په مرسته داسلامي طرز تعمیر یوډول شهکار ځینې جوړ شواومسجدیې ډېر ښکلی کړ،دغه راز ماهرو کارګرانو دلوړې کچې داسې ښکلې کاشي خښتې جوړې کړې چې د اسلامي تعمیراتي فن ډېرې ښې نمونې وې. اودجومات هغو ښکلیو محرابونوته یې نوره ښکلا هم ورپه برخه کړه،کوم چې دجومات دفهد پردروازه وکارول شوې.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تر مسجدالحرام لاندې سړک

دمسجدالحرام دپراخه شوې برخې د باندې د ترافیکو د جریان دڅېرښت د لړولو لپاره ملک فهدد یوه تر ځمکې لاندې سړکunder passجوړولوآمر ورکړ، چې پر هغې یې یو چت جوړ کړ څو لمونځ کوونکي په هوسآیي او له ترافیکي پېښو څخه په خوندي توب کې حرم ته ورسېدلای شي.

ددې چارې لپاره یې مسجدالحرام ته ډېر نژدې لار وکېندله او پوخ سړک یې تر ځمکې لاندې جوړ کړ چې دپیاده تلونکیو لپاره دموقتي پلونو په جوړولو سره هلته تر مځکه لاندې پر ځینو کوټو او د اړوندو کارکوونکیو پرد فترونو سربېره یوستر دوه پوړیز داودس تازه کېدو ځای هم جوړ شو ،کوم چې ساده او تلونکي راتلونکي خوځنده برېښنایي زینې ورښکته شوي اوپه عصري ډول جوړ شوی دی.

# د سېلاب د اوبو چاره

څنګه چې دمکې مکرمې شاوخوا غرونه دي، او مکه په کښته ناوه کې پرته ده ، نو سېلونو ،په تېره د جنوبي لوري څخه راتلونکیو برساتي طوفانونو په کراتو کراتو کعبې شریفې ،مسجدالحرام او دمکې ښارته درانه تاوانونه اړولي دي ، که څه هم په بېلو بېلو مهالونوکې دسېلاب دمخنیوي لپاره اسلامي مشرانو او واکمنو بندونه جوړ کړي او نور ډول ډول کارونه یې تر سره کړي وو ، خو بیا هم کعبه او مسجدالحرام له دې افته خوندي نه وه ،لکه چې دمکې ددغو سېلونو او دهغو دمالي او ځاني درنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاوانونو په هکله په تاریخونوکې په تفصیل سره خبرې شوې دي ،موږدلته ددې مطلب د ډېر اوږدوالي له وېرې پر هغو تولو تر خبرو کولو تېرېږو او یوازې د وروستي ډېر تاوانې سېل په هکله خبرې کوو.

د ۱۳۸۸س کال د میاني د میاشتې په څلورمه چې د ۱۹۲۹ع کال د جنوري د (۲۲۹ م)سره سمون خوري ،په مکه معظمه کې تر دوه ،دوه نیمو ساعتو پورې داسې په شرپې اوربنت وشو چې دمسجدالحرام غولی د سېل له اوبو داسې ډک شو چې هلته بند حاجیان یې په ځانګړیو ببړیوکې ترې راوایستل،(۴۵)ساعته په حرم کې اوبه ولاړې وې (۵۳)ساعته په کعبه معظمه باندې طواف ونه شو ، دمسجدالحرام هغه الماري چې قرانونه پکې ایښودل شوي وه اوبو پرسر واخستې،چې دقرانونو پاڼې د ببړیو په ذریعه ترېنه راوو بستل شوې، د کعبې شریفې دیوالونه نژدې درې متره پنځه شپېته سانتې په اوبوکې ډوب ول، دمطاف د مرمر ډبرې اوبو وکښلې او دمکې د ښار په ځینو برخوکې دغه اوبه د کورونو تر لومړي پوړ پورې ورسېدې.

دمیاني پرشپږمه د جمعې ترلمانځه وروسته خلکو وکړای شول چې بېرته طواف پیل کړي ،خو دغه مهال هم په مطاف کې تر بجلکو پورې اوبه ولاړې وې دزمزم څاه تر یوې میاشتې پورې بنده وه، اوپه دغه کال حاجیانو د زمزم اوبه خپل وطن ته یونه وړای شوې .

خدای ته معلومه ده چې دحرم شریف په زیر زمینیوکې چې خلک بند پاته شوي وه ، څونه به مړه شوي وي ،دحرم په شاوخواکې دساعتونو او نورو لوړبیوشیانو دکانونه وو ،هغه تول وران وېجاړ شول،پرسړکونو باندې موټر،تجیر ان او نور سامانونه تول ،اوبویوړل،او وران وېجاړ یې کړل،لنډه داچې پر بې شمېره وګړیو سربېره په کروړونو شته یې له منځه ولاړل، سعودي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت د سېل د اوبو چارې او دهغه د ضررونو د مخنیو لپاره د مسجدالحرام د سعودي پراختیا ،د کار په لړ کې په ۱۳۹۸س کال د ۷۰ کروړو ریالو په لګښت یوه ستره پروژه تر لاس لاندې ونیوله ،او د سېل د اوبو د د ترځمکې لاندې تېرولو د نوې شبکې په جوړولو سره د سېلاب او دهغه ضرر د تېرو مهالونو کیسه جوړه شوه، د سېلابي اوبو د ترځمکې لاندې تېرولو دغه ؛شبکه د درنو نورولاروچارو ،د پلي کولو په ذریعه ډېره ښه او بنسټیزه بشپړه شوه او د سېل اوبو ته یې د حرم په شاوخوا ترځمکې لاندې په دریو سوپوا پستلو سره لاره ورکړل شوه.

## ایرکنډیشن

دمکې مکرمې ډېرې شدیدې ګرمۍ ،به تل حاجیان ځورول ، له دې امله خادم الحرمین الشریفین ملک فهد لارښوونه وکړه چې په مسجدالحرام کې د ایرکنډیشن نظام (سیستم)نصب شي، څو دهغه هوا سړه شي،دا سیستم چې دنړۍ ترټولو ښه هوا سړوونکی دی،درې نیم کیلومتره لېرې په یوه شپږپوړیزه ودانۍ کې واقع دی ،له دغې ودانۍ څخه دځانګړیو پایپونو په وسیله، (۳۸۵۰۰)ټنه یخه هوا د سړوونکیو وسایلو له لارې مسجدالحرام ته ،لېږدول کېږي ،په دې ډول چې سړه هوا ،ددغه جومات د ستونونو له پورتنۍ برخې څخه راوځي ،اوتوده هوا ددغو ستونونو دلاندې خواڅخه دهواکش کوونکیو وسایلو په ذریعه د مسجد بهر ته وځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مسجدالحرام دروازې

لومړني مسجدالحرام نه دېوالونه درلودل، نه دروازې، بيا چې حضرت عمر او حضرت عثمان رضي الله عنهما مسجدالحرام پراخ کړ، او دېوالونه يې پرې راوګرځول هم يې دروازې نه درلودې، خوکله چې خليفه ابوجعفر د مسجدالحرام د توسيع او تعمير خدمت ترسره کړ هغه ته يې بېلې بېلې دروازې ورکړې، او مختلف نومونه يې پرې کېښودل. لومړی مورخ چې موږ ته د مسجدالحرام د دروازو معلومات راکوي، امام ازرقي رح دی، د هغه پرمهال د دريمي لېږديزې هجري پېړۍ په لومړيوکې مسجدالحرام درويشت دروازې درلودې، بيا څنګه چې د هغه په ارشو او ودانۍ کې د ځينو واکمنو لخوا بدلون راته، طبعاً يې د دروازو په شمېر او نومونوکې هم بدلون راته، له دې امله د مقدسي، ناصرخسرو بلخي ابن بطوطه او ځينو نورو په وختو کې کوم چې په خپلو يونليکونو او اثاروکې د دغو دروازو يادونه کړېده، شمېريې نولس وبيا وروسته تر دې چې مسجدالحرام کې، د مصر، شام، يمن او ترکيې، واکمنو لخوا ادلون بدلون راغی، د هغه دروازو په شمېرلوکې هم بدلونونه راغلل، او شمېره يې پنځه ويشتو ته ورسېده، بيا د ملک سعود پر مهال د لومړي سعودي توسيع او ودانۍ په پايله کې، د مسجدالحرام دلويو او کوچينو دروازو شمېر يو پنځوسو ته جګ شو، خوکله چې د ملک فهد پر مهال د نوي ټکنالوجۍ پربنسټ په مسجدالحرام کې نوې پراختيا راغله، هغه لومړي پوړ او چت ته پرمد خلونو او پر ساده او بربېښنايي زينو سربېره يواځې بهر ته د څلوروسترو دروازو، څلور پنځوسوفرعي دروازو، او د زېرخانو او لومړي پوړ ترمنځ د شپږو دروازو درلودونکی شو، په دغو دروازوکې باب بني شيبه ډېره مشهوره وه،

www.meltahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې باب السلام هم ورته وايي،دڅلورومذهبوپه نزد لـه هر لـوري چې څوک مسجدالحرام ته ورسېږي مستحب داده ،چې له دغـې دروازې څخه دکعبې دتعظـيم پـه خـاطر مخـامخ ور ننوځي،پخواباب بني شـيبه مقـام ابراهيم تـه نږدې وه،اولومړی دمسجدالحرام حد دغه ځای وو ،پـه هدايـة السـالک کې وايي ،چې درسول ص پرمهـال دلتـه دروازه نـه وه،خوهغـه بـه لـه دغـې لارې مسجدالحرام تـه ننوتـه، پـه ۱۶۴ ه س کـال کې خليفـه مهـدي عباسـي دحـرم ددويمې پراختياپه وخت دلته ،دروازه جوړه کړه او يـوه سـتره منـاره يـې هـم پـرې ودانـه کـړه ،دسـلطان سـليم اوسـلطان مـراد نـوې ودانـۍ کـې ددغـې دروازې پـه مقابـل کـې يـوه سـتره دروازه پـه دغـه نامـه جـوړه شـوه،دادروازه دومره پخه اوټينګه وه چې دپېړيو په تېرېدوسره يـې هـم تـرميم تـه ضـرورت پيدانشو ،دمخکينيو ،پراختياوو له امله،دغـه دروازه بيخـي دمسـجدالحرام په غولي کې پـاتې شـوه،بيا دملـک سـعودلخوا دمطـاف دپراخولـو پرمهـال هغه د۱۳۸۷ ه س کال دخدای تعـالی دميـاشتې پـه ۱۱مـه يـوه ورځ اودهغـې پرځای دننبې په توګه پر فرش دتورو ډبرو پټـۍ جـوړه کـړه،خوپـه ۱۴۰۰س کال دمطاف دبياپراختيا پرمهال دغـه پټـۍ هـم ايسـته کـړل شـوه،چې داکـار دځينو کسانو داعتراص وړ هم وګرځېد. علامـه قاسـي چې پـه شـفاء الغـرام کې دباب بني شيبه له لارې مسجدته دننوتلو داسـتحباب کـوم روايتونـه نقـل کړيدي ،دهغو په هکله وايي،چې په دغوروايتونوکې مراد له باب بني شيبه څخـه ددغـې دروازې لـوري دی نـه پخپلـه دغـه دروازه ځکـه دغـه دروازه خوپخپله دمهدي پـه وخت کـې جـوړه شـوه،خوبياهم کـه څـوک غـواړي چې بيخي ددغې دروازې پـه لاره مسجدالحرام ته ننوځي نودباب السلام اوسنۍ دروازه بيخـي ددغـې دروازې پـر برابـر ه ده کـه حاجيـان لـه دغـې دروازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جومات ته ننوځي او مخامخ دبیت الله په لوري ورشي، دپخواني باب بني شیبه څخه به تېرشوي وي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مسجدالحرام منارې

امام ازرقي رحمة الله علیه، په خپل کتاب اخبار مکه کې چې دد ریمې لېږدیزې پېړۍ په لومړیو کې یې لیکلی دی وایي چې حرم څلور منارې لري دعلامه قاسي(۷۷۵_۸۳۲س)په وختو کې دحرم پنځه منارې وې،خو علامه قطب الدین (په ۹۸۸ کې مړ ) داوو منارو یادونه کوي، تر ټولو لومړۍ مناره په ۱۳۰س کال خلیفه ابو جعفر د مسجدالحرام پرباب العمره باندې ودانه کړه،نورې منارې په بېلو بېلو وختونو کې دمختلفو اشخاصو لخوا جوړې شوې، چې ځینې یې بیا نړېدلې او بیا جوړې شوې دي دغه راز دمسجدالحرام د ودانۍ په بدلون او پراختیا کې هم ددغو منارو په شمېر کې لږ والی او ډېروالی راغلی دی.

په هر صورت مسجدالحرام تر۱۳۷۴س کال پورې اوه منارې درلودې ،دغه منارې دسعودي لومړنۍ پراختیا پرمهال ړنګې شوې او پر ځای یې اوه نوې منارې ټولې په یوه بڼه جوړې شوې، بیا دسعودي ددوهمې پراختیا پرمهال دوې نورې منارې هم کټ مټ په هماغه بڼه جوړې شوې چې په دې حساب دحرم داوسنیو منارو شمېر(۹)ته رسېږي چې ټولې نهه اتیا متره جګوالی لري دغه منارې دوې دملک عبدالعزیز پر دروازه،دوې دعمرې پردروازه،دوې دملک فهد پردروازه، دوې پرباب السلام او یوه دصفاپرغره جوړې شوې دي.

دتاریخ مکه مکرمه لیکوال ډاکتر محمدالیاس عبدالغني دفهد له وروستۍ پراختیا وروسته دحرم ، ځمکتلې او دلومړي او دوهم پوړمساحت (۲۷۸۰۰۰) متره مربع او له حویلۍ سره دحرم ټول مساحت (۳۶۲۰۰۰) متره مربع ښیي چې په عادي وخت کې پکې (۹۱۴۰۰۰) تنه او دبیروبار په وخت کې پکې یو میلیون تنه ځاییږي . خو دامعلومات ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقیق نه ښکاري چې همدا سږکال دځینو په وینا رسمي او نارسمي شاوخوا شپږ میلیونه تنه او دځینو په وینا څلورنیم میلیونه تنه حاجیان و نو که یومیلیون تري په مسجد او غولي کې ځای شي نوآیا داپاتې کسان پرسړکونو ځاییږي ؟

## د بادغیسي درې شوطه طواف

ددوشنبې په ورځ دذوالحجې په دوهمه له غرمې مخکې حرم ته روان وم، سید نصیر دعمارې په مخ کې په دوکان کې ناست وو پر ماېې غږ کړ، (استاد جان کجامیری)ماورته وویل چې حرم شریف ته روان یم ،ویې ویل چې ته خوتیار روان یې دلته زموږ څوتنه حاجیان نوي راغلي دي ،عمره یې نه ده کړې،که ته ورسره مرسته وکړې ثواب به دې وشي،ماورته وویل ولې نه ،ورته غږ کړه،زه یې له ځان سره بیایم،هغه هم څلور تنه بادغیسي سپین ږیري له خونو را وبستل ورته یې وویل چې دا استاد به درسره مرسته وکړي، اوعمره به اداکړئ،دوی احرام هم سم نه وو تړلی ټینګار یې داو چې د حرم دزیارت پرمهال یې حرم ته ددرناوي په موخه که له احرام سره پګړۍ نه وي نو خولۍ خویې باید هرو مرو پرسر وي،ماورته داحرام په حالت کې دسرپټولو فقهي حکم واوراوه،خو ددوی دلیل داوو چې څنګه به دخدای کورته لوڅ سر ورځي،په داسې حال کې چې ددوی په آند په لوڅ سر لمونځ له سره کېږي نه.

په ډېر ټینګار او ستونزومې دوی قانع کړل چې له پګړۍ اوخولۍ تېر شي کله چې حرم ته روان شو نو پرلار مې دوی ته وویل چې په حرم کې بیروبار ډېر وي ،حرم ډېر پراخ دی اوڅو دروازې لري باید ډېر پام وکړي چې له خپل ملګري بېل نشي،پر لاره مې څو څو ځایه وروښودل چې نښه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي،اوخپله لار اوعماره پيدا کړي،زموږ پر لار غته ننبه دابن لادن مسجد و چې زموږ عمارې ته نږدې او ډېر مشهور و ،پر دې مې هم پوه کړل چې ستاسو په لاس کې پردې تسمې ستاسو پوره شهرت او دعمارې (استوګنځی)ادرس ليکل شوی اوپر غاړه ځوړند کارت کې مو هم ستاسو او ستاسو د استوګنځي او اړوند ګروپ اوشرکت نوم او پته شته چې که نادرکه شوئ نو له خلکو مرسته غوښتلی شئ،حرم ته چې ورسېدو نو عمارې ته تللی سړک مې ورته په نښه کړ زموږ عمارې ته پر تلونکي سړک ډېرې روښانه اوسترې نښې وې دحرم له سالون څخه به چې سهيل ختيځ ته ووتلې نو يو سړک ترمنځه و دپول په پيل کې دابن لادن شرکت څو لوړ پوړيزې ودانۍ پيل کړې وې ددې ،ودانيومخ ته دسړک پرسر يوه ډېره لويه د اعلاناتو لوحه وه چې ساری يې نه ليدل کېده، او ترپايه هماغه يو اعلان هم پرې خپرېده ،داڅومتريزه لوحه شپه اوورځ روښانه وه ،زموږ ډېرو حاجيانو هماغه نښه کړې وه.

په حرم کې مې هم دروازې ور وښودې ،دحرم لوی ساعت دساعت کوچني برجونه ټول مې ورته وښودل،دېلېدلو په صورت کې د بيا يوځای کېدلو ځای مې ور وښود ،دطواف ضروري مسايل او داچې پر دوی په لومړيو درې شوطو(دورو)کې سعې او رمل ده او اوه ځله به له حرم څخه تا وېږې ټول مې ورووښودل ،څه کم يوولس بجې طواف ته مطاف ته ورښکته شو ،ورته مې وويل چې پر يوبل لاسونه کېږدي او زما اوږه هم ونيسي،چې له يوبل څخه بېل نه شو ،په مطاف کې د بېلېدو په صورت کې مې با ب الصفا ورته وښوده چې له طواف وروسته به دلته را يوځای کېږو ،طواف مو پيل کړ،بيروبار ډېر زيات وو زه مخکې اودا څلور واړه سپين ږيري چې نورالدين ،عبدالقدوس،ميراجان اوعبدالله جان نومېدل راپسې وو ،يوتن

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې زماپر اوږه او نورو يې يودبل پر اوږو لاسونه ايښي وو هره شېبه مې ورته کتل پردوی سعې او رمل لازم وو خو دمنډې امکان بيخي نه وو ځکه چې بيروبار ډېر وو خو ورته مې وويل چې اوږې مو پورته پورته اچوئ خو ډېر وخت به داکار هم ترې هېر شو ،دوی سپين ږيري هم وو او بيروبار هم ډېر وو نوځکه به يو شوط ډېر وخت نيوه ،اوله سري به رمل هم هېر شو .

کله چې زموږ درې شوطه(دورې)پوره شوې نو عبدالله جان مخ راواړوه، راته يې وويل څه چې ووځو زه نور سترې شوم نور طواف نه شم کولای ،ماورته وويل چې طواف خو دادی چې اوه ځله له دې کوټې (بيت الله)تاو شو اوس خو زموږ څلور دورې پاتې دي،نوڅنګه ووځو؟

ده اصرار کاوه چې نه نور بس دی نور مې له لاسه نه کېږي، ماورته وويل چې که سترې يې څه غاړې ته ووځه زمزم وڅښه او دمه دې هم جوړه کړه او بېرته راشه طواف پيل کړه خو دده همدا خبره وه چې نور بس دی،په ډېر ټينګار مې چمتوکړ چې طواف پوره کړي .

له طواف وروسته مو زمزم وڅښل اودوه رکعته لمونځ مو وکړ.

کله چې څوک طواف کوي نو د ډېرې ګرمۍ له کبله يې بدن خولې خولې وي،په بيروبار کې چې معمولاً دحج په ورځوکې ډېر وي په مطاف (دبيت الله غولی چې مقام ابراهيم او حطيم هم پکې دي)کې طواف هغه د چاخبره دمېږې پر پښوتلل دي، په يوه طواف کې به دې شل ځله پښه د نورو تر پښو لاندې کېږي او د شل نورو قدم به ستا تر قدم لاندې راځي،نر اوښځې به يو په بل پورې داسې نښتي وي ته به وايې چې دواړه يې له يوبل سره سنجاق کړي دي،ډېرې ښځې او انجونې پکې بې سيرته شي ،که څوک هر څومره ځان وساتي خوبياهم هرو مرو به له انجونوسره لګېږي کله خو په ټېل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو پر بل ورولو بېږي آن ښځې تر پښو لاندې شي، له طواف وروسته چې د انسان سخته ګرمي پکې شوې وي او ښه ستړی شوی هم وي نو یخ زمزم هغه هم په مړه خېټه ډېر زیات خوند کوي،زمزم او به ډېرې خوږې او خوندورې دي دومره خوند ما په بل یو مشروب کې هم ندی لیدلی ماخو به چې هرڅومره ډېرې وڅښلې نو خېټه مې پرې نه پړسېدله ډېر وخت به یې دډوډۍ کار هم کاوه،زمزم به مې تنده او لوږه دواړه خړوبول ماته به په حرم شریف کې دابیت راپه زړه شو:

ساقي ټولـه میکـده دې تـرې قربـان شـه
پښـــتنه چـې لاس راتــاوکړي لــه منګــي
نـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه

مابه ویل چې ددنیا ټول شراب او ډول ډول مشروبات دې د زمزم له یوه ګیلاس نه ځار شي،داددین تر اغېزې لاندې دیني جذباتي دعوه نده ،په رښتیا له زمزم څخه مو ډېر خونداخست،دزمزم په اړه به په تفصیل سره وروسته بحث وکړو.

له طواف وروسته د ماسپښین د لمانځه وخت شو ،باب الصفا ته مو نږدې ځای پیدا کړ او لمونځ مو په جماعت اداکړ کله چې له بادغیسي سپین ږیرو سره زموږطواف اولمونځ پای ته ورسېد نو ورته مې وویل چې تاسو د صفا اومروه تر منځ سعې وکړئ او زه به درته کېنم ځکه چې پر ما سعې نشته ده ،خوباور مې نه وو چې په نظري تشریحاتو دې دوی پوه کړل شم،نو لازمه مې وګڼله چې یوځل ورسره په عملي توګه د صفا اومروه تر منځ سعې وکړم ، او په عملي توګه یې ښه وپوهوم،صفاته مې وخېژول مخامخ بیت الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مې ودرول دُعا مو وکړه،مروه ته روان شو،دشنو راډونو ترمنځ مومنډه وکړه مروې ته مې چې ورسول ورته ومې ویل اوس ستاسو یو ځل شوط پوره شو،په مروه مو هم دُعا وکړه بېرته صفاته را روان شو ،دشنو راډونو په منځ کې مومنډه وکړه کله چې صفاته ورسېدو نو ورته مې وویل چې ستاسودوه ځله یا دوه شوطه پوره شول، اوس درته پنځه نور پاتې دي تاسې خپله سعې وکړئ اوزه به درته دلته کېنم، زه دصفا ببخ کې په مسعی (د سعې په ځای )کې په مرمرین دیوال کېناستم او دوی خپله سعې پیل کړه،دوه درې ځله مې یویو ولیدل،چې سعې یې کوله خو نور رانه ورک شول، ټول سعې کوونکی زماله نظره تېرېدل ځکه چې په لاره کې یې ناست وم زه هملته منتظر یم چې اوس به راځي اوس به راځي خو درک یې ونه لګېد، وارخطاشوم،ماویل لکه چې لاره یې ورکه کړه زه هلته له څو بنځو سره برابر شوم چې بنه بنډار مو وکړ وروسته ددې بنډار تفصیل ته ورځو.

زه لا هملته منتظر وم چې مازیګر شو،خو ددوی درک نه لګېږي وارخطا شوم دمازیګر جمعې ته صفونه برابر شول سعې بنده شوه،بیاهم نه بنکاري،جماعت ودرېد ، خو بیاهم ددوی درک نشته.له لمانځه وروسته هغه ځای ته ورغللم چې دورکېدلو په صورت کې مو د بیاموندلولپاره ټنبه کړې وو هلته هم نه وو لړ ورته هلته هم تم شوم خو رابنکاره نه شول،بېرته سعې ته راغللم،اوهملته ورته کېناستم،دمابنام تیارې راغلې خو دوی رانه غلل،ډېر خفه شوم ماویل دانابلده او نالوستې سپین ږیرې به کومې خواته تللې وي،دمابنام لمانځه له اداکولووروسته مې غوبنتل چې تر ماسخوتن پورې په حرم کې پاتې شم اوطواف وکړم، خو دوی ته مې اند ېبننه ډېره وه عمارې ته روان شوم په بېړه لاړم هلته مې ددوی خونه وموندله ګورم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور واړه هملته دي خوښ هم شوم او غوسه هم راغلله یوه یې لا حلق (سرخرېیل)نه وکړی او جامې یې اغوستې وې نور یې لاهم احرام کې وو.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له ښځو سره بنډارونه

کله چې مادوی ته دصفا دغونډۍ ترڅنګ انتظار کاوه نو دلته هم بیروبار ډېر وو په زحمت مې دښځو په منځ کې ځای وموند ښي خواته مې دپاخه عمر یوه تونسۍ ښځه ناسته وه،له څه شیبې وروسته مې په خبرو راوستله، داښځه ډېره ښکلې اوډېره تقوا داره، ډېره درنه او نرم خویه وه کله چې پوهه شوه چې زه افغان یم نو دافغانستان حالات یې وپوښتل،امریکایانوته یې ډېرې ښېرې وکړې او ډېر یې ورته بد وویل.

زموږ تر څنګ ناستې نورې مېرمنې هم له موږسره په بنډار کې راګډې شوې، دهغوی احساسات دامریکا په اړه له دې ښځې بېل نه وو ټولو امریکایانوته بد ویل، ښېرې یې ورته کولې ، او طالبانواو مجاهدینوته یې دعاوې کولې.

دالمغرب له یوې اوسېدونکې سره مې خبرې اوږدې شو داهم ډېره ښکلې وه ؛لهجه یې خوږه اومینه ناکه وه کله مې چې ترې واورېدل عمر یې ۵۲کاله ده نو له حیرانتیامې ټکان وخوړ ځکه چې هغه ډېره ځوانه ښکارېده،زموږ دپنځه دېرش کلنو په څېر وه ویل یې چې شپږ او لاده لري مشر زوی یې صمد اومشره لور یې مریم نومېږي ،دشخصي ژوند او دالمغرب په اړه یې ډېر معلومات راکړل.

ترڅنګ یې په څهره کې دېته ورته،بله ښځه ښکارېده ، هغه تردې هم ښکلې وه ویل یې چې دایې خور او ترهغې څلور کاله کشره ده ، خوهغه هم دېرش کلنه ښکارېده له هغې سره مو هم سلام اوسترې مشې وکړه راته یې وویل چې نرسه ده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاکستان دپنجاب ایالت اړوند دملتـان اوسېدونکې دوه خوینـدې مـوهم ثنګ ته ناستې وې،یوه یې پخه او بله یې ځوانه وه،خبرې مـو اورېدې شـوې ګروپـې شـکل یـې غـوره کـړ زه لـه المغربـۍ او تونسـۍ سـره پـه عربـې اولـه ملتانیانوسره په اردو غږېدم زما انګلیسي او اردو قوي ندي خو ستونزه پـرې حلـوم،ددوی خبـرې لـومړی مایوبـل تـه ژبـاړلې خـو وروسـته یـې شـریکه ژبـه انګلیسي ومونده او ټول پرې غږېدو ما زیګر لمونځ مې هم له همدوی سره وکـړ. تونسـۍ ښـځې راتـه خپـل جـای نمـاز (لمـونځی)راکړ. لـه ملتـانۍ مـې وپوښتل چې دسعودي هـوا تـوده ده کـه د ملتـان؟ ویـې خنـدل ویـل یـې دواړه برابرې دي.

ځینې خلک وایي چې پنجابیان تور دي لا مل یـې دا بـولي چـې ګویاهلتـه لمـر تـود دی بیـا داخـو ډېـره مشـهوره ده چـې شـمس تبریـزي پرملتـان لمـر راښکته کړی دی،ځکه خو ورته شمس تبریز وایي شمس په عربي کې لمر تـه وایـي کـه نـه دده خپـل نـوم تبریـز دی اویاخوبـه دی دتبریـز اوسـېدونکی و ، داخو دفولکلور خبرې دي په سم او ناسم پسې یې نه ګرځو خو دومره وایم چې څومره ښکلا په پنجاب کې ده ساری به یې په نور پاکستان کې کـم وي، دادوه ملتانۍ یې دښکلا ښې نمونې دي.

پـه ۱۳۸۹ هجـري لمریـز پاکسـتان تـه د یـوه رسـمي سـفر پـه تـرڅ کـې د لاهورد یوه عصري هوټل( هالیډي ین ) په لفټ کې له یوې پنجابۍ ناوې سره دوه په دوه برابرشوم له لوستونکیو په بخښنې، اوس هم چې رایاده شي نـو په زړه کې مې یوه نرۍ څړیکه تېره شي.

زمورږناخبره خلک داسې فکر کوي چې ګویا ټول پنجاب تور دی، دوی نـه پوهېږي چې هلته یو نسل تور رنګ لري چې زمـوږ خلـک ورتـه چواړیـان وایـې: دځینو سترګې تعصب ړندې کړې او تـور او سـپین نـه پېژني ، دسره انقلاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګری شاعر ښاغلی سلېمان لایق هم په همدې رنځ اخته شوی دی هغه ته هم تول پنجاب تور ښکاري. لایق طالبان ځکه دجومات حرامیان بللي وو چې دده په اند (تور پنجاب یې راووست دکابل په زړه یې کېناوه.) خو چې اوس دې نورو، دنړۍ ۵۰ کفري هیوادونه افغانستان ته راوستي او دلته هرډول فجایع ترسره کوي نولایق ته دهغه لیاقت اجازه نه ورکوي چې ددوی دعقیدې او ایدیولوژۍ (کمونیزم) دمخالفینو او امپریالستانو پرضد کم ترکمه غږ هم پورته کړي.

## باب السلام که باب بني شيبه

دذوالحجې په دریمه دشپې زموږ دشرکت اړوند ۲۴ تنه نور هم له کابل څخه مکې معظمې ته را ورسېدل دوی ته د هرات په الوت کې ځای نه ووپاتې شوی شرکت کابل ته ولېږدول ،او ورته یې ویلي چې تاسو به هلته نه ایساربږي په بله الوتکه کې به جدې ته راځئ آن له هغوی ډ ګرڅخه به هم بهر وتلو ته اړتیا نه پیداکوئ خوهلته دوه ورځې ځنډېدلي وو دشرکت درئیس په وینا مې د سحر له لمانځه وړاندې د عمرې لپاره حرم ته روان کړل.

هماغه ټینګار مې چې هره برخه کې پر هغو نورو څلورو سپین ږیرو کړی و پر دوی مې هم وکړ،بلکې له هغوی مې پرې ډېرټینګار او لارښوونه ورته ځکه وکړه چې له دوی سره ښځې هم وې.

کله چې حرم شریف ته ورسېدلو نو دتهجدو اذان وشو پولیسو مطاف ته دننوتلو اجازه رانکړه،ځکه چې هلته د لمانځه لپاره صفونه تړل

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدل،اوطواف هم طواف کوونکی او هم نور په تکليفول،باب الصفا سره موځای وموندهملته مو تهجد پيل کړل.

دجماعت له ادا وروسته مطاف ته ننوتلو ،ماهغوی ته وويل چې په لومړي ځل مطاف ته دباب السلام له لارې ننوتل سنت دي خوکه موږ هغه دروازه مو مو نو وخت راباندې تېرېږي ،اومطاف رانه ډکېږي،ځکه د حج ورځې دي بيروبار ډېردی بيا اړ يو چې يا په دوهم پوړ اويا دريم کې طواف وکړو او هلته طواف سخت دی ځکه چې دايره يې ډېره پراخه ده،دتخمين له مخې په دوهم او دريم پوړ کې د طواف ساحه يو کيلو متر کېږي نويو طواف داسې دی لکه اوه کيلومتره مزل ،نورو ومنله خو دووتنو نه منله ،ويل يې چې هرو مروبه له باب السلام څخه ورځو، غوسه مې هم راغلله،خوچاره نه وه،دهغو نورو خبره يې هم نه منله ماويل که پرېږدم يې چې هرڅه کوي نو کوي دي يې خو وبال لري،بالاخره په پوښتنوموباب السلام وموند په دوی کې يوتن ليک لوستلی شو کله چې دننه ورننوتلونو يوځل يې ماته مخ راواړوه،چې ته خوله موږسره چل کوې،داخوباب السلام ندی،پردې دروازه خوباب بني شيبه ليکل شوي ماورته وويل چې همداباب السلام دی خو دوه نومه لري، هغه نه منله بالاخره له لاسه مې ونيوه نږدې پوليس ته مې وروست،له هغې مې ده همده په مخ کې وپوښتل چې ايا همدا باب السلام ندی، هغه هم وويل هو همدادی همدې باب بنی شيبه ته يې لاس ونيوه،دوه ځله يې وويل باب السلام باب السلام، له دې وروسته يې ومنله مطاف ته ښکته شو طواف مو پيل کړ،له دومره ټينګار اوسپارښتنې سره سره ټول رانه ورک او يو يو شول ، له ډېر لټون او ستړياوروسته مې دوه تنه نارينه چې ښځې يې هم ورسره وې، وموندل او عمارې ته مې راوستل نور ټول رانه ورک شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهال او نفیسه

چهارشنبه یا دذوالحجې په ۴مه مې مشر شیرزمان ته ټیلیفون وکړ ویې ویل چې دحرم په دوهم پوړ کې طواف کوي زه هم ورغللم ځای مو نښه کړ،له موندلو وروسته زه هم ورسره په طواف کې ملګری شوم، دهغه دوهم دور و له طواف وروسته د باب الصفا په برابرئ په دوهم پوړ کې کېناستو شېرزمان ،تکړه،ویښ او د اسلامي نړۍ په درد دردمند ،مجاهد مسلمان دی، سلفي ندی، شعوري موحد دی خو خلک ورته سلفي وايي ،هغه ملایان غندي چې په ختمونو،خیراتونو ،جنازو،دم او تعویذ متکي وي ، او د خوړین نوم ورکوي، له طواف وروسته مو د اسلامي نړۍ پر ستونزو بحث پیل کړ، په همدې کې وو چې درې انجونې مو څنګ ته راغللې یوه پکې غنمرنګه چاغه (څوربه)مسته او ښکلې پېغله وه، زموږ څنګ ته ودرېده په خپل بلک بیري موبایل یې دبیت الله عکسونه واخستل کله چې زموږ ترڅنګ کېناستلې نو زما ژورنالستیک حس راوپارېد لومړی مې په سلام او سترې مشي په خبرو راوستلې، دې پېغلې خپل مبایل راووېست اخستي عکسونه یې کتل ،اړول او را اړول، دموبایل مینوته ورغلله دومره ګړندی کار یې کاوه چې تابه ویل دامبایل همدې جوړ کړی دی همدلته یې دعکسونو په ایډیټ پیل وکړ،ماترې هیله وکړه چې زما په کیمره زما او د شېرزمان عکسونه واخلي اوکعبه پکې رڼه راولي ،دستې راپاڅېده،کیمره یې واخستله دعکس مینو ته ورغلله انځور (wev) یې ښه برابر کړ،بیایې له هر اړخه له کعبې سره زموږ څو عکسونه واخستل،ماورته وویل چې په خپل فون کې خپل اخستي عکسونه را وښيي سمدستي یې ټول واړول راواړول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې مې دځان راپېژندلو هیله وکړه،ویل یې چې نهال نومېږي او د سوډان د عبه ښار اوسېدونکې ده،یوه ملګرې یې نفیسه نومېده،هغه هم دهمدې وطنداره وه،دنفیسې معلومات دافغانستان په اړه کم ووخو نهال دافغانستان دجغرافیې او رواني وضعې په اړه دومره معلومات ورکړل چې ډېر افغان لوستوال یې هم د افغانستان په اړه نلري، ما نهال ته وویل چې راشه زما په کیمره ته او نفیسه له ماسره ګډ عکسونه واخلئ ،ویې خندل ویې ویل چې عکسونه خوبه واخلو خوستا په کیمره نه ، بلکې زما په مبایل.

نهال ډېره خوږه او صمیمي پېغله وه، ډېرې خبرې مو وکړې تر مازیګره ناست وو، هغوی تلاوت وکړ ماله ځان سره دفقهې کتاب وړی و هغه مې ولوست، له لمانځه وروسته مو هم زړه نه کېده چې له یو بل نه بېل شو.

دلته مو له یونایجریايي سره هم بنډار وکړ په ګوډه ماته انګلیسي مې ورسره دنایجریا اوافغانستان پر حالاتوخبرې وکړې،د تامیر په نوم یو متشرع مصری هم را سره کیناست، هغه همدلته اقامه درلوده خو ویل یې چې هېوادوالو یې د مصرحکومت ته له ۴۰ تر ۵۰زره جنیه چې ۴_۵زره ډالر کېږي ورکړي او حج ته راغلي دي ده داپیسې ډېرې زیاتې بللې ، اوه کاله وړاندې په افغانستان کې دمصر سفیر هم تامیر بیک مأذوني نومېده زماډېر ملګری او ډېر مجاهداو داسلامي نړۍ پردرد دردمن شخص و زما په سپارښتنه یې څو تنه په مصر کې نړیوال پوهنتون الازهر ته ولېږل . دولې په نوم دتامیر بل مصری ملګری هم زموږ سره کېناست پر ایمن الظواهري ډېر وغږېدو ماورته وویل چې زه هم د القاعده وو دهېواد یم حسنی مبآرک مو ښه وټکاوه، دوی ویل چې که دامریکا وېره نه وي نو ډېر هېوادونه به په افغانستا ن کې جهاد رسمي تائید کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهندوستان دراجستان ايالت يوتن نوی ځوان اوسېدونکی هم له خپلې مور سره راغلی وو هغه ويل چې دحج داخله يې د هرتن په سر ۱۲۲۰۰۰ هندۍ کلداري کړې ده،ډوډۍ يې هم پرحکومت ده او دوه زره بېرته هم ورکوي،دانرخ دمصريانو له نرخ ډېر ښکته اودافغانانوله نرخ هم ښکته دی،خودمصر يانوعمارې حرم ته دومره نږدې وې چې نور ترې حرم ته نږدې بل ځوک نه وو،ځينې يې دارالتوحيدکانټيننټل سره نږدې دې په لوکسو هوټلونوکې اوسېدل.

مونږ هم حرم ته نږدې وو خو بياهم کله به چې راباندې ناوخته شوه نو چې له دوه ريالو به تېر شو په جماعت لمونځ مو نيولی شو.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زمزم ته بې صبري

مورږ ته ويل شوي وو چې پر زمزم بيروبار ډېروي او بوشکې ډکول وخت او زحمت غواړي سره لدې چې څه کم يوه مياشت وخت مونور په مکه معظمه کې درلود خو نه پوهېږم ولې راباندې دوارخطايي. پيريان کېناستل د جمعې په ورځ د ذوالقعدې په شپږمه دشپې درې نيمې بجې زه، ډګروال سميع اوکاکا برات چې اصلاً ترکان او دکابل دميرويس ميدان اوسېدونکی وو حرم ته روان شو، دزمزم لپاره مو يوه ورځ وړاندې بوشکې اخستې وې،په بوشکه لس ليتره ليکلي وو خو يوولس نيم ليتره اوبه يې اخستلې ،دابوشکې په عادي وخت کې په درې رياله وې خو اوس په لس رياله پلورل کېدلې.

ماله پلورونکي سره ټوکه وکړه هغه دابراهيم عابد ټوکه مې په عربي ورته وکړه چې وايي چهل ستون ته روان وم او ټکسي رانه څلور سوه افغانۍ وغوښتې ماورته وويل :اوه اوه يوستون په لس روپۍ؟ماهم ورته وويل اوه اوه يو ليتر په يو ريال،با لاخره په اته رياله مو وپېرلې، د زمزم اصلي ځای مو په پوښتنه پيدا کړ،مورږ ويل ډېر بيروبار به وي خو د شيطان غوږونه کاڼه (هلته هسې هم کاڼه وي) بيروبار نه وو، د زمزم پايپ مو په بوشکه کې کېښود په څو ثانيوکې بوشکه ډکه شوه،دزمزم اصلي چينه چې اوس ډېر لويې او ژورې ساګانې په کې جوړې شوې دي ،دکعبې ترڅنګ ده ،خودلته يې په اوږدوپايپونو کې را تېرې کړي او له دې اوږدو نلونو څخه لسګونه پايپونه بېل شوي چې په اسانۍ سره ترې بوشکې ډکېږي،خو دبيروبارپه وخت کې بياهم دلته دبوشکوډکول سخت وي،او انتظار غواړي ،دزمزم دوبش اوپايپونوځای، د رسول الله ص د زېږېدوځای او دابوجهل کور خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library




په خوا پراته دي،بوشکې مو واخستې را روان شو د طواف وخت نه و،بوشکې مو له ځان سره مطاف ته وړلې هم نه شوی ،دحرم په سالون (غولي) کې دباب الصفا خواته کېناستو،ما تهجد پیل کړل په لمانځه وم چې یوې ښځې له سمیع اوبرات څخه زمزم وغوښتل ،خوهغوی ورنکړل،هغې ښځې بیا ورته زاری وکړې ویل یې تږې یم،خودې ظالمانو بیاهم ورنکړې،زماپام دوی ته واوښت دلمانځه حضورمې هم خراب شو ډېر خفه شوم،له لمانځه وروسته مې ورته وویل چې ظالمانو یوګیلاس اوبه به مو ورکړې وې،یوګیلاس زمزم خوهرچېرته په حرم کې پیدا کېږي ببرته به مو ډکې کړې وای،دلته موپه لمانځه کې څنګ ته دسیده زینب دکاروان اړوندیوه ښکلې لبنانۍ په لمانځه ودرېده،ماویل شیعه به وي خوپه لمانځه کې یې رفع الیدین کاوه.

له لمانځه چې فارغ شو له حرم څخه وتلو چې په یو څلور ټایره بایسکل (ویلچر) کې مویوناسته ښځه ولیده څوتنه ترې راتاو وو یو تنکي ځواب په تونده لهجه ورسره غږېده اوپټکې یې پرې کولې،لامل مو وپوښت ،دې ځوان راته وویل چې د درې سوو ریالو په بدل کې یې دې ښځې ته طواف ورکړی اوس چې د اجورې ورکولو وخت شونو ددې ښځې زوی ځان نادرکه کړ، داچې ددې ښځې زوی به رښتیاهم ځان پټ کړی وو اوکه نه اوموضوع به څه وه الله ج خبر دی،موږهم داجرئت ونکړچې درې سوه ریاله ورکړو ،اولانجه حل کړو هلک ته مې نصیحت وکړ او روان شوخوپه زړه کې مې وویل چې توبه توبه په حرم کې هم د مزدور مزدوري سمه نه ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی جمعه لومړی بیروبار

داپه حرم کې زموږ دلومړۍ جمعې لمونځ دی مامامې دلته پخواهم د جمعې لمونځ کړی او له بیروبار څخه ښه خبر و هغه راته وویل چې که دننه مسجدالحرام کې لمونځ کول غواړې نو باید وخته ولاړ شې،اوس نو دحج ورځوته دوره ورځې پاتې دي، تقریباً ټول حاجیان رارسېدلي دي،لمونځ په پاوباندې دولس بجې کېږده،اوزه پاوباندې لس بجې حرم ته لاړم، ماویل راځه لمانځه ته خو لادوه ساعته وخت پاتې دی دننه په حرم کې به ځای وموم خوحرم خوپربېږده چې دحرم سالون دحرم شا وخواعمومي سرکونه ،پلازې،دموټرو تونلونه،آن جروال اوحفایر ته تلونکي پلونه ټول له خلکو ډک و ،له حرم شریف څخه یو کیلو متر لېرې هم ځای نه موندل کېږده،پولیس حرم ته په ننوتونکیو ټولو لارو ولاړ وو،ځوک یې نه پرېښودل، دافغانستان دپولیسوپه څېر یې خلک یوې اوبلې دروازې ته لېږل ،تشنابونوته یې هم ځوک نه ور پرېښودل، ډلې ډلې خلک سرګردانه یوه خوا بله خوا تلل،زه چې له وخت څخه دوه ساعته مخکې تللی وم ځای مې موندلی نه شو نود هغه چابه څه حال وو چې ناوخته راغلي وو.

،په ډېر زحمت مې دموټرودتونل پر غاړه له حرم څخه لېرې د یوې غرفې تر څنګ سوری ولید ،چې ورغلم،ورسره نږدې خلکو تش انساني حاجت پوره کړی اوډېر بوی وو ،مجبور شوم بله چاره نه وه هملته مې جای نماز (لمونځی)هوار کړ.ما په خپل ټول ژوند کې دومره بیروبارنه وو لیدلی

کېناستم،لمر ورو ورو تودېده پرماهم لمر راغی ځای می بدلاوه، ،خو پرېښودلی مې ځکه نه شو چې بل ځای نه پیداکېده،هملته مې ملګري وموندل خپل ځای اوجای نماز مې پرې وسپارل ماویل که په کوم دکان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبه یا پیپسي، پیدا کړم ډېر وګرځېدم اخر مې یوځای کې مرنډا پیدا کړه، هوا ډېره توده وه خولې راماتې وې خو ماله ځان سره مطالعې ته کتاب هم وړی و، کله چې اوبوپسې وتی وم نو په همدې وخت کې درې ښځې راغلې وې اوو ارخطايې ژړل ، یوه پکې دومره ترهېدلې وه چې له سره یې خبرې نشوای کولی، جامې یې د پښتنووې، چاره یې نه وه هماغه بوین ځای کې کېناستلې.

څوک ورسره په ژبه نه پوهېدل، ماله جامووپېژندلې په پښتومې ترې و پوښتل، هغوی چې له ماپښتو واورېده په تندیوکې یې خوښي وځلېده، ویل یې چې له پرون راهیسې یې له خپلو نارینه وو سره اړیکې پرې شوي او یوبل یې ورک کړي دي، له دوی سره ټېلیفون نه وو، خو له یوې ښځې سره یې دخپل مېړه د ټېلیفون نمبر وو، ماهغه نمبر ته زنګ وواهه خو بند وو، نه یې خپل ځای پېژنده اونه ورسره د پېژندګلوی کومه بله نښه وه.

حیران ووچې څه وکړو، دوی ویل چې د سوات اوسېدونکې دي، داوسېدلوځای اوخپله عماره یې نه پېژندله، ماویل له لمانځه ورسته به ورسره مرسته وکړم اواستوګنځی به یې ورته پیدا کړم، په همدې کې وو چې شاته صف کې یوتن سواتی راپیدا شو، هغه هم پوره نه پېژندلې، خوویل یې چې د سواتیو حاجیانو ځای ورمعلوم دی.

ګرمي شیبه په شیبه ډېرېده، خولې روانې شوې، ماته د پوهنتون ددورې یوه خاطره رایاده شوه: کله چې دکویټ اوعراق جګړه پیل شوه نو استاد محمدګل عتیقي اودهغه وراره ډاکټرعبدالحلیم احمدي پاکستان ته راغلل او ددواړه زموږ استادان شول، عتیقي صاحب چې دلغمان ولایت دقرغیو ولسوالۍ دچهار باغ اوسېدونکی دی ډېرظریف اولطیف شخصیت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



،هغه کیسه کوله چې یو وخت په چهار باغ کې ددوبي (اوړي) په ډېره ګرمۍ کې دجمعې لمونځ اداکېده ملا مسئلې کولې خو ځینې مقتدیان یې دمسجد دغولي پر ځای ددېواله سیوري ته ناست وو، ځکه چې په غولي کې تود او سوځنده لمر وو، ملاچې ولیدل مقتدیانو یې دمسجد غولی پرېښی دی، اوددېوالونو سیوروته ناست دي، نوپه لاسپیکر کې یې په غوسه پرې غږ کړل: ( ای مردم: قل نار جهنم اشد حرا است والله اګه خلاص شوي ) همدا خبره په غوسه کې تکراروي، (قل نار جهنم اشد حرا است، والله اګه خلاص شوي ) خو د ایت دا برخه ورته نه ژباړي اونه یې پوهوي چې موخه یې څه ده. مقتدیان هم حیران دي چې ملاصاحب یې ورته ولې په غوسه دی او څه ورته وايي.

ددې ایت معنی داده( ورته ووایه ای پیغمبره چې ددوزخ اور ډېر زیات توددی.)

پرموږهم لمر راغی خوځان مې پر همدې ایت ډاډه کاوه: چې : نارجهنم اشد حرا است.

کله کله به ورېځې خپلې لورینې کولې با لاخره دلمانځه وخت شو، دلمانځه بنه یې له افغاني دود څخه بېله وه، شل باندې دولس بجې قاري سدیس دلمانځه خطبه پیل کړه اوپه لنډه خطبه کې دفلسطین جهادته دعاوشوه، خوافغانستان یې یادنکړ، په حرمینوکې پر سیاسي خطبو، سیاسي موعظو، بندیز دی، هېڅوک دلوېدیځ ښکیلاک پرضد څه شی ویلی نشي.

قاري سدیس مشهور حافظ اودقران قاري دی مایې دتلاوت کېستې اخستې او اورېدلې وې، هلته راته خلکو وویل چې سدیس انقلابي ذهنیت درلود ، دجهاد پرمهال پاکستان ته هم راغلی وو، هلته یې هم انقلابي

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويناوې کولې ،خوله کله راهيسې چې د شاهي کورنۍ زوم شوی دی،نو په اصطلاح چارج يې خنثی شوی او انقلابي ويناوې او ددولت اولويديځ ضد ويناوې يې پرېښې دي،لمونځ اوجنازې تريوې بجې پای ته ورسېدل.

جماعت ته دانتظار په وخت کې مې خواته يو ځوان اندونيزيايي ناست وو په انګليسي موسره خبرې پيل کړې، زما پر لاس په اندونيزيا کې جوړ يوساعت وو ميډين اندونيزيا پرې ليکل شوي هم وو، ساعت ظاهراً ډېر ښکلی وو خودومره ګران بيه نه وو، ددې اندونيزيايي ډېر خوښ شو، د ساعت دليدلو غوښتنه يې وکړه ماهم له لاسه خلاص کړ چې ښه يې وګوري هغه چې وکوت نو نور يې هم خوښ شو ماورته وويل لکه چې ډېر دې خوښ شو هغه وويل هوماورته وويل خير نو دازمالخواتاته ډالۍ شو په لا س يې کړه، هغه دې ډالۍ ته دومره خوښ شو چې دوه ځله يې زما لاس ښکل کړ.

خواته مو يوه نوې ځوانه اندونيزيايۍ ناسته وه يوسپين ږيری يې ترځنګ ناست وو ټوله په حجاب کې وه له مخ پرته ټوله پټه وه آن په لاسونو يې دستکشې اوپه پښو يې جرابې وې له مايې وغوښتل چې په سيوري کې ځای ورکړم ماترې د سپين ږيري په هکله وپوښتنل و يې ويل چې دايې پلار دی په لږ وخت کې ډېر بلد شو.

مخ ته مو يو تور پوستی يمنی ځوان هم ناست وو د احرام په څېر تورلنګ يې له ځانه تاو کړی وو په صف کې په ناسته ويده شو لږ وروسته کوږ او بې ستره شو ما راويښ کړ چې ځان پټ کړي او اودس وکړي خوتر اقامته ويده و همداسې لمانځه ته پورته شو پوډري به نه وو خو رنګ اوکړه وړه يې د پوډريانو و

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته له مورېسره د پاکستان پنجابيان هم وو څوک په انګليسي څوک په اردو ،عربي فارسي او پښتو غږېدل ما د دوی ترمنځ ګوته ماته ژباړه کوله ، څه موکړي وای اخر په وړاندې مو لمانځه ته دوه ساعته انتظار وو.!!

زمونږ خلک چې د جمعې لمونځ کوي نو چې لومړی اذان وشي خطيب منبر ته وخېژي څه کم يو ساعت وعظ کوي،اکثره يې د خبرو وخت ،مناسبت ،موقع نه پېژني،په اخترکې به دمعراج او په محرم کې به د اختر مسايل بيانوي ،اکثره به اسرائيليات او اساطيروايي بيا به ټول په اجتماعي ډول سنتوته ودرېږي. بيا به دوهم اذان وشي،بيا خطبې وايي بيا جماعت ،بيا دعا خوهلته داسې نه وو ،لومړی اذان وشو نه مسايل وونه سنت ،لس پنځلس دقيقې وروسته دوهم اذان وشو،خطبه واورول شوه ،لمونځ ودرېدله سلام وروسته ټول ازاد وو، د جمعې ټول لمونځ شل دقيقې وخت ونيوه .

له لمانځه چې را ووتونو پرسړکونو بيروبار شو زمونږ پر لار په پله د بيروبار له کبله اوږد تېل شو، خلک ولوېدل ،ښځې او نر تر پښو لاندې شول،سرک جای نمازونو ونيوه ،چېرو او د ښځوتيکريو وپوښه،چيغې پورته شوی يا حاج يا حاج بالاخره،خلک ودرېدل او تېله کمه شوه.

# په کعبه کې لومړی صف که کشتی کج

له هرچاسره تلوسه وي چې کم ترکمه يوځل خو بيت الله سره نږدې په لومړي صف کې او هغه هم ملتزم او حجر اسود ته مخامخ لمونځ وکړي،داکار د کعبې ګرد چاپېره سخت دی او ملتزم ته يا د حجراسود او حطيم تر منځ دې ديوال ته خوډېر سخت دی ځکه چې د کعبې امام هم همدې خواته ودرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکعبې دروازه هم همدې خواته ده دلته لومړی صف په نصیبونو او ډېرو خواریو اوسترړیا موندل کېږي.

نن (دجمعې ورځ) ماقصد کړی وو ،چې دمازیګر لمونځ به ملتزم ته مخامخ په لومړي صف کې کوم ،په یادمې نه دی چې له لمانځه وړاندې مې یو طواف وکړاوکه دوه خو چې صفونه تړل کېدل ځان مې ملتزم ته برابر کړ ،هلته صف تړل اوپه صف کې ځای نیول ډېر سخت دي،جمعې ته لا شلو ښت دقیقې کله کله خولا یوساعت پاتې وي چې صف تړل پیل شي،دصف تړلو لپاره خلک یوبل ته لاسونه ورکوي،خولاسونه نه ټینګېږي متې یوله بل سره نښلوي چې دتېل اوفشار پروړاندې مقابله وکړي،دصف لپاره دمتو تړلی انساني ځنځیر مقاومت کوي خوپه هره یوه دقیقه کې له داسې تېل اوفشار سره مخ شي چې دځنځیر څومتره برخه تولـه شاته ولاړه شي ،کله وشلېږي،کله یې څوتنه ولوېږي ،یاحاج !یا حاج چیغې پورته شي.

سترړتیاهره دقیقه ډېرېږي،تنفس ژور شي،خولې راماتې شي،ځینې دصف تړلو ، په صف کې دځای موندلو یا ځای ساتلو په مسابقه کې وي او ځینې طواف کوي، دایواځې دلومړي صف ستونزه نه ده،بلکې په دوهم، دریم،څلورم اوپنځم صف کې هم ده،په شپږم ، اوم ،اتم ،نهم ،لسم او آن دیارلسم صف کې هم په اسانه ځای نه موندل کېږي،خود لومړي ، دوهم ،دریم او څلورم په پرتله اسانه وي، په لومړي دوهم او دریم صف کې ځای نیول کله کله ،دځان په بیه تمامېږي،دلته یوثانیه غفلت یا سستي نه یواځې داچې په لومړیو صفونوکې له لمانځه څخه د محرومیت لامل کېږي، بلکې کله کله له تول مطاف څخه د وتلو لامل ګرځي،ځکه چې یو ځل دې ځای له لاسه ووځي،اوهغه دچاخبره پښه دې وښوېږي، نو بیا هېڅوک هم ځای نه درکوي، تقریباً په هر لمانځه کې داسې پېښېږي چې په مطاف کې چاته ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا نشي نو دکعبې په لس مترۍ او شپږ مترۍ کې هم له جمعې پاتې شي، جماعت ودرېږي او په صفونو کې اخوا دیخوا ګرځي، په داسې حال کې چې دلته آن د بل چاپر شا هم سجده رواده.

ماهم په لومړي صف کې دځای نیولو په تکل له ښي او چپ اړخ ته ولاړو کسانو سره مټ په مټ کې ورکړ شا و خوا څلوېښت دقیقې مو په ولاړه مقاومت وکړ، څو څوځله شاته تللو اولوېدلو ته اړ او ډېر سترړی او ستومانه شو، شاته مو هم صفونه وتړل شول، موږ هم خوشحاله وو چې که خیر وي په لومړي صف کې مو ځای وساته او لمونځ به مو په لومړي صف کې وي، جماعت ته وخت او ډېل ماډېل کمېده، په لومړي صف کې د طواف کوونکیو مخه هم ونیول شوه، اوس نو ظاهراً هیڅ ګوابښ نه وو چې په لومړي صف کې له ملتزم سره زما د جماعت خنډ شي حالات ورو ورو ارام شول، موږ هم کیناستو صف مو وتاړه، جماعت ته به ایله پنځه دقیقې پاتې وي لا مو دمه جوړه نه وه چې پولیس راغلل ،امریې وکړ چې لومړی صف دې ټول پاخېږي او شاته دې ولاړ شي، دا امر نه وو سم دټوپک ډزو چې پرموږ وشو لږ مو ځان غلی کړ، خوګته یې ونکړه پولیس راغلل هریو به یې له مټ ونیوه اوپورته کاوه به یې ډېر زیات زور یې راکړ او ډېر خپه شو، خو ګورته تګ له ناکامه وي.

شاته لاړو په نوروصفونوکې هم ځای نه وو، باب العمره خواته مې حرکت وکړ، په هر صف کې ځان ته ځای ګورم خونه ځای شته او نه څوک ځای راکوي، لس صفه شاته تللی وم خفه وم چې په همدې وخت کې مې د چاله خولې خپل نوم ترغوږ شو، ګورم چې په یوولسم صف کې مې ماما ناست دی، هغه حیران و ،چې جماعت ته دوه دقیقې پاتې ندي اوزه له مطاف څخه بهر ځم، غږ یې وکړ خیر خو دی، کوم خوا روان یې؟ په لیدلو یې ډېر خوښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم ورته مې وویل اوس به دې مخ ته کېنم چې جماعت ودرېد ، په صف کې به ځای راکړې بیابه درته کیسه وکړم، همداسې یې وکړل په څو شېبو کې جماعت ودرېد ترڅنګ یې ځای راکړ ښه وو تر څنګ ولاړ کس یې هم ممانعت ونکړ،تنګ تنګ ودرېدو او لمونځ مو وکړ.

## په حرم کې ملاوټ

مازیګر دحج دبعثې کمېټې یوغړي راته وویل چې نن د ماسخوتن له لمانځه وروسته قاري سدیس دافغان حاجیانوله معلمینو ،دبعثې له کمېټې اوځینو افغان پوهانوسره ګوري که ته هم راشې ښه به وي .ځای یې حرم ته نږدې یاله حرم سره د نښتي المکه شرکت څلورم پوړ وښود ،زه په ټاکلي وخت ورغللم خوهلته ډېر لږ کسان راغلي وو له شاوخوا نیم ساعت انتظار وروسته ددولت له شېږ سوو ښوونکیو او دبعثې کمېټې له درې سوو غړیوڅخه ایله شاو خوا اویا تنه راغلل،قاري سدیس هم نه و بلکې پرځای یې د دکتور عبدالرحیم په نوم یوسعودی راغی او د حج مسائل اوبېلابېلې مسئلې یې څېړلې،نیم ساعت به ورته ناست وم خوندیې رانکړ،تر ې راپاڅېدم. ماویل دلته په حرم کې هم ملاوټ کېږي، نوم دیوه کاروي او رالېږي بل څوک .

## د خدای(ج) د کور غله

حرم سپېڅلی ځای دی خلک هم د سپېڅلتیا لپاره ورځي ددرس،عبرت او پند ځای دی، دژړا او واوېلا فریاد ،سوز او ګداز ځای دی،حرم تیګه زړونه هم موم ګرځوي خو ځینې زړونه بیاله تیګوهم کلک دي او یا په رښتینی معنی حرم نه پېژني ،برداشت یې سطحی دی لید یې برسېرن او د حرم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرتم تل ته نه دي ورغلي همدا لامل دی چې ځینې خلک په حرم شریف کې هم غلاکوي حرم هم له کیسه برو خالي ندی،ډول ډول غلاګانې، ددولتي چارواکیو ،دبعثې دپلاوي اودحج دمعلمینو له غلا څخه نیولې تر کیسه بورۍ او جیب وهنې پورې.

د جیب وهنې څو شکایتونه او کیسې مې واورېدې، یوه ورځ مولوي محمود احمدي ژېړرنګ راغی لامل موترې وپوښت ویل یې چې په حرم کې ترې چامبایل او څلور سوه ریاله ویستي دي،یوبل اندرابی ویل چې چایې کمربند په پاکي غوڅ کړی او نهه سوه ډالر یې ترې وېستي دي،یوبل تن ویل چې چاترې یونیم زر ریاله وېستي دي.

یوماسپېښین مې بیت الله ته نږدې په مطاف کې طواف کاوه چې په جیب او کمربند مې دچالاس احساس کړ،ناڅاپه مې لاس ور اوږد کړ اوپه خپل کمربند مې د چالاس ونیوه چې ور ومې کتل دیوې ځوانې ، مستې او تنه ورې هغه دچاخبره چهار پهلوانجلۍ لاس مې کلک ونیوه،پرې غوسه شوم په موړ شاوخوا خلک هم خبر شول ،دانجلۍ رنګ والوت،منکره هم وه اوعذر یې هم کاوه، ماهم فکر وکړچې جنجال ګټه نه کوي داهم انجلۍ ده بس ترې روان شوم.

دعبدالکریم په نوم یوتن بېوزله هراتي سپین ږیري چې ساده سړی وو خپلې پیسې ( ۳۳ زره افغانۍ) دساتلو لپاره خپل زوم غلام سرور ته چې هغه هم سپین ږیری وو اومېرمن یې (دعبدالکریم لور ګل نګار) هم ورسره وه، ورکړې وې ، بله ورځ چې عبدالکریم ترې دخرڅ لپاره له خپلو پیسو څوروپۍ غوښتې وې نو زوم یې ورته ویلي وو چې تېره ورځ ماغسل کاوه اوکمربند مې په اطاق کې خلاص کړی وو چاترې ستا ۳۳۰۰۰افغانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولې وېستې وې اوزماله پیسو سره یې غرض ندی کړی، خسر یې ورسره جنجال کړی و خوګټه یې نه وه کړې، با لاخره د شرکت مسؤولینو ته عارض شو هغوی دا دعوه ماته راجع کړه ،مایې له زوم او لورنه پوښتني وکړې دا راته جوته شوه چې داخبره دروغ او هسې دې پیسو ته چل دی په غلام سرور مې پټکې وکړې او ورته مې ګواښ وکړ چې که د خپل خسر حق ورنکړې نو د سعودي پولیسو ته یې سپارم وارخطا شو لږوروسته یې خسر راغی ویل یې چې لږې پیسې یې راکړې اود نورو پیسو راکولو ژمنه اولیک یې هم را کړی دی، خیر دی خبرمه رسمي کوه.

ګلاغا راته وویل چې زموږیوملګري ته دهغه مور سل ډالر د سوداالپاره ورکړي وو ،خوهغه پکې ځانته سمه برخه وکړله او مورته یې ناسم نرخونه اود پیسو لګولو ناسم راپور ورکړ.

ما ،دهمدې ګلاغاپه قرباني کې اوده ته ددرملو په اخستلوکې دده په غوښتنه خپلې پیسې لګولې وې او کله یې چې راکول وځنډول نو دبل چاپه واسطه مې ترې و هم غوښتې خوتر نن پورې مې یوه روپۍ هم ونه لیده،دقربانۍ کیسه به یې په تفصیل سره په خپل ځای کې رایاده کړو.

شیرزمان راته وویل چې د جمعې په ورځ ۱۴۳۱_۱۲_۲۷ خلکو په مطاف کې یوځوانکی کیسه بردطواف په حالت کې ونیوه ،کیسه بر ډېر عذر کاوه د خلکو زړه پرې ودردېده خوشې یې کړ.

دحج په ورځوکې ټېلیفوني شبکې هم غلاکوي ،هم یې له سر نه وهي او هم یې له برنه، له یوې خوادسیم کارتونو اود مکالمونرخونه هم لوړکړي اولس ریالي کارتونه په ۱۴آن ۱۵ریاله پلوري اوله بلې خوا د بهرنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکالمې بیه فی دقیقه ۴_۵ریالوا او دکورنۍ مکالمې بیه فې دقیقه یونیم ریال ته پورته کوي.

دحج په ورځوکې د ترانسپورت په شمول دهرڅه کرایې اونرخونه اسمان ته ختږي،په دوه سوه متره مسافه کې به موټرو کم ترکمه دوه ریاله کرایه غوښته کله به چې لمانځه ته وخت کم وو نو موږ به په موټر کې تللو که به یوائې له پله هم ورسره راپورته شو نو کم ترکه دوه ریاله یې غوښتل.

یوځل خو داختر په دریمه له یو ډرېور سره زماخبره ترخه هم شوه کیسه یې په خپل ځای کوم،هغه هم په پنځه کیلو متره مسافه کې دهر تن په سر سل سل ریاله غوښتل.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شرکت غله

دا یوائې زموږ د شرکت مسؤولین نه وو چې خپله دنده او له حاجیانو او دولت سره کړې ژمنې یې نه پوره کولې، بلکې دولتي مامورین اود نورو شرکتونو مسؤولین هم له دوی ښه نه وو یوائېني شرکتونه چې هم یې په مکه او هم مدینه کې حاجیانو ته له حرم سره نږدې ځایونه نیولي وو المهاجر او المبارک شرکتونه وو دواړو مشران پښتانه وو ،دوی د نورو په پرتله حاجیانو ته ښه خدمت کاوه ،په مدینه کې یې د شرکت په لګښت په ټولو هغو ځایونو ګرځول چې معمولاً یې حاجیان دلیدلو اوزیارت تلوسه لري.

ګل اغا چې دلوګر د کلنګار اوسېدونکی دی اوخپله هم ګرځندوی شرکت لري راته وویل چې موږ د شپږو شرکتونو مشرانو پرېکړه کړې وه چې د حج اواوقافو وزارت لخوا د حاجیانو ،دلېږد په پروسه کې چې د هرچا په نوم قرعه(پچه)وختله نو ټول به پکې شریکان یو که یو سهم موپه برخه شو اوکه ډېر، وزارت هر شرکت ته د ۱۸۲تنو حجاجو دلېږد سهم ورکاوه ،دګلاغا په وینا دا سهم په قرعه کې دده په نوم راووت خو ده د ژمنې له مخې دا پنځه شرکتونه یا د پنځو نورو شرکتونو مشران هم له ځان سره ملګري کړل.

زموږ د شرکت (سیروسفر بامیان)مشران له ګلاغا پرته نور ټول شیعه ګان وو.

محمد عارف دهرات، سید نصیر دکابل د چهار دهي، شیخ معصوم علي په قوي ګومان دبامیانو او عبدالله دکابل په دریمه کارته کې اوسېږي او همدلته دمعاملاتو رهنما هم لري پوه نه یم چې اصلاً به دکوم ځای وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید نصیر ظاهراً خوږه ژبه او خوږه لهجه درلوده، خونور حاجیانو ته مخلص نه و، د حاجیانو ډېر کارونه هم ده کول عبدالله هم د حاجیانو په چارو کې له ده سره بوخت وو خو تریخ، کبرجن او بې حوصلې انسان و هر وخت به یې جنګ و.

زموږ د شرکت مسؤولینو هم د حاجیانو روغتیا ته پام نه کاوه، د ښځو داوبو، غم ورسره نه و او د قرارداد له مخې د دې خدماتو عرضه د دوی دنده وې خو څو ځله ځینې ناروغان مرګوني حالت ته ورسېدل خو څوک به یې کیسه کې هم نه وو، بیا به زه په مسؤولینو پسې تللم، مسؤولینو زما احترام کاوه، ښايي لامل به یې داوو چې پوهېدل زه له چارواکیو سره ډېره پېژندګلوي لرم او له دوی څخه شکایت کولی شم، څو ځله ما ناروغان د عمارو مخ ته راغونډ کړل او پر دوی مې روغتون ته ولېږدول.

د شرکت مسؤلین یو بل ته هم غله وو سید نصیر، عبدالله او ګل اغا به پر محمد عارف تو رلګاوه چې په هرات کې یې له حاجیانو له ټاکلي نرخ څخه ډېرې پیسې اخستې دي، د دوی په وینا، د دې شرکت ډېر حاجیان د هرات او بادغیس او سپدونکي وو او دوی باید په هرات کې پیسې تحویل کړې وای او په هرات کې واک د محمد عارف وو ده به حاجیانو ته ویل چې که دومره پیسې ډېرې راکوئ نو نوم مو لیکم که نه په مخه مو ښه، د دوی په وینا، عارف له ځینو حاجیانو آن له یو نیم زر ډالرو هم ډېرې اخستې دي.

دوه، درې تنو حاجیانو په نه زړه ماته هم وویل چې پیسې ترې ډېرې اخستل شوي خو پوه نه شوم چې د کوم دباو (فشار) له کبله رسمي شکایت ته چمتو نه وو.

دوی به ویل چې محمد عارف کوښښ کاوه چې د حج په ورځو کې پخپله هم حج ته ولاړ شي، سره له دې چې مخکې یې هم حج کړی دی، سره له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ویزه هم ورسره وه ، او تر دوبۍ هم راغی خوچې الله ج نه وو غوښتی نو په دوبۍ کې ورته دسعودي پرواز برابر نشو.

دولت چې هر شرکت ته سهم ورکاوه نو دحاجیانو دتهاکنې په اړه یې ورته شرایط هم ایښي وو او خلاص لاس یې نه درلود ، خوبیاهم دوی پیسو او واسطو ته سربښکته کړی وو دبادغیس اوهرات په سهم کې د ، لوګر، کابل، بامیان، ننګرهار حاجیان هم بېول شوي وو ،پخپله دمحمدعارف دمېرمنې اوزوی په شمول دهغه دکورنۍ یوولس تنه لېږل شوي وو.

نور خوپرېږده چې آن د معلمینو په انتخاب او ازموینه کې هم درغلي شوې وه ،دشرکت مسؤولینو غوښتل چې معلمین هم داسې څوک وټاکي چې خپل لګښت پخپله وکړي اوداسې څوک وي چې ددوی وستان هم وي، محمدعارف د عبدالرحمن قلندر په نوم یوتن ملا چې دده دوست و دازموینې لپاره کابل ته راوستی و ،خودلته په وزارت کې ناکام شوی و ،بل معلم یې د وزارت لخوا شیخ معصوم علي وو ماله یو چاپوښتنه وکړه چې داخوشیعه هم دی اودشرکت له مشرانو هم دی،اوماخوآن دیوې ثانیې لپاره د حج دمعلم په رول کې ونه لید څنګه وزارت دمعلم په توګه دده له رالېږلوسره موافقه کړې ده؟ هغه راته وویل داهرڅه رشوت آسانه کړي دي ،دوی په وزارت کې پیسې ورکړي دي اوهلته غایبانه ازموینه او .... شوي دي.

له ما ،مولوي احمدي اودشرکت له مسؤولینو پرته بل څوک نه وو خبر چې شیخ معصوم علي دې ګویا د حج معلم هم وي.د وزارت لخوا موږته د حج په معلمینو کې دیوبل تن نوم هم راکول شوی و خو موږ ونه لید او دمولوي احمدي چې حاجیانو ته دحج دمعلم په توګه ور وپېژندل شو اوعملاً یې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمعلم رول تر سره کاوه نوم د معلمینو په لیست کې نه و .یوه ورځ مې ورته وویل چې نن به راته رښتیا خبره کوې داکومه خبره ده چې ته عملاً معلم یې خونوم دې په معلمینوکې نشته اوڅوک چې دمعلم په توګه په لیست کې دی دهغه درک هم نشته دی مسکی شوپه هراتۍ لهجه یې راته وو :برار ترکش کن پیش ای قصانګرد ،خوما پربښبود : نه هرو مروبه یې راته وایي.

چې پوه شوه نه مې پرېږدي راته یې کیسه په دې ډول پیل کړه:مامخکې هم دوه ځله حج کړی دی محمدعارف پوهېده چې زه دمعلمینوپه ازموینه کې نه ناکامېږم نو زه یې وهڅولم چې دده د یو دوست په نوم او شهرت امتحان ورکړم اوژمنه یې وکړه چې له بریا وروسته به موږ تاهم وریا حج ته ولېږو. دهغه په وینا ماهم همداسې وکړل ، په وزارت کې مې ځان هماغه شخص معرفي کړ،دازموینې پارچه کې مې هم دهماغه نوم اوشهرت ولیکه اوپه تقریري کې مې هم ځان هماغه شخص معرفي کړکله چې په نتایجوکې هغه کس بریالی اعلان شونو محمدعارف راته وویل چې ته اوس موږته درې زره اویونیم سل ډالر راکړه چې په بانک یې د نورو حجاجوپه څېر ستاپه نوم تحویل کړو ،بیاکله چې له حج څخه راستون شوې ستاپیسې به بېرته درکړو خوته به عملاً زموږ ښوونکی یې اودحج دښوونکیوټول امتیازات به درکول کېږي.

احمدي زیاته کړه چې ماهم ومنله درې زره اوسل ډالر مې دوی ته ورکړل داچې دوی به څو په بانک کې تحویل کړي وي پوه نه یم همدالامل دی چې حاجیانوته د حج ښوونکی زه ور پېژندل شوی یم خوپه رسمي لست کې هغه بل تن دی،احمدي وویل چې هغه بل کس نا لوستی اوله دین څخه ناخبره سړی دی،اوپه دې حاجیانو کې راغلی هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حج څخه چې راغلو نو یو څه موده وروسته احمدي راته ټیلفون وکړ په غوسه و، و یې ویل چې وروره شرکت خو پرماسخت چل وکړل او ډېره ناځواني یې راسره وکړه.

ته خو خبر یې چې له حاجیانو سره مې څومره زحمت وویست ،د معلم په توګه وکارول شوم،او اوس مې هغه پیسې هم نه راکوي، محمد عارف راته وایي چې ته خو عادي حج کوونکی وې په نورمال ډول دې داخله کړې،اود نورو حاجیانو په څېر دخپلو پیسو په مقابل کې حج ته تللی یې زموږ رسمي ښوونکی خو فلانی او فلانی دي .احمدي وویل چې عارف یو تن هغه څوک ښيي چې مایې پرځای ازموینه ورکړې وه، ده وویل چې شرکت آن له هغه شخص څخه هم پیسې اخستې چې دحج ښوونکی معرفي شوی دی اومایې پرځای امتحان ورکړی دی.

خدای ج شته چې لومړی خو ددې کیسې په اورېدلو ډېره خندا راغله خوورووسته پرې ډېر خفه شوم.

## کعبه او بې ستري

دحج په ورځوکې په ټول حرم کې سخت بیروبار وي،په ځانګړې ډول په مطاف کې خو دقدم اېښودلو ځای نه وي، کله کله دومره تېل ماتېل شي چې ښځې او سپین ږیري خوپرېږده آن ځوانان هم ورته تاب نه راوړي ،خوپه همدې بیروبار کې ښځې او نارینه ګډ طواف کوي ،ځینې خلکو دبیت الله ترڅنګ دطواف په وخت کې خپلې محرمې مخ کې روانې کړې وي ترشایې دوی خپل لاسونه ور اوږده کړي او خپلې سینې ته یې جوختې کړې وي لاسونه یې ترې تاو وي په دې ترتیب هغوی له غورځېدو ژغوري.خو کله کله دانسخه هم کار نه کوي او دواړه غورځېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله پردی، ښځې له پردي سړي سره دومره ونښلي لکه یو بدن.

مابه په لومړیو وختونوکې خپلې پلاستیکي یوې ګوتې والا سپکې چیړې د احرام په حالت کې دلنګ دپټې، اوکمربند اوبې احرامه دپرتاګه دبډې اوکمربندلاندې تېرولې ،ددې کار یوه ګټه داوه،چې خپلې چیړې به راسره وې دوهمه اوستره ګټه یې داوه چې که له مخکې انجلۍ یاښځې سره به وجنګېدلم نو له هغې سره به زما دوروون اوسینې پرځای زما چیړې لګېدې، داچیړې به زمااودهغې ترمنځ عایق وې.

له تولې نړۍ څخه حج ته هر کال میلیونونه انسانان راځي په دوی کې کله انسان له داسې ښکلیو سره مخ شي چې ښکلاته یې انسان ګوته تر غاښ لاندې شي،ته به وایې چې یاره په دنیاکې به له دې بله ښکلې نه وي وروسته به له داسې ښکلې سره مخ شې چې هغه لومړۍ دې له یاده ووځي.

بدرنګې هم همداسې درواخله کله کله خو دځینو بدرنګو په لیدلو انسان حیران او الله ج ته توبه ګار شي، کله شکر وباسې چې ښه ده الله ج دی دومره بدرنګ ندی پیداکړی،دځینو ښکلو او بدرنګو خلکوپه لیدلو انسان ته داسوچ پیداشي چې هغه په فولکوریکوکیسوکې چې دښاپېریو او دیوانو یادونه کېږي هغه ښاپېرۍ همداښکلې دي اوهغه دیوان همدا تور پوستکي لوړقدي دي که څه هم په اسلام کې دغوره والي معیار ظاهري ښکلانه بلکې،باطني ښکلا ده اودکرامت معیار هم رنګ نه ،بلکې تقوا اوباطني سپېڅلتیاده،خو بیاهم دښکلیو پر اهمیت سترګې پټول ناشونی دي.

داهم روڼ او انکار نه منونکې حقیقت دی چې په حرم کې جنسي غریزې وېدې او په جنسي اوغریزوي مسایلوکې رښتیاهم شیطان بې واکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوترلی وي که حوره هم په مخ درشي نو هیڅ ډول تمایل به درکې پیدانشي.

له لوستونکیو په بخښنې،ښکلا ته زه هم دټینګې نه یم، دښکلیو په لیدلو په اوبو کې هم خوله کېږم او دهري لیدلې اونالیدلې ښکلې، یار اوخریدار یم خوهلته مې له الله ج څخه په اخلاص غوښتي وو چې په دې برخه کې مې له هر ډول شیطان څخه په امن وساتي، شیطاني وسوسې مې رندې اوکنې کړي اوکم ترکمه ،دحج په موسم کې هیڅ دنارینه توب احساس ونکړم،الله ج ته ډېر شکرونه کوم چې زمادا سوال یې قبول کړ او دهغې چا ښکلا هم نه یم بې تابه کړی اونه یې راباندې منفي اغېز کړی دی چې په لیدلویې دغرونو په څېر همتونه لړزېږي.

یوځل د کعبې بیخ ته په طواف بوخت وم کله چې له رکن یماني څخه حجر اسودته ورنږدې شوم ګورم چې یوه ځوانه ،ښکلې او چاغه سپین پوستکې ښځه، په یاد مې نه دي چې اندونیزیايی به وه اوکه مالېزيايی له حجراسود څخه راګرځېدله په ځومره خواریوبه یې ځان حجراسودته رسولی وي خوله هغې خوا ورته د راوتلو لار اوچانس نه وه،بالاخره مجبوره شوه چې دخلکوپه سرونو لکه لامبو وهونکی ځان وروغورځوي اود یوه له سر او اوږې څخه دبل اودبل له سر اواوږې څخه بل ته ځان واړوي، ترڅو یې چې پر ځمکه د قدم اېښودلو ځای وموند ،ددې ښځې ټول بدن له پښو نیولې تر سینو پر نورو بار وو ماویل له دې ثواب څخه خو داګناه څو چنده ډېره ده. یوخوا ناپوهي ده خلک پردې نه پوهېږي چې دحجر اسود ښکلول ښه کار اوسنت دی خو چې بل ته زیان نه وي اوکه بل ته زیان یا نوروته تکلیف وي نو په لاس یې مسه کول او آن له لېرې ورته سلام کول هم کفایت کوي یا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله وینا د حجراسود ښکلول ځای ناستی لري خودبې سترۍ مخنیوی او نوروته زیان رسول هیڅ بدیل یاځای ناستی نلري.

بل خوا دالله ج دکور شوق ،اشتیاق،نه کنټرولېدونکي احساسات ،نه ایلېدونکي جذبات له انسان څخه غواړي چې کم ترکمه یوځل خوحجراسود ښکل کړي ډېرځله دعلم،منطق اواحساساتو اودبیت الله د لیوني عشق په مقابله کې علم او منطق ماته وخوري.

زه دحجراسود دښکلولو اودکعبې له ودانۍ سره جوخت په بېروبارکې د طواف پر حکم ښه پوهېدم او پوهېدم چې دواړه کاره نامناسبه دي خو بیاهم نه صبرېدم،یوځل خود حجراسود په ښکلولو کې تر ډېرو وړاندې شوم دحجر اسود اوزما دمخ ترمنځ نیم متر مسافه هم نه وه چې په همدې کې مې له یوې ښځې سره مقابله شوه، هغه زمامخه نیسي اوغواړي چې خپله ترما وړاندې حجراسود چپ (ښکل) کړي اوزه غواړم چې دهغې مخه ونیسم اوخپله حجراسود ښکل کړم،په همدې کشمکش کې له موږ دواړونور خلک مخکې شول،اوموږ په ټیل کې شاته وویستل شوو ، دې ښځې راباندې ډېرې پېغورونه وکړې.

یوځل په ډېر زیات زحمت له ملتزم څخه حجراسود ته راتاو شوم په دې یو متر مسافه کې به مې کوم پنځوس دقیقې مقابله کړې وه،کله مې چې حجر اسود ته مخ ورنږدې کړ اوغوښتل مې چې سر پکې ننباسم نو دیو تور پوستي له مقابلې سره مخ شوم، ناڅاپه یې زماسر ټیله کړاوخپل یې په حجر اسود کې ننویست، دې کارماته زور راکړ، په حجراسود کې مې خپل لاس ننوېست او دننه مې دهغه پر خوله کېښود دحجر اسود سوری تنګ دی ما پرخپل لاس دهغه خوله بنده کړه او وحجراسود یې ښکلولی نه شو هغه ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ام ام وکړ په غوسه شو خو زما لاس لا دهغه په خوله او پوزه ایښی وو ،له بلې خوا ټېل ډېر وو له ځان سره مې فکر وکړ چې ترڅو به مقابله وي کېدلی شي چې د ټېل ځپه مو واخلي او دواړه محروم شو لاس مې دهغه له خولې اخواکړ،هغه دتيګې دننه برخه ښکل (چپ)کړه نور مې په اشاره پوه کړ چې بس دی سر دې اخواکړه،هغه هم سر اخواکړ خو دایواځې زما سرنه وو چې غوښتل يې دهغه ځای ونيسي ډېروټيله کړم خو ما په حجر اسودکې دننه خپل لاس ننوېستی و، دحجر اسود بهرنۍ برخه پوښل شوېده يواځې دننه برخه يې ښکل کېږي خو هلته هېڅوک يواځې د شونډوپر ښکلولو بسوالی نه کوي،بلکې هرڅوک يې په ژبه څټي ماهم څو څو ځله همداکار کړی دی.

که بل چېرې دکومې سرېتي او سورۍ تيګې دننه برخه دورځې په زرګونو ځله ښکل او وڅټل شي نوخدای خبر دی چې څومره ساري اوناساري ناروغۍ به وزېږوي، خودلته دالله ج اراده ،نصرت اوحکمت بل ډول دی، تحقيقاتوجوته کړېده چې دلته هېڅ ډول مکروب اوويرس نه وي.

د حجراسود له ښکلولو چې فارغ شوم نود سترتياله کبله مې نور ځان کې دمه نه وه ،دومره وس راکې نه ووپاتې چې بهر ووځم چا لارهم نه راکوله اونه هلته څوک پوهېږي چې څوک دننه که بهر ځي،يوځل مې وويل چې راځه همدلته ځان وغورځوه،که ترپښنو لاندې شوې اوکه چا درسره مرسته وکړه،خوهمت مې له لاسه ورنکړ يوپښنه مې دبيت الله په بازو (شاذروان) پورته کېښوده اودهماغې ښځې په څېرمې دخلکوپر اوږو اوسرونو ځان ورواچوه، په دې ترتيب مې دخطر له ساحې ځان راووېست ښي لاس مې پورته کړ،هلته ښي لاس پورته نيول له مطاف څخه دوتلو پر معنی ده، کله چې له مطاف څخه پر پوړيو (زينو)راوختم نو اوږد څملاستم، دې ستړيا نوسم ناروغ اوپه قولنجونو اخته کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوځل په طواف کې ګورم چې په مخ کې مې په ښځینه جامو کې یوتن سرلوڅی روان دی او څادر یې په اوږو پروت دی ورته ومې کتل ماویل راځه تیکری یې پر سر ورته واچوه او نصیحت هم ورته وکړه خفه هم شوم چې دا ښځې په حرم کې هم دومره بې پروا دي خو چې مخ مې ورواړوه نو ګورم چې ښکلی کوسه (بې ږیرې) سړی دی.

# عملي حج

بالاخره دحج ورځې راورسېدې،زمابل ماما حاجي عبدالله چې تېر کال له خپلې مېرمنې سره حج ته راغلی وو ،هروخت پرما او خپل ورور حاجي حبیب الرحمن سپارښت کاوه چې له حج وړاندې په عمرو اوطوافونوځان ډېر ستړی نه کړو چې بیابه دحج ورځوته چې دزحمت اصلي ورځې دي ستړي یو، سره له دې چې حج اوس آسانه شوی هم دی خو رښتیا هم ډېر سخت اوله ستړتیا سره مل عبادت دی .همدالامل دی چې دحج دنیت یا احرام په وخت کې حاجي دعاکوي چې: اللهم انی اریدالحج والعمره فتقبله منی ویسره لي: یعنې خدایه زه دحج او عمرې نیت لرم له ماڅخه یې قبول کړه اوماته یې اسانه کړه.له حج پرته په نورو عباداتو کې د (ماته یې اسانه کړې) لفظ نشته دی.

د ذوالحجې د اومې اواتمې په منځ شپه کې دافغانستان ۳۰۴ته ورته لوی موټرونه د عمارو مخ ته راغلل،موږهم غسل وکړ،احرام مو وتاړه،ډېر سامانونه مو په خونو کې پرېښودل او یوکوچنی لاسي بیک مو له ځان سره واخست، دشپې پاوکم یوولس بجې منی ته روان شو لار کمه ده،خوبیروبار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر دی او موټر هم ورو ځي، یو ساعت وروسته په منی کې د خپلو خېمو مخ ته ښکته شو موږ ته لا د مخه د خپل اړوند مکتب (۷۸) لخوا له نقشې سره په منی کې د خېمې شمېره، موقعیت او د ډوډۍ کارتونه راکول شوي و زموږ خېمې ۵۴_۵۵_۵۲_۵۷_وې په هره خېمه کې کم ترکمه ۳۰ تنه ځایېدل، موږ په خیمو کې ناست وو چې پاکستاني پنجابیان هم زموږ ۵۷ نمبر خیمې ته راننوتل او ویل یې چې د جنوبي اسیا مطوف یا مکتب دا خېمه هغوی ته ورکړې ده، زموږ د شرکت مسؤولین ورسره وغږېدل، بالاخره د خېمې نیمه برخه مو هغوی ته ورکړه بیا ویده شو، سترګې مو سره ورغلې وې چې بیا یې را ویښ کړو ویل یې دا خېمه ټوله زموږ ده او موږ ته یې پرېږدئ با لاخره هغه خېمه موورته ټوله پرېښوده.

منی ټوله سپینو اور او اوبو ضد خېمو پوښلې ده، په هره خېمه کې ایرکنډیشن، فرش، هرتن ته نوې بړستن چې د توشک کار ترې اخستل کېده یوه کمپل او یوه روجایي پراته وو، د هرې خېمې مخ ته د اوبو ترموز ایښی وو، د چای لپاره د ګرمو اوبو بریښنایي سستم هم فعال وو خو ترموزونه یو ځل له اوبو او یخ ځخه ډک شول بیا چا ډک ونه لیدل بیروبار ډېر وو چاته نه یخې اونه ګرمې اوبه رسېدلې په تشنابونو او د اوداسه پرځای به هم نوبت نه و هر وخت به ۱۲_۱۷ تنه کتار ولاړ وو، ځوانان خو بیا هم ګوزاره کوي خو سپین ږیري او ښځینه ډېر په تکلیف وو.

ګرمي هم ډېره وه او ډېر احرام والا یې بې ستره کړي وو.

په سبایې د ذوالحجې په اتمه بهر ووتم، ګورم چې زموږ ساحه د مزدلفې په ساحه کې ده، خو د بیروبار له کبله ترې د منی کار اخلي، زه د منی او مزدلفې ترمنځ غونډۍ ته یو ځل سحر او یو ځل مازیګر ورختم هره خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپیني خېمې وې، له دې غونډۍ څخه مسجد خیف او جمرې ښکارېدلې .دبیت الله د ساعت یا زمزم برج هم ښکارېده ،دلته ټول سړکونه او دخېمو ځایونه پاخه دي ،ډېر لوی لوی او ښکلي هوایي پلونه تېر شوي او ټول سړکونه دعامو موټرو پرمخ تړل شوي دي .ډوډۍ ،اوبه خېمې،بسترې،موټر،هرڅه پر شرکتونو دي،

دلته ډېر خدمت کوونکي او سوداګر او دوکانداران پنجابیان دي، او مکتب هم همدوی استخدام کړیدي.

له ماښامه مې په ټېلیفون دهغه ځای وپوښت ویې ویل چې په ۸۰ مکتب کې دی ماویل څه نږدې به وي یو مکتب ،ترمنځ دی د ټیلیفون دشبکې انټن او ستن لاندې مې راوغوښت. زموږ سره نږدې لوړې لوړې پایې اوټیلیفوني، لوړ لوړ انتېنونه وو خو هغه راته وویل چې ده ته دانښې له سره نه ښکارې، با لاخره جوته شوه چې زموږ او دهغوی ترمنځ د پښو کوم یو نیم ساعت مزل دی، یعنې موږ جنوب او دوی شمال خواته وو.

دلته قیمتې ډېره زیاته وه،داوبو یوریالي بوتل په دوه ریاله ،یو کیلو بېخونده خوغټې کېلې چې یو کیلو یې پنځه داني کېدلې په لس ریاله وې لومړی مې فکر کاوه چې داکېلې به هندۍ وي خو وروسته مې چې په هندکې هندۍ خوږې کېلې ولیدلې او وخوړلې نوپوه شوم چې دا کېلې هندۍ نه ، بلکې چینایي وې ، یوکیلو انګورپه ۱۲ ریاله پلورل کېدل ، خوداوبو مصرف ځکه ډېر زیات وو چې ګرمي ډېره وه.

کله چې غونډۍ ته دمنی دلیدلو لپاره ختلی وم، نو هلته د پاکستان دهزاره جات د بټګرام له شپږ تنو او سپدونکیو سره مخ شوم ویل یې چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جده کې په یو هوټل کې کار کوي او هر یو ته د میاشتې دوه زره ریاله مزدوري ورکوي. او اوس حج ته راغلي دي.

## د منی حکم او وخت

منی دحرم په حدودو کې ده له حرم څخه یواځې پنځه کیلو متره فاصله لري، دذوالحجې د اتمې اونهمې تر منځ شپه دلته تېرول سنت دي،اوکله چې دذوالحجې په نهمه نېټه رڼا شوه نو بیا حاجیان له دې ځایه عرفات ته روانېږي، منی ته دتللو رسمي وخت، یوم الترویه (دترو یې ورځ یا دذوالحجې اتمه ده) خومخکې تلل هم ورته روادي، زموږ دشرکت مسؤولینو بیروبار او سبا یا دذوالحجې په اتمه دموټرو احتمالي نه موندلو ته په پام سره دشپې حرکت وکړ.

دلته په منی کې، دذوالحجې داتمې ماسپښین، مازیګر، ماښام، ماسخوتن او دذوالحجې دنهمې دسحر لمونځ کول سنت دي،حضرت عمر رض روایت کوي چې رسول الله ص فرمايي: حضرت جبرایل رض دترویې په ورځ حضرت ابراهیم ع منی ته بوته او همدا پنځه لمونځونه یې هلته پرې وکړل له هغه ځایه یې عرفات ته روان کړ،حضرت جابر رض روایت کوي، چې رسول الله به دذوالحجې په اتمه ،منی ته روان شو همدا پنځه لمونځونه یې هلته وکړل،دذوالحجې په نهمه چې لمر لږ راوخوت نو عرفات ته روان شو.

دذوالحجې اتمې ته د ترویې یافکر کولو ورځ له دې امله وایي چې حضرت ابراهیم ع ته د ذوالحجې په اومه په خوب کې ویل شوي و چې خپل

www.meitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی حضرت اسماعيل قرباني کړه ،نو ده پر دې ورځ فکر کاوه چې داخوب به شيطاني وي او که رحماني وي؟

ډاکټرمحمدالياس،عبدالغني، وايي چې منی بهولوته وايي ددې لپاره چې حاجيان دلوی اختر په ورځوکې دلته قرباني کوي ،اووينه بهوي نو دې ځای ته منی وايي داسې هم ويل شوي چې عربان، هرهغه ځای ته چې ډېر خلک پرې راټولېږي منی وايي،ددې لپاره چې دحج په ورځوکې دلته ډېر خلک راټولېږي، نو دې ځای ته هم منی وايي،منی دمسجدالحرام اومزدلفې ترمنځ پرته ده،پخواورته اوه کيلومتره لاروه،خواوس نوي تونل دالار ۵کيلومتروته را لنډه کړېده.

شيطان دحضرت ابراهيم مخته همدلته خنډ کېده اوغوښتل يې چې دزوی د ذبحې په اړه يې وسوسه ور واچوي نوهغه ع همدلته په تيګوويشت ،حضرت ابراهيم دخپل ځيګر اودزړه ټوټې حضرت اسمعيل پرمرۍ همدلته چاړه راکش کړه، هغه همدلته په الهی ازموينه کې بريالی شو ،اودهغه پرځای دذبحې لپاره رالېږل شوی پسه هم همدلته قرباني شو.

دحضرت ابراهيم په لاس دالله په امر دخپل زوی پر مرۍ چاړه راکشول وړه خبره اوکوچنی امتحان نه وو، يواځې دلوړ عزم خاوندان په دې ډول ازموينوکې بريالي کېدلی شي،اوحضرت ابراهيم ع هم اولوالعزمه رسول دی. همدالامل دی چې دده ددې سترې بريا ياد تازه کول اولمانځل نن هم دهغه پر لارويانو ،اودهغه پرملت واجب ده،نن هم حاجيانو ته امر شوی چې سمبوليک شيطان اوشيطانی وسوسې او غرايز هلته پر کاڼوولي اوهملته قرباني وکړي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسجد خيف هم په منى کې جمرو (سمبوليکو شيطانانو) ته نږدې ديو غره لمن کې پروت دی، په دې مسجد کې حضرت محمد (ص) اوګڼو نورو انبياوو لمونځونه کړيدي، دمديني دانصارو اودحضرت محمدص ترمنځ دعقبې لومړی او دوهم بيعت هم همدلته ترسره شو، چې همدابيعتونه په مدينه او ټولې اسلامي نړۍ کې داسلام د وړانګودخپرېدولامل شوې، سورة نصر اوسورة مرسلات هم همدلته نازل شوي دي. رسول الله ص په حجة الوداع کې دلته شپې کړيدي، قرباني يې هم همدلته کړې ،نوروته يې هم همدلته دقربانۍ امر کړی ،اوټوله منى يې دقربانۍ ځای وګرځاوه.

حاجيان دذوالحجې يوولسمه، دولسمه، اوځينې يې ديارلسمه شپه هم همدلته تيروي.

الله ج فرمايي (واذکروا الله فی ايام معدودت فمن تعجل فی يومين فلا اثم عليه ومن تأخر فلااثم عليه لمن اتقی)(۴) (۴)البقر ۲۰۳:

يعني : (په شمېرلوورځوکې الله يادوئ نوڅوک چې بېړه وکړي اوپه دوه ورځوکې له منى ووځي پر ده کومه ګناه نشته ده اوڅوک چې له دوه ورځو نور هم وځنډيد نوپرده هم کومه ګناه نشته ده ، داټولې لاربښوونې دهغه چالپاره چې له الله ج وېرېږي). .سعودي حکومت په منى کې هم ډېر کارکړی دی، دمنى ساحه يې پراخه کړې ،لوړې لوړې غونډۍ يې هوارې کړې، ګڼ تشنابونه، حمامونه ،دڅښلو اوبو ځايونه ،فريزرونه ،داوداسه ځايونه يې پکې لګولي ،خېمې يې ډېرې منظمې درولې، دترافيکي اوګڼېز بيروبار دمخنيوي په خاطر ځانګړی تدابيرنيول شوي پراخ سړکونه جوړ شوي دڅښلواوبه ټولې فلتر شوې دي ،ګڼ کلينيکونه چې وړيا درملنه کوي فعال شوي ،دمنى حدود له هرې خوا په لويو لويو لوحوښودل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مسجدالحرام څخه د واټن دکمېدلو په خاطر غرونه سوري شوي اوه کیلو متره لار ځلورپنځو ته راکمه شوې اوپر لار دڅښلو لپاره دیخواوبو، اوداسه او نورو اړتیاووانتظام شوی دی.

حضرت یزید بن اسود ،فرمایي: چې ماله رسول الله ص سره حج وکړ او د سحر لمونځ مو له هغه سره دخیف په مسجد کې اداکړ، خیف مسجدکوچنۍ جمرې ته نږدې پروت دی، دې مسجد ته دتاریخ په ټولو پړاوونو کې مسلمانو چارواکیو پام کړی دی ،په وروستي ځل په ۱۴۰۷ه س کال ورغول شو چې دتاریخ مکه په حواله ۳۱۰۵میلیونه ریاله پرې ولګېدل ،په دې رغونه کې دمسجد څلور مناري هم دي، دمسجد دسرولولپاره په کې څلورسوه لس ایرکنډېشنونه ،اوله یوزراوسل ډېر پکې نصب شوي دي.

له مسجد سره جوخت له زرو ډېرې بیت الخلاوې اوله درې زرو ډېر د اودس ځایونه جوړ شوي دي.

ددې مسجد شایمنې اړخ ته هغه غار دی چې مرسلات سورت پکې نازل شوی دی ، بخاري له حضرت عبدالله څخه روایت کړی چې موږ په همدې غار کې له رسول الله ص سره ملګري وو چې مرسلات سورت پرې نازل شو.

# د عرفات هېرحکمت

دذوالحجې دنهمې په شپه مسؤولینو وویل چې ښایي سبا ډېر زیات بیروبار وي نوله همدې امله همدااوس عرفان ته روانېږو موږ ځان چمتو کړ،ګرمي ډېره وه،په احرام کې هسې هم خلک په تکلیف وي ځوتنه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیدل چې په احرام کې یې خپل ځان ته پام نه وو او دعورت ډېرې برخې یې ښکارېدې، نو موږ هم عرفات ته همدا اوس تللو ته خوښ وو تر ډېره ویښ وو خو موټر رانغی بالاخره ویده شو سبا دعرفې په ورځ سحر اته بجې درې لوی موټر راغلل خو پاکستانیان له موږ وړاندې شول ،زموږ څه باندې دېرش تنه ملګري بې صبره شول ویل یې چې مکتب موټر نه رالېږي هسې رابانده ورځ تېروي ټول عرفات ته په پښو روان شول ماورته ډېر وویل چې موټر ته صبروکړئ خو ویې نه منله لږ وروسته موږ ته هم موټر راورسېدل په کې سپاره او دمزدلفې له لارې عرفات ته روان شو، پرلار به دې چې څومره سترګو کار کاوه، په سپینو احرامونو کې حاجیان ښکارېدل، تابه ویل چې دسپینو پرښتو باران شوی دی .دبیروبار له کبله خپل ځای ته لس نیمې بجې ورسېدو.

زموږ خیمې دعرفات په پای جنوب ختیځ کې وې تر اوږده ترپال لاندې پرشګو غالۍ غوړېدلې وې.

لمونځ ،دعااو تلاوت مو پیل کړ،دوه ساعته تېر وو چې زموږ پلې را روان شوي څه باندې دېرش تنه ملګري سترې ستومانه خوله خوله راورسېدل.

غرمه ډوډۍ کې وریجې،چرګ،جوس،یوبوتل اوبه،کېک،کلچې،مربا موجود وو ډېرو دماسپښن لمونځ همدلته خېمه کې وکړ،دشرکت مسؤلینو هم دوی هڅول چې همدلته لمونځ وکړي پلمه یې داوه چې بیروبار ډېردی بیا خپل ځای نشي پیداکولی زه مسجد نمره ته روان شوم، ملګري مې خبر کړل اوه لس تنه راپاځېدل اوراسره روان شول،مسجدنمره زموږ نه ډېره لرې و ،په پوښتنه مو پیدا کړ،خوپه مسجدکې دومره بیروبار وو چې یوکیلومترۍ کې یې هم دومره ځای نه و چې اوه لس واړه په صف کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناست وای بیاهم کوښښ مو وکړ چې ځان مسجدته نږدې کړو په تېل ماتېل کې مو ځان تریوه حده راساوه تنګ تنګ پریوه سړک ودرېدو ، ګرمۍ خپل تول زور ازمویلی وومسجد کم ترکمه شاوخوا اوه سوه متره له موږ لېرې وو ،دلته مو دماسپښین اومازیګر لمونځ یوځای دماسپښین په وخت کې وکړ خونه مو خطیب ولید ،نه مو خطبه واورېده اونه دعا.

له دې ځایه جبل الرحمة ته وخوځېدو ،پرلاره ونې هم وې دګرمۍ دمخنیوي لپاره مصنوعي بارانونه هم ورېدل ،دولت هلته هم ډېر کار کړیدی،په عرفات کې ډېر بیروبار وو کوښښ مو دا و چې ملګري مویوبل ورک نه کړي دډېر کوښښ او پام سربېره بیا هم ملګري مو یویورانه ورکېدل کله چې دجبل الرحمة ترڅنګ روغتون ته ورسېدونو درې تنه راسره پاتې و نور مو ټول ورک کړل. په جبل الرحمة ختل مستحب دي خوپه هغه صورت کې چې بیروبار اوخلکو ته زحمت وي اوپه ځانګړي ډول په هغه صورت کې چې دځان دهلاکت یادنورو دهلاکت وېره یانوروته دزحمت قوي احتمال وي نوبیا خوحرام دی،خوهلته احساسات اوجذبات بل ډول وي زه ښه پوهېدم اولیدل مې چې هلته ورختل نورو ته هم زحمت دی اوخپله هم دسرله خطر سره مخ کېدلی شوم خو چې کتل مې ښځې ،سپین ږیري اوکمزوري خلک ور خېژي نو طاقت رانغی او ورروان شوم ، څومره چې غونډۍ ته ورنږدې کېدم نوتېل زیاتېده اخر دومره اوږد ډېل شو چې کریکو اوچیغو فضا ونیوه خلک احساساتي شول ،سونامي واخستل هره خوا ښځې، ځوانان اوبوډاګان تر پښو لاندې شول ، دجبل الرحمة په لمن کې دې غونډۍ ته دختلو پرلار دپیروبار له کبله دشاوخوانیم متر په اندازه احرامونه ،چپړې چترۍ اوداوبوبوتلونه پراته وو ،په ډېرزحمت اوډېرو هڅواو ستړتیا وروسته غونډۍ ته وختلم،په غونډۍ کې ګرځېدل هم له خطر څخه ډک دي ځکه لوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژورې اوغتې او کوچنۍ تیګې پکې ډېرې دي ، د بیروبار له کبله ګام اخستل هم سخت دي.

غونډۍ ته چې وختلم نو یوملګری مې هم راسره نه و ، نیم ساعت ،څلوېښت دقیقې به هلته وم دعاګانې مو وکړې او دغونډۍ په شمال لوېدیځ اړخ چې دراښکته کېدلو لپاره ځانګړې شوی و ورو ،ورو راښکته شوم.

داښه وو چې دپورته کېدلو اوښکته کېدلو لارې بېلې وې اوپولیس هم فعال وو، وروسته چا راته وویل چې دجبل الرحمة په تېل کې په دې ورځ څوارلس تنه ووژل شول.

په عرفات کې هم ډېره ګرمي وه خو مصنوعي بارانونو هغه دپېښوریانو خبره ښه چک لګاوه. دماسپښین په لمانځه کې دعرفات په لوی مسجد یامسجدنمره کې بیروبار ډېر زیات و دننه مسجد ته ورتلل تقریبا ناممکن وو ،نوله جبل الرحمة څخه له ستنېدلو وروسته مې وپتېیله چې همدې مسجد ته ورشم اوښه یې وګورم همداسې مې وکړل، مسجد مې پیداکړ،دمسجدنمرې او جبل الرحمة ترمنځ کوم څلوېښت دقیقې لاره ده،مسجدنمره ډېر لوی مسجد دی لاهم پکې بیروبار وو خوزه وردننه شوم نفل مې پکې وکړل ښه سیل مې وکړ،دننه اوبهر وګرځېدم،بیرته خپلې خېمې ته روان شوم،بلد نه وم خو داټکل له مخې روان شم،ماویل په لنډه به ووځم،خو لنډې لارې ټولې تړل شوې وې، پرلاره هر ځای کې سبیل (خیرات)وېشل کېده،لوی لوی موټر به له جوسو کېک ،کلچو ،پیپسي ،مرنډا ، نورو مشروباتو غوښو ، وریجو، په ډېبوکې له بندو خوراکي توکیو ډک وو ،په ځینو ځایونوکې به دموټر مخ ته کتار خلک ولاړ و اوسبیل به یې غوښت،زه چې له مسجدنمره څخه خپلې خېمې ته روان شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ماښام نږدې وو، پرلاره څو ځایه سبیل وېشل کېده ،ماخوخپل ځان له سبیل نه ساته آن نورملګري مې هم هڅول چې ورته زړه ښه نه کړي، یوځای کې یوموټر ولاړ و څو لوی لوی دیګې یې ترې راښکته کړي وو، څوځایه یې پرلاره ایښي وو، هرڅوک به یې چې ولیدل نوپه اصرار به یې ترې غوښتل چې ورتاو شي آن کله کله به یې حاجي له لاسه ونیوه ،پرما ناوخته وه ،بېړه مې وه چې ځان ملګروته ورسوم چې هغوی رانه مزدلفې ته روان نشي، چټک روان وم چې یوتن له لاسه ونیوم په ځانګړې تشویقوونکې لهجه یې راته وویل(یاحاج سبیل سبیل) ماورته وویل چې راباندې ناوخته ده .خوپرې یې نښودم.

په یوه، یوځل مصرفه پلاستیکي کاسه کې یې راته دچرګ دغوښې خوندوره ښوروا دزړه له تیوتې سره واچوله په بله کاسه کې یې راته وریژې ،واچولې غاړې ته کېناستم موړ هم وم او بېړه مې هم وه له دواړومې څلورمه برخه هم ونه خوړلی شوه، خدای خبر چې دوی به پدې موټر کې څودیګې غوښه او وریژې راوړې وې ورځ ختمه وه خولاهم دیګې له غوښو اووریژو ډک وو.

هغه موخه اوغرض چې لپاره یې عرفات ته تلل ضرور ،بلکې دحج رکن بلل شوی دی تر ډېره حده له پامه غورځول شویدی ،دعرفات مهم غرض دادی چې مسلمانان په یو ځای کې راغونډ شي داسلامي اوملي وحدت تظاهر وکړي، داسلامي امت لپاره یو کلنه استراتیژي جوړه کړي په ګډه دالله ج حضور ته ددعالاسونه لپه اواجتماعي اوښکې توېې کړي خوحاجیان ټول مسجد ته نه ورځي یا دورکېدلو له وېرې یا دځای دلرې والي له کبله یا دناراستۍ له کبله دماسپښین لمونځ په خپلو خېمو کې کوي، بله ستونزه داده چې سره له دې چې نمره مسجد ډېر لوی دی خوبیاهم ټول حاجیان خو

www.melitahrik.com 0777 400 216

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږده چې نیم یې هم په کې نه ځايېږي موږ له امام څخه دومره لېرې وو چې ددومره لوړ سپیکرونو اوسعودي حکومت له دومره اسانتیاوو سره سره مو هم دامام تکبیرات وانهورېدل، اونه یې په خطبه پوه شو.

حکومت په عرفات کې دعرفات العام ،جبل الرحمة اونمره په نومونو ددرې اوپه منی کې دمنی العام ،منی البحر ،منی الشارع الجدید، اومنی الوادی په نوم دځلوروروغتونو اوپنځلسو عامو روغتیایي مراکزونومونه حاجیانو ته ورپېژندلي و اودمرستولپاره یې د۹۹۷ اودامنیتي پېښو لپاره یې د۹۹۸ ټېلیفون شمېرې حاجیانو ته ورکړې وې.

ماښام و چې په عرفات کې خېمې ته ورسېدم هلته کمپونه یوډول جوړ شوي ،یوه نقشه ده دهرکمپ په دروازه کې پولیس ولاړ وي هم په منی اوهم په عرفات کې چې له چاسره کارت نه وي هغه نه ورپرېږدي ،په تکلیف مې ځای پیداکړهلته هم دلارښووني لپاره لوحې لګول شوې خوپه شپږ میلیونو کسانوچې جامه یوه وي، موټر یوډول ،خېمې یوډول ،دکمپونونقشه یوډول،په سلګونو زره متره مربع مساحت کې نابلده سړي ته خپل کمپ موندل سخت دي.

کله چې خپل کمپ ته لاړم ګورم چې هېڅوک هم نشته دي په دروازه کې مې دمعلوماتو له څانګې وپوښتل هغه راته وویل چې موټرونه له کمپه روان شوي دي ،خپل یو ملګري ته مې زنګ وواهه هغه هم راته وویل چې له کمپ څخه روان شوي خولاهم په عرفات کې دي ځکه چې بیروبار ډېر دی موټر تېز تللی نشي هغه ملګري داهم وویل چې له کمپه ډېر لرې تللي ندي ښایي دپېنو پنځه شپږ دقیقې لار وي خو داچې زه ورشم او ورسره ملګری شم دموټر د موقعیت اوشمال او جنوب یې نه پېژنده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۷۸ مکتب یوتن مسؤول ته مې خپل کارت وښود هغه راته وویل چې لېږد دې پرموږ دی خو صبر وکړه چې یو مناسب موټر پیدا شي یوتن تور، نوي ځوان ته یې وویل چې ما یو موټر ته وخېژوي، ما فکر وکړ چې دا به تور پوستی افریقایي وي خو هغه ځان د پاکستان د سند ایالت دلاړکانې اوسېدونکی راوښود ما په دې خاطر چې دده همدردي مې ترلاسه کړې وي په لاړکانه کې او په ټوله کې په ټول سند کې د خپلو ګرځېدلو ورته وویل په اردو ورسره غږېدلم سره له دې چې په عربي ښه سم پوهېده. کله به یې ځان دحج د پروسې مسؤول او کله دحکومت جاسوس معرفي کاوه، کله چې پوه شو چې زه افغان یم نو قسم یې راکړ چې کله مې اسامه ابن لادن ولید نو دده لخوا پرې سل ځله سلام ووایم اولاسونه یې ښکل کړم، ډېر کېکونه، کلچې اوجوسونه یې راته راوړل، همدلته د مدینې منورې یوه اوسېدونکي سره چې یو مهذب او باخبره شخص وو په بنډار وربرابرشوم د اسلامي نړۍ په ستونزو او د اخوان المسلمین په نړیوال خوځښت موخبرې وکړې پخپله هم د همدې ګوند له کلکو مینه والو او پلویانو و خو ویل یې چې سعودي حکومت له دې ګوند څخه ډېر وېرېږي نو ځکه پرې بندیزدی او مینه وال یې ځان ښودلی نشي.

هرموټر به چې راغی نو دیوې سیمې حاجیانو به لا د مخه نیولی وو د ځینو مخ ته به لسګونو حاجیانو ورمنډه کړه ، همدلته نږدې ماسخوتن شو، څو ځله مې زړه وکړ چې په پښو مزدلفې ته روان شم خو ګرمۍ مې ورنونه سوځولي اوټپي کړي وو چې روان به شوم نو سوخت اودرد به یې پیل کړ، تک سره اوښتي وو، دهغه وخت ډېر ارمان راغی چې کوچنی اوو چ کلک وم، هغه دچاخبره هوسۍ مې په منډه نیولی شوه، اوله پاړه چناره په اسمانځکو غرونو اودکېږ ورېږ په کوتل به چې له بېخ څخه یې تر سره اته ساعته لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، په یوه دمه ختلم، ،دخپلي چانټې ،کلاشینکوف اودجهاد اوسفر د اړتیاووبرسیره مې دنورو ملګرو سامان هم له ځان سره لېږداوه هغه چې له پاره چناره به موپکتیا ووهله ،ازره اولوګر به موتر پښو تېرکړ اوپه کړېږ وړېږ، تېزین ،شینواریوبه خاکجبار،خوردکابل اوترخپل مرکزبګرامیو په درې ورځوکې راورسېدو خونن مې ورنونه سوځي له عرفات څخه مزدلفې ته چې په عادي وخت کې شاخوا دوه ساعته لار ده د موټر ته په تمه یم.

خیر له کمپ څخه لوی سړک ته راووتو ،له لږ انتظار وروسته د۷۸مکتب اړوند یوموټر راغی په منډه مې پکې ځای وموند ایرکنډیشن پکې چالان و ،ګرمي مووړکه او دمه مو جوړه شوه، خولارلاهم بنده ده، موټرونه دمېږي په پښوروان دي،داساني او پرانیستي لار دموندلوپه لټه یې اوږده لار وټاکله خو بیاهم لار بنده وه،سبا لوی اختر دی، په کابل کې کورنۍ او بچیان هم تنها دي او زه هم ترې بېل یم، خفه شوی دي،په کابل کې دپنځلس کلن ژوند په دوران کې موږ کوښښ کاوه چې اختر موپه جلال اباد کې له نورې کورنۍ اودوستانوسره یوځای وي خو دادی اوس هغوی تنهادي،دټیلیفون زنګ مې وشرنګېد ،دکورشمېره وه، اختر مبارکي مو سره وکړه ،دکورنۍ له هر غړي سره بېل بېل وغږېدم مېرمن مې غوښتل وژاړي ،ستونی یې راډک شو نږدې وو چې ماهم په ژړاکړې زړه مې نرۍ شوخو هغې ته مې ډاډ ورکړ ،کوم یوساعت مو خبرې وکړې، زه هم خبروته ا وزګار اوپه اشتها وم ،ایرکنډیشن موطبیعت جوړکړ،بالاخره څه باندې لس بجې وې چې په مزدلفه کې دیوپله تر څنګ له موټرڅخه ښکته کړل شو ، دمزدلفې په پراخه میدان کې دمیلیونوخلکوله منځه دنابلدۍ په حالت خپل څوتنه ملګري موندل به څنګه وي؟حیران وم چې کومې خواته لاړ شم زړه نازړه دپله شمال خواته روان شوم ماویل که دومره ځای پیداکړم چې خپل جای نماز هوار اودشپې

www.melitahrik.com 0777 400 115

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای پيدا کړم خو ديوجای نماز په اندازه خالي ځای هم نه موندل کېده، په تور سرک روان يم، شپه پخه تپه تياره ،خودلته سپين پړق ده، په همدې کې مې لږ وړاندې خپل يو ملګری وليد ،زړه مې په سترګوباور هم نه کاوه خو ورنږدې شوم ګورم چې زموږ د شرکت اړوند ګڼ کسان نور همدلته دي،له سلام او ستړي مشي وروسته يې وويل چې کوم سل تنه چې په موټر کې له موږسره له کمپ (عرفات) نه راغلي همدلته دي خونور شاوخواتيا تنه ورک دي،ډېر خوښ شوم چې دوی مې وموندل ،دعمومي سړک پر غاړه مې جای نماز هوار کړ، يوڅوتنه نورله ښځو سره راغلل هغوی هم همدلته واړول، پوليس څو ځله راغلل ويل يې په دې لار موټر تېرېږي پاڅېږئ خوموږ سترګې شخې کړې، ډېر وخت وروسته دخوب په نيت وغزېدم بوټان مې سر لاندې کېښودل ښه ويده شوی وم چې يو چامې پښه وخوځوله راويښ شوم ،دسترګو له غړېدلوسره مې پښوته پر پرتوښځو سترګې ولګېدلې ،کېناستم يوې ښځې راته په اردو وويل چې ورور جانه دا پښې دې درغونډې کړه زه يې په تکليف کړې يم ،زه چې ويده کېدلم نودلته ښځې نه وې پوه شوم چې دځای نه شتون دوی هم اړې کړي چې دلته ځانته دناستې ځای پيدا کړي ،کېناستم فکر مې وکړ چې که ويده شې بيابه دې له پښوسره دا ښځې په تکليف شي،ډېر وخت ويښ وم ،لاړم په زحمت مې د اوداسه په ځای کې يو اځې دڅهار اندام لپاره نوبت ونيوه ،بيت الخلا ته ننوتل ډېر سخت کار او دخلکو کتارونه ولاړ وو، اودس مې وکړ په تهجدو ودرېدم ،له لمانځه چې فارغ شوم ګورم چې څو ښځې او دوه سپين ږيري نارينه لاهم زما دجای نماز خواته دي څوک ويده ،څوک ويښ جای نماز مې همدلته هوار پرېښود ولاړم چې ځانته بل ځای پيدا کړم ،ځکه چې دلته دا ښځې ويدې وې مناسبه مې ونه ګڼله چې همدلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینې یاویده پاتې شم، وړاندې مې ځای پیداکړ راغلم جای نمازمې وهوور اودمیده تیګو پرسر مې هوار کړ.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عرفات حکم

دعرفې معنی پېژندل دي ،دعرفات په نوم ددې دښتې دنومولود لامل په اړه،بېلابېل روایات او دریځونه دي ځینې وایي کله چې حضرت ادم عليه السلام اوحضرت حوا رض له جنت څخه راښکته کړل شول نو ډېره موده له یوبل بېل وو بالاخره همدلته یې سره وموندل،اوو پېژندل ځینې وایي چې حضرت جبرائیل عليه السلام، حضرت ابراهیم عليه السلام ته دحج مناسک وروښودل، اوبیایې په همدې ځای کې ترې وپوښتل (هل عرفت)یعنې: (ایا یاد دې کړل) هغه ورته وویل هو!

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمایي دې ځای ته ځکه عرفات وایي چې دلته خلک پرګناهونو اعتراف او دعاکوي.

حضـتر ام سلمه رضي الله عنها فرمایي چې الله(ج) دعرفې په ورځ ددنیا اسمان ته راښکته کېږي او پرښتوته وایي چې داخلک پریشانه اوخفه دي او زما رضا غواړي ،نوای په عرفات کې راټولو شویو !ماتاسو وبخښلئ.

رسول الله ص به دعرفې پر ورځ ډېره دعاکوله.

عرفات ته تلل دحج مهم رکن دی، که څوک په دې ورځ بیخي عرفات ته لاړنه شو حج یې نه صحیح کېږي رسول الله ص فرمایي (الحج عرفه)یعنې:حج عرفات ته تلل دي.

ددین دبشپړتیا دزیري ایت (الیوم اکملت لکم دینکم) یعنې:نن مې تاسوته ستاسودین بشپړکړ هم په عرفات کې نازل شوی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعرفات یادونه په عظیم الشان قران کې هم شوې ده، (فاذا افضتم من عرفات)(۵) یعنې: ( کله چې له عرفات څخه راښکته شوئ .. )

---

(۵)البقره۱۹۸

عرفات په مشاعرو یاددرناوي وړ ځایونوکې دی خو دحرم له حدودوبهر دی ،عرفات له حرم څخه دوه ویشت کیلو متره لرې سهیل ختیځ ته دی،شمال قطب خواته دعرض البلد په ۴۹_۱۹_۲۱او۳۲_۲۲_۱۲اودطول البلد ۲۱_۵۷_۵۳۹او۳۹_۴۹درجو کې پروت دی ، ټول مساحت یې ۱۰۴کیلومتره مربع دی. جبل الرحمة هم دعرفات په ساحه کې دی رسول الله ص په حجة الوداع کې دماسپښین اومازیګر دلمانځه له یوځای اداکولووروسته دې غونډۍ ته تشریف ویوړ اوهلته یې دعاوکړه. دسعودي حکومت ټول هغه خدمات دلته هم کړي دي کوم یې چې په منی کې کړي او وړاندې مو ورته اشاره وکړه البته په ۱۴۱۴ هـ سپوږمیز کال یې دلته د اوبوداسې فواري لګولي چې اوبه دډېروکوچنیوذور په بڼه شیندي دافوارې ډېرې زیاتې اوپر هر سړک دي، هره فواره په یو ساعت کې ۱۴۰لیتره اوبه شیندي دااوبه هوایخوي دانسان له بدن څخه تودوخه لېرې کوي خوڅوک نه لمدوي. دچاپېریال دښکلا په موخه په عرفات کې یونیم لک ونې کرل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نمره مسجد

ددې مسجد ډېره برخه دعرفات په ساحه کې ده خویوه برخه یې ترې بهر ده، دامسجدعرفات لوېدیځ کې د مزدلفې پرلار پروت دی ،ددې مسجدلویدیځ ته دنمرې په نوم غر دی او د همدې غره په نوم یادېږي.
رسول الله ص همدلته په خېمه کې اړولي وو له زوال وروسته یې خېمې ته نږدې د عدنه په نوم یو خوړ کې دماسپښین لمونځونه وکړل ،چېرته چې رسول الله خطبه لوستې او لمونځ ورکړی وو ، دعرنه وادي په نوم یادېږي، دا دعرفات له ساحې لږ وتلی ځای وو ،په دوهمه هجري پېړۍ کې دلته هم مسجدجوړ شوځو وروسته دامسجد ختیځ خواته پراخ شو اودعرفات په ساحه کې هم راغی اوس دمسجد نمره اوږدوالی له ختیځ څخه لویدیځ ته ۳۴۰متره او عرض (پلنوالی)یې ۲۴۰ متره دی، ټول دنننی مساحت یې یولک او لس زره متره دی، دمسجد وروستۍ برخه چې دعرفات ساحه ده ، ۲۸,۸۰۰مربع متره ده ،چې په دوه پوړو کې ودان شوی او اوږدوالی یې ۱۲۰متره دی لومړۍ او دوهمه برخه یې د لوحو او نورو نښو په واسطه نښه شوې لامل یې دادی چې بهرنیان، پوه شي څوک چې دمسجد په لومړنۍ برخه کې دي دوی دعرفات په ساحه کې ندي اوکه دعرفات ساحې ته لاړ نشي نو حج یې نه کېږي.
دمسجدپه وروستۍ برخه کې ، په ۸۰۰۰متره مربع ساحه کې یوسایه بان جوړ شوی دی، دامسجد شپږمناره لري چې دهر یوه لوړوالی یې ۶۰متره دی درې لویې ګنبدې ،لس مرکزي اوټولې ۶۴لویې اوکوچنۍ دروازې لري په یو وخت کې درې نیم لکه لمونځ کوونکي پکې ځایېږي، ۷۰۰ایرکنډیشنونه پکې نصب شوي دي داسې الات پکې نصب شوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلمانځه مراسم په ژوندۍ بڼه په راډیو او ټلوېزیون کې ښودل کېږي له زرو ډېرحمامونه اوله پنځلس زروډېر داوداسه ځایونه پکې جوړ شوي دي.

دعرفات اومزدلفې ترمنځ اوس نهه، نوي سړکونه جوړ شوي دي.

**جبل ا لرحمة**

جبل الرحمة یاد رحمت غونډۍ دعرفات ختیځ ته د ۷او۸سرک ترمنځ پرته کوچنۍ غونډۍ ده .

چې د الال،ثابت اوقُرین په نومونو هم یادیږي ، داغونډۍ له نمره مسجدڅخه یونیم کیلو متر واټن لري،خودبیروبار له کبله دا کم واټن وهل ډېروخت غواړي. دې غونډۍ ته ۱۲۸ پوړۍ ورختلې دي ، داغونډۍ له ځمکې څخه ۲۵متره او دسمندر له سطحې ۳۷۲متره لوړه ده ،دشمال خواته اوږدوالی یې ۲۰۰متره ،دلویدیځ خواته پلن والی ۱۰۰ متره اودمنځ خوا یې۱۷۰متره او ټول مساحت یې ۲۴۰متره مربع دی.

ددې غونډۍ سرهوار دی پرسر یې چوتره هم جوړه شوې،دغونډۍ شاوخوا څلور متره لوړپایپ دی،چې اوبه او هوا یخه اوتازه ساتي.

**صخره مسجد**

دامسجد دجبل الرحمة په لمن کې ښي خواته دځمکې له سطحې لږ پورته پروت دی چاپېره ترې کوچنې څلور دیوالي ده، حضرت جابر رض وايي چې رسول الله ص همدلته خپله اوښه (قصوی ) تړلې اوهمدلته یې دعاکړې وه او همدلته ددعاپرمهال دا ایت (الیوم اکملت لکم دینکم....)یعنې نن مې تاسوته ستاسو دین بشپړکړ، نازل شو.

**عُرنه وادي (خوړ)**

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وادي اوس نشته اوس دلته دنمره مسجد مخکینۍ برخه ده ،داساحه نه دحرم په حدودوکې ده اونه د عرفات. دلته یو خوړ وو رسول الله ص په دې وادي کې تر ټولو مشهوره خطبه (حجة الوداع خطبه)واوروله، چې د رحیم المختوم دلیکوال په وینا یولک اوشل زره صحابه ورته ناست وو همدې خطبې دې خوړ ته ځانګړې حیثیت ورکړی دی.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مزدلفه

دادمنی اوعرفات ترمنځ پرته دښته اوغونډۍ ده،دنوموني د لامل په اړه يې ویل کیږي حضرت ادم ع اوحضرت حوا له اسمان څخه تر راښکته کېدلووروسته همدلته یوبل ته نږدې شول، یاداچې حاجیان دلته په تیاره کې یوځای کیږي ،یا داچې حاجیان له دې ځایه یوځایي حرکت کوي.

مزدلفه په احترام وړ ځایونوکې شمېرل کیږي داساحه په حرم کې دننه ده ،مزدلفه له وادي محسر څخه پیلیږي ترماُ زمین (خواپه خوا پراته دوه غرونه)پورې اوږدوالی يې څلورکیلومتره اوټول مساحت يې ۲۵، ۱۲کیلو متره مربع دی دمزدلفې یادونه هم په عظیم الشان قران کې شوېده:(فاذا افضتم من عرفات فاذکروالله عندالمشعرالحرام )(۲) یعنې کله چې له عرفات څخه راښکته شوئ نو دمشعرالحرام ترڅنګ الله ج یاد کړئ .

مشعر الحرام په مزدلفه کې دی، حضرت عمر رض فرمایي چې له مشعر الحرام څخه غرض ټوله مزدلفه ده ،رسول الله ص په حجة الوداع کې دماښام او ماسخوتن لمونځ یوځای اداکړ،هغه ص دموجوده مسجد قبلې خواته اړولې وو ،خوویل يې چې ماخودلته اړولې دي خوټوله مزدلفه دقیام یااړولو ځای دی.

دلته هم دماسخوتن اوماښام لمونځ یو ځای دماسخوتن دلمانځه په وخت کې قصر په یو اذان اودوه اقامتونو اداکیږي لومړی دواړه فرض بیا ددواړو وختونوسنت اووتر. داهم ددعاګانو ځای دی خو خوب هم پکې روادی.

---

(۲)البقره۱۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د شرکت مسؤولینو ویل چې وروسته بیروبار ډېرېږي او د شپې په وروستۍ برخه کې روانېږو.

ماخوخپل او دس کلک ساتلی وو، خو پرتشنابونو د بیروبار له کبله مو نور ملګري ډېر په زحمت شول.

یوه سپین ږیري ته نوبت غلام دستګیر ونیوه، په کتار کې غلام دستګیر ودرېد او چې وار یې راغی نودی له کتار څخه ووت او هغه یې وړاندې کړ، هغه بیچاره سپین ږیری او کمزوری وو، د ننه تشناب کې بېهوښ او ځان او احرام یې ناولي شوي وو، کله چې غلام دستګیر پوه شو چې سړی په تشناب کې ډېر وځنډېد، نو ورغی لومړی یې پرې ور غږکړ خو چې ځواب یې وانه ورېد دروازه یې وروټکوله، چې بیا یې هم ځواب وانه ورېد نو دروازه یې ورخلاصه کړه ګوري چې هلته بېهوښه په بدحال کې پروت دی.

دلته مو له ځان سره د شیطانانو دویشتلو لپاره له اویاوو ډېرې تیګې واخستې، د شرکت مسؤولینو د جمروخواته درې بجې روان کړو ماورته وویل چې که له سپیدو وړاندې د مزدلفې له ساحې ووتونو بیارابانديې دم اوږي او د مزدلفې رسم مونه منل کېږي ځکه چې په مزدلفه کې د سپېډو او لمر ختو ترمنځه وخت کې حاجیان که څه هم دلږ وخت لپاره وي باید پاتې شي، خوهغوی راته وویل چې موږ له مزدلفې څخه نه وځو، بلکې د مزدلفې او منی سرحد ته ځان رسوو، ځکه چې وروسته ډېر بیروبار وي.

خیر راروان شو، په دې خاطرچې ملګري موورک نشي، نوورو ـ ورو په درې کتاروکې روان وو، د افغانستان بیرغ مو دکتار سرته روان وو، ښځې او نارینه کله ورک او کله پیدا، نه مو وادي محسر ولید، نه چا منډه وکړه اونه دبیروبار له کبله منډه یاتېز تګ کېده، اونه پرې خبرشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه نه شو چې دمزدلفې له ساحې به کله وتلي يو لمونځ مو په تياره کې وکړ خو ځای مو نه پېژانده، پرلاره تشنابونه، داودس ځايونه اودڅښلو اوبه پرېمانه وې ، فريزرونه لګول شوي اوښې خوږې اويخې اوبه پکې پريمانه وې، موږ غوښتل چې لږ ورو- ورو لاړشو اوپه داسې وخت کې جمرو ته ورسېږوچې لمر راختلی وي، خوچې کتل مو منزل مونږدې او وخت ډېر وو ،ځوځايه کېناستو ،خوپوليسانوناستې ته نه پرېښودلو ،کله کله به مو ورته ښځې پلمه کړې چې دوی ستړې شوي دي ،بيروبار ډېر و دملګرو موندل اوټول يوکتار تلل سخت و ،پرلاره به يويو کمېدلو ،نور نو جمروته ورسېدلو خولاهم لمر نه و راختلی اودحنفي مذهب له مخې جمرې بايد له لمر ختلو وروسته وويشتل شي، مانورو ته وويل چې همدلته څوشېبې ځانونه وغولوئ چې لمر راوخېژي ،دپوليسانوله وېرې يو ځای کېناستلی نه شو ،همداسې مو وکړل څونفره چې پاتې وو له لمرختلو وروسته ورو- ورو روان شو ،ماخودقيقې په عکس اخستلوځان بوخت کړ ،که څه هم زموږپه مذهب کې له لمر ختلووړاندې دجمرو ويشتل ښه کار ندی،خوبياهم دلمر له ختلو وړاندې پرشيطانانو انساني سونامي ورماته وه ،پوليس پر ټوله لار ولاړ وو ،دبې نظمۍ مخه يې نيوله ،له هيچاسره يې بيکونه نه پرېښودل، که هرڅه به پکې وو له حاجې به يې واخست او وبه يې غورځاوه، پرلار دبيکونو ډېرۍ پرتې وې، ماخپل ځينې ضروري شيان په پلاستيک کې اچولي وو چاراته غږ ونکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وادي محسر

دادمنی اومزدلفي ترمنځ هغه ساحه ده چې الله ح پکې دکعبې دورانولو په موخه را روان شوی دحبشې دپاچایمني عیسایي والي دمرغانو په واسطه له ۲۰ زره لښکر سره تباه کړ،داکار په ۵۷۱زبږدیزچې عام الفیل هم ورته وایي او درسول الله ص دمبارک میلاد کال هم دی ترسره شو، په دې اړه ،تاریخ لیکونکیو،په لږ تفاوت داکیسه ښه په زور اوزېر سره را اخستې ده، امام ابو الاعلی مودودي په تفهیم القران شپږم ټوک دسورة الفیل په تفسیر کې ښه رڼا پرې اچولې ده لنډیز یې دادی چې ،ابرهه داقتصادي ،سیاسي اودیني مو خولپاره په یمن کې کلیسا جوړه کړه او غوښتل یې چې خلک نور دکعبې پرځای ددې کلیسا زیارت وکړي ،خودکنانه قبیلې یوعرب ځوان په دې کلیسا کې دکلیسا دتوهین لپاره انساني حاجت پوره اوکلیسا ناولې کړه.

ابرهه په غوسه شو، دکعبې دتخریب لپاره یې ۲۰زره پوځ مکې ته روان کړ،پر لاره ځینو عرب قومونه په ځانګړې توګه دطائف خلکو دلات د ژغورلولپاره ورسره مرسته وکړه، کله چې ابرهه همدې سیمې ته راورسېد نو الله ج ډلې ډلې داسې مرغان راولېږل چې مخکې آن چالیدلي هم نه وو،دوی دکروت کاڼو په ښېر کوچنۍ کوچنۍ تیګې په منښو کوکې نیولې وې او پردوی یې ورول چې په پایله کې ابرهه له ټول لښکر سره تباه شو له ابرهه سره دمحمود په نوم دده دفیل په شمول ۱۳فیلان هم وو.

مفسرین وایي چې دې کاڼو داسې اغېز کاوه چې پرچابه ولګېد نو غوښه به یې ویلې شوه ،پمن،به شو،پوستکی به یې تور اوغوښه به یې ورسته شوه، داپه دې معنی ده چې الله ج شاوخوا یونیم زر کال وړاندې پر خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمن اتومي اوبیولوژیکي وسله کارولې ده،ځکه دې کاڼو هماغه خواص درلودل چې نن یې اتومي اوبیولوژیکي وسله لري مفسرین وایي که دابرهه دپوځ کوم عسکربه په کوم سوري کې پټ شو نو کاڼی به هملته پرې لګېده لکه نن چې داتوم ګاز سوریوته هم ننوځي.

حافظ ابن قیم جوزي وایي همدا لامل دی چې رسول الله ص هم دلته تیز روان شو اونورو حاجیانوته هم سنت دی چې له دې شېلې یاکندې تېز تېرشي،خواوس دسعودي حکومت له دې ځایه اغزن تار تاوکړی او پولیس، حاجیان نه وررپرېږدي.

ځیني تاریخ پوهان وایي چې دې ځای ته محسر دهمدې لپاره وایي چې ابرهه دلته ذلیل اوله حسرت سره مخ شو.

ځینې بیا وایي دابرهه دهلاکت پېښه په مغمس نومي ځای کې چې دعرفات په برابرۍ دحل په ساحه کې ده، ترسره شوېده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

# مشعرالحرام مسجد

دامسجدمزدلفه کې جنوب خواته دهغه غره په لمن پروت دی چې دمسجد الحرام اوقزح په نوم یادېږي ،دامسجد دمزدلفې په اوسنۍ نقشه کې پرپنځم سړک پروت دی رسول الله ص په حجة الوداع کې دمزدلفې په شپه له سپیدووروسته هم دې ځای ته ورغی اودعایې وکړه وروسته دلته مسجد جوړ شو تاریخ لیکونکي لیکي چې دقریشو مشر قصی چې دحضور ع په نیکونو کې دی به پردې غره ددې لپاره اوربلوه چې حاجیان دمزدلفې لار ومومي،دا دود د رسول ص اوراشده خلفاوو په وخت کې هم وو،آن

(c) ketabton.com: The Digital Library



اموي خلیفه سلیمان بن عبدالملک به هم بلوه خو هارون الرشید داور پرځای سترې سترې شمعې بلولې ،وروسته ،په دریمه هجري پېړۍ کې د بوي بلېدلې اوس خو برېښنا هرڅه سپین پرق کړي دي.

دسعودي حکومت چې په وروستي ځل دامسجد رغولی نو پنځه میلیونه ریاله یې پرې لګولي دي له ختیځ څخه یې لوېدیځ ته اوږدوالی ۹۰متره ،عرض یې ۵۲متره او ټول مساحت یې ۵۰۴۰مربع متره دی دولس زره تنه پکې په یو وخت کې لمونځ کولی شي، دوه مناره لري چې هریو ۳۲متره لوړ والی لري ،دقبلې له پلو پرته درې خواووته دنارینه او ښځینه وو لپاره ځانګړې دروازې لري، له مشعر الحرام څخه تر خیف مسجد پورې پنځه کیلو متره لار ده.

داختر په ورځ لومړۍ ورځ حاجیان یواځې لویه جمره په تیګو ولي ،جمره اصلاً میده کروت کاڼوته وایي ددې لپاره چې په دې تیګو شیطاني سمبولونه یاشیطاني ځلې ویشتل کېږي ،نو استعاراً همدې درې ځلوته جمرې ویل کېږي.

دخیف دمسجد له لوري لومړۍ کوچنۍ جمره بیادوهمه جمره بیا لویه جمره راځي،بیروبار ډېر وو خو اوس جمروته نوي پراخه پراخه درې پوړیزه هوایي پلونه جوړ شوي دي هغه پخوانۍ ستونزې تر ډېره حده حل شوي دي ، په لومړي پوړ کې مې ځان د جمرې بیخ ته ورساوه،اوه تیګې مې ورواړې کړې، ټول خلک جمرې ته ځان نه شي ور رسولی،داکثروتیګې د شیطان پرځای پر حاجیانو لګېږي .تیګې کوچنۍ وي خو داچې ډېرې وي او په مخامخ شیطاني ستن لګېږي نو ټک او ټوک ډېر وي شیطانانو ته دتللو لار بېله د وتلو بېله ده یاپه بله وینا حاجیان دمسجد خیف له لارې ورځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوشمال خواته ښکته کېږي حکومت شیطاني ځلي ډېر لوړ کړي دي په لومړي پوړ ،دوهم پوړ ،دریم اوآن څلورم پوړ کې هم ویشتل کېږي.

لوړو پوړیو ته بریښنایي پوړۍ (زیني)پورته شوي په یوه خوا دورختلولار په بله خوا یې دښکته کېدلو لار ده ،پولیس هلته څوک اوزګار ولاړ نه پرېږدي، اونه دتللو پرلار بېرته راتللو اونه دبېرته راتللو پر لار تللوته اجازه ورکوي کله چې له جمرې ویشتلو اوزګار شوم اخوا دېخوا مې وکتل چې که کوم ملګرى وموموم، خوڅوک مې ونه لیدل ،سترې هم وم ،کرارکرار دخپلې خېمې خواته روان شوم،دجمرې اوزمونږ دخېمو ترمنځ ډېر لاروه،مونږ دمزدلفې په ساحه کې وو چېرې چې زمونږ کمپ وونو له دې ځایه کوم سل متره مخ په منى دمزدلفې لوحه وه،لارموندل هم اسانه نه وي په هر حال ،خېمې ته روان شوم،ډېروبار ډېر زیات وو ، خومادخپل کمپ شاوخوا غونډۍ ګانې نښه کړې وې،زمونږ کمپ ته نږدې دمبایل انتنونه هم وو،خو بیاهم کمپونه سره ورته وي،دخپل کمپ موندل سخت وي.

نهه بجې کمپ ته ورسېدم،سره ثنا وه،په دې کمپ کې دجنوب اسیادمطوف اړوند د ۷۸مکتب۵۰۰۰ حاجیان وو خواوس ډېرکم خلک دلته ښکارېدل زمونږ کمپ ته لاهېڅوک هم نه وو راغلي ، اوس راته په مخ کې قرباني پرته وه،چې باید ویې کړم، سر وخریم او احرام وباسم،ملګري مې لانه وو رارسېدلي زمونږ دشرکت ډېروخلکو دصحایفې په نوم یو شرکت کې دقربانۍ لپاره نومونه لیکلي اوپیسې تحویل کړې وي.

## جمرات

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجمرو ویشتل دحج له واجباتو څخه اوابراهیمي سنت دي ، رسول الله ص هم جمرې وویشتلې اوامر یې وکړ چې (خذوا منی منا سککم)یعني له ماڅخه مودحج مناسک زده کړئ.

دجمرو د ویشتلوفلسفه په اسلام کې ښودل شوې چې شیطان زموږ ازلي دښمن دی اوله هر ډول شیطان اوشیطاني وسوسو سره بایدتل په جنګ واوسو.

حضرت عبدالله ابن عباس رض فرمایي: کله چې حضرت جبریل ع ،حضرت ابراهیم د حج دمناسکو ښودلو ته روان کړ نو دجمره عقبه سره ورته شیطان ښکاره شو ، نوهغه همدلته اوه تیګې پرې وار کړې.

رسول الله ص د ذوالحجې په لسمه غرمه مهال جمره عقبه یا لویه جمره همدلته وویشتله اوپه ۱۱_۱۲_۱۳یې له زوال وروسته درې واړه جمرې وویشتلې. رسول الله ص دحجة الوداع په وخت کې دلته هم خطبه ورکړېده.

سعودي حکومت اوس هلته پراخو اوسرپټو پلونو ته ورته و دانۍ جوړې کړیدي ،له لومړي څخه تر څلورم پوړ پورې دګردو دایرو په منځ همداپایې د شیطانانویا جمرو په نوم پېژندل کېږي داپایې په هغه ځای کې پورته شوي دي چېرته چې شیطان لیدل شوی اودحضرت ابراهیم ع لخوا پر کاڼو ویشتل شوی دی. سعودي د بیروبار دمخنیوي لپاره حاجیانو ته ډېرې اسانتیاوې رامنځته کړې دي، دا دایرې په لومړي ځل په ۱۲۹۲هـ ق کې جوړې شوې موخه یې اسانتیا اوپه یو ځای کې دتیګو راغونډېدل دي.

په هغه وخت کې چې دجمرو شا وخواته دایره جوړېده نو دلویې جمرې ترخنګ سل متره لوړ غرګوټی وو چې له همدې امله داخلي یاپایه نیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي ده.دلومړي یا لویې جمرې او دمنځنۍ جمرې ترمنځ واټن ۲۴۷متره او دمنځنۍ او کوچنۍ جمرو ترمنځ واټن ۲۰۰متره دی.

کله چې دلوی اختر په لومړۍ ورځ دشیطانانو له ویشتلو اوزګار او منی کې خپلې ته لاړم نو زماملګري هلته لا راغلي نه وو ،ستړی هم وم او په احرام کې هم خو لا مو دحج ځینې مراسم لکه قرباني، حلق اوطواف پاتې وو.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قرباني که سرګرداني ؟

موږ دمولنا یار محمد په هڅونه دقربانۍ لپاره دصحایفي په نوم یوشرکت کې داخله کړې وه، زموږ دشرکت ډېر کسان مولنا همدې شرکت ته وروستي وو،هلته مو په خپله پسونه ولیدل ، دهر نفر لپاره مو دیوه پسه ۴۲۰ ریاله تحویل کړل او د پیسو رسیدیې راکړ، دشرکت مسؤلینو راته وویل چې که داختر په ورځ ټول راځئ ، که خپل استازی رالېږئ اوکه مو په ټیلیفون خبروئ موږ ستاسو پسونه حلالوو، ماډګروال سمیع ته ټیلیفون وکړ هغه اوڅه نور ملګري مو راورسېدل، خلکو تشویش راواچاوه، چې که شرکت ته پخپله ورنشئ، اوپه ټیلیفون خبر ورکړئ نو تاسوته ښه وکړي خو بیا حلاله درته نه کوي.

موږ ته څو تنو خپل وکالت اودشرکت رسیدونه راکړل چې دهغوی په استازیتوب هم دهغوی پسونه قرباني کړو ،حکومت دحج په ورځوکې د ازدحام په ځای کې ټکسي اوعام موټر نه پرېږدي،موږ له ۵۰ دقیقوڅخه پر پښو ډېرمزل وکړ،او دشیش ابو داؤد پرلاربازارته راووتو،ټکسي ته مو ادرس ورکړ او صحایفي شرکت ته روان شو،په رسید کې دشرکت ادرس وو،سره، له دې چې زموږ دټکسي چلوونکی دمکې معظمې اوسېدونکی وو،بیاهم په موندلو کې یې له ستونزوسره مخ شو او اخوا دیخوا ګرځېدو ، څوشرکتونو ته لاړو خو منفي ځواب موترلاسه کاوه،مولنا یار محمدته مو ټیلیفون کاوه، دهغه ټیلیفون،بند و.

ستړي ستومانه لالهانده ګرځېدو ،ګرمي، بې خوبي،احرام ،شرکت نه موندل او دمولنا دټیلیفون بندېدل، دلوی اختر لومړۍ ورځ .... هغه عوامل و چې زموږ خفګان اوستړتیا یې لا زیاتوله،نور دشرکت له موندلو مایوسه

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو ما ملګروته وویل چې زه بل پسه اخلم خوموټر چلوونکي د صبر او زغم ډاډ راکاوه، موږ يې په موټر کې پرېښودلو رسيد يې واخست،څودقيقې وروسته راغی ويل يې ځای مې وموند ،خو شحاله ورسره روان شو.

څه باندې يوه بجه مو شرکت وموندو،پرشرکت ډېر بيروبار وو هرچاغوښتل پسونه يې ژرحلال شي،ځکه چې تر څوحلاله ونه کړي نو نه وېښته کمولی شي ،نه جامې اغوستلی شي، او نه طواف کولی شي.

هرچاپرشرکت نيوکه کوله چې پيسې يې له ډېرو خلکو اخستي دي اودحلالې ځايونه (قصابخانې)اوقصابان يې کم دي،سلګونه خلک منتظر ولاړ و ،د ځينو په پرچويا رسيدکې سل پسونه وو آن يوافغان خو ددوه سوو تنونماينده وو هرڅوک به چې ورغی نونوبت ته به درول کېده،او هر سړی به دڅو تنو آن کله کله د لسګونو اوسلګونو تنو وکيل وو ،موږچې حالاتوته کتل نو نن خوپرېږده آن سباهم وختي نوبت نه راته . مکي چلوونکي ته مو وعده ورکړه چې تاته پسونه درکوو خودنوبت درامخکې کولو هڅه وکړه،په همدې هلو ځلوکې وو چې سترګې مو پر مولنا ولګېدلې،له سلام کلام وروسته پوه شو چې ده دهغو حاجيانو له وېرې ځان پټ کړی او ټيليفون بندکړی دی. چې ده شرکتونو ته دقربانۍ دداخلې لپاره وروستي دي.

ځينو خلکو تور لګاوه چې مولنا له شرکت څخه دهرحاجي پرسر کمېشن اخيستی اوځينې حلال شوي پسونه يې هم وړل.

سنت داده چې قرباني په منی کې وشي اوس دحاجيانو دبيروبار له کبله يواځې حاجيان هم همدلته نه ځايېږي قرباني خو لاپرېږده ،دارشاد حج اواوقافو وزارت مرستيال محترم منيب صاحب راته وويل چې ددوی دپنځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ېرش زره حاجيانو له ډلې څخه يو اځې لس زروته په منى کې ځاى ورکول شوى نور ټول د مزدلفې په ساحه کې وو.

دهغه په وينا ،علماوو هم دا فتوا ورکړېده چې دمنى د ساحې دتنګوالى له امله که څوک په مزدلفه کې شپې وکړي هم صحيح ده.

زموږ نه پسه په کار و اونه يې غوښه ،موږ غوښتل چې زموږ ذبحه زموږ بروړاندې وشي،اوپه ډاډه زړه ځان له احرامه وباسو په سلوکې لس حاجيان هم له شرکتونو څخه خپل پسونه نه وړي.

مولنا مو راټينګ کړ،هغه اخوا د ېخوا ټېليفونونه وکړل،خپله ننووت چې بېرته راغى ويل يې لږ صبر وکړئ کار کېږي، موږ له وخت څخه ګټه واخسته ،دهمدې شرکتونو ترځنګ دڅارويو ګڼ منډويان شته دي . زموږ د شرکت يوتن مسؤول محمد نادر چې په حاجې ګل اغا مشهور و نه دخپل ځان اونه هم دخپلې مور لپاره داخله کړې وه،هغه سميع ته پيسې ورکړې وې چې دوه څاروي ورته واخلي، اودهغه لخوايې ذبح کړي، خو پرمايې هم له هغه سره دمرستې غږ کړى و،موږ داعرب ډريور له ځان سره ملګرى کړ ښه وګرځېدو څاروي مو بيه کړل دامهال بيې را پرېوتې وې، په هغو پيسو چې موږ شرکت ته ورکړې وې ښه پسه کېده ،يو اوښ مو بيه کړ ،پنځه زره ريالـه وو،يوبل يې راته په درې زره او اوسه سوه ريالـه بيه کړ،زموږ يوبل ملګرى هم داخله نه وه کړې لاړو درې پسونه مو وپېرل مذبح ته مو راوستل ،هرپسه په ۳۷۰ ريالـه ياسل ډالـره وشو،او دهر پسه دذبحې اجوره مو ۳۰ريالـه ورکړه، دحاجې ګلاغاپيسې کمې شوې، ماته يې وويل چې تـه يې لـه خپل جيب څخه ورکړه ،چې راغلې دربه يې کړم ما هم ورکړې، سره لـه دې چې سميع څوځله ورپه ياد هم کړې خو تر اوسه يې هم ندي راکړې.

www.melitahrik.com 0771400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې درې پسونو کې موږ یو د ټکسي ډریور ته ورکړ ،یوېې یوبل تن چې زموږسره یې د پسونو په پیرلوکې مرسته کړې وه،واخست پر یوبل یې همله په مذبح کې ددوه تنو دعوه شوه.

موږ سخت پښېمانه وو چې په شرکت کې مو داخله کړې وه او خپل لاسونه اوپښې مو پخپله تړلې دي. ببرته صحایفي شرکت ته ورغللو خو لاهم نوبت نه وو ،دماسپښین لمونځ مو ناوخته شو، بالاخره شا وخوا درې نیمې بجې نوبت راغی، یوتن منشي به راغی د ځلوېښت ، پنځوس تنو نومونه به یې واخستل داکسان به وړاندې دروازې ته ورغلل دننه مذبح کې زرګونه پسونه ولاړ وي ، ددروازې په مخ کې اوسپنیز جال اوبل خواته دمذبح دیوال وي، کله چې داجال ډک شي شاوخوشپته پسونه به پکې ځايېږي بیا یوځل ټول پسونه له بلې دروازې مذبح ته ننوېستل شي،هلته یې قصابان په چړوحلالوي، کله چې دحاجې په نوم پسه مذبح ته ننوېستل شو نوبیاحاجي نه خبرېږي چې رښتیاهم ذبح شو اوکه نه،اوآیا دا پسونه ټول ذبح شول؟ یعنې که شرکت ټګي وکړي حاجیان پرې نه پوهېږي ځکه چې ځوک دخپل پسه جسدنه غواړي ،زموږ ځوارلس پسونه وو ،کله چې داپسونه ذبح کړل شي،بیایې په چتونو پورې اوسپنیزو میلوپورې ښتو چنګونوکې راځوړندوي،په پایپونو یې وینځي اوله دې ځایه داچنګونه کشوي اوځای دنویو پسونو حلالولوته اوزګاروي.

هلته داتېروېستل یاځان غول ډېر دي ګویا ذبحه دې شوې ،ځان له احرامه وباسه خوذبح لانه وي شوې ډېر شرکتونه داکار کوي .

لږ وروسته موږته وویل شول چې پسونه مو ذبح شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# البیک

له دې ځایه په ټکسي کې سپاره اوخپلې عمارې ته روان شولو ، ماښام ورسېدو ګوروچې دمولنا اوښی نجیب چې زموږ  په شرکت کې دمعاش په بدل کې توظیف شوی و له موږ مخکې تللی ووځانته یې ډېرخوندور خواږه راوړي وو خولاېې خوړلي نه وو ،سمیع دهغه ست ته ونه کتل ماته یې هم وویل چې بسم الله کړه،دچرګ ټوټې په ترخواوترشو مسالو کې له یوډول خوندورې چکني او داوګې (هوګه)له مربع سره هغه دپېښوریانو خبره ښه چک لګاوه.

په ډبي کې له بند دې جرګ سره دوه روسټ هم ورکوي ماله نجیب څخه ددې خوندوروخوړو دنوم او ادرس پوښتنه وکړه ،هغه وویل چې دېته البیک وایي اوپه همدې نوم کمپنۍ او په ټول سعودي کې نماینده ګۍ لري،په قوي ګومان ده یې راته بیه ۱۲ریاله وښوده ماته په ۱۲ریاله هم ارزانه ښکاره شو ،خوورسته چې پرې اموخته شوم نو نرخ یې یوولس ریاله وو ،ددومره خوندورو خوړو دومره ارزانه بیې ته حیران وم.

البیک کمپنۍ نه پوهېږم په کوم مهارت دمرچ ،تروشو موادو اوسرکې چکني دچرګ اندام ته داسې ورننباسي چې اندام هېڅ بېل شوی نه ښکاري داسې لکه په پیچکاري کې چې ور ننوېستل شوي وي.

البیک تریخ هم وي اوبې مرچوهم چې عربان یې تریخ ته حار(ګرم)اوبې مرچو  ته  بارد(یخ)وايي البیک مو چې وخوړ بیابه مو په شرکت هر وخت راغوښت ،له یوتن څخه به په ډبي کې  بند یوخوراک  اضافه کېده، په مدینه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



منوره کې مې هم د البیک شرکت وموند ، حرم ته نږدې زموږ عمارې ته پرلار وو.

په مدینه منوره کې زموږ د استوګنې په وروستیو کې یوه ورځ زه ،دهرات پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځۍ استاد عنایت الله ،ګل احمد او د وه تنه نور هراتیان دماسپښین له لمانځه راووتو ویل یې چې ځو په کوم هوټل کې ځانته خواړه رااخلو ،ماورته وویل زه ه هم ځم خو زه البیک خورم ،هغوی البیک نه پېژانده، مایې ورته ډېر توصیف وکړ، هغوی هم تشویق شول، لاړو نوبت ته ودرېدو یوولس ،یوولس ریاله مو تحویل کړل،محاسب د پیسو رسید راکړ ،او په بله غرفه کې مو حار یا مرچو والا البیک واخست په دوه ریاله به پیپسي هم وه هغه هم ورسره ډېر خوند کاوه ، دوی له ځان سره خونې ته وېوړل اوزه هملته پر میز کېناستم، ډوډۍ مې وخوړه، دحرم شمال ته په سودا اخستلو بوخت وم چې ټیلیفون مې وشرنګېد ، چې تنې مې کېکاږله له هغې خوا د استاد عنایت الله غږ وو، له سلام وروسته یې په ګیله من او ماڼیجن انداز راته وویل چې تاخوڅلوېښت شپې له موږ سره ډېر غټ ظلم کړی دی ، دې خبرې ته حیران شوم ځکه چې عنایت الله زما ګران دوست، نېک ارام او سرخلاصي شخص وو ،په مکه معظمه کې به هم ډېر یوځای ګرځېدو ، اودلته هم، سره له دې چې پخپله هم د شرعیاتو استاد وو خو دحج ډېر مسایل یې له ما پوښتل.

ماله هغه سره هېڅکله هم ظلم خو پرېږده آن بې اخلاصه اوبې مینې خبره هم نه وه کړې ،په لږ وخت کې مې د ذهن پرپرده ټول څلوېښت ورځنی سفر تېر شو خوله دوی سره د منفي چلند په اړه مې یکې څه ونه موندل په حیرانتیامې ځواب ورکړ : الله ج دې نکړي وروره څه خبره ده کوم ظلم ؟هغه غوښتل زما اندېښنه او سودا لازیاته کړي،: ( هو ظلم ،لوی ظلم او هغه هم

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرموږستا لخوا ) ورته مې وويل چې استاده وارخطا او اندېښمن دې کړم،څه خبره ده؟ هغه راته وويل چې له دې بل لوی ظلم کوم دی چې ته دا دومره وخت له دومره خوندورو خوړو هغه هم په دومره ارزانه بيه خبروې او موږدې نه خبرولو؟ هغه هم البيک ډېر وستايه پرېکړه مو وکړه چې څو خوراکه البيک به له ځان سره افغانستان ته هم وړو.

# چاغي که ناروغي

په خپله خونه کې دالبيک له خوړلو وروسته مو سرونه وخربيل، جامې مو واغوستې حرم ته د طواف صدر يافرضي طواف په نيت روان شوم، دګرمۍ او پلې تللو له کبله مې ورنونه لګېدلي او سوځېدلي وو، دابن لادن مسجد ته نږدې شوی وم چې د ورنونودرد اوسوخت مې نو رهم ډېر شو، دګام له اخستلو سره به مې چې ورنونه يوله بل سره ولګېدل،نو ډېربه وسوځېدل، هرګام مې په ډېر زحمت اخست، ماخپل ځان ته وويل چې ته عادي تګ نشې کولی نو په دومره بيروبار کې به طواف څنګه وکړې؟ پښېمانه او له لارې بېرته خونې ته ستون شوم.

زه ډېر چاغ نه وم حج ته دتللو پرمهال مې وزن شاوخوا اتيا کيلوګرامه و خودحج ستونزو پوره څلورکيلو کم کړی وم ، هلته ګرمي هم وه او ما داډېروخت دومره پلی تګ هم نه وو کړی .

ومو پتېيله چې دشپې منی ته ځو سبا سحر به طواف ته راشو همداسې مو وکړل، دشپې نهه نيمې بجې موټکسي ونيوه او منی ته روان شو.

داختر په ورځوکې قېمتې ډېره زياته وه ټکسي وانانو د لس ريالوپه مسافه کې اويا اتيا رياله غوښتل موږ دهند دراجستان ايالت له يوه اوسېدونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکسي چلوونکي سره سپاره شو، لار د بیروبار له کبله بنده وه، پوره یونیم ساعت په موټر کې ناست وو، اخر مو زړه تنګ شو له ټکسي څخه دعزیزیه شاته له جمرو ډېر لېرې ښکته شولو په پښو دشاوخوا دوه ساعته پلي مزل وروسته دخیف مسجد له لارې دغره په لمن کې منی ته خپلې خېمې ته یوه نیمه بجه دشپې ورسېدو. پلي تګ او دورنونو سوخت او دردښه په تکلیف کړم.

پرلاره دمسجد خیف ترڅنګ چاخیرات (سبیل) کړی وو ډېره خوندوره افغاني قورمې ته ورته قورمه وه، موږ هم وږي وو په غرو او غونډیو مو پلی مزل کړی و ټولو واخست زما هم تاب رانه غی.

# د سعودي مسافرۍ خوړلي

شپه مو په منی کې وکړه، سباته دطواف لپاره حرم ته روان شوم، پرلار راسره زما دحج دملګري ایوب دماما زوی ضابط اصف اودهغه دتره زوی عبداللطیف ملګري شول، ایوب دلوګر ولایت اوسېدونکی دی، ځان یې ستانکزی اودجنرال سالم احساس چې هغه مهال دهرات امنیه قوماندان و دتره زوی راوپېژانده. دهغه له موږ سره ډېره جوړه وه خوراک او څښاک یې هم له موږ سره و او له خپلې مورسره حج ته راغلی و، ایوب ویل چې دجنرال احساس برکت دی چې ده او مور ته یې دهرات په سهم کې ونډه ورکړل شوه.

اصف ضابط پخوا داتحاد په حربي پوهنتون کې استاد و دامهال دسعودي په حایل ښار کې ودانیز کارونه کوي، هغه وایي سره له دې چې واده یې کړی وو بیاهم کله چې سعودي ته لومړی ځل راغی نو شپږ کاله دلته مسافر و او شپږ کاله یې خپله مېرمن ونه لیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبداللطيف هم له مديني منورې ۴۵۰کيلومتره لېرې په قصيم کې کرايي خونه لري خوټکسي چلوي وايي چې ګرځم راګرځم اوپه خپله خونه کې په مياشت کې دوه شپې هم نه کوم.

دايوائې ضابط اصف نه دی چې شپږ کاله پرلپسې له خپلې مېرمنې اوکورنۍ څخه لېرې وو زه داسې کسان هم پېژنم چې په سعودي اونورو عربي هېوادونوکې يې پرلپسې لس کاله مسافري کړې او لس کاله يې مېرمن او کورنۍ نه دي ليدلي، بياچې کورته راغلي نو مياشت يوه نيمه يې تېره کړې بېرته تللي اوپه کلونو کلونو له خپلې کورنۍ لېرې پاتې شوي دي.

زموږيو دوست دپنځه ويشتوکالو راهيسې په سعودي کې ژوند کوي ښځه او بچيان يې هم د پاکستان دهجرت د چاپېريال کې په يوه کمپ کې په خټينو کوډلوکې اوسېږي په دې پنځه ويشت کالو کې به يې دوه کاله هم له خپلې مېرمنې او بچيانو سره نه وي تېر کړي، دده ددې پنځه ويشت کلنۍ مسافرۍ دمحصول اوسپما کچه له دې ښه جوتېږي چې هغوی په افغانستان کې کور اوپټې نه درلود او اوس هم دري ،څلور بسوې ځمکه ځانته اخستلی نشي چې کور پکې جوړ کړي،ښه نو اوس تاسو وواياست چې داډول ژوند څه معنی ،دانو ژوند دی؟

ايا دداډول خلکو مېرمنې انسانانې نه دي؟ ايا هغوی نفس، جنسي غرايز ،غوښتنې اوحقوق نلري؟ هغوی که دخپلو غرايزو داشباع لپاره نورې لارې اونامشروع روابط پالي نوايا کورنۍ به يې په کې مسؤولې نه وي؟

يو ځل زمايودوست قاضي ته يوه دوسيه راغلله، يوچا يوهلک له خپلې ورېندارې سره دنامشروعو اړيکو په تور وژلی وو ښځه يې هم محکمې ته راوستې وه، داښځه له مبالغې پرته ډېره ښکلې ،ډېره صحتمنده اوډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانه وه، شاوخوا ۲۴کاله عمر به یې ووقاضي ترې وپوښتل چې ولې دې دا ناروا کار کاوه، په داسې حال کې چې مېړوخه هم یې؟ښځه نه منکره شوه اونه یې قسم او قرآن وکړ -ویې ویل:قاضي صاحب ته دحق اوعدالت پر څوکۍ ناست دخدای ج او دهغه د رسول ص خلیفه یې ،ته حق او ناحق ،انصاف اوبې انصافي پېژني،تاته دیو انسان او بیادیوعالم په توګه انساني غرایز ،فطري غوښتنې ځواني او دځوانانو احساسات او دځوانۍ لېونتوب ښه معلوم دي، لهجه یې تونده اوپه عین وخت کې ژړغونې شوه ته ووایه زه څنګه وکړم :مېړه مې چې واده کړم، یوه میاشت راسره و اونور رانه تللی دی، دایې نهم کال دی چې په لندن کې دی،په دې نهو کالوکې مې هېڅ لیدلی هم ندی،هلته قبول شوی دی خپله عیاشي اوفحاشي کوي، سره له دې چې ما بیولی هم شي خونه مې بیا یې اونه مې طلاقوي ، هروخت له لوڅو نجونو سره خپل اخستي عکسونه او ویډیویي چکرونه هم رالېږي،پیسې هم خپل پلار او ورونوته رالېږي،ورونه یې له خپلو ښځوسره خوشحاله ژوند لري،خوزه دکور وینځه یم، دکور،کار او خدمت پر مادی،اوخوندونه اومزې ددوی، تر دې چې یورګانې د(لېورونوښځې)مې زمادسوځولولپاره هرسحر دغسل لپاره اوبه هم پر ما تودوي، اوآن تشناب ته یې هم راباندې وړي، نوزه څنګه وکړم؟

ایازه انسان نه یم،زه خواهشات اوغرایز نلرم؟که دده ښځه په کارنه وه نو زماژوندیې ولې خرابوه؟ اوس چې قبول شوی اومابیولی هم شي نو ولې مې نه بیایي؟ نه کوم بچی لرم اونه کومه هیله اواسره؟ دلېورونو او یورګانومزدوري اوخدمت کوم،نه مې خسر غر اوري اونه مېړه، اونه لېورونه، هغه هلته خپل ساعت تېروي هرڅه ورته پریمانه دي،اوزماپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیسه کې هم ندی،قاضي صاحب اوس ستاانصاف ستاعدالت اوشریعت چې اعداموې مې اوکه سنګساروې مې؟

اسلام همدې نزاکت اودښځو حقوقوته په پام سره مسافروته حد اکثر څلور میاشتې وخت ټاکلی دی، یعنې د اسلام له نظره مېړونه باید له له څلور میاشتوډېر له ښځو بېل نه وي.

پښتنو یوه بله سهوه وکړه ،دجهاد اوهجرت پر مهال به پښتنودوبۍ ،سعودي،ایران ،اردن ،مصر اوسوریې ته دمزدورۍ لپاره زور کاوه،اوهغو نوروبه لندن داروپانورو هېوادونو ،امریکا،کاناډا او استرالیاته.

پښتنو به دعربو ډاګونه ابادول ،هغه ماشینونه به یې چلول اوهغه درانه کارونه به یې کول چې د نورو له وس به وتلي وو ،دعربو تودې اوسوځنده ګرمۍ به یې زغملې ،هغه هم دډېر کمې تنخوا اوحق الزحمې په بدل کې اونورو به هلته لوړې زده کړې کولې، ښه ژوندبه یې کاوه، حکومت به کور اور، خواړه ،جامې او معاش هم ورکاه.

دافغانانو په شمول بهرنیان، چې عربان یې اجنبیان(پردي)بولي سعودیانو ته ډېرکم معاش په بدل کې کار او خدمت کوي او دمریانو په څېر ورته چلېږي خوکه پنځوس کاله هم ورسره تېرکړي نه تابعیت ورکوي ،نه دکور وروستلو اجازه ،نه دملکیت اونه دمستقل کار وبار اجازه. که ټکسي هم چلوي نود یو کفیل په نوم به وي اوډېر کفیلان بیافرعون صفته اوقارون مزاجه وي چې لږ یې فکر واوړي بیادمتکفل هرڅه په خپل نوم اودکلونو خواري اوګټه یې په مفتوکې دځان کړي،که لږ یې تر غاښ لاندې شګه شوه نوبیا متکفل یا مزدور دهغه دخپل حق په غوښتلوپرحکومت بندي کولی هم شي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حج د وزیر دوه مخي

په حرم کې ډېربیروبار و په ډېرزحمت مطاف ته لاړم طواف مې وکړ لـه دې طواف سره زموږ حج پوره شوی ګڼل کېږي دوه ورځې نور هم جمرې ویشـتل کېږي خو هغه فرض ندي.

ما سحر چای نه وو څښلی د ام او انارو اوام اوخرما دوه خوندور جوسونه مې وڅښل له ماما (حبیب الرحمن استاد)سره مې داختر مبارکۍ لپاره دهغه استوګنځی ته ورغللم دغرمې ډوډۍ له خوړلو وروسته دهغه دملګري ډاکټر عبدالقدیر فتح آبادي خونې ته ورغللو له ډاکتر عبدالقدیر سره مانه پېژندل خودده په خونه کې یوبل تـن زما ډېر احترام وکړ، هغـه مهـذب او هوښـیار شـخص وو،ماتـه یـې ویـل چـې زه دې غاییانـه پېـژنم، هغـه ځـان دکـامې اوسـېدونکی ډاکټـر ناصـر او د درانـه استادمحمداصـف صـمیم او قـاري عبدالله تـرورزي راوپېژانـده، ډاکټر ناصر داهم وویـل چې دقـاري صـاحب عبدالله موریې چې داستاد صمیم خوابښې ،دتره ښځه اوتـرور هم ده لـه ځان سره حج ته راوستې ده.

ډاکټـر ناصـر شـکایت کـاوه چـې دحـج او اوقـافو وزارت دحاجیـانو پـر وړاندې ډېر بې تفاوته دی، دحج معلمین یې ناپوهه دي ،بعثه دچاپوښتنه نه کوي ،عمارې له حرم څخه ډېرې لېرې دي،هغـه دحـج اواوقـافو وزیـر پـه دوه مخۍ تورن کړ اوویې ویل چې یواځې دنمایش لپاره یې څو عمـارې حرم تـه نږدې نیولي دي چې په هغوی کې هم لوړ پوړي دولتي چارواکي اوسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ،ماما مې، ډاکټر عبدالقدیر او دهغه یو دوست په ټکسي کې دجمرو ویشتلو لپاره روان شو ،له شیش ابي داوود سره ښکته شو او پر هوایي پلونو مو په دریم پوړ کې نږدې مابنام شیطانان وویشتل.

ټکسي چلوونکی دمکې اصلي اوسېدونکی و. هغه پر شاهي کورنۍ نیوکه کوله چې یوائې دځان په غم کې دي او یوائې خپل جیبونه ډکوي، خفه وو چې په سعودي کې ګراني (قیمتي )ډېره شوې دکورونو کرایې لوړې شوې او دنېستمنو د ژوند ،دپرمختګ لپاره ځوک کار نه کوي.

هغه وویل چې ده تر داځه مودې پورې دکور کرایه ۱۲۰۰ ریاله ورکوله خواوس یې پرې ۱۹۰۰ ریاله کړېده.

هغه ځو ؛لوړې اسمانځکې ودانۍ راوښودلې، ویل به یې دا دفلاني شاه زوی (شهزاده )ده او دادفلاني شهزاده دي.

دلته دحرم د دروازو دنومونو په شمول هرځه انحصار دي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې خونده مېوې او لوړې بیې

سعودي له خرما پرته بله میوه ډېره نلري،په منی کې قیمتي ډېره زیاته ده،مالټه،نارنج ،منه ختکی او غټې ،غټې بې خونده کېلې او بې خونده چینايي ناک کیلو له لسو تر شپاړلسو ،ریالو وو، اوله منی پرته په نورو ځایونو کې له اتو تر څوارلس ریالووو،په سعودي کې د چرګ غوښه ډېره کارېږي ډېر خوراک په بندو پلاستیکي قوطیوکې وریجې،د چرګ غوښه او ورسره قورمه ده، چې تیار په یخچالونوکې ایښې وي، په منی کې موږ ټولو ته ډوډۍ حواله وه خوخلک به ډېر کم وو پوه نه شو چې دااضافه ،بند خواړه ،پنېر اوډوډۍ به مولناڅه کوله؟

دحج په ورځوکې بې نظمي اوبې تفاوتي ډېره وه،حاجیان دحج مناسکوته ډېر ملتزم اوپابند نه وومثلاً چابه له قربانۍ وړاندې حلق اوقصرکړی و چابه قصـرنه و کـړی او احـرام بـه یـې غورځـولی و ،چابـه قربـاني نـه وه کړې،چاشرکتونوته دقربانۍ لپاره پیسې ورکړې وې خوبیاترې هیڅ خبر نه وو، چابه جمرې نه وې ویشتې ،څوک به څوځو ورځې ورک وو.

پرشرکتونو څاراونظارت نه و، افغاني بعثه چانه لیده اونه چاپېژانده له حاجیانو دهغوی دستونزو پوښتنه نه وه،چارواکي به په لوکسو موټروکې اخوادېخواګرځېدل، په منی کې یوځل په داسې حال کې چې سخته ګرمي وه، اوباران ته هم ډېره اړتیاوه ،ښه شړکنده باران وشو،پرلارو اوسړکونو اوبه وبهېدلې،موږته تشویش پیداشو چې هسې نه اوبه مو خېموته رانئوځي له دې باران سره هوا ښه شوه .

(دلته خو هریوسړی غل دی خپلې وسې پورې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



داختر د دربمې شپه موهم په منی کې وکړه،سبا سحر(داختر په دربیمه)چې دجمرو ویشتلو وروستی ورځ وه مولنا یارمحمد چې خپل نوم یې محمداکرم اندار بي وو او دځینو ستونزو له امله یې خپل نوم بدل کړی و حاجیانو ته وویل چې نن مو په منی کې وروستی ورځ ده، خپل بیکونه راوړئ چې عمارې ته یې وړو، حاجیانو خپل لوی بکسونه په عمارو کې پرېښي وو او کوچني لاسي یادغاړې بیکونه یې ورسره وو، دابیکونه یې ورته راوړل کله چې بیکونه راوړل شول، نوورته یې وویل چې اوس دهر بیک په سر پنځوس ریاله هم راټول کړئ چې دټکسي کرایه ورکړو ،دې خبرې حاجیانو ته خوند ورنکړ،ځینو یې جنجال پیل کړ، چې داپیسې خو ډېرې زیاتې دي، موږ دلته کم ترکمه ۱۸۰ تنه یو، داخو نهه زره ریاله کېږي اوټکسي خودوه سوه ریاله هم نه غواړي، خو مولنا ورته هم داویل چې که څوک یې نه ورکوي هغه پوهېږي اوبیک یې حاجیان مجبور وو ،ځکه چې هریوه عمارو ته بیکونه وړلی نه شول، او په جمروکې هم پولیسو نه پرېښودل.

زه چې خبر شوم،ډېره غوسه راغلله ، مولنا مې ګوښه کړ،په غوسه مې ورته وویل چې لږ له الله ج څخه ووېرېږه ته څنګه مسلمان اوبیاافغان یې چې له ژوبلې ګوتې نیول کوې، ته څه فکر کوې چې داحاجیان د شکایت ځای اوبله اسره نلري؟ که هېڅوک نه وي زه اوس بعثې ته ټیلیفون کوم اوستاله نا روایې خبروم مولنا ماته وویل چې استادجانه ستا او ستادملګرو بیکونه به وړیا ویسو نور یې څه کوې،ماورته وویل چې دایواځې زما او زما دملګرو خبره نده،داټول ز ماورونه دي، دشرکت مسؤولینوته مې وویل چې ددې بیکونو لېږد خو ستاسو کار او مکلفیت دی ولې یې نه وړئ؟او ولې مولنا ته ددومره ظلم اجازه ورکوئ غوسه مې ورته ورو ورو ډېرېده، هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم لومړی راته وویل چې استاده ستا بیک موږ پخپل موټر کې وړو او ددې خلکو لپاره زړه مه خوره دوی په دومره جنجال نه ارزي خوزه دوی ته هم په غوسه شوم،با لاخره سید نصیر اومولناګوښه لاړل له څو دقیقو وروسته بېرته راغلل ماته یې وویل چې څه همدومره پیسې ترې راغونډې کړه چې دوه ټکسي پرې ونیسو اولفت ته یې هم ورکړو چې تر ټکسي یې ورسوي، ماهم ملګروته وویل چې څئ،شپږ سوه ریاله ورته برابر کړئ له دې وروسته به مولنا اودشرکت مسؤولین له ماډېر وېرېدل .مولنا ډېر وروسته یو ورځ راته وویل چې (استاد جان اینه ده روز منی رزق مارابه لغت زدی)

ما هم ورته دعزت الله ځواب دابیت واوروه چې :(دلته خو هریوسړی غل دی خپلې وسې پورې

# د شیطانانو له برکته د دوستانو موندل

داختر په دریمه ورځ هم ددوهمې په څېر جمرې( شیطانان) له زوال وروسته ویشتل کېږي،خو ددې لپاره چې بیروبار ډېر زیات ووډېرحاجیان آن لس بجې ور وران شول، موږ هم لس بجې له خېمو راوتل پیل کړل،لس نیمې بجې به د مزدلفې اومنی لوی سړک ته چې له پاسه پوښل شوی او ګرد چت لري راوتلي یو داډېر پراخ سړک دی چې حاجیان پرې له مزدلفې څخه جمرو ته ورځي حکومت دلته هم ډېر کار کړی دی، دسړک دواړه خوا دڅښلو اوبه ،داوداسه ځایونه اوبیت الخلاوې جوړې شوي دي.

دبیروبار له کبله تلل دمېږي پر پښو وو ،موږ هم ټول په همدې انساني سیل کې په درې صفونوکې ور ننوتو ،کله ټېل ماټېل ،کله تګ لږ ورو ،کله بیخي توقف ،ورو ،ورو مو ملګري رانه ورکېدل،زه هم د یوکتار په سر کې روان وم ملګرو ته مې دنظم ،دقت،نه ورکېدلو توصیه کوله چې یوچامې پر اوږه لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېنود ، چې ور ومې کتل زموږ کلیوال قاري همایون زمری وو له سلام ،ستړي مشي ،وروسته یې راته وویل چې خالد هم له دوی سره دکتار په سر کې روان دی،خالد دسره رود دککړک اوسپدونکی په قوم میا دی ډېر ښه هلک دی،په پوهنتون کې زما همصنفي اوپه لیلیه کې مې داطاق انډیوال وو،دواړه یوځای او په یوه صنف کې فارغ شوو،قاري زمری اوخالد دمعلمینو په توګه راغلي وو،خالد راته وویل چې زموږ یوبل ملګری هم ستاډېره پوښتنه اویادونه کوي همدلته دی اوس یې درته پیداکوم،اخوا دیخوا یې وکتل با لاخره له څو دقیقو وروسته هغه سړی هم راپیدا شو،دا قوماندان زمری احمدزی وو زمری احمدزی زما هم ملګری دی خوزما دکشر ورور امین جان مشفق چې په رنګ اوبڼه کې تر ما ډېر مشر ښکاري نږدې ملګری دی،مشفق ترما درې کاله کشر دی خوښاغلی ډاکټر فضل الرباني چې اوس هم ما ووینې نو رانه وپوښتي : ((مشرحقیارصیب څنګه دی؟ په څوانه څوانۍ کې یې په ږیره کې سپین لګېدلي دي اوس په دې خاطر چې رازیې چاته ښکاره نشي نوخپله ښایسته سوچه ږیره یې چې دجهاد په تاوده سنګر کې نوې راټوکېدلې وه وخرییله .زه خو یې له دې پرته دسپین ږیرتوب بل دلیل نه وینم چې ممکن په کورکې محکوم وي . مشفق ګرم هم نه دی او نه یواځې هغه پردې رنځ اخته دی زه ډېرنور داسې خلک هم پېژنم چې داوسپنو نینې چېچلي او د فولادو ځنځیر په ګوتو شکولی شي خو په دې ساري ناروغۍ اخته دي ، دمینې په خام تارتړل کېږي او دخپلې مېرمنې پر وړاندې یې دتسلیمۍ وسله اېښې وي . داسې کسان کم نه دي چې مېرمنې یې په رڼا ورځ پرې داسمان ستوري شمېرلی اونیمه شپه دلمر په وړانګو کې ذرې بېلولی شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو ته يې وايم خوداحقيقت به له تاسو سره امانت وي او هغه ته به يې نه وررسوئ ځکه که خبرشوچې ماېې له مظلوميته ځوک خبر کړي دي نو ممکن داخل مې ووهي- زما منځوی ماما او مېرمن يې تېرکال دواړه يوځای حج ته تللي و اوس چې راستانه شوي نو ماما مې - ښايي له وېرې- خپلې مېرمن ته دبي بي حاجي خطاب کوي خو مېرمن يې ورته تراوسه بابی فلانی ( دفلانۍ پلاره) غږکوي.

کله مې چې ديونليک دابرخه ليکله نوزما داوښي زوی نجيب الله بنګش مې هم څنګ ته ناست وو هغه راته وويل چې حاجي صاحب !ګوره دهغو کسانو په لست کې چې له خپلو مېرمنو وېرېږي زما دکاکا نوم درنه هېر نشي.ځودقيقې موپه روانه ضرور خبرې اوکيسې وکړې يوبل ته مو دټېليفون شمېرې ورکړې اودبيا کتلو په هيله مو خدای پاماني وکړه.

له عمومي سړک څخه خيف مسجد ته تللې ټولې لارې تړل شوي وې،ماکله په دې مسجدکې لمونځ نه وو کړی،اوغوښتل مې چې دماسپښين لمونځ همدلته وکړم،دلارو تړلو حيران کړم، بالاخره طاقت رانغی دسړک دغاړې په کټارو اوپنجرو واوښتم ترمنځ ځوسړکه دي،له پوليسانو مې پټ يابه پوليسانو هم ځان تېروبست اوګذشت به يې کاوه،ځان دمسجد منځ ته ورساوه،ايله ايله زوال شوی و همدلته مې دماسپښين لمونځ وکړ او جمروته روان شوم، له ملګروبېل شوی وم لاړم په ډېر ارامه مې په لومړي پوړ کې جمرې وويشتې که څه هم بيروبار ووخوجمرې ته ښه ورنږدې شوم اوښه په ډاډ مې وويشتې. کله چې فارغ شوم اودجمرو بل سرته لاړم نوله يوپوليس نه مې وپوښتل چې شيش ابي داوود ته پرکومه لار لاړشم؟هغه چې کومه لار راوښوده اوپرې لاړم نوبل ځای ته ووتم ماګومان وکړ چې هغه ادرس غلط راکړی خو وروسته پوه شوم چې شيش ابي داوود شمالي اوجنوبي برخه لري، کله چې دمنی له ساحې ووتلوپه ښار کې موټر نه موندل کېدل، دبيروبار له کبله به خلک دمچيوپه څېر پرموټرونښتي وو، له موټروخلک په پښوژر رسېدل، له ډېر انتظار وروسته زه هم ديو فلاينکوچ سرته وختم،موټر له ډېر وخت وروسته له بيروبار

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه راووت او حرم شریف ته روان شو ،نږدې تونل پرمخ راغی کله چې له یوه تونل څخه راووت لږه لار یې نه وه وهلې چې حرم شریف راورسېد .

موټرډېروبارله کبله ورو شوزه هم ترې په روانه ښکته شوم ترڅوچې مې له جېب څخه پیسې راوېستلې نوموټرورانديې لاړ کلینډرېې هم نه درلود پنځه ریاله مې یوې سپرلۍ ته ورکړې ورته ومې ویل چې بیا یې چلوونکي ته ورکړي خوهغه راته وویل چې ډرېورپنځوس ریاله غواړي حیران شوم ځکه چې ټوله لارپنځه کیلومتره یا پنځه دقیقې هم نه وه .

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اوبو کې سجدې

یو دوکان ته وختلم جوس مې وڅښه او داودسه د تازه کولو په فکر شوم د مازیګر لمانځه ته ۴۵ دقیقې پاتې وې د حرم سالون کې د دارالتوحید کانټیننټل هوټل او د مکې شرکت هوټل ترڅنګ ځمکتلې[زیرزمینی] ته ښکته شوم بره پرې د ناړینه وو داوداسه ځایونه لیکل شوي وو خولاندې لوی تونل او لوی دوطرفه سرک وو له یوچا مې وپوښتل چې دلته تشنابونه چېرته دي؟هغه ځواب راکړچې وړاندې ورشه په همدې سرک مې ډېر مزل وکړ بالاخره په یوځای کې له همدې تونل څخه ښي لاس ته لویه دروازه وه.په دې دروازه چې ورننوتم نو په منځ کې لوی سالون او ښي او چپ خواته لسګونه تشنابونه ووچې همدلته هم له خلکو ډک وو ما هم همدلته اودس وکړ له تشنابونو نېغه بره لارنه وه ماوېل راځه په همدې تونل نورهم وړاندې لاړ شه کېدلی شي د حرم سالون ته چېرته پوری ختلې وې په تونل کې نورهم وړاندې لاړم.

ځم ځم ځم هیڅ دوتلو ځای نه راځی په تونل کې ختېځ،لوېدیځ،شمال او سهېل راته نه ښکاري بالاخره کوم پنځلس دقیقې وروسته تونل پای ته ورسېد یوځای ته ووتلم ګورم چې بازار،لوړې ودانۍ او کورونه دي نه حرم ښکاري او نه منارې،په پوښتنه،پوښتنه د شاوخوا پنځلس دقیقې مزله وروسته حرم ته راغلم ایله مې جماعت ونیوه،پرلارشړکنده باران ونیوم. باران دومره ډېر او تیز وو چې په لږوخت کې د حرم په سالون کې اوبه ډنډ او د مکې په کوڅو کې سیلابونه وبهېدل ماتر یو تجیر لاندې چې د یو دوکان مخې ته ولاړ وو لمانځه ته ځای وموند خو همدلته هم له باران څخه خوندي نه شوو.له ګریوان څخه ترپیڅولوند خیشت شوم.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شرکت مکه که کباړي بازار

له لمانځه وروسته مې وغوښتل چې خپلې خونې ته لاړشم خوو بېرېدم چې دماښام جماعت رانه پاتې نشي .همداسې مې وکړل په حرم کې پاتې شوم دمکې شرکت څلورم پوړته پربرېښنايي پوړېوورو ختم دا شرکت خداى خبرڅوپوړه لري، په ټولوکې دوکانونه اوسترې، سترې مغازې دي ماهم څوشيان بيه کړل خو نرخونو له آسمان سره خبرې کولې دلته هم دپيښوربشارد کباړي بازار په څېردسل ريالوشی په زربيه کېږي او بيا ښکته ترسلوچې په هرڅوجوړشول .يوه سپينه جالۍ ټوټه مې خوښه شوه غوښتل مې دخپلې مېرمنې لپاره يې وپېرم ديومتربيه يې راته دوه زره رياله (څه باندې پنځه ويشت زره افغانۍ يا څه کم پنځوس زره کلداري) وويل په چنو، چنومې زرريالوته راښکته کړ، زمادرې متره پکاروه.مادوکاندارته وويل چې له دې جالۍ سره خواستريالاندې پوخ هم پکاردی.هغه خوبه هم ورسره راکوې که نه؟دوکاندارراته په تريو تندي ويل چې نه ! درې زره رياله به يوازې دهمدې ټوکر راکوې که استراو پرتوګ ته ټوټه اخلې نودهغو به نورې پيسې راکوې . په دوکانونوښه وګرځېدم سم دکابل دنوي ښاراو پيښوردصدرکيسه وه دکابل دنوي ښارپه ستې سنټرکې چې کوم شی په پنځه زره افغانۍ ترلاسه کوې دښارپه نوروبرخوکې يې په دوه زره افغانۍ اخيستلی شې همداسې دپيښورپه صدرکې هم.راښکته شوم ماښام لمانځه ته يوساعت پاتې وو .ديوهوټل ددروازې کېڼ اړخ ته چوترې ته ورته ځای و په غزيدلو پښونه خوپه غونډو پښوپکې ځايېدم همدلته مې بوټان سرته کېښودل اوويده شوم چې سترګې مې وغړولې نوماښام ته لس دقيقې پاتې وې په دومره بيروبارکې مې ښه آرام، ډاډه اوله سکون نه ډک خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ.نه مې د جامولمدوالي ته فکرپریشان و اونه مې بیروبار ته اند ېښنه وه خووروسته یې شخک کړی وم.په دې ورځ مې په تاوده سعودي کې د پسرلي تازه هواولېده.

هلته له خلکو سره بله مینه،بله جذبه،بل اشتیاق، بل فکر،بل احساس وي.هلته له سره دا اند ېښنه نه وه چې که په اوبوکې ودرېدم نوناروغ به شم یابه مې جامې لمدې اویا په ختهاویاخیرني شي په هماغه وخت کې چې شرکنده باران ورېده اواوبه ترپنډیوپورې راختلې وې نود بیت الله مطاف اود حرم سلګونه جریبه سالون له خلکوډک وواوخلکوسجدې په اوبوکې کولې.

## له میني ړښتوني خوند

له حج وروسته مولوړی جمعه وه اود جمعې لمانځه لپاره موچمتووالی ونیوه ماغوښتل چې وختي لاړشم خوسمیع د کوټې کلي [چابي] وړې وه راباندې ناوخته شوه د حاجیانوبیروبارهماغسې اوج کې و .په ډېرزحمت مې ځان دا بن لادن له مسجد څخه وړاندې د پول پر سرپه یو صف کې له حرم څخه ډېر لېرې ځای کړ،تردې وړاندې حرم ته نږدې د ځای موندل د مرغۍ شیدې وې. په صف کې مې خواته یوه تورپوستې سوډانۍ وه ډېره عابده،زاهده اوارامه ښځه وه اوله الله ج سره درازاونیازڅخه د خوند اخیستلولپاره یې د بدن د هرغړي بلوتوت آن [چالان] کړی و .

چاره نه وه اوږه په اوږه ورسره ودرېدم له ماسره خودنارینه توب اوښځې توب فکر و خوهغه له خپل خالق سره دومره بوخته وه چې خدای ج خبرکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهه شوې هم وي چې خواته بې نارينه او که ښځه ولاړه ده ماله ځان سره همدا سوچ کاوه چې په هغه حديث کې چې وايي لمونځ ستر ګې يخوي هغه خو همدا لمونځ دی همدلته هغه دمجنون کيسه هم را ياده شوه.مشهوره ده چې يوځل چاپر مجنون غوسه وکړه چې زه پرلمانځه وم ته ولې زما په مخ کې تېرشوې؟مجنون ورته وويل چې آفرين پرتااو ستا پر عبادت اولمونځ .زه پرمجازي ليلا مين يم اودومره يې په مينه کې ژوردوب يم چې ته مې له سره ليدلی نه يې.اونه دې له لمانځه خبريم خوته چې داصلي اوحق لايزال دميني دعوه کوې اوورته په لمانځه ولاړوې نوحضوردې دومره برابرنه ووچې زه دې وليدم.

## حرا ، د نوراو پلوشو غار

سبا موحراته دتللو تابياونيوه دماسپښين له لمانځه وروسته خوتنه راووتو په ټکسي پسې ګرځېدو زه صرافۍ ته لاړم ،يوملګری موډېرلوکس کروزين پسې ورغی ماته خندا راغله چې داکروزين کله له ده سره ځي ګورم چې ددواړو اشارې پيل شوې مامې ملګري ته وويل ته نه وينې چې داڅومره لوکس موټراوڅومره لوکس سړی دی داکله له موږسره ځي .هغه ځواب راکړ.ولې نه ځي نور ورسره ته جوړشه بالاخره په دوه سوه ريا له مې ورسره تګ راتګ خبره وکړه.په دې خدماتوکې پرموږدڅوردغره سرسري کتل اودحراغره ته وروستل اوهلته موږته انتظاراوبيرته حرم ته بېول شامل وو زه ورسره مخکې کېناستم ډريورتورپوستی ځوان عباس احمدابن علي نومېده چې له مکې نوي کيلومتره ليرې دعصيم اوسېدونکې و زماملګري هم دبادغيس دقادس ولسوالۍاوسېدونکي عبيدالله،حاجي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـــان،غلام نبـــي اوحـــاجي وكيـــل وو.دمكـــې پـــه پـــاك ښار،شـــنو پـــاركونواورڼوتونلونويي لـــومړى دثـــورغره تـــه وروســـتو،په غـــره كـــې مودانسانانوكتارونه وليدل چې يابه غره ته ختل اويارا ښكته كېدل.له ليرې مودغره اوخلكوننداره وكړه له هغه ځايه حراته روان شودعزيزيه پرلارووتو ښي لاس ته مومنى، مزدلفه اوعرفات ووسړك مخامخ حديبيې تـه تللى دى دحديبيې هډه په عزيزيه كې ده.دملك فيصل پرپله دالمعصم پرواټ روان يوشيطانان يا جمرې راته ښكاري.دحراغره ياجبل النوربيخ كې له موټرڅخه پلي شو.كه دزړه سترګې بيناوي نوڅوارلس نيم سوه كاله وروسته هم پـه جبل النوريادرڼااونورپه غره هماغه ملكوتې وړانګې ښكاري،پلوشې ترې اوري، دغـره پـه لمنواوڅوكـواوس هـم دنورانيـت ، هـدايت ، صـميميت اوشـفقت ڼا او ځلا ښـكاري .دغـره پـه لمـن كـې ډېـر كورونـه دپاكسـتاني پنجابيانو، هنديانو اوبنګله ديشيانودي،دغره لمنه تريوحده ستغه اوسخت كوتل دى وروسته زينې(پوړۍ) پيلېږي،

دغره په بيخ كې تركومه ځايه چې موټر تللى شي دهمدې خلكودوكانونـه دي ،دلته هم هماغـه دود دي دشلوشى پـه سلوبيه شې اوبيرتـه شلوته راشي دلته سم دپيربابازيـارت غونـدې كوچيـان پـه زوره لـه خلكوپيسـې غـواړي پـه عـذراوزارى پرخلكواوبـه خرڅـوي خلـك دومـره اړاوتنـګ كـړي چـې پخپلـه پيسـې وركړې دلته هم خلك بيلچه په لاس پرلارولاړوي اوپه كندوكې خاورې اچوي كله كله يې پـر كرنډۍ [ دسپنه] مسـاله [شګه اوسمنټ]پركومه زينـه اچـولي وي اوورتـه ولاړوي پيسـي غـواړي پـه هماغـه ډول لكـه دكابـل_جلال اباد ،كابل_كنـدهار اونورسـړكونه چـې لـه پخولـو وړانـدې يـې بـه يـې پـه هرڅومترى كې يوتن له بيلچې اوټاټكي سره دسړك پر غاړه ولاړ اوله خلكوبه يې دسړك دجوړولوپه نوم پيسې غوښتلې. نارينه اوښځې ،زاړه اوځوانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول سترې اوخولې یې پرمخ روانې وې حراته ډېرراتلونکې پښتانه،دپاکستان پنجابیان اوبنګله دیشیان وو ،خوترکان، ایرانیان،مصریان،اندونېزیایان اومالیزیایان هم لیدل کېدل،دلته هم دپیربابادزیارت په څېرکوچنیان دپیسولپاره له لمنې نیول کوي،یوې ښکلې انجلۍ ماته داوبوبوتل راوړاندې کړخوماورته وویل چې داخوګرمې دي،هغې ژر،ژر رانه روانه شوه،ماپه دوکان کې اوبه واخیستې خوچې له دوکان نه راووتم ګورم چې هغې دیخواوبو بوتل راوړاندې کړ.بیا مې ترې هغه هم واخیست.دحراسوري یاغارته دختلوپرمهال مویوځای څلورشادیان [بیزوګان]هم ولیدل. غار ته ترډېره پرلوړه سړک هم جوړ شوی دی اوموټر ورځې خونورهم غره ته پر پښوختل شته خودمولوي احمدي په وینا ،غارته له سړک پرته [۱۱۷۰]پوړۍ دي. په جبل النورکې هغه غارچې حضرت رسول الله[ص]به پکې ناست وو ،دمراقبې اوذکر،فکر لپاره مناسب اوله خلکوښه ګوښه ځای دی .شاوخوايې ټول غرونه اوغونډۍ دي هلته یواځې له یوذات سره اړیکې وي. حضرت محمد[ص]هم له بعثت څخه وړاندې همدلته تفکراوتدبرکاوه.هغه وخت نه دهدایت لپاره قران اونه جبرایېل وو ، داهغه وخت وو چې دجهالت تیارې دعربوپه ټوله جزیره خپرې وې خلکوبه پخپل لاس بت جوړکړاوبیابه یې هماغه خپل پیداکوونکی،پالونکی،ساتونکی اوروزي رسوونکی باله .خلکوبه خپل دزړه ټوټې[لورګانې]ژوندۍ ښخولې .حضرت محمد[ص] پوهېده چې داهرڅه باطل اوناسم دي هغه دحقې لارې،دبشریت لپاره دروښانه تګلارې اودرېښتوني خالق اوالله ج پېژندلولپاره له خپل کورڅخه شاوخوا اوه،اته کیلومتره لېرې دغرونودلړۍ منځ کې دې غره ته ختنه،دڅوڅوورځوخرځ( توښه ) به یې له ځانه سره واخیسته چې هغه به ختم شونوبیرته به راغی دحضرت خدیجةالکبری له خواچمتوشوی

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



خرڅ به یې واخیست اوبیرته به جبل النور ته روان شو ،رسول الله[ص]حراته له تللووړاندې ریښتونې کېدونکې خوبونه لیدل رسول الله[ص]دهمدې غره په سرکې په یوغار کې ناست ووچې الله تعالی پرې خپله پیرزوینه وکړه ،خپل استازی یې وټاکه اودرسالت درونـد بـاریې ددهغـه مبـارک پـر نـازکو اوږو کیښـود دلتـه چې الله[ج] لـومړی کـوم پیغـام هغـه مبـارک تـه ورولیـږه هغـه پـه لوستلو اولیکلو[سواد اوزده کړې ]امر و دا له معارف،پوهې،رڼا ،سواد ،لیک اولوست سره داسلام ژورې اړیکې اوپه اسلام کې دپوهنې ارزښت ښه څرګندوی دی .دحرا په هغه غاراو په هغه ځای کې چې رسول الله [ص]به پـه کـې کېناسـته دډېر بیروبـار اوسـخت تېـل وو نراوښځې هڅه کوي چې هماغه سوري تـه ځان ورسوي یولـه بل سره لګېدل اومښل خوعام وو.ښځې به بې سترې اوسرلوڅې شوې هرچاهڅه کوله چې درسول الله[ص] دسجدې ځـای تـه ځان ورسوي اوهلتـه دوه رکعتـه لمـونځ وکړي خلک کتار وو او بې نوبتې دېره وه .دلته لمونځ کول نه سنت ،نه واجب اونه فـرض دي بس یـوه مینـه ،لـه خپل ګـران پیغمبرسره روحي تړاواوهغـه تـه دعقیدت اوپیرزوینو نذرانه وه زماپه اند دلته په دې بیروباراوبې سترۍ کې له لمونځ کولو څخه دلمونځ نه کول غوره دي خوبیاهم طاقت رانغی په همدې بیروبارکې مې ځان ور ورساوه اوهلتـه مې دوه رکعتـه لمونځ وکړ. غارتېټ اولوړقدی انسان پکې پر ولاړه لمونځ نشي کولی.

زمونږ ملګري غلام نبي ددې بې سترۍ پـه لیـدلو تـوبې ووېسـتې اوویـل یـې چې وبربړم الله[ج] ددې بې سترۍ له امله پر مونږداغر وانهړوي عبیدالله وویل کـه دثورپـه غـارکې هـم همـداډول تېـل اوبـې سـتري وي نـوزه خونـه ورځم.نراوښځې دیوبل په غېږکې وو یوه ځوانه ښځه مې ولیدله چې څوتنولـه لاسـونواوڅوتنوله پښـو ونیولـه ،دغارلـه خـولې اوبیروبارڅخـه یـې ووېسـتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولوړې تيګې ته يې وخېژوله .د سعودي حکومت د ثوراوحراپه غروکې کارنه دی کړی نه يې د ختلو اونه يې دراښکته کېدلو لپاره کومه اسانتيا رامنځته کړې. زما په باورښايې لامل يې داوي چې حرااوثورته تلل دحج برخه نه ده اوسعودي حکومت دلته ورتلل ضرورنه،. بلکې آن بدعت يې بولي. که دلته تګ راتګ اسانه شي نوبيابه دحج ديومنسک په څېردلته هم تګ ضرورګڼي که څه اوس هم تقريبا ټول حاجيان ورځي ماډېرې زړې ښځې اوبوډاګان وليدل چې دې غره ته ډېرپه زحمت ورختل دغره پرسرکانتينونه ووخو قيمتې پکې ډېره وه هملته مو چاى وڅښه ورو ،ورو راښکته شو لاندې استاد عباس احمد خفه و اوويل يې چې ځنډ مو وکړ ښتيا هم ماښام ودلمونځ ځای مو د استاد خوښې ته پرېښود.

حرا ياجبل النور دحرم شمال ختيځ ته واقع دی د سمندرله سطحې څخه ۲۲۱ متره اودځمکې له سطحې ۲۸۱ متره لوړدی، دې غره ته پوړی اګزازي يامنحني ډول دي ځکه يې د پوړيو شمېرډېردی اوورختل په اوسط تګ يو ساعت غواړي. دغره په سرکې شمال ته يوه دروازه ياعماره ده چې د دووتيګوپه منځ کې ورته لاره ددې دواړو تيګو په منځ کې فاصله په عرض ۲۰ سانتي متره ده اونراوښځې هڅه کوي چې په همدې ۲۰ متره مسافه کې له يوبله مخکې شي ددې تيګوترمنځ فاصله په اوږدو درې متره اولوړوالی يې دوه متره اوپه وروستنې برخه کې يونيم متر ده خلک په همدې ځای کې په دې ډول لمونځ کوي چې يوبل پسې ودرېږي،رسول الله[ص] همدلته ناست ووچې العلق سوره [اقراباسم ربک الذی خلق] پرې نازل شو.اوله وحي وروسته يوځل حضرت محمد[ص] حضرت جبراييل همدلته دهغه په اصلي بڼه وليده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حرا څخه د جمرو په لار راووتلو د ملک عبدالعزیز په تونل حرم ته راروان شو دبیروبار له کبله تونل بند و خود سالنګ اویادرونتې دتونل په څېر په کې د چازړه نه تنګېده ځکه چې سپین پړق اوایرکنډیشن چالان وو پرون له جمرو څخه پر پښو لاړو خونن موټر پریمانه وو اود حرم حرم چیغې یې وهلې زه په مخکینۍ څوکۍ د استاد عباس احمد سره ناست وم دلاربندۍ په همدې شېبو کې مې ورته فکرشو چې ټول ورون یې لوڅ وو ماورته وویل استاده پرتوګ کش کړه عورت دې ښکاري خوهغه راته وویل چې دوی یواځې همدا اوږد کمیس اغوندي اوپرتوګ ورسره نه اغوندي خولمن یې پخپل ورانه راکش کړه کله چې لارخلاصه شوه اوله تونل څخه ووتو نود حرم په برج موسترګې ولګېدې پاوباندې اوه بجې وې اودماسخوتن لمونځ تیار واواذان وشو دباب بلال سره موځای ونیوه نفل مو وکړل څو دقیقې وروسته اذان وشواو جمعه ودرېده

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نیستمنۍ او شتمنۍ مسابقه

سعودي شتمن هیواد دی خو دلته هم د شتمنۍ په وېش کې توازن[انډول] په پام کې نه دی نیول شوی دلته هغه د الفت صاحب خبره یود وینې له فشار او د وینې د ډېربښت له امله مري او بل د وینې د کمښت له امله ، الفت صاحب بې له شکه دلوړو خیالونو اوژورو فکرونو خاوند و .هغه پنځوس شپېته کاله وړاندې په افغانستان کې هم د بې غمیزې یاد پانګو د وېش په کار کې د انډول نه شتون او د د بې غمیزې ناوړو پایلو ته متوجه و په سعودي کې د د بې نا انډولۍ ګراف وروستي حد ته رسېدلی دی ، یو تن به د میلیاردونو ډالرو خاوندوي بل به په خاورو کې ژوند کوي ،دیو پر پیسو به دلوېدیځ بانکونه ډک وي او بل به وچې ډوډۍ ته حیران وي .همدا اوس دلویدیځ بانکونه دعربانو پر پیسو څرخي ،پیسې دعربانو او صنعت، تخنیک، سوداګرۍ او پرمختګ پرې دغربیانو روان دی غربیان هم کله کله ددوی له حماقتونو او عیاشۍ څخه ناوړه استفاده کوي پر یو اوبل نوم یې شتمني کنګل کړي، شاوخوا دوه کاله وړاندې مې واورېدل چې امریکا دعربي متحده اماراتو دشیخانو ، امیرانو او شاهزویانو څخه شاوخوا اوه سوه میلیارده ډالرپه یوه اوبله پلمه کنګل کړل. دلوېدیځ په بانکونو کې دعربانو دپانګو او پیسو ساتل ددې لامل کېږي چې عربان دلوېدیځ مریان شي ،ځکه چې پخپله یې خپل لاس دهغوی تر تیګې لاندې کړی دی . که دوی دلوېدیځ هره روا اوناروا غوښتنه ونه مني نو میلیاردونه ډالریې کنګل کېږي .عجیبه ده پیسې او شتمنې هم ددوی ده اومریان هم دوی دي.

په سعودي کې دابن لادن اوجاحظي په نوم دوه شرکتونه د شتمنیو دانحصاردوه ښې بېلګې دي دادواړه کورنۍ دومره شتمنې دي چې حساب یې له دوی هم غلط دی. خوبل خوا بیا دهمدې هیواد اتباع د حرمینو شاوخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودمکې اومدينې په کوڅو کې پرځمکه ناست اوګدايي کوي . د حرم شريف په شاوخواکې په هره لاراوهره کوڅه کې دګدايي ګرو کتارونه ليدل کيږي. ځينې سوالګر ريښتيا هم معيوب وي اوځينو بيادګدايۍ او خلکو د پام، عاطفې او شفقت دجذبولو لپاره خپل لاس اوپښه تړلې ، پربدن يې مصنوعي ټپونه جوړکړي وي اوداسې زمينه يې برابره کړې وي چې دهرچازړه وربانديې سوځي داسې مې هم واوريدل چې دسعودي له ګاونډيو هيوادونو اوآن له سوډان اونوروافريقايي هيوادونو هم سوالګر په پټه اوښکاره دحج په موسم کې دګدايۍ لپاره راځي .داسې هم شوي چې سعودي چارواکيو څوڅو ځله بهرني سوالګرپه ډله ايېز ډول نيولي اوله هيواده يې و بستي وي خوډېرژرپر يوه اوبله لار راستانه شوي دي. داسوالګرکله انسان دومره مجبورکړي چې دپيسوله ورکولو پرته يې چاره نه وي، کله کله خپل ټپونه اومعيوبيت دومره جدي ونيسي چې انسان په عاطفي محکمه کې دپيسو په ورکولومحکوم کړي .دسعودي پوليس يې هم مخه نيسې خووس يې نه رسيږي. ځينوسوالګرو په نورو ژبو هم دسوال الفاظ ياد کړي دي: ( حاجي بابايک ريال،حاجي بابا يک ريال) اوازونه کوي ځينې کوچنۍ انجونې سرې پورې ونښلې ځينې موپخپلوسترګو وليدل چې دخلکودتېروبستلولپاره يې لاسونه په څنګلواوپښې هم په ورنوکې قات کړي اوتړلي وي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حجرالاسود

دفقهې په کتابونوکې مې دحجرالاسود په اړه ډېرڅه لوستي اوله حاجيانواورېدلي ووخولاهم ددې تيګې په اړه له سهووسره مخ وم ماګومان کاوه چې داتيګه به دبيت الله له ديواله ځومتره لېرې په مطاف کې ايښې وي .په لومړي طواف کې هم پرې پوه نشوم .په دوهمه ورځ مې ځکه پوښتنه وکړه چې دښکلولوتلوسه يې راسره وه يومليګري مې له لېري راوښود .په يادمې نه دي چې په لومړي ځل به مې کله اوپه ځوم طواف کې ښکل کړې وي خودتلوسې اواشتياق غوښتنه مې داده چې په مکه کې زمادشتون په دوهمه يادريمه ورځ به مې ښکل کړې وي.

دحجرالاسودښکلول هيڅ وخت هم اسانه کارنه دی په ځانګړې توګه دحج په ورځوکې خودژوند په بيه تمامېږي .حجرالاسوددبيت الله په جنوبي کونج کې دملتزم اودکعبې دروازې ترخنګ ايښی دی دلته دومره بيروباروي چې دطواف مخه يې نيولې وي که دحج په ورځوکې ځوک دحجرالاسودښکلول وغواړي نوچې ځوان اوتکړه هم وي اودحجرالاسود يومترۍ ته ځان ور ورسوي نوهمدايومترفاصله به کله کله په دوه ساعتونوکې هم لنډه نه کړي، کله خوداسې هم کېږي چې ديوچالاس هم حجرالاسودته ور ورسېږي خوچې دټيل ځپه پرې راشي دومره لېرې يې بوځي چې بيايې ورته ورتلل ځوساعته غواړي.

زه يوماسخوتن له لمانځه وروسته ورنږدې شوم يوه عربه ښځه هم ورته ډېره نږدې شوې وه، ټيل يې کاوه اوځان يې وررساوه .پوليسو منع کوله خو هغه چېرته منع کېدله ،د ليوني په څېريې جنګ کاوه خوله يې هم اچوله، دې ته خويې پام هم نه و چې دا ښځه ده اوځان بايد له پرديو نارينه وو وساتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مامخکې هم د حجراسود د ښکلولو شرعي حکم بیان کړ، په داسې حالاتو کې چې ښځه بې حجابه شي او یا ځان او نورو ته د مرګ او درانه زیان یقین وي ښکلول یې آن د حرمت حالت ته رسیږي . ما هیڅ ښځه هم نه ده لیدلې چې حجراسود ته تللې وي او بېرته پټ سرراغلې وي، زه پوهېدم چې د حجراسود له ښکلولو څخه یې نه ښکلول ښه دي خو بیاهم طاقت نه راته .پنځه ځله مې د مرګ په قبلولو ، جنګ او ټېل ماټېل ښکل کړی دی. دحجرالاسود د ښکلولو په برخه کې یوستره ستونزه داده چې د دې تیګې بهرنۍ برخه چې په اسانه شونډې ور رسیږي پوښل شوې ده .هرڅوک مجبوردي چې سر ورننباسي اود ننه یې ښکل کړي .یوځل پرې زما اود یوې ښځې جګړه شوه ،هغې زما مخه نیوله اوغوښتل یې چې خپله ورننږدې شي او ماد هغې، بالاخره مونږ دواړه ټېل راووبستلو ،د بخوایې راباندې ډېرې پتکې او غوسې وکړې.

ځینو خلکو بیا له بل تکتیک څخه کاراخست ، که ددوی کوم ملګري به داتیګه نه وه ښکل کړې نو څلور پنځه تنه به یوځل اویوځایي ورغلل نورو به خلک ټېل وهل اویوبل ته به یې لاسونه ورکړي وو اوده ته به یې لاره جوړوله ،زمونږسره یوڅوتنه هراتي پیاوړي اومست ځوانان وو ، هغوی به هم همدا کارکاوه ،هغوی به په ټوکه ویل چې که هرڅوک دحجرالاسود ښکلول غواړي نو مونږته دې زر ریاله راکړي مونږیې وررسوو .د حجرالاسود ښکلول څه کم ارزښته خبرنه ده ،خلکوبه ورته په حرم کې شپې تېرولې، اسانه وخت اود بیروبارد کمښت دشېبولپاره به په حرم کې پاتې کېدل، یوځل د حج له مراسمو کوم شل ورځې وروسته د حرم د خادمانو دیوتن سرګروپ ( شاهد)سره د حرم په دریم پوړ کې ماسخوتن ناست وم چې ګرځنده تیلیفون یې وشرنګېد ، یودوست یې له پاکستان څخه په تیلیفون

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ورته ډېره سپارښتنه کوله ورته ویل یې چې هغه فلاني حاجي راته له مکې معظمې څخه ټېلیفون وکړ او ډېر خفه و ، ویل یې چې له اخترنه تراوسه ډېر کوښښ کوم خو نه یم توانیدلی چې حجرالاسود ته ځان وررسوم ،هغه له شاهد څخه وغوښتل چې ورسره مرسته وکړي او حجرالاسود ته یې ورسوي خوشاهد ورته وویل چې بله هره مرسته ورسره کولی شم خو دا کارنه شم کولی ځکه چې یو خو هلته د بیروبار له کبله موږ هم نه شو ورنږدې کېدلی او بل دا کار حکومت هم منع کړی دی که هرپولیس او یا د حرم خادم یا کارکوونکی په دې کارونیول شو نو د سعودي حکومت ورته سزا ورکوي، ته ورته ووایه چې خپله کوښښ وکړي.

حجرالاسود د کعبې په جنوبي ګوټ کې د مطاف له سطحې یو اعشاریه لس متره پورته اینبودل شوی ،اوږدوالی یې ۲۵ سانتي متره او پلنوالی یې تقریبا ۱۷ سانتي متره دی . رسول الله ص لا په نبوت نه و مبعوث شوی چې دمکې اوسېدونکیو کعبه ودانه کړه خود حجرالاسود په اینبودلو نه جوړېدل هرقام غوښتل چې دا ویاړ خپل کړي د ابوامیه مخزومي دقبیلې یوتن سپین ږیري پیشنهاد وکړ چې سباسحر هرڅوک وختـه له نورو وړاندې له باب بنـي شـیبه څخـه کعبې تـه راغـی نـود هماغـه پرېکـړه د تطبیق وړده .سبا سحرخلکوکتل چې د حضرت محمد ص د تندي رڼا راښکاره شوه حضرت محمد ص له درایت او کفایت څخه کارواخست تیګه یې پر څادرکیښوده دهرقوم یوتن استازی یې راوغوښت اودڅادریوه یوه پیڅکه یې ورکړه اوتیګـه یـې دکعبـې دېـوال تـه نـږدې کـړه بیاهغـه [ص]پـه خپلومبارکولاسونوهغه واخیسته اوپه خپل ځای یې کېښوده اوپه دې توګه یې د قومونو ترمنځ د سترشرمخه ونیوله .

رسول لله ص فرمایي چې حجرالاسود له جنت څخه راغلې تیګه ده .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریخ پوهان وایي چې کله حضرت ابراهیم ع کعبه ودانوله ،د کعبې دیوال لوړ شو او حضرت ابرا هیم ع نه وررسېده نوالله ج دا تیګه له جنت څخه راولېږله چې هغه[ع] پرې ودرېږي او دېوال ته وروررسېږي.

تاریخ پوهان وایي چې داتیګه به پخپله دکارپه وخت کې د ابراهیم ع ترپښولاندې تاوېدله.

دا تیګه یوه تورته وه خو دقرامطه وو په وخت کې اوله هغې وروسته داسې پېښې وشوې چې ددې تیګې ښکاره برخه ماته شوه اوکوچنۍ ټوټې ترې بېلې شوې لویه ټوټه یې دخرمایه اندازه ده.قرامطه داسمعیلي باطني شیعه ډله ده چې حجرالاسود یې په ۳۱۹هجري کال مات کړاوپه ۳۳۹هجري بېرته ترمیم شواودسپینوزروپوښ ورکړل شو دا اته واړه هماغه ټوټې دي چې دحجرالاسود په منځ کې اېښودل شوي اوښکلول یې سنت دي. دتیګې اوپوښ اونورو برخوښکلول سنت نه دي. سعودي حکومت د[۱۴۲۲ه]په ربیع الاول کې داتیګه اوپوښ له سره ورغوه اوډېریې ښکلی کړی دی. یوځل دماسخوتن لمانځه په وخت کې پرې دبرېښنا دګروپ رڼا پرېوتې وه دسپینوزرودې پوښ دې رڼا ته داسې انعکاس ورکړی و چې ما ګومان وکړ له حجرالاسود څخه سپین راډونه راتاو دي.

درواياتوله مخې، دې تیګې لومړی تک سپین رنګ درلود خوداچې هرګنهګاراوبې ګناه ښکلوله دانسانانودګناه له کبله ددې تیګې رنګ تور واوښت. امام مجاهد وایي کله چې حضرت عبدالله ابن زبیر کعبه د ودانولوپه نیت ورانه کړه نوماولیدل چې دحجرالاسود دمنځ رنګ سپین و رسول الله[ص]فرمایي چې داتیګه به دقیامت په ورځ دهغه چاشفاعت وکړي چې ښکل کړې یې وي حضرت عایشې[رض]دبیروبارله کبله ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیګـې لـه ښـکلولوډډه وکـړه .حضـرت عمـررض چـې یوریښـتونی، مجاهد ،موحـد ،فاروق او انقلابـي خلیفـه و ددې لپـاره چـې خلـک دحجرالاسود په احترام کې افراط اومبالغه ونه کړي نوداتیګه یې مخاطبه کړه .ورته یې وویل: زه پوهیږم چې نه چاته ګټه رسولی شي اونه نقصان یوه تیګه یې که رسول اللهﷺ[ص] مې نه وای لیدلی چې ته یې ښکل کړې یې نو مابه هیڅکله هم نه وې ښکل کړې .

واړه لګیا ځیني ځان ځیني جهان جوړوي

نهه بجې سحرمې خالد ته فون وکړهغه په ۱۵۳مه ودانۍ کې اوسېده. لـه ده سره زموږکلیـوال هم ووپـه جروال کـې درې لـوېي او ځوپـوړیزې ودانـۍ خواپـه خـوا دي .دا ودانـۍ افغـان دولـت کرایـه کـړې وې،دلتـه ۴۵۰۰تنـه افغـانـان اوسـېدل بعضـې هـم پـه کـې دفتردرلـود .خالـد لـومړي پوړتـه راغـی ماورتـه وویـل چـې لـه قـاري زمـري سـره مـې مـخ کـړي هغـه هـم راسـره روان شوقاري زمری په اوم پوړکې اوسېده ،لفت یابریښنایي زینې هم خرابې وې. قاري زمری مې له ځان سره ملګری کړ اواتم پوړته دطالب اخونزاده خونې ته ورغللوپه دې خونه کې لـه طالـب اخونزاده [اخـونزاده صـاحب ددې کرښـوله لیکلوڅواونۍ وړاندې وفات شو انا لله واناالیـه راجعون]پرتـه زمـوږ دکلـي ملک معلم صاحب میرزمان،سمیع الله اوصابر هم اوسېدل دوی له ځان سره خپلې مېرمنې هم راوستې وې چې هغوی په بله خونه کې اوسېدلې، دامهال ددوی پوښتنې ته زموږ بل کلیوال غلام دستګیر اوزموږ دتره زوی شبر هم راغلي ووڅوشیبې موپه پردیسۍ کې دکلي کورخبرې اوټوکې ټکالې وکړې پاوباندې یوولس بجې لمانځه ته روان شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلم صاحب میرزمان زما ملګری دی ،تکړه وینې اخلاقي او هغه دچاخبره مخ ماتي زامن لري په پیښورکې هم په کمپ کې څوارلس کاله یوځای اوسیدو. طالب اخونزاده زما له پلاره هم ډېر مشر و خوزما ملګری و ښه شوقي ځواني یې تېره کړې وه په بډه بېره کې زموږ دجامع مسجد موذن ووخوږغږیې درلود اوخوږ او اوږد اذان یې کاوه یوځل په بډه بیره کې چې دادمسجدموذن وودمسجد او دمسجد دلاسپیکرواک او اختیارهم له ده سره و ،نه پوهېږم په څه خبره مې ورسره ورانه شوې وه ورته مې وویل چې لاسپیکرراته خلاص کړه چې خلکوته مسایل کوم هغه هم لاسپیکرراته پرانیست اومایک یې زما قدته برابرکړهغه وخت به زه ایله د ۱۲کلونووم په لاسپیکرکې مې مسایل پیل کړل طالب اخونزاده ،اخونزاده وه خلکوورته عقیدت اوپرزوینې درلودلې دم اودعایې پرې کوله اوماورپسې راواخیسته داسلام له نظره مې د نسب موضوع راوسپړله، دی راته ناست و اوماپه لاسپیکر کې وویل چې په اسلام کې میا اواخونزاده نه شته دی سید ، میا اوخونزاده یې لاڅوک دي په اسلام کې د بهترۍ معیار شخصي تقوا ده هرڅوک چې متقي وي که جټ او جولا هم وي نو هغه بزرګ دی دم او دعا باید پرهماغه وشي په دې خاطرد چااحترام مه کوئ لاسونه یې مه ښکلوئ ،دم اوتعویذ پرې مه کوئ چې ګوندې هغه اخونزاده دی ،دنوح ع او دهغه دکافر زوی، دحضرت ابراهیم ع او دهغه د کافر پلار ،دحضرت رسول ص اود هغه دکافرتره کیسې مې وکړلې چې ګویا هرڅوک دخپل عمل مسؤول دی، ما دده پرضد خبرې کولې دی راته ناست و لاسپیکر یې هم راته چالان کړی دی، مسایل مې چې بس کړل نو همدومره یې راته وویل چې زړه دې یخ شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخونزاده صاحب اوس مهال ډېر کمزوری اود څواتیاکالووو اوس د کمزورۍ له امله حرم ته لمانځه ته تللی هم نه شي لمونځونه په خپله خونه کې کوي دحج په ورځوکې غلام دستګیردومره مرسته ورسره وکړه چې ځوک یې د خپل پلارسره هم نه کوي هلته هرڅوک ځان ته حیران وي له بل سره مرسته سخت کار دی او لوړ عزم غواړي اوبیاله کمزورو اوپه نورو متکي خلکوسره، خوغلام دستګیر دا همت وکړ چې اخونزاده صاحب یې په ویلچر(دناروغانو بایسکل )کې کېنولی منی،عرفات اومزدلفې ته وروست دجمرود ویشتلو ،د طواف زیارت او قربانۍ کاریې ورته اسانه .زما له ماما حاجي حبیب الرحمن استاذ سره په خونه کې یو کونړی سپین ږیری اوسېده چې اوس دجلال اباد په اکمالاتي بیز کې اوسېږي زوی یې هم ځوان مولوي دی او اوس د حج په معلمینوکې راغلی دی ، ماما مې وویل چې دامولوي له موړ سره نږدې ودانۍ کې اوسېږي وروسته بیاما داځوان مولوي ولیده واقعاً چې تندرسته اوښکلی سړی و د وخت په تېرېدوراته څرګنده شوه چې ده کولی شول چې خپل پلار له ځان سره په یوه ودانۍ کې خوپرېږده آن په یوه خونه کې مېشت کړي خو دده د خدمت له کبله یې ونه غوښتل چې پلاریې ورسره نږدې وي دا سپین ږیری یوه میاشت زما ماما ته پر شاوو په مزدلفه اوعرفات کې مې ماما دې مولوي صاحب ته فون وکړ چې پلار دې نور ستړی او له پښوپاتې دی او زه یې هم ستړی کړم، راشه او مرسته ورسره وکړه هغه ورته په خوله ښه کړي و خونوریې خپل فون بندکړی و دوه ورځې زنګ هم نه ورته، په دریمه ورځ چې په شیطانانوکې پلار اوزوی سره مخ شول نو پلاریې ښه د زړه له خلاصه ښکنځلې

ورته وکړې او ورته یې وویل چې د حج په دې مقدسو ورځواو مقدسو ځایونوکې یې ښې پرېمانه ښیراوې ورته کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخونزاده صیب دوي تله کتلو وروسته چې حرم ته لاړو نولومړي او دوهم پوړ کې ځاي نه وو ،لاندي ځمکتلي (زیرزمیني) ته ښکته شو ،بهر ښه ګرمي وه خو هلته پریمانه ایرکنډیشنونه لګیدلي وو.دا ځمکتلي له کعبې څخه راتاو اوډیر پراخه دي

تک سپین ګران بیه مرمر یې هم په فرش ،هم په و یالو او هم په دیوالونو کې لګیدلي دي. دزمزم دګرمو اوسړو اوبو سلګونه ترموزونه ایښي دي .دیوالونه یې فولادي ته ورته ډیرسنګین رنګ شوي دي.دحرم دننه په هر پوړ کې سلګونه دبوټانورفونه ایښودل شوي چې ډیریې دمرمرو دي ،همداراز دقرانکریم سلګونه رفونه چې پرهر رف کي لسګونه قرانکریمونه ایښي دي .

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تېلېفون

هر حاجي اړ دي چې د خپلې کورنۍ اودوستانوسره داړيکو لپاره يو ګرځنده تيلفون (مبايل) اويو سيم کارت ولري ماهم په جده کې له ښکته کېدلو سره سمدستي يوسيم کارت واخست ،هغه سيم کارتونه چې په بازار کې لس رياله بيه لري هلته په ۲۵ رياله پلورل کيږي . زما نمبر ۰۵۴۹۴۳۹۹۸۳ وو؛ خو د ۲۵ ريالو کريديت هم پکې وو، کورته مې زنګ وواهه د يوې دقيقې پرسريې څلور رياله وګرځول.

د سعودي مخابراتي کمپنۍ چې دحج پرمهال يې غوالنګه وي له هرې خوا وهنه کوي له يوې خوا په دې موسم کې دخپلو بهرنيو اوکورنيو اړيکو بيې لوړوي له بلې خوادخپل کريديت کارت بيې هم يو نيم چند لوړې يعنې لس ريالي کارډ په پنځلس اودشلو ريالو کارډ په اته ويشتو اوديرشو ريالو پلوري، يوځل خومې دحرم شريف ترخنګ له يوه دوکاندار سره جنجال هم وکړ،ورته ومې ويل چې دلته خوقانون نشته اويا يې درناوې نه کوي نو لله ج ته به څه ځواب ورکړئ چې دحاجيانو له اړتيا څخه ناوړه ګټه اخلئ. خوتاسو ته به دعربو اوبيا دشتمنو عربو غرور معلوم نه وي ؟

دامخابراتي شبکې له حاجيانو ډيرې ګټې اخلي ،شاوخواشپږ ميليونه حاجيان دنړۍ په ګوټ ګوټ کې له خپلو کورنيو سره اړيکې نيسي.کورنۍ اړيکې يې هم لوړې يعنې يوه دقيقه لږڅه باندې يو ريال وي. سعودي مخابراتي شبکې هم په افغانستان کې دفعالو شبکو په څېرخلک تېرباسي، خلکو ته مسج (پيغام ) وليږي چې تاته دکمپنۍ لخوا موټرونه،ميليونه ريال يا... په انعام کې وتلي دي او يو نمبر ورښيې چې دېته زنګ ووهه ،ځينې ناخبره خلک بيادې نمبرو ته زنګ ووهي په دقيقو دقيقو ورسره غږيږي خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پایله یې صفر وي .ماته هم یوځل مسج راغی چې تاته په انعام کې ۲۱موټر وتلي دي دادې درته مبارک وي او دې نمبر ته زنګ ووهه خوماورته زنګ ونه وواهه .وروسته مې واوریدل چې نورو ملګروته هم همدا ډول پېغامونه راغلي وو.په سعودي کې له ګرځنده تلفون څخه دکبینې (pco) د مکالماتو نرخونه ټیټ دي .خویوخوپه کبائنوکې بیروبارډېر وي بل هلته هم دوکه کیږي.مونږ دتلفون لپاره په جروال کې له همدې کبینوڅخه یوې ته ورغلو بهرنۍ اړیکې في دقیقه ۴۹ هللې یا پېسې وویلې خو في دقیقه یې ۵۹ هلې حساب کړې او درې دقیقې به یې ځلورحسابولې خوبیاهم دمبایل په پرتله دانرخونه ارزانه و ،ماله همدې ځایه په استرالیاکې خپل ملګري عزت الله عظیمي ،په پېښورکې دمولوي صاحب اظهارالله پلار، په تګاب کې دمولوي اظهارالله دتره زوې نجیب الله اوپه کابل اوجلال آباد کې خپلې کورنې سره اومامامې هم له خپلې کورنې سره په جلالآبادکې خبرې و کړې.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حرم او جنازې

په حرم شریف کې د هرلمانځه وروسته د جنازې اعلان کېده ،دمکې معظمې او سیدونکو خو پرېږده آن له نورو نږدې ښاروهم خلک دحج په په موسم کې دخپلو مړو جنازه په حرم کې کوي .زمانه یادېږي چې مونږ دې په حرم کې له لمانځه وروسته جنازه نه وي کړې .له فرض لمانځه لږ وروسته غږ وشي چې (الصلوة علی الاموات یرحمکم الله) یعنې( پرمړولمونځ (جنازه) کوو ، الله ج دې پرتاسو ورحمیږي) .

دلته دمړو یوځایي یاټولیزه جنازه کیږي هرڅوجسدونه چې راشي دامام په مخکې یې کتار کیږدي او په یوه نیت دټولو جنازه یوځای کوي، یوځل دجمعې په ورځ سحر دجنازې لمونځ وشو خوسمدستي بیا دجنازې اعلان وشو بیاموجنازه وکړه زه دباب اسماعیل له لارې طواف ته ننوتلم چې په دروازه کې یې له کعبې څخه جنازې راویستلې ،مړي یې په تذکرو کې اچولي او په اوږو یې ایښې وو له جنازې وروسته یې بهرراویستل.مونږمنتظروو چې جنازې ووځي اومور ننوځومامړي شمیرل په دې سحر یې ۳۰مړي راووېستل . وروسته زه پوه شوم چې ددوه ځلې جنازې لامل همداوو چې دابه دامام په مخ کې د ۳۰ تذکرو یامړو ځای نه وو نو جنازه یې دوه ځله وکړه .د ډیرو مړو مخونه لوڅ وو. په مدینه منوره کې مو هم له هر لمانځه وروسته جنازه کوله داخلک ددې لپاره هم له لېرو ځایونو خپل مړي حرمینوته دجنازې لپاره راوړي چې یو خود حرم فضیلت دی او بل دجنازې د ګډونوالو دشمیرډیروالی .دحج په ورځو کې په هر لمانځه کې په میلیونونو مسلمانان وي او د چا په جنازه چې خلک ډیر وي هغه نېکمرغه وي ځکه چې ډیره دعا ورته کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



.دلته په جنازه کې وروستۍ تکبیر ډېراوږد وي او امام سلام هم یوائې ښي خوا ته اړوي چپ خواته سلام مو ونه لید.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نه پرچاڅوک کار لري نه پرچا غوسې کوي

دلته له فرض لمانځه وروسته دعا نشته ده ، دافغانستان په څېر له ییزسنت نشته دي.همدا چې امام سلام وګرځوي سمدستي طواف پېل شي .او آن امام لادواړو خواووته سلام نه وي ګرځولی چې حجر اسود حمله اوطواف پیل شي .

هلته د بې شرمۍ ،آن د بد اخلاقۍ تصورهم نشته،دچاپه لمانځه اوپه مذهب نیوکه نشته ده . کله کله دبیروبارله کبله یوپربل غوسه وشي خوجنګ ،وهل ټکول نشته ،یوځل ماولیدل چې دحراپه غار کې دوه نفره لړه شیبه ونښتل نور مې په ټوله موده کې لاس اچول ونه لیدل.

ځینې خلک کعبې ته پښې غځوي په صف کې لمانځه ته منتظر وي هماغسې په ناسته ویده شي ، چې اقامت وشي لمانځه ته ودرېږي او اودس نه کوي ،دلمونځ کوونکي په مخ کې خلک تېرېږي آن یو پربل پښې ږدي ،کله کله خونارینه د اړتیاله کبله له ښځوسره ونښلي،په سینه یې سینه اونوربدن یې پښه کېږدي،دټولوښځومخونه لوڅ وي ،آن که په احرام کې یې پټ کړي نودم پرې اوړي ، په زوره امین ویل، په امام پسې قرائت ویل کېږي ځینې یوازې لمونځ کوونکي هم په زوره قرائت[قرائت باالجهر]وایي رفع الیدین شته خوهیڅ بل ته بد نه ګوري اونه ورته کافریاګمراه وایي. داکارونه داسلام دنشئت اوصدور په ځای کې اودخدای په کورکې کېږي خوټول یوبل زغمي اومذهب یې حق بولي خوپه افغانستان اوپاکستان کې بیا په همدې خاطریوبل کافراو مباح الدم بولي اودزرګونو خلکووینې دهمدې مذهبي اوفرعي اختلاف له امله تویې شوې؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته زړونه او فکرونه يوخوجامي ببلې ببلې دي، د افريقا د اوسېدونکيو د نارينه او ښځينه وو دجامو په رنګ کې ډېرتوپيرنه ليدل کېږي دواړه توره ياخړه ګلداره ټوټه اغوندي ځيني افريقايان دخپلوجامو په ځېرله رنګه ټوکرڅه جوړپټکی هم په سروي کله کله خويې دنارينه اودښځينه ووتوپيرهم نه کېږي دلته په زړونوکې ټګي نشته دپاکۍ اوصداقت خاوره ده. يوشخص له لمرين او ګلورين بدن سره هم غرېدلی شي، دلته داسې ښکلې هم ليدل کېږي چې دځمکې پرسرحورې ګڼل کېږي اودصورت له پلوه داسې بدرنګ هم ليدل کېدل چې خلکو ته يې په ليدلودېوان ورياديږي خوهېڅوک دچاپه ښکلا اوبدرنګۍ کارنلري اونه ښکلاکوم امتيازلري.

په پېښور کې دسيدجمال الدين افغان په لېسه ، او وروسته بيا دحضرت عمرفاروق رض په دارالمعلمين کې زموږ يوانقلابي استاد مولوي عبدالظاهر چې دښاغلي مجاهد مشرانجنيرحکمتيار استاد هم وو او په رښتيا چې روڼ اندی او نوښتګر عالم وو موږ ته ويل چې داپه داستانونو او افسانوکې چې دديوانو اوښاپيريو نکلونه او کيسې راځي زما په اند دا ديوان به توريوستي سوډانيان او داښاپيرۍ به ترکاني انجونې وي.

دځينوتوريوستوښځوپر مخ اوږده،اوږده دچاقودتيغ په اندازه داغونه ووپه لامل يې پوه نشوم ډېرې ښځې په لمانځه کې تورک نه کوي يوه هندۍ ښځه دتهجدوله وخت څخه هم وړاندې لمانځه ته راغلې وه اوپه لومړۍ صف کې يې ځای نيولی ووخوتې خوره کوچني يې لمانځه ته پرېښنوده اوپه لومړي صف کې هم دجماعت له لمانځه څخه پاتې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنة المعلی

داتاریخي هدیره دحرم شریف ختیځ ته په څه باندې یو کیلومتره واټن کې دیوې غونډۍ [چې اوس ډېره هواره شوې ده] جوړه ده په دې مقبره کې ډېرصحابه اوتابعین خاوروته سپارل شوي دي. ددې هدیرې په اړه رسول الله[ص]فرمایي چې داڅومره ښه هدیره ده.

ځیني وایي چې ددې هدیرې تر څنګ پرته غونډۍ معلی نومېږي اوله همدې امله داهدیره هم په همدې نوم ونومول شوه

یومازیګرمې چې له لمانځه وروسته طواف وکړ ماماته مې زنګ وواهه دواړه ملګري شواوجنة المعلی ته روان شوجنت المعلی جروال ته د وتلي تونل په سهیلي خوله کې دلوړواودنګو ودانیوپه منځ کې پرته ده معلی غونډۍ چې داهدیره ورته منسوبه ده دهدیرې شمال ختیځ ته پرته ده داهدیره دیوې سپیني څلوردیوالۍ په منځ کې پرته ،اوږدوالی یې شاوخوانیم کیلومتریاپنځه سوه متره اوپلنوالی یې سل متره دی چې ټول مساحت یې پنځه ویشت جریبه راځي موږيې شمال ته پر غځېدلي سړک ورغللوداسړک دغونډۍ په لمن کې اوهدیره ترې ټیټه ده

دلته دهدیرې څلوردېوالې هم ډېره لوړه نه ده اوټوله هدیره ترې ښکاري موږچې ورغلوپه همدې وخت کې یې له شمالي دیوال څخه پنځه مړي دښخولولپاره راوړل، دازموږلپاره ښه چانس و چې په جنت المعلی کې دښخولوپه اړه دعربود دود اودستور ننداره له نږدې وکړو. په دې خاطرچې ننداره موښه کړي وي له دېوال پرراوتلې تیګه موپښه کېښوده اوددېوال سرته وختلواوهملته دتدفین مراسموته نږدې کیناستودپولیسووېره هم

www.melitahrik.com 0774400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسره وه خو ،ښه وه دامهال نه لیدل کېدل دعربودمړي ښخولومراسم مې ډېرخوښ شول ډېراسانه،ساده اولنډ و.په دې ډول چې په جنت المعلی کې قبرونه دیوې نقشې له مخې کتارجوړشوي دي. دقبرمنځ پوخ اودېوالونه يې له پخوخښتوجوړشوي په سريې ددې لپاره چې ونه نړېږي بیمونه اچولي دي دمړي دښخولولپاره قبرونه تیارپه ګوته شوي دي په هدیره کې مړي دیومهالوېش له مخې ښخېږي اوپه ترتیب هرقبرته دنوبت له مخې وړل کېږي دهرمړي دقبرنمبراوبرخه لیکل کېږي ځکه چې ددې هدیرې دمستخدمینودوینا له مخې، په دې قبرو کې مړی تریوکال زیات نه پرېښودل کېږي ځینې بیاوايي چې کال وروسته ددې مړوهډوکي را وبستل کېږي اوبل چېرته وړل کېږي اوځینوبیاویل چې په همدې قبروکې داسې کیمیکل یاکیمیاوي مواد اېښودل کېږي چې په یوکال کې دننه دمړي هډوکي هم خاورې اوقبراوزګارشي دښخولولپاره راوړل شوي پنځه واړه جسدونه په تذکروکې اېښودل شوي اوله پنځوواړوسره ټول څلويښت تنه هم نه وو جنازې شايدپخواشوې وي هره تذکره دقبرترڅنګ کېښودل شوه ،قبرونه لږژوردي هرقبرته کوچنۍ زینه اېښودل شوې وه دوه تنه ورښکته شول مړی یې هم ورښکته کړ لاندې يې کېښود ببرته راوختل دقبرپرسرسیمنټي تختې کېښودل شوې لږسرګړی دتختوپه قاتونوکې کېښودل شو،دیوې لاسي کراچۍ په اندازه شګه پرې واچول شوه، له ځمکې سره برابر یا دنیمي لوېشتې په اندازه له ځمکې لوړ هملته په ولاړه لاسونه پورته او دعا وشوه،دې کار ټول پنځه دقیقې وخت هم ونه نیوه،خلک ببرته روان شول، وروسته راته غلام دستګیر وویل،چې په دې مازیګر په حرم کې د ۱۳تنو جنازه وشوه ، ښايي ۸نورمړي يې بل چېرې ښخ کړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمړو ښخولو دمراسمو له ننداري چې فارغ شو نو هديرې ته دننوتلو په فکر کې شو مخامخ مو ډېر خلک وليدل چې هديرې ته راننوتل ،دروازه مو وموندله،دهديرې سويل لوېديځ لورته وه ،موږهم ورغللو په لويه دروازه ورننوتلو، ښې خواته ودانۍ وه، هرڅوک ددې ودانۍ له لارې هديرې ته ننووت،په ودانۍ کې څو خونې، دهديرې بشپړه نقشه ،څوځايه سکرينونه،چې په هديره کې دلګېدلوکمرو تصويرونه او ټوله هديره پکې ليدل کېږي ،په دې ودانۍ کې لوی سالون دی چې دواړو خواووته يې څوکۍ پرتې دي، په يخچالونوکې پريمانه يخې اوبه موندل کېږي ،دننه هديره کې څو سايه بآنه جوړ شوي دي.

په هديره کې له سهيل څخه قطب (شمال)ته سړک چې په ځلورو برخووېشل شوی، همدا راز له ختيځ څخه لوېديځ ته هم لوی سړک دی.

دهديرې ختيځې خواته له يوې بلې هديرې کتاره راتاوه وه، ده ددې کتارې شمال ته يوه تکه شنه ونه ولاړه ده او ددې ونې لاندې په اسلام کې د لومړنۍ او په نړۍ کې د ترټولو غوره مېرمنې ام المومنين حضرت خديجة الکبرا قبر دی،خديجة الکبرا د حضرت رسول اکرم ص لومړنۍ مېرمن، دهغه ص د ژوند دستونزمنوشېبوملګرې، دهغه د زړه تکيه،ارام ،اطمئنان اوسکون وه، هغه لومړنی انسان وو چې پر حضرت محمد ص يې ايمان راووړ اودهغه رسالت يې تصديق کړ،د رسول الله ټوله اولاده او ورثه له همدې مېرمنې څخه ده، رسول الله ص له نورو مېرمنو هم بچيان درلودل خوهغه ژر وفات شوي دي يواځې د حضرت خديجة الکبرا د لور حضرت فاطمة الزهرا بچيان او لمسيان پاتې دي چې نن سبا د ساداتو په نوم يادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحضرت خديجة الکبرا د قبر څنګ ته څوک نه ورپرېږدي خو ۲۰ يا اويا مترۍ ته يې دکتارې خواته هرڅوک ورځي، دحضرت خديجة الکبری قبر هم د نورو قبرونو په څېر له ځمکې سره برابر او له نورو قبرونو سره يې توپيرنه کېږي،په دې لويه هديره کې ددې جليل القدره صحابيې له قبر پرته پريوبل قبر هم ونه نده راښنه شوې.

مادهند د راجستان ايالت په اجمير کې د خواجه غريب نواز اوپه ډهلي کې د سيدنظام الدين اولياء مزارونه او ددې مزارونو پر سر حيرانوونکې ودانۍ، ګنبدې له تصور وتلې لګښتونه او افراطي حرکات هم ليدلي دي، او دحضرت خديجة الکبری مزار هم .سړی حيران شي چې په مسلمانانوکې دا دومره خرافات او شرکيات څنګه رامنځته شول ؟

جنت المعلی په نقشه برابره قبرونه يې کتار او منظم دي په څوبرخووېشل شوې ده په يوه برخه کې يې چې شاوخوا نيم جريب به وه ما قبرونه وشمېرل $18 \times 18 = 324$ قبره و.

خلک هديرې ته ورتلل دعاګانې يې کولې خو پوليسوچاته اجازه نه ورکوله چې خرافات وکړي،خاوره واخلي يا نور بدعتونه ترسره کړي.

دهديرې دلويې دروازې ترڅنګ د مړو د وينځلو ځای ،نارينه اوښځينه ووته بېلې بېلې بيت الخلاوې او د اودس پاک ځايونه وو ،دمړو وينځلو پر يوه خونه يې ليکلي وو (مغسلة الاموات الخير يه بجامع المهاجرين بمكة المكرمةهاتف ، ۵۴۰۴۰۰۰.

دجاد الاسلام په نوم يوه بنګله دېشي چې ځان يې هلته دبنګله ديشيانو په مدرسه کې استاد معرفي کړ راته وويل چې دلته يوائې سعوديان ښځوي او بهرنيان او دحج مړي اوه اته ميله لېرې دشرييه په نوم ځای ته دښخولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره وړي ، شاهد وویل چې سعودي دلته وفات شوي حاجیان خپلو هېوادونو ته نه ورکوي او همدلته د غزې د سړک ترڅنګ هدیره کې یې خاوروته سپاري .هغه وویل چې دا لویه هدیره ده ،مړي په نقشه ښخوي اوله خاورو سره د مړي د ژر خاوره کېدلو لپاره کېمیاوي توکي ګډوي.

له هدیرې سره نږدې مسجد الجن دی،له جنت المعلی څخه د مسجد الجن منارې ښکاري خو نور مسجد لوړ پوړیو ودانیو پټ کړی دی، دامسجد په هغه ځای ودان شوی چې رسول الله پکې پیریانوته وعظ اونصیحت کړی اوهمدلته یې ورسره لمونځ کړی دی، مسجد الجن کوچنی ، دوه پوړیزه اوډېر ښکلی مسجد دی،موږ چې ورننوتلو نو داوخت په حنفي مذهب کې نفل لمونځ مکروه وي،خوموږ له شوقه پکې نفل وکړل،په مسجد کې سور رنګ ،ښکلې او ګران بیه غالۍ پرته وه چې ټوله یوه غالۍ ښکارېده،د جنت المعلی اومسجد الجن د زیارت کوونکیو ډېره برخه ایرانیان دي.

# ثور غار

کله چې حراغارته تللو نو ډېر ورد ثور دغره ترڅنګ تېر کړو ،هلته مو د انسانانو لوی کتار ولید چې غره ته خوت،دحرا غره موږ ستړي کړو خدای شته چې ثور غره اوغارته مې ډېر زړه نه کېده بل مهم دلیل دا و چې ثور ته ختل په حرم کې په جماعت زموږ دلمانځه د فوت کېدو لامل کېده ،ثورته ختلو خلکو هم راته ویل چې داغر د حرا په پرتله ډېر لوړ اوستړی کوونکی دی خوله دې ټولو سره، دامې هم نشو زغملی چې ثور غار او په ډېروسختو شیبو کې د رسول الله ص پناه ځای ونه وینم، بالاخره یوه ورځ سحر زه او هزاره توکمې شیخ معصوم علي ،تاجک توکمې ګلاغا یا حاجي نادر د ثور دغره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لور وخوځېدو ،ثور غره ته مو مزل دملي وحدت دمظاهرې په هیله پیل کړ،نعمت الله مو د تهوډي موټر چلوونکی شو، او دڅو لویو او ښکلیو پار کونو ،چوکونو ،اومارکېټونو له وهلو وروسته یې دغره لمن ته راوستو، دثور دغره لمن ته ترډېره حده موټر ورځي له موټره ښکته شو او هغه مو رخصت کړ.

ثور غره ته ختلې لار ټوله له تیګو جوړه پراخه زینه ده خو دا زینه دحرا د زینې په څېر له سیمنټو جوړه نده، اونه هماغسې ستوغه او سخته ده.

پرلاره مودیوکانتین ترڅنګ دمه وکړه چای او اوبه مو وڅښلې دلته دهرڅه بیه دوه چنده وه دیوه پیاله چای بیه هم دوه ریاله وه چې د ۲۲افغانیو معادل کېږي.

دلته مې له یوه ترکي سره بحث وکړ،د وزیرستان د وانه اړوند دشګی اوسېدونکي سید غلام سره مې هم کیسې وکړې، هغه راته وویل چې:په وزیروکې احمدزي، شادي خېل ،ذلي خېل ګنګي خیل تازي خېل قومونه شته او دی پخپله شادي خېل وو،هغه زیاته کړه چې ۲۲مه یا ۲۷مه ورځ ده چې دانګوراډې درباط خوله مرغه سیمې ته ۲۰۰ تنه امریکایان او دافغانستان ملي اردو ځواکونه راغلل اوله ۳۰۰تنو طالبانو سره ونښتل ،امریکایانو ۲۸الوتکې هم راوغوښتلې اوسخت بمبار د یې وکړ،د هغه په وینا ،په دې جنګ کې افغان امنیتي ځواک او امریکایان ټول ووژل شول او ۷۸تنه طالبان هم شهیدان شول ،سید غلام د بهرنیانو دې تلفاتو ته پخپله هم خوښ و او ویل یې چې دکلي اوسیمې خلک یې هم خوښ دي او دایې له امریکایانو سره په تېرو لسو کالو کې تر ټولو سخته جګړه وبلله.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته هم دلارې جوړولو په نوم دحراغره په څېر څوځایه چنده ټولېده، د چندې په ټوکرۍ کې چینایي ین اواندونیزیایي روپۍ هم وې په یوه نوټ یې لیکلي وو.

۵۰۰۰ :Bank indonisia

limaribu rupiah

یواندونیزیایي راته وویل چې داځلور سعودي ریاله کېږي.

ثورغار دثور غره په څوکه کې له شمال ختیځ څخه لوېدیځ لورته پروت دی، اوله شمال ختیځ څخه ورته د تیګو په منځ کې تنګه کوځه ده چې ایله به دوه تنه پکې ځای شي دغار اوږدوالی به درې متره وي خوله یې وړه ده خو وړاندې یا دپای برخه کې به یې پلنوالی دوه متره وي چې دوه درې تنه پکې کېناستلی شي .دغار په خوله کې مخکې له دې چې غارته ورشي یوه شا وخوا پنځه ،شپږ متره وچې ویالې ته ورته ژوره لارده،، په دې ویاله کې او له ویالې بهر څومتره وړاندې دخلکودوه کتاره ولاړ دي او په نوبت غارته ورځي په کتار کې ودرېدل او نوبت ته ایسارېدل ډېروخت غواړي اوله ماسره کله دومره حوصله وه ،هلته په کتارکې ولاړو افغانانو راسره مرسته وکړه،دغار په خوله کې یې ځای راکړ ،په اسانه او ژر ورننوتلم غار ټیټ دی په ټیټه به ورننوځې په ناسته به پکې ځې اوپه ناسته به ترې راوځې خو په همدې لنډ اوتنګ غار کې هم دغار په وروستۍ برخه کې یوتن عکاس له کمرې سره ناست وي اورنګه او فوري عکسونه وباسي، له ماسره ډیجیټل کامره وه ،مبایل مې هم عکسونه اخستل دغار دننه اوله غارڅخه بهر دثور له غره موښه ډېر انځورونه واخستل، دثور غار ډېر لوړ دی ، له څوکې یې ټوله مکه په ځانګړې توګه حرم شریف ،عرفات،منی ،دفهد مانۍ اومزدلفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري ،مکه اوس هم وچه او سوځنده ده ، په ځينې ځايونوکې اوس کوچني پارکونه جوړ شوي چې له دې ځوکې څخه ښکاري،ددې غره ختيځ اوسوېل ته د شمال اولوېديځ په پرتله آبادي او کورونه کم دي.

دغار په خوله کې يې ددې غره لوړ والی ۱۲۵۰متره ښودلی خو ښکاري چې داځوکه تر دې اندازې ډېره لوړه وي.

دلته هم ډېرې کوترې شته دي خو ددوی داړتياوړ دانه ورته نه اچول کېږي دپيسو دګټلو لپاره يې هملته يو اوښ خېژولی دی چې رنګه زين او کجاوه لري، په رنګه ټوټو يې رنګين کړی دی لومړی خلک په زينه پر اوښ سپرېږي او بيا يادګاري عکسونه وباسي.

دلته هم خلکو دافغان مجاهدينوپه څېر په غره کې ځانونو ته ځايونه جوړ کړي اوهملته چاي ،مشروبات ،بسکټ اونورخوراکي توکي پلوري همدلته يوه ونه هم شنه شوې ده،خلکودلمانځه لپاره ځايونه هم جوړ کړي دي.

موږدشنبې په ورځ د ۱۴۳۱کال دذوالحجې په ۲۸مه ثور غارته ورغللو غره ته ختلې لار زينه وه ډېره سخته نه وه خوبيا هم موږ ته سخته وه ګلاغا ډېر چاغ ،شيخ معصوم علي هم بد نه و او زه هم هغه ۲۴کاله پخوانی، ۱۳کلن کوچنی مجاهدنه وم چې دهوسۍ په څېربه پرغرو ختلم زه ۱۳کلن وم چې دجهاد جذبې اودشهادت مينې له کوره راوتښتولم اود مور اوپلار له اجازې پرته يې دځانځيو، خرچتل سپين جماعت،ازرې ،بزرګاني،کرېږ ورېږ ،شينواريو،چکرې او خوردکابل پرغرونو وخېژولم. دکابل دبګراميو داوسېدونکي شهيد قاضي محمدعمر د جبهې مجاهدين شاهدان دي چې زه هم په جرئت اوهم په مزله اوغره ختلوکې له ټولو تکړه وم، دشالوزان ځوکې ته ځو وارې پورته شوی يم دکرېږ ورېږ او شالوزان دغرونو ځوکې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بېخه اته، اته ساعته لاره ده، خوزه ورته وارخطانه وم ځکه چې تکړه او فعال وم خواري اومزدوري مې هم کوله کورته مې خس او خاشاک هم راوړل لوبې اوسپورت مې هم کاوه خونن داسې نه وه نن زه هم ستړې ستړی کېدم.

زه تر ډېره په دې اند وم چې زه خوتکړه او پر غرونو ختلی یم په مزله کې به له ټولو وړاندې وم، دجهاد پرمهال به مې ان د خپلومجاهدو ملګرو چانټه او وسله مې هم ورته وړله خودا اټکل مې دولس کاله پخوا هغه مهال ناسم وخوت چې له خپل خوارېه ملګري مولوي اظهار الله سره چې هغه مهال دسرحدي لوا قوماندان و (دا زمری اوس په پاکستان کې د ګیدړانو دچل او دوه مخې پالیسۍ قرباني او اسیر دی)دځخوبي په کنډاو ورختلم زه ،محترم مولوي اظهار الله (زه هم ورته دعاکوم او له تاسودرنو لوستونکیو هم هیله لرم چې د خلاصون لپاره یې دعاوکړئ)اوملګري یې کنډاو ته روان شومافکر درلود چې زه به له ټولو وړاندې دغره سرته وخېژم خوله بده مرغه چې دافکر مې ناسم وخوت، داځل اظهار الله دهوسۍ په څېر وخوت په غره کې پورته روان دی او مجاهد ملګري یې ورپسې دي ، خوزه له ټولو وروسته یم، مګر په ثور غره کې داسې نه وو هلته ټول بې خونده وو خوبیاهم له ګلاغا او شیخ څخه زه نه وم.

دثور دغار غوڅه برخه زیارت کوونکي افغانان ،هندوان،اوپاکستانیان دي یو تور پوستکی،څو ترکان او څوتنه چینایان او اندونیزیایان مې هم ولیدل.

داهغه غار دی چې کله دمکې کفارو دحضرت رسول الله ص د وژنې تابیا ونیوه نو له رفیق غار حضرت ابوبکر صدیق رض سره یوځای دې غره ته وخوت اوهمدلته پټ شو،کفارو دی تعقیب کړ، داغار دثور په غره کې دی او ثور غر دلته یواځینی غر ندی ،بلکې دګڼوغرونو او غونډیو له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوغر دی ،هغه وخت دمکې نفوس او ابادي هم دومره نه وه،سړی حیران شي چې په دومره غرونو او غونډیوکې دکفاروپلچیانو څنګه دا ومونداوبیا ددې غره په لسګونو غارونوکې همدا غر ؟لکه په ګوګل کې چې سرچ وکړي خوبیا الله ج خپل نېک بنده ګان په خپل ډېرکمزوري مخلوق لکه غڼه اوکوتره هم ساتي ،غڼه دلته ځالي جوړوي او تارونه غځوي اوکوترې هګۍ اچوي اوکله خپل غټ غټ دښمنان لکه نمرود هم په ډېر کمزوري مخلوق (ماشي)وژني.

ځینې خلک په همدې تنګ سوري کې چې بهر ورته سلګونه خلک په تمه ولاړ وي هم په ناسته لمونځ کوي. همدې لوړغره ته چې کله کله ورته د ځوانانو سپینې وتښتي ډېرې زړې ښځې او زاړه سړي هم ور خېژي خو ثور غره ته ختل نه فرض،نه سنت ،نه واجب اونه هم دحج کوم منسک دی، خوماولیدل چې ځینې خلکوبه زړې ښځې په شاکړې وې اوپاس به روان وو ،کټ مټ لکه دماهیپر دخلیفه بابا زیارت ،پاس مونږه سیل وکړمکه معظمه مونږه وکتله لمونځ مو وکړ ببرته ښکته روان شو پرلاره مو دمې ته ناستو پر دوه ځوانانو سترګې ولګېدلې دیو پر جامو په لګېدلې پټۍ (استودي کارویلا ،اندونیزیا)لیکلي ووترڅنګ یې ودرېدم ورته مې وویل نوم دې استودي کار ویلادی؟ویې ویل هو ورته مې وویل داندونیزیایې ؟ ویې ویل هو ،ماورته وویل ډېرښه زما ورور یې؟ هغه راته وویل چې ته پاکستانی یې؟ ماځواب ورکړ چې نه افغان یم په خندا شو ویې پوښتل طالب؟ ماورته وویل: (هو ، مجاهد طالب) هغه خوښ اوپه خنداشو ملګري یې وویل چې زه طالبان خوښوم ماته یې د تائید او شاباس په توګه غټه ګوته نیغه کړه څوځله یې ډېر ښه وویل بیا یې پرغاړه د چاقو په څېر لاس تېرکړ ویې ویل چې ټول امریکایان داسې (حلال)کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندامو خداى په اماني ورسره وکړه.

غره ته له دموسره په يونيم ساعت کې پورته شو اوپه يوساعت اولس دقيقوکې له دمو سره رابښکته شو ،لاندې موپه شل رياله ترحرم پورې موټر کرايه کړاو دولس نيمې بجې را روان شو.

# د حرم ترکار لاندې پراختيا

حرم شريف د سعود دکورنۍ په وخت کې دوه ځله پراخه شو خواوس هم تنګ اود حاجيانو اړتياووته ځواب نشي ويلی،دسعودي داوسني پاچا ملک عبدالله په امر د حرم د پراخولو کار پيل شوی دی، دحرم شمال اوشمال لوېديځ يا د باب عمري خواته ډېر ستر اوپراخ کار پيل شوی، داورېدلو له مخې، سعودي حکومت دحرم دپراختيا دا ستره پروژه دابن لادن کمپنۍ ، ته ورکړېده ،دې کمپنۍ د حرم شمال ته ټولې لوړپوړې ودانۍ نړولې او دغونډيو،هوارول يې پيل کړي دي،يوځل مې ديارلس بلدوزرونه او سکواتر وشمېرل چې په يو ځای کې يې کار کاوه، دلته ډېر ستر ستر اوپرېمانه سيخان کارول کېږي، دکار ساحه،ډېره پراخه ده،دسيخانو له قوت اوډېر ښت څخه ښکاري چې دلته څو پوړيزه ودانۍ په پام کې دي،يوځل مې **۵۴**کرنګونه وشمېرل چې دلته يې کار کاوه،دا کرنګونه ډېر لوړ دي اوپه سر کې يې سره ګروپونه لګېدلي دي.

دوست مې شاهدصاحب راته وويل چې دا ودانۍ له درې پوړو لوړه جوړوي اوله حرم سره نښلول کېږي يوه نوې دروازه به ولري چې دملک عبدالله (باب عبدالله)په نوم به يادېږي، تر دې وړاندې، دحرم له پنځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهورو دروازو څخه یوه یې د ملک عبدالعزیز په نوم او بله یې چې د ملک فهد په وخت کې جوړه شوې د فهد په نوم یادېږي. له دې توسیع (پراختیا) سره به د حرم د تنګتیا له پلوه د حاجیانو ستونزه تر ډېره حده هواره شي، دا پراختیا د شامیه ساحې خواته ده، لومړی حکومت دا کار د سعودي سروس کمپنۍ ته چې له نورو کمپنیو سره په ګډه یې کار کاوه ورکړ خو هغوی ناکام شول، حکومت مجبور شو، چې دا بن لادن کمپنۍ ته یې ورکړي.

وروسته مې په انټرنیټي سایټونو کې د حرم د دې توسیع په اړه حیرانوونکې خبر ولوست، هغوی د معتبرو مراجعو په حواله لیکلي وو چې د سعودي حکومت له حرم سره دوه نیم سوه جریبه ځمکه نوره هم یوځای کوي. پر دې پراختیا سل میلیارده ډالر لګوي او د استملاک شویو عمارو او ځمکو د ودانۍ له بیې سربېره یې خاوندانو ته د هر متر ځمکې پر سر یو لک او درې دېرش زره ډالر ورکوي. د دې خبر له مخې، دا پراختیا چې په ۲۰۰۹ زېږدیز کال پیل شوی دوه پړاوه لري حکومت تر اوسه د دې پراختیا لپاره دوه زره، درې سوه او پنځوس لوړ پوړې او ټیټ پوړې ودانۍ، دوکانونه او دفترونه نړولي او په نږدې راتلونکي کې به یو زر او نهه سوه نورې ودانۍ، دفترونه او هوټلونه هم ونړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حرم خادمان او خدمات

دحرم شریف ټول خدمات که هغه د اوبو ګیلاسونه دي ،که برېښنایي توکي که فرشونه، صابون شامپوا ونور ،ټول دابن لادن له کمپنۍ سره اجاره دي،دلته چې څوک یوځل په یو ګیلاس کې اوبه وڅښي نو هغه غورځوي،په سعودي کې په هوټلونوکې ډېر کار پدونکي توکي هم یوځل مصرفه دي،په حرم کې چې هر چېرې د زمزم څښلو اسانتیا شته نو ښې خواته یې د نامصرفو اوچپ خواته یې دمصرف شویو ګیلاسونو ځای هم جوړ شوی دی، دلته هره ورځ میلیونونه ګیلاسونه مصرفېږي، دزمزم څښلو سلګونه ځایونه دي خو هېڅکله به دیو شېبې لپاره هم د اوبو څښلو داځایونه بې ګیلاسه نشي ،دشاهدپه وینا ، دحج په ورځوکې هره ورځ تر زر(۱۰۰۰)مازدا موټرو مصرف شوي او چارو شوي توکي چې دوه دریمه برخه یې داوبو ګیلاسونه دي له حرم څخه وېستل کېږي.

شاهد وویل چې دحرم خدمات پخوا د (دل له)په نوم له یوې کمپنۍ سره اجاره وو خو اتلس کاله وړاندې دا اجاره دابن لادن کمپنۍ ترلاسه کړه چې تر اوسه روانه ده او خلک او سعودي یې له خدماتوخوښ دي.

هغه زیاته کړه چې دابن لادن کمپنۍ په پاکستان کې له ځینو کمپینو څخه مزدوران غواړي او هغوی یې ورته معرفي کوي ده وویل، چې څو کاله پخوا دابن لادن کمپنۍ له پاکستان څخه شل زره مزدوران راوغوښتل دا مزدوران یې ځیني دشاهي محلونو ،ځیني د زندانونو ،ځیني دهسپتالونو اوځیني دحرمینو خدمت ته ورکړل او دا د هرچا خپل بخت دی چې نوم یې چېرې وځي شاهد خوښ وو چې د حرم دخدمت ویاړ ورپه برخه شو ،هغه وویل چې دابن لادن کمپنۍ دا خیریه کارونه وړیا کوي اوله هیچایې هم بدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه غواړي، شاهد وایي چې کمپنۍ دوی ته درې نیم سوه ریاله معاش او یونیم سل ریاله د خوراک لپاره ورکوي او داوسېدو ځای یې هم ورکړی دی،هغه دامعاش چې هغه وخت تري څلورزره پنځه سوه او پنځوس (۴۵۵۰)افغانۍ جوړېدې ډېر کم وباله او ویې ویل چې دایونیم سل ریاله یې دخوراک لپاره هم بس ندي خو دپاکستان له اوزګارتیا ورته ښې دي.

دحرم دپاکۍ ډېرې چارې دپاکستانیانو په لاس کې دي پاکوونکي ،باشیان او سوپروایزران ټول دوی دي خو امرین یې عربان دي ،په پاکوونکیو او اوبه برابروونکیو کې دبرما ،سریلانکا ،هند ،بنګله دېش او اندونیزیا اوسېدونکي هم شته دي.

## نیم یې ستا اونیم یې زما

شاهد داومنله چې ځینې حرم ته راغلي حاجیان اوعمره کوونکي ورسره مالي مرسته کوي خوهغه دامرسته خیرات باله او له حکومت او کمپنۍ څخه یې دمعاش لوړول غوښتل.

دحرم ځینې مستخدمین په ډېر مهارت او هوښیارتیا له خلکو مرسته اخلي ،په دومره خواږه انداز چې له مرستې پرته ورسره بله لار نلري یوځل ما او ماما مې دابو جهل دکور په تشنابونو کې اودس کاوه، ددې ځای د نظافت مسؤول یو پاکستانی صوفي وو هغه له خلکو سره دومره ښه چلند کاوه چې له مرستې پرته بله لار به چاته پاتې نشوه، کله به چې څوک په کومه څوکۍ ته ورته تیګې اودس ته کېناسته نو دی به ژر راغی هغه ځای به یې صافي اوپاک کړ، اودس کوونکي ته به موسک شوه،ستړی مشي به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره وکړه، هغه به دومره تر اغېزې لاندې راغی چې بېواکه به یې لاس جېب ته ورتاو شو.

دحرم له خدمت کوونکیو سره دخلکو په مرسته کې شک نشته،خوشاهدله یوبل راز اوپه حرم کې د چارو اکیو له فساد څخه هم خبرکړم،هغه وویل چې عرب امرین پوهېږي چې په کومو کومو ځایونو کې ښه مرسته کېږي اوپه کومو ځایونو کې مرسته کمزورې وي ،هغه وویل امرین دډېرو مرستو یاډېرو شیدې ورکوونکیو ځایونه ته خپل نږدې کسان ورکوي او بیاهر ماسخوتن ،ورسره دمرستو پیسې نیموي،دهغه په وینا ، هېڅ خادم ته هم دمرستو پیسې نه پرېښودل کېږي خوله چا څخه کمې اوله چاڅخه ډېرې همدا امرین اخلي.

## زمزم برج

باب ملک عبدالعزیز ته مخامخ دسعودي تر ټولو لوړ جوړ شوی برج (ټاور) دزمزم برج په نوم یادېږي

،ددې برج ځینې برخې لاهم بشپړې ندي،دابرج په حقیقت کې شپږ برجه یا شپږ لوړپوړې ودانۍ دي ،دزمزم، دبرج لوړوالی دنقشې له مخې پنځه اتیا پوړه دی خو اوس دومره ندی، د شاهد په وینا ددې برج په پنځه شپېتم پوړ دحرم ساعت جوړ شوی دی،دساعت لوړوالی لس پوړه دی،یعنې پخپله ساعت دلسو پوړو ځای نیولی دی،ساعت شمال،سهیل،لوېدیځ،اوختیځ ته له ډېرو لېرې ځایونو څخه لیدل کېږي.

دساعت دعقربونو(ستنو)بګراونډ شوبیني شین دی، دساعت له پاسه ددرې پوړو نو په لوړ والي یوه ګنبده هم په ډېره ښکلې بڼه جوړه شوې ده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهد کيسه کوله چې يوځل دا ساعت خراب شوی وو او انجنيرانو يې ساعتګر او دقيقه ګر (د ساعت ا و دقيقو ښوونکې ستنې) په کرنګونو راښکته کړې ،دهغه په وينا ،دقيقه ګر يې د شل ټايريزه بار وړونکي موټر سره په اوږدو کېښود داستن له دې موټر څخه هم دوه متره اوږده او ساعت ګر ورسره برابر و ،خوله لاندې ايله يو متر ښکاري،په کوم برج يا ودانۍ چې دا ساعت جوړ شوی د ېته برج الساعة (د ساعت برج)هم وايي.

دزمزم ټاور زرګونه دوکانونه لري چې ګرانبيه توکي پکې پلورل کېږي ،همداراز ډېر عصري مېلمستونونه چې يوه خونه يې ديوې شپې زرګونه رياله بيه لري هم پکې شته دي ،دزمزم په نوم ګرانبيه هوټل هم لري. ښاغلي متوکل صاحب راته وويل چې دحرم شاوخوا داسې مېلمستونونه هم شته دي چې ديو تن ديوې شپې تېرولوبيه يې څلبرويشت زره ډالره ده

ددې ودانيو کار اوس هم روان دی،شاهد وويل چې دابن لادن کمپنۍ له حکومت سره داسې قرارداد کړی دی چې دا شپږ واړه ټاوره به په شلو کالوکې جوړوي اوله جوړېدو وروسته به يې دېرش کاله ګټه همدا کمپنۍ اخلي،خواوس چې ددې کار دپيل لس کاله پوره شوي نو دبرجونو ډېر کار شوی ،ډېر پوړونه يې رسېدلي، دوکانونه او هوټلونه يې په کرايه ورکول شوي ،اوګټه اخستل ترې پيل شوي دي.

شاهد وويل چې تراوسه ددې ودانيو په جوړېدلوکې دکمپنۍ تر وړاندويني ډېر زيات ،يعني درې زروکسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

د حرم دبرېښنا جريان هېڅکله هم نه پرې کېږي يعني ۲۴ ساعته پرېمانه برېښنا لري ، دبرېښناټول سستم تر ځمکې لاندې دی،په ځمکه،ديوال ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبرېښنامزي نه ښکاري، سعودي د اوبو برېښنانلري ټوله برېښنايي له تېلو ده.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زمزم

دعمید په فرهنګ کې یې لیکلي چې زمزم ډېرو اوبوته وایي .همداراز لیکي چې زمزم هغې دعاته هم وايي چې زردشتيانو به دلمبلو یاخوراک په وخت کې کوله.

حضرت ابراهیم ع د الله ج په امر خپله یوه مېرمن هاجره چې دمصر اوسېدونکې وه، له خپل زوی حضرت اسمعیل ع سره له فلسطین څخه مکې معظمې ته راوستله اودلته یې په بې اوبو اوبې وښوځمکه کې پرېښودله، تاریخ لیکي چې حضرت ابراهیم ع له دوی سره په خورجین کې راوړې لږه خرما او اوبه هم پرېښودلې دامهال حضرت اسمعیل تی خوره کوچنی و ،کله چې حضرت ابراهیم ع بېرته لاړ او دهاجرې اوبه ختمې شوې نو وارخطاشوه چې تنده هغه اودهغې تنکی زوی له منځه یونسي،نو دصفا لوړې غونډۍ ته په دې هیله وختله چې که کوم انسان وګوري او اوبه ترې وغواړي خوهلته څوک نه و وروسته یې په شېله (خوړ)کې منډه کړه اودمروې لوړې ته وختله چې که څوک ومومي او مرسته ترې وغواړي خوهلته هم څوک نه و ،دې تلولۍ بې بي اوه ځله دصفا اومروه ترمنځ منډه وکړه،او زوی یې هلته لرې داوسنۍ کعبې په څومترۍ کې چې هغه مهال دکعبې نښه هم نه وه، پروت و په اوم ځل چې دمروې په لور ولاړه نویوغږ یې ترغوږ شو راغلله ګوري چې یوه پرښته خپل وزر پرځمکه وهي چې له همدې ځایه اوبه راوځي لومړی یې له دې الهي ډالۍ څخه دحضرت اسمعیل تنده خړوبه کړه اوبیایې پخپله وڅښلې.

څه موده وروسته جرهم قبیله له یمن څخه راغلله اودلته مېشت شوه،حضرت اسمعیل ع دهمدې قبیلې له یوې انجلۍ سره واده وکړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزمـزم پالنـه دحضـرت اسـمعيل ع اولاد کوله.وروسـتـه دا خـدمت د جـرهم قبيلـې کـاوه،خو دوخـت پـه تېرېـدلو خلکـودزمزم سـم خـدمت نـه کـاوه، اوداکوهی وچ شو په دې منځ کې سلګونو کاله تېرشول، دزمزم کوهی هم لـه خلکوهېر شو ،يوځل د حضرت رسول اکر ص نيکه عبدالمطلب خوب وينـې يوخـوک ورتـه پـه خـوب کـې همـداځای ښـيي چـې ويـې کنـي يـاژور يـې کړي،سباچې خلـک دهغـه پـه امـر داځـای ژوروي نـو دزمـزم ښـې ورڅخـه څرګنـدېږي، خـوچې نـور يـې هـم ژوروي نـو اوبـه راوځـي او زمـزم ببرتـه فعـالېږي، عبـدالمطلب ټولـو خلکوتـه ددې اوبـو دکـارولو اعـلان کـوي، خوساتنه يې پرخپله غاړه اخلي ،دهغـه لـه وفـات وروسـتـه داکـار دهغـه زوی حضـرت عبـاس کـوي، دمکـې لـه فتحـې وروسـتـه رسـول الله ص هـم داکـار حضرت عباس ته وسپاره.

لـه زمـزم کـوهي څخـه تـر ۱۳۷۳هـ س پـه سلواغو يـابوکو اوبـه راوېسـتـل کېدلې ،پـه ۱۳۷۳او ۱۹۵۳ز کې ورتـه ماشينونـه او واټـر پمپونـه نصب او ذخيرې ورته جوړې شوې.

دحرم لـه وسعت سره د زمزم کوهی هم پـه مطـاف کـې راغـی خـو چـاروا کيـو تر مطـاف لانـدې ورتـه ځـای جـوړ کـړ اوس طـواف کـوونکي نـه پـوهېږي چـې دزمزم کوهي ددوی تر پښو لاندې دی.

زمزم دحاجيانولپاره آب حيات دی ،دسعودي په تودوخه کې چې طواف وکړل شي ،اوستړيا وي ،خوله روانه وي نو يخ زمزم ددنياله هرډول مشروب څخه ډېر خوندکوي ،ماته خويې آن اب کوثر رايادول ،دومره بـه مـې وڅښـل چې خومره به مې په خېټه کې ځايېدل، دا دزمزم ښه خاصيت دی چې څـومره وڅښې خېټه نه پړسوي، ځانګړی خوندلري ډېري خوږې لګېږي، او دنورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبو په څېر ژر انساني حاجت ته اړتیانه پېښېږي زمزم هم تنده خړوبوي اوهم لوږه اشباع کوي.

ماډېر زيات څښل اوډېر خونديې راکاوه،يواځې په حرم کې نه ،بلکې څوله زمزموډک بوتلونه مې خپلې خونې ته هم وړې وې . هلته مې هم زمزم څښل يوځل مې دوه بوشکې خونې ته وېوړې، او هلته مې پرې ښه ولمبل. ساينس پوهان وايي په ښو او روغتيايي اوبو کې چې کوم مواد په کار وي هغه ټول په زمزم کې شته دي ، سعودي چارواکيودزمزمودسرولولپاره ځانګړي اوماډرن ګامونه اخستي دي، اتلس کاله پخوا به يې دااوبه په يخ يخولې خو اوس يې ډېر مجهز،پلانټونه (سړې خونې)ورته جوړې کړې دي، داسړې خونې ډېرې برېالۍ او دومره ځواکمنې دي چې شپږ اوه ميليونه حاجيانولپاره پرېمانه اوبه سړولی او ددوی تنده ماتولی شي.

دحرم دننه،مطاف ، بهرسالون ، لومړی پوړ دوهم پوړ اودريم پوړ په هر ځای کې دزمزمونلونه په ځانګړي مهارت چې نه ليدل کېږي غځېدلي اوزمزم پريمانه موندل کېږي.

د زمزمو ستر ستر پايپونه دابوجهل دتشنابونو خواته وېستل شوي دي چې حاجيان هملته خپلې بوشکې ډکوي موږ هم په نيمه شپه کې چې بيروبار نسبتاً کم وو په همدې ځای کې خپلې بوشکې ډکې کړې.

ځينې خلک د پيسوپه مقابل کې هم نوروته بوشکې ډکوي ،په دې ځای کې له لويوپايپونوکوچني پايپونه بېل شوي اوپه يوه وخت کې دوه درې سوه کسه ترې بوشکې ډکولی شي.

سعودي حکومت آن تر پنځوکيلو متروپورې دزمزم نلونه غځولي او آن غونډ يو او غرونوته يې خېژولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زمزموخپله سپېڅلتیا او پاکي وساتله غرونو ته وختلې خوزور واکيو او خدای ګوتېوته يې سرټيټ نکړ.

زمزم نه غوښتل چې د سعودي پاچايان او شهزادګان پرې خپل ګناهونه ووينځي نو ضد يې وکړ هغه شاهي محل ته ونه ختلې چې سعودي پاچايانو د ځان، خپلو کورنيو اونوروهېوادونو زور واکيو اوپاچايانو ته جوړ کړي دي دا شاهي محل له حرم سره نښتی باب الصفاخواته جوړ شوی دی، واکمنو ډېره هڅه وکړه چې دې محل ته زمزم وخېژوي ،ډېر قوي تکنالوژي يې وکاروله خو زمزم ور ونه ختل په داسې حال کې چې له دې محل څخه ډېرولوړو غونډيو ،غرونو اولېرې ځايونو ته ختلي دي، اوهلته ترې خلک ټانکرونه ډکوي.

سعودي چارواکيو داخدمت کړی دی چې په مدني حرم يانبوي مسجد کې هم خلکوته زمزم ورسوي اود مسجد په هره برخه کې د زمزموترموزونه ايښې وي.

www.meliTahrik.com 0777 400 116

# د زمزم اوبه له دومره کارَونې سره هم نه کمېږي

له زمزم څخه يواځې د څښلولپاره ګټه اخستل کېږي ، دنور استعمال لپاره دبئرداؤد (داؤد کوهی)په نوم بل ژور اولوی کوهی دی ، دناباوري رواياتوله مخې داکوهی حضرت داؤد ع وېستی دی،داکوهی دملک فهد په نوم دروازې ترڅنګ وېستل شوی دی ډېر ځواکمن اوپیاوړي واټرپمپونه پرې لګول شوي چې دټول حرم تشنابونو اود اوداسه ځايونوته يې اوبه ورکړي او دحرم صفايي هم پر همدې اوبو کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کوهي کې ډول ډول کیمیکل او دواګانې ګډوي چې روغتیا ته زیان ونه رسوي، دشاهد په وینا ، دا اوبه هم له زمانو راهیسې کمې شوې ندي.

دوروستیو معلوماتو لـه مخـې، دزمـزم کـوهی اوس پـه یو سـاعت کـې ۳۹۶۰۰ لیتـره اوبـه ورکـوي داکـوهی ترڅمکـې لانـدې څـو سـترګې لـري تـر مطاف لاندې دکـوهي خولـه ۱،۵۲ متـره ،ژوروالـی یـې ۳۰ متـره، پـه کـوهي کې دولاړو اوبو حجم۴متره او په بیخ کې دکوهي قطر ۱۳متره دی ترې دې چې یوه سترګه یې د اذان دځای لاندې ده.

دکوهي قطر له ۱،۴۲ تر ۲،۲۲ متره دی.

دزمزم کوهی له کعبې څخه ۲۱ متره لېرې دمقام ابراهیم خواتـه دی، اوس پر دې کـوهي د ۸ ،۸۸متـره مربع پـه مسـاحت یـوه ودانـۍ جـوړه شوې چې دمطاف لاندې ده اوله مسعی څخه ورته تر ځمکې لاندې لار ورغلې ده.

دزمزم لپاره له حرم څخه څو کیلو متره لېرې د کدَی پـه نـوم سیمه کې پـه ۱۴۱۵ هـ س د ۱۵۰۰۰۰ یو سل او پنځوس زره لیترو په ظرفیت ذخیره جوړه شوې ده ،له همدې ځایه دمدینې منورې په شمول نـورو سیموته پـه بوشـکو او ټانکرو کې زمزم وړل کېږي.

دزمـزم اوبـه دډېروښـکاره اوپټـونـاروغیو درملنـه ده او پرځمکـه دالله لـه نعمتونو څخه ګڼل کېږي.

# د حرم امامان

دحـرم لـوی خطیـب قـاري دکتـور سـعود بـن ابـراهیم شـریم دی، خـو دی ډېروخت نه وي ، دحرمینو ریاست دهر وخت لمانځه لپاره بېلابېل امامان ټاکي اکثره یې ځوانان وي ځینې یې دومره خوږ غږ لـري او دومـره خونـدور

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوله درده ، ډک قرائت کوي چې ډېر سخت زړي انسانان هم ژړوي،یوماښام یو ځوان قاري په خپله په لمانځه کې په ژړاشو ، دده دژړا له اورېدلوسره په ده پسې ولاړ میلیونونه انسانان هم په کریکو کریکو په ژړاشول، فضا دکریکو انګازو ونیوه،امام دومره ژړا ونیوه چې قرائت یې نشو کولی څلور پنځه واره یې قرائت پیل کړ، خوکولی یې نشو داماښام د ژړا ،کریکو ،درد او فغان ماښام وو ،دهیڅچا سترګه هم وچه نه وه.

قاري سدیس هم کله کله لمونځ ورکاوه خو مولنا یار محمد(ملااکرم)به ویل چې اوس په خلکوکې دقاري سدیس محبوبیت ځکه کم شوی چې هغه درباري شوی او دشاهي کورنۍ زوم شوی دی، دهغه په وینا ، سدیس اوس ددولت پالیسې تعقیبوي ،پر دولت او کړنو یې نیوکه نه کوي، مولنا یار محمد داهم وایي چې دسعودي د حج اواوقافو ریاست یوه کمېټه جوړه کړېده، چې دجمعې او اخترونو خطبې جوړوي او د حرمینوپه شمول ټولو مساجدو ته یې لېږي .داخطبې سیاسي ندي ، ددولت لخواعلماووته خبرورکول شوی چې دامریکا ،استعمار،شاهي کورنۍ، ویښتابه او...په اړه به څه نه وایي. دلته واک په حقیقت کې یواځې له شاهي کورنۍ سره دی ټول لوړ پوستونه دهمدوی په واک کې دي.

د ۱۴۳۱\۱۲\۲۷ جمعې په ورځ چې کوم خطیب خطبه واوروله نو اواز یې هم ښه نه و، قرائت یې هم ښه نه ، نه داسلامي امت په درد اوستونزو ،خبرې ،نه کومه، استراتیژي، اونه کوم تصمیم.

دجمعې په یوه بله خطبه کې دفلسطین مجاهدینو ته دعاوشوه، خو دافغانستان اوعراق مجاهدین چایادهم نکړل،په همدې ورځ په طواف کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوتن کوچنی کيسه برلاس په لاس ونيول شو ،خوږ بر عذريې وکړ د تېښتې لار يې هم نه وه نو بېرته خوشې شو.

دحرم نور مشهور او خوږ غږي امامان له شريم اوسديس پرته ماهر،صريم اودکتور صالح دي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# متواګان

متواګان هغه خلک دي چې دنظم او نسق په راوستلو کې مرسته کوي، خلکوته لارښيي ،امر بالمعروف اونهې عن المنکر کوي، لمانځه ته صفونه برابروي دبیروبار مخه نیسي لارې خلاصوي او .... دشاهد په وینا ، دامهال په حرم کې اته زره رسمي متواګان کار کوي، په متواګانو کې ښځې هم شته دي،ښځینه متواګانې په تور حجاب کې او دځینوخو آن سترګې هم په عینکو پټې وي پرلاسونویې دستکشي اوپرپښو جرابې وي.

ډیرې زړورې دي کومه ښځه چې بې نظمي کوي یا ورسره غږېدل غواړي نو دنوم په اخستلوپرې غږ کوي (یافاطمه،یاعایشه یا خدیجه یامریم...) زه لومړی حیران وم چې دامتواګانې څنګه ددوی نومونه اخلي او څنګه یې پېژني ځکه چې ددې ښځو نومونه نه ددوی په جامو لیکل شوي اونه یې بل چېرته لیدل کېږي.

وروسته پوه شوم چې دامتواګانې هسې ددوی دپام را اړولو لپاره دوی ته دیواسلامي نوم په یادولوغږ کوي او دایې خپل نومونه نه دي، یوځل یې هندۍ ښځې نظم ته رابللې خوهغوی په ژبه نه پوهېدې دیوې لستونۍ یې لنډ و په اشاره یې پوهه کړه ،ښځې تسبیح تهلیل او ذکر ته رابولي،ځیني متواګان دپیسولپاره خلکوته په بایسکلونو طواف ورکوي ځینې کوچنیان هم داکار کوي. دبایسکلونو لپاره په دوهم او دریم پوړکې خپل ځایونه ښنه شوي دي دکرایې طواف نرخ هم توپیر مومي او ددوه نفرو تر جوړ جاړې پورې اړوند دی له یو نیم سل ریاله تر څلورسوه ریالوپورې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ مې سحر په دوهم پوړ کې یوتن برېتور بې رېږې عرب ځوان ولید چې له یو کوچني سره یې په بایسکل کې دطواف داجورې په اړه چنې وهلې ،ماویل څه کوم ناروغ یاسپین رېږی به ورسره وي، خو چې په نرخ جوړ شول،ګورم چې خپله په بایسکل کې کېناست ،حیران شوم څکه دی ډېر ځوان و اوظاهراً یې هېڅ عیب نه درلود.

دحج په ورځوکې یې زموږ له اخونزاده صاحب څخه ځلورسوه ریاله اخستې وو، ،مولنا یار محمد زموږ یوسپین رېږی حاجي خپل داسې یو دوست ته چې فرانسوی رېره یې وه دځلورسوه ډالروپه مقابل کې سپارلی وو،چې عرفات ،مزدلفې ،منی ته یې بوځي اوطواف هم پرې وکړي، هغه ډېرو ځایونوته دشرکت په موټرو کې بېولی و وروسته یې ترې پیسې اخستې وې اوله طواف پرته یې پرېښی و.

ښځینه متواګانې هڅه کوي چې ښځې او نارینه سره بېل کړي ،بېل یې کېنوي اوپه بېل بېل ځای کې پرې لمونځ وکړي،خو داکار دبیروبار په ورځوکې شونی نه وي، خوچې بیروبار کم شي بیا ښځې تر ډېره حده ځانګړو ځایونوته بېول کېږي.

په مطاف کې دکعبې ترڅنګ ښځوته دلمانځه اجازه نشته ،خو په هر لمانځه کې دمتواګانو او ښځو لانجه وي، متواګان غواړي چې دوی ووځي او دښځوځای ته ورشي خو دوی سترګې شخوي اونه وځي اوپه همدې جنجال کې سلګونه ښځې همدلته په لومړیو صفونوکې له نارینه وسره اوږه په اوږه لمونځ کوي خوپه مدینه منوره کې بیا داسې نده ،هلته دښځولپاره ځوځایه ځانګړي ځایونه ټاکل شوي اوښځې مجبورې دي چې هلته ورشي اوهملته له ښځوسره لمونځ وکړي. په حرم کې دښځینه و ځای ښځینه پاکوي

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



،دتنظيف ښځينه عمليه شين يونيفورم اغوندي اودتنظيف كارتونه يې په سينه ځړېدلي وي دبايسكلونولپاره خو ځانګړي ځايونه ټاكل شوي دي خو ځيني حاجيان پر دې ځايونو قناعت نه كوي، يوه شپه يوه بجه (نيمه شپه)طواف ته لاړم ګورم چې مطاف او دكعبې شاوخوا بايسكلونو نيولې ده، معيوبين ،زاړه اوښځې ټول راغلي همدلته طواف كوي ددوی دې كار طواف كوونكي له ستونزو سره مخ كړي و. هرڅوك تروش و خو ماڅكه نه ملامتول چې دوی هم يوې مينې،يواحساس اويو درد دلته راوستي وو همدا ورته ښه موقع وه، چې كعبه لمس كړي،حجراسود ښكلول خو ورته هسې هم دهما سوری وو.

# ملګري

زموږيو ملګری سيدخان له اصله اريوب ځاځی دی خوهراتی شوی دی، دالله داد رضايي په وينا، ۹۵كلن دی خولاهم دبشپړې روغتيا خاوند دی تراوسه يې ايله څلور غاښونه پرېوتي دي سيدخان په جامه اوژبه له هراتيانوبېل ښكارېده ماته يې دخپل ژوند ډېرې كيسې وكړې،ويې ويل چې درې ودونه يې كړي اودرې واړه له پېغلو سره سيدخان وويل چې كړوسي يې غټ غټ بچيان لري د هغه په وينا ،پخوادموټرو سوداګر و اوافغانستان ته دموټرو له لومړيوواردوونكيو څخه دی هغه دخپلو خاطروپه ترڅ كې وويل چې كله يې لومړی ځل هرات ته موټر راووست نو په هرات كې ډېرورنه پيداكېده،بالاخره له ننګرهار څه يې راوغوښت. هغه وايي زامن يې سوداګران اوښه شتمن دي.. په حج كې له ډېرو سپين ږيرو مراسم ګډوډ شول خودی له ډېر وځوانانو هم تكړه و سيدخان اوس له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هراتيانو سره خپښي کړېده، له خبرو يې ښکارېده چې لمسيانو يې خپله ژبه له لاسه ورکړېده او ددوه درې ميليونو پښتنو غوندې په فارسي کې ذوب شوي دي.

زموږ له ډېرو ملګرو سره دهغوی مېرمنې هم وې ملګري مو ډېر دهرات اوبادغيس وو خود کابل ،لوګر،ننګرهار او سپدونکي هم پکې وو.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مفتيان او فتواګانې

دننه په حرم کې يو هندي عالم چې واقعاً متبحر او جيد عالم وو هره ورځ دخلکو پوښتنو ته ځوابونه ورکول، هغه ته يوه څوکۍ اېښودل شوې، وه ډېرخلک به ترې راتاو و ډېرې پوښتنې به دحج دمناسکو په اړه وې هغه په اردو، هندي، عربي او انګليسي ژبو پوهېده، کله کله به يې فارسي ته هم لاس واچاوه.

له ده پرته حرم ته نږدې دشرکة المکة په څلورم پوړ کې دفتوا او استفتالپاره نهه ځايه ټاکل شوي وو، دشپې تر ناوخته به نهه تنه مفتيان ناست وو او له هر مذهب سره سم فتوا به يې ورکوله، فتوا به ډېره لنډه او قناعت ورکوونکي وه. له دې سره ما ته زمادخونې دملګري اوزموږ دکاروان دحج دمعلم مولوي احمدي فتوا راپه ياده شوه. کيسه داسې وه چې زموږ يو حاجي ملګري دعمرې لپاره احرام کړی و خوڅه کار ورته پيدا شوی و او عمرې ته نشو تللی له موږ څخه يې وپوښتل چې ايا احرام بېرته خلاصولی شي؟ مولوي احمدي به له ځواب څخه ځان تېر وېست او کوټلی ځواب يې نه ورکاوه، زما زړه تنګ شو (هو) ځواب مې ورکړ، هغه شخص په خوښۍ ووت وروسته احمدي ما ته مخ را واړوه ويل يې د الله ج بنده ولې دې دومره ژر او اسانه ځواب ورکړ ما غوښتل چې مستې پرې راوړم او بيا ځواب ورکړم.

## روغتيا

www.melitahrik.com 0771400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جروال کې دافغان حاجیانو لپاره د درملنې ځای ټاکل شوی او دادافغان حاجیانو رسمي درملځی او کتنځی وو او باید **۳۵** زره افغان حاجیانوته یې روغتیایي خدمتونه برابر کړي وای، خوهلته دحج د نورو برخو په څېر دابرخه هم ډېره کمزورې وه زه خوالحمد الله تر پایه هلته ورتللوته اړ نه شوم اونه دومره ناروغ شوم خوچې نور حاجیان به ورغلل ډېر زیات شکایت به یې کاوه، کله به یې ډاکټرنه وو، اوکه ډاکټربه وموندل شو بیابه درمل نه و په پیل کې پکې ارزان بیه درمل موندل کېدل خوپه وروستیو ورځوکې به داتشې ګولۍ هم نه موندل کېدلې، وزیر صاحب محمد یوسف نیازي ته څو ځله شکایت وشو خوهغه به داپړه دعامې روغتیا پر وزارت وراچوله.

دحج اواوقافو وزارت چې له حاجیانو کومې پیسې اخلي نو د درملو اوډاکټرانو برخه هم په کې وي اووزارت له ځان سره لسګونه ښځینه اونارینه ډاکټران هم بیايي دې ډاکټرانوته دوړیاحج زمینه هم برابرېږي او معلومه اجوره اوسفرخرڅ هم ورکول کېږي خودلته هم داچانس هر ډاکټر ته نه ورکول کېږي بلکې روابط پرضوابطو لومړي وي، اخلاص، زړه سوی اهلیت، دنده مقدسه ګڼل په کعبه کې هم شعار وي.

ډېر حاجیان له ځان سره ځینې ډېر کاربدونکي درمل وړي، هلته زکام، ځان درد، اوتبه ډېره وي اوافغان حاجیان هم دهمدې ناروغیو درمل وړي زما، ماما استاد حبیب الرحمن هم له ځان سره ډېر درمل وړي وو دهغه ځوی حبیب الله د درملو عمده پلورنځی لري حبیب الله خپل پلارته هغه درمل ورکړي وو چې کمپنیو دسمپل (نمونې) لپاره ورکړي وو ښکاره ده چې کمپنۍ د پیرونکیو دجلب لپاره ښه نمونه جوړوي له همدې درملو ماته هم رارسېدل چې ورسره به هغه دچاخبره ناروغي ټک اوپټرې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سعودي کې درمل ډېر قېمت دي، يو پاکټ پاراستامول په افغانستا ن کې پنځه افغانۍ دي خوهلته په شپږ رياله ۷۸افغانۍ پلورل کېږي البته پاکټ اوکیفیت يې ښکاره توپیر درلود ، شاهد به ماته ویل چې که دوستان مو حج ته راتلل نو له ځان سره دځینو لومړنیو ناروغیو ددرملو راوړلوته يې وهڅوئ،ځکه دلته ډاکټر او درمل ډېر ګران بیه دي.

## هم سر لاړ او هم سرسر

حاجیان حرص لري چې ډېرې عمرې وکړي،په ځانګړې توګه افغان حاجیان خو ډېرې عمرې کوي، دا اختلافي خبره ده چې په حرم کې دننه شخص ته ډېرې عمرې کول ډېرثواب دی اوکه طوافونه ،ماهم اوه عمرې وکړې،خو دپنځو عمرو احرامونه مې حرم ته له نږدې پنځو میقاتونو وکړل،حدیبیه ،جعرانه ،تنعیم ،اضاءةاللبن او ....دهرې عمرې لپاره مو له نوي میقات څخه احرام کاوه.

خوزموږ سره ملګرو بیا عمره خپل یواځیني کارباله، داسې افغانان مې هم ولیدل چې دورځې دوه او درې عمرې یې کولې زماملګري عبیدالله،عسل،یارمحمداو نورو پنځلس عمرې کړې وې یوه ورځ یې راته وویل چې نور یې د سرپوستکی له ډېرو خریلو سوځي ځکه چې له هر ځل عمرې وروسته باید دسر وېښته یا وخریيل شي او یا لنډ شي خو دوی به خرییل.

یوه ورځ نیمه شپه دعمرې داحرام لپاره جعرانې ته له ملګرو سره روان وم، له عمارې بهر مو موټر ته انتظار کاوه چې دوه درې نور افغانان هم راسره ملګري شول، هغوی راته وویل چې تاسې له هر ځایه احرام تړئ موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم درسره ملګري يو ،خير موږ يو فلاينکوچ ته ورته موټر دوه طرفه دربس کړ،له نويو ملګريو شويو افغانانو څخه يوله ماسره مخکې سيټ کې کېناست،ترې مې وغوښتل چې ځان را وپېژني ځان يې عبدالهادي دلښکرګاه ښار دکارته لګن اوسېدونکی راوپېژانده،عبدالهادي، وويل چې دې په لښکرګاه کې حمام لري او له حج سره يې مينه بې ساري وه،خو نه دده اونه يې دپلار نوم په قرعه کې راووت. هغه وايي ددې لپاره چې دحج کار يې شوی وي نو کابل او کندهار ته يې ثوځله منډه کړېده،دهغه په وينا ، پلار يې وړاندې هم حج کړی خودده لومړی ځل و عبدالهادي وايي چې له ډېرو ګرځېدو راګرځېدو وروسته بالاخره يوچاراته وويل چې دنفر په سر پنځه نيم زره ډالر راکړئ دحج اواوقافو له وزير يوسف نيازي څخه درته فوق العاده امر اخلم، عبدالهادي وايي چې پنځه نيم زره ډالره ما اوپنځه نيم زره ډالره زماملګري محمد نبي ورکړل او هغه کس دا يوولس زره ډالر په بانک کې پخپل نوم تحويل کړل، عبدالهادي وايي چې دې شخص له ژمنې سره سم ما او محمدنبي ته فوق العاده امر واخست، زموږ پاسپوټونه جوړ او دحج کار مو يقيني شو، دهغه په وينا ،له پرواز څخه دوه ورځې وړاندې دحج اواوقافو وزارت لخوا ورته وويل شول، چې کوم زورور خپل ملګري او دوستان حج ته لېږي اودپاسپورټونو له منځه يې د ۲۳او ۳۹ترمنځه هغه پاسپورټونه چې کارونه يې خلاص وو، ويستلي او سهمونه يې خپل ځان ته اخستي دي،اوپه دې منځ کې دمحمد نبي پاسپورټ هم وېستل شوی دی نوځکه دهغه کار خراب شو.

عبدالهادي زياتوي کله موچې له اړوند شخص څخه بېرته پيسې وغوښتلې نو هغه راته وويل چې ماخو له دې پيسوڅخه ډېر رشوت ورکړی اوډېر لګښت مې کړی دی داچې ستاسوپر حق بل څوک ظالم شونوپه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې زماګناه څه ده؟ خوله دې ټولوسره عبدالهادي خوښ وو چې دده دحج کار وشو او الله ج خپل حضورته وغوښت.

هغه وايي چې په افغانستان کې ډېر وځورېده ډېر وکړېده، اوډېر تاواني شو خوداچې با لاخره دحج کار یې وشو خوښ دی اوهغه ټولې ستونزې او تکلیفونه ترې هېر دي.

عبدالهادي له دې څخه هم خبر کړم چې دهلمند دحج اواوقافو رئيس دحج ۷۵ سهمونه پټ کړي، وو او دولت پرې خبر شو چې له همدې امله یې بندي هم کړ.

دحج په پروسه کې دايوځينئ بې عدالتي نه ده، هر چارواکي تر خپل وس ل خپل موقف څخه ناوړه ګټه اخستله په همدې ورځ خبر شوم چې دمشرانو جرګې دهغه وخت مرستيال او اوسني رئيس فضل الهادي مسلميار خپل ۸۰تنه دوستان او ملګري بې نوبته له ځان سره په یوه الوت کې افغانستان ته راوستل، دده په دې کار ډېر افغانان خفه وو.

له پښتنوسره دتبعيض دردو نه په حرم کې هم اورېدل کېدل، دګل عالم پـه نـوم يـو تـن چـې ځـان يـې اصـلاً دکابـل دسـروبي او اوس دتخـار اوسېدونکی راوپېژانده راته وويـل چې تـه مي پـه تلوېزيـون کې ډېرليدلی يې، اوډېرې سپينې اوحق خبرې کوې، نو مهرباني وکړه په کابل کې ماته هم زمينه برابره کړه چې خپلې ستونزې درسنيوله لارې چارواکيوتـه ورسوم، هغه خپلې ستونزې پيل کړې: (په۱۳۳۷هـ ل يا ۵۲کاله وړاندې حکومت پـه تخارکې شاړې ځمکې راکړې موږ په ډېر زحمت او دخولوپه تويولو داشاړې او دښتې ابادې کړې حکومت په هغه وخت کې قبالې رانکړې اوويل یې چې که اوس قبالې درکړو نو بېرته تښتئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسوته به شل کاله وروسته قبالې درکوو ،شل کاله وروسته په **۱۳۵۷ هـ** ل کې په افغانستان کې کودتاه وشوه ،مور له خلقي رژيم څخه قبالې وانه خستې،پاکستان ته مهاجر شوو ،هلته په چارسده کې اوسېدو جهاد مووکړ ،قرباني مو ورکړه،دکمونيستي رژيم له سقوط وروسته چې استادرباني په واک خېته واچوله نو زمور ځمکې او کورونه يې تاجکو او خپلو قوماندانانو ته ورکړې، اومور يې وشړلو.

هغه وايي چې يواځې زماسل جريبه آبي ځمکه يې رانه نيولې، په خپل وطن کې مونه پرېږدي او اوس هم په چارسده کې يو.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مېړه او مېرمنې مینه

دمېړه اومېرمنې ترمنځ مینه طبعي خبره ده الله ج هم ،له مېرمنې اومېړه سره مینه دخپل رحمت اووجود نښه بللې ده ځینې افغانان دخپلو مېرمنو سره مینه لري خو ځینې نور یې بیا ښاروي اووینځې بولي . خلک وایي چې عربان له ښځوسره ډېره مینه لري خوزه وایم چې ددوی مینه له عاطفي تړون او طبعي محبت څخه ډېرد شهوت داور د سړولو اړخ لري مینه به هم وي خو دشهوت اړخ یې پیاوړی دی.

افغانان دومره ددود اودستور په لوموکې ښبتي دي چې آن له خپلو مېرمنو اومېړونو سره خپله مینه ښکار ولی هم نشي،په ځانګړې ډول که دمور اوپلار پر وړاندې ورسره موسکا هم وکړي نود سپین سترګي ،بې حیا او بې شرمه ټاپې پرې وهل کېږي خو په نورو ملتونو اوهېوادونوکې بیاداسې نده،په حرم کې مې یوه ښځه اوخاوند ولیدل چې په یوه قرآن کې یې تلاوت کاوه، یوه په لاس کې نیولی اوهغه بل هم په کې تلاوت کاوه، دذوق دا وحدت ،دا وجداني همغږي، دخوښې دومره ورته والی چې په یوه سیپاره ،یوسورت،یومخ اویوځای کې دې تلاوت وشي ، یو دې دیو مخ له تلاوت وړاندې فارغ شي اوبل ته دې انتظار کوي دمینې انتها نه ده نوڅه ؟کله کله یوبل ته موسکي شي داسې هم نده چې هلته دقران عظیم الشان نسخې نشته ده ،په حرم کې دقرانکریم زرګونه نسخې پربمانه پیداکېږي خو ددوی ددې کار لامل اروایي توافق اوپخپلوکې بې کچه مینه ه ده.

همدا راز په حرم کې مو یو ځوان اندونیزیایی ولید چې دخپلې ځوانې مېرمن اوږې یې چاپي کولې.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



داختر په دریمه ډېر سخت باران وشو یو سعودی لوند خیشت له یوې بڼځې سره روان و یو چاپرې غږو کړ چې شیخه په تکلیف شوې لږ ځان هوسا کړه هغه خپلې مېرمن ته اشاره وکړه او ویې ویل چې دا راسره وي نودژوند هېڅ ستونزه راته ستونزه نه ښکاري.

دمالیزیا دپلازمیني کولالمپور اوسېدونکی شهراود چې وروسته به یې په اړه په تفصیل څه ووایو زما ملګری شو ډېر نېک او صمیمي شخص وو ماورته وویل چې نن غرمه زما مېلمه شه،خو هغه بخښنه وغوښته ویل یې چې له خپلې مېرمنې سره وعده لرم هغه راته په تمه ده له ماپرته ډوډۍ خوند نه ورکوي،ماورته وویل خیر دی دواړه زمامېلمانه شئ،خوهغه وویل چې له خپلې مېرمنې سره له مشورې وروسته به دهویانه ځواب درکړم.

## د حرم پاکي

شاهد وویل چې دحرم کچره یاپه حرم کې پیداکېدونکي او کارېدونکي توکي لومړی دټاکل شویو کسانو لخواپه ستر و پلاستیکي کڅوړوکې راټولېږي بیا داکڅوړې په کوچنیو برېښنایي ګاډو(کراچیو)کې اچوي ، داکراچۍ چې دکوچنۍ ریکشې په اندازه دي او ډرېورلري کثافت یوبل ځای کې لویوګاډو ته وړي بیاله هغه ځایه په کوچنیو مازدا موټروکې دمروه په استقامت ټاکل شوې ځای ته لېږدول کېږي اوله هغه ځایه بیا په لویو مازدا موټروکې دمنی خواته وړل کېږي هلته ورته ځایونه جوړشوي اودکېمیاوي موادو په واسطه بې له دې چې وسوځول شي، له منځه وړل کېږي .داموټر اوګاډي په حرم کې په بطریوګرځي شاهدوایي، چې داموټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



جک لرونکي دي آسانه خالي کېږي اوآسانه بارېږي شاهد دا هم زياته کړه چې د سعودي حکومت په هر ځای کې پراور بلولو سخت بنديز لګولی دی،ځکه چې په سعودي کې تېل ډېر دي او د سوځېدنې اواور لګېدلو امکان ډېر دی، دشاهد په وينا دحج په ورځوکې په هرو۲۴ ساعتونوکې شاوخوا زر موټره کچره يا کارول شوي توکي چې ډېر يې ګيلاسونه،بوتلونه اوپلاستيکونه دي له حرم څخه وېستل کېږي او دتنظيف چارې ۲۴ ساعته روانې دي، دحرم دتنظيف لپاره ځانګړې اداره ده، ټولې سيمې وېشل شوي ،نوکريوال اشخاص ۲۴ ساعته کارکوي کوم ځای چې لږ هم ناپاک شي سمدستي صافي کېږي دحرم غولی او مطاف په يوه ډول ځانګړو برس او جارو لرونکيو ماشينونو چې په ټايرونو ګرځي وينځي داماشينونه د اوبو او ځانګړې شامپو ځايونه لري او په اتومات ډول پرځمکه توېږي ،په مخکې برخه کې ځای پرځای شوي برسونه غولی وينځي او شاته تاري جارو يې صافي کوي او وچوي يې ،مطاف هره ورځ اته ،نهه بجې وينځي خوهره ورځ پکې بيروبار وي بيا دتنظيف عمليه پکې له ډېره ځايه پلاستيکي پټۍ راتاوه کړي هلته طواف کوونکي نه پرېږدي هغه ځای ژر پاک کړي بيا هغه ځای طواف کوونکيو ته پرېږدي، له بل ځايه پټۍ راتاوه کړي.

هرکال په ميليونو کسان حج ته ځي په حرم کې ډېر بيروبار وي سره له دې چې حکومت دبوټانو ،څپليو اوضروري شيانو د ايښودلولپاره زرګونه رفونه جوړ کړي دي خوبيا هم ځينې حاجيان خپل شيان بې ځايه ږدي خودتنظيف عمليه چې راشي نو هر څه چې له رف څخه پرته ايښودل شوي وي هغه که هرڅومره قيمتي شی وي په کچرې کې يې پورته کوي اوبهر يې وړي ،دتنظيف عمليې دحرم په هره برخه کې پنځه شپږځايه جوړ کړي چې ډېر دکار اوقيمتي شيان پکې پراته وي ډېر يې لاسي بکسونه او چترۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، هرڅوک چې جنس يې نادرکه شي بيايې همدلته لټوي ،دلته په هره برخه کې د اجناسو ډېرې (کوټې)وي اوهرڅوک پکې خپل جنس لټوي،خودبل جنس که هرڅومره قيمتي وي، لاس نه وروړي،اونه يې دحرم دتنظيف عمليه ځانته اخلي ،ډېرځله چې دکوم حاجي جنس ورک شي، بيا ورپسې سرنه ګرځوي اونه ورپسې ګرځي يو حاجي دبل حاجي له بيک اوسامان سره کار نلري،په مطاف کې چې څوک څه ومومي نوپورته يې نيسي ترهغې چې خاوند يې پيداشي که خاوند يې پيدانشي نو بيايې دحطيم پرديوال ږدي له هغه ځايه يې مربوط کسان وړي.

ماڅوځله شيان راپورته کړل بيابه مې دحطيم پرديوال کېښودل يوځل مې ډېر لوکس او قيمتي ګلدوزي څادر راپورته کړ ډېر مې پورته ونيوه خوخاوندېې پيدانشوپه همدې کې له کلک تېل او بيروبار سره مخ شوم دومره تېل چې هيڅ پوه شوی نه يم چې داڅادر له ماڅنګه ولوېد؟ دمکې ځينې کوڅې دکابل په څېر ناپاکه اوله کثافاتوډکې دي چې بوی يې لارويان په تکليفوي.په حرم کې دقيمتي شيانو دساتنې لپاره په هره خواکې ځانګړي ځايونه جوړ شوي دي ،په هره خونه کې سلګونه رف ته ورته کوچني صندوقونه دي چې څوک خپل جنس وروسپاري نوپه يوه خانه کې يې بند کړي،د رف کيلې (چابي)له مسؤولينوسره وي، اوده ته يې په کاغذ ليکل شوی نمبرورکړي، کله چې بېرته خپل جنس غواړي نو هماغه نمبر ورکړي اوخپل جنس تر لاسه کړي.

دپيسو ،مبايل ،پاسپورت او سروزروپه څېر قيمتي شيانو دموندنې لپاره د ابوجهل دکور ترڅنګ دورکې دفتر دی خلک چې داشيان وموميې نوهلته يې وروړي او دچاچې څه شی ورک شي نو هملته مراجعه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمسجد دننه یې خوځایه په خوژبولیکلي چې مهرباني وکړئ خپل بوټان په پلاستیک کې تاو او په خپل مخ کې یې کېږدئ.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بېلابېلې لیدنې

دحج بنسټیزه فلسفه په نړیواله کچه دمسلمانانو خپلمنځي پېژندګلوي ده،حج د اسلامي امت نړیواله کنګره ګڼل کېږي ، دحج یوه موخه داده چې دنړۍ دګوټ ګوټ مسلمانان یوبل وپېژني ،له ستونزو یې خبر شي دیوه بل له عنعناتو ،دود او دستور سره بلد شي ماهم هڅه کوله چې کم ترکمه یوځل خو  دیو هېواد اوسېدونکی راپیدا او ورسره دزړه خواله وکړم، له ډېرو سره کېناستم ، له ډېرو سره مې دزړه خواله وکړه له ډېرو سره مې دردونه شریک شول ،ډېرتکړه تکړه او با احساسه ځوانان او مېرمنې مې ولیدې، دصفا اومروه ترمنځ د مراکشۍ،المغربۍ ،تونسۍ،پاکستانۍ اوبنګله دېشۍ مېرمنو سره زماتفصیلي خبرې مو وړاندې ولوستلې له سوډانۍ نفیسې او نهال او دهغوی له ملګروسره زموږ دهراړخیز بحث څوټکي موهم درته واورول ، له ماسره دنړۍ له مسلمانانوسره داړیکوپه جوړولوکې شېرزمان هم ډېره مرسته کوله، دشېرزمان دادوهم ځل حج و خوبیاهم دخپلې خونې له ملګروسره یوځای نه ګرځېده،که تر حرم شریف به ورسره یوځای راهم غی دلته به ترې بېل شو ،هغه دباب عمرې او باب فهد ترمنځ دحرم په دوهم پوړ کې ځانته ځای ټاکلی و ډېر وخت به همدلته یواځې ناست وو ، یابه یې تلاوت کاوه یابه یې دنړۍ دکوم هېواد له حاجي سره په اشارو خبرې کولې ،هغه به راته ویل چې فارسي له خپلې نیمګړې اردو سره یوځای کوم او مخاطب پوهوم.

دکوالالمپور اوسېدونکي شهراودبن ابراهیم په حرم کې دښځوله بې حیایۍ اوبې باکۍ،له بې ځایه لاړوتوکولوسر ټکاوه، همدارازبې ځایه دنارینه اوښځینه وو پرخوب، بې نظمۍ او له احرام سره پرخوب چې کله

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله انسان بې ستره شي، دزمزم پر اسراف اوبې ځايه کارولو ،دګيلاسونو پرضايع کولو ډېرخفه وو ،هغه افسوس کاوه چې ځينې خلک وخت او پيسې لګوي خو اعظمي ګټه ترې نه اخلي.

شهراود لنډه کې ږيره درلوده، سپينه خولۍ ،سپين سان پرتوګ ،نخودي کميس يې په تن وو ،دهند دحيدرآباد دايالت دفروټ frotاوسېدونکی ځلوېښت کلن محمدفصيح الدين دمحمد رفيع الدين زوی سره مو هم بنډار وکړ.

هغه راته وويل چې په هندکې څلورسوه ميليونه مسلمانان دي خو حکومت ورسره تبعيض نه کوي هغه له مسلمانانوسره د هند دحکومت پر چلند راضي و ،هغه داهم وويل چې دهند دنفوس ځلوېښت سلنه مسلمانان دي خو حکومت داشمېره پټوي اوياځې په ۲۵ سلنه قانع کېږي.

محمدفصيح الدين ،افغان ولسمشر دامريکا سړی اوپه افغانستان کې د امريکايانوپرضد جهاد حق بولي هغه وويل چې په هرو سلو حاجيانو يو ښوونکی لرو، دذاکر نايک په اړه زماديوې پوښتنې په اړه يې وويل چې دی نايک نه پېژني اوښايي دپاکستان اوسېدونکی وي. دايواځې فصيح الدين نه وو چې داسلامي نړۍ مشهور او نوموتی عالم او داعي، نابغه ډاکتر ذاکرنايک يې نه پيژنده، بلکې ما په ډهلي او ممبيي کې له څو نورو هندي مسلمانانو سره هم ياد کړ خوپه هغوی کې هم ځينو نه پېژنده.

دپاکستان دپنجاب ايالت دچکوال ولسوالۍ دتله کنګ اوسېدونکی نواب خان دغلام غوث زوی هم دحرم په خادمانوکې و له هغه سره مې هم دچکوال دوضعيت په اړه خبرې وکړې، ورته مې وويل چې شل کاله وړاندې له کراچۍ څخه دچکوال اوتله کنګ پرلار سوات ته تللی يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه راته وويل چې د سعودي حکومت هر وخت پاکستان ته ويزې ورکوي چې خلک د حرم د خدمت لپاره راولېږي دا ويزې وړياوي خو ايجنټان (استازي يا نماينده ګان)يې پلوري، هغه وويل چې دا ويزه څلور مياشتې وخت لري او تېرکال په ۵۵۰۰ او سږکال په ۲۵۰۰ کلدارو پلورل کېدله نواب وايي ما هم همدا ويزه واخستله او حرم ته راغلم ددې تړون له مخې به دوی څلور مياشتې د حرم خدمت کوي نو د دوی ټول لګښت لکه د الوتکې دواړو خوا او و ټکټ خوراک، څښاک، ځای او هرڅه د سعودي په حکومت دي او هره مياشت ۵۰۰ رياله د جيب خرڅ هم ورکوي دی وايي چې د دوی ګټه داده چې نور په درې لکه او دوی په ۲۰۰۰ کلدارو حج کوي او د حرم خدمت خود ځان لپاره ببل وياړ او نېکمرغي بولي .دده په وينا دده وخت د ۲۰۱۰ دد سمبر په نهمه پای ته رسېږي ،نواب خان په خپل وطن کې ډربوري کوي.

نواب خان دا هم وويل چې دلته د حرم د خدمت د کمپنۍ مشر سعودی دی او نور ټول کارکوونکي يا پاکستانيان يا هنديان او يا بنګاليان دي، خو او يا سلنه يې پاکستانيان دي هغه وويل د زمزمو د ترموزونو کارتر نورو درونددی يوازې پاکستانيان دا کار کولی شي،نواب زياته کړه چې د حرم کار درې شفټه دی ،او په هر شفت کې کم ترکمه دوه زره تنه خدمت کوي د نواب دوی دا کار له باب العمره څخه تر باب الفهد پورې د زمزمو د ترموزونو څارنه يا تش ترموزونه وړل او ډک راوړل دي.

د دوی او د مطاف ترمنځ يوه بله برنډه هم ده خو په دې برنډه کې د زمزم لپاره ترموزونه ،نه بلکې هلته نلونه دي دده په وينا ، له يوې دروازې تربلې د ترموزونو په برنډه کې ۱۴ تنه او د نلونو په برنډه کې ۵ تنه توظيف دي کله چې په حرم کې د ماسخوتن لمونځ په جماعت اداشي، نو ډېر خلک

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو خونو ته ځي او پر سړکونو ډېر بیروبار وي په کوم اوږد پله چې موږ تللو ډېر پراخ او دوه سړکه وو او د ترافیکو پرمخ به هم تړلی وو خو بیا هم دا زدحام له کبله تګ پرې د مېږي پرپښو و یو ځل د لته له یوې داسې ځوانې تورپوستې سره مخ شوم چې الله ج د بدرنګۍ بشپړه نمونه پیدا کړې وه ،ما ویل راځه د نړۍ د بدرنګې په توګه یې یو انځور واخلم بله موخه مې د خپل دیو تروورزي ځورونه وه.

دهغه مېرمن هم لږه توره ده ما ویل راځه که ددې انجلۍ عکس (انځور)دې واخست ،هغه ته به ووایې چې په مکه کې مې ستا خینه ولیده، او دایې عکس دی، خیر کېمره مې راواخسته، له حدځخه ډېر بیروبار و وېرېدلم چې که ددې انجلۍ عکس واخلم ښایي دا اویا یې بل څوک بده و مني ، په غم به ککړ شم،خیر جرئت مې وکړ په عربي مې ترې اجازه وغوښته په خندا شوه ماهم ددې داموسکا ددې پر خوښه تعبیر کړ څو انځورونه مې ترې واخستل.

په بله شپه په همداسې بیروبار کې ورو- ورو روان یو چې پر یوې لوړ قدې او چاغې ښځې مې سترګې ولګېدې ښځه دومره لوړه او دومره چاغه وه چې خپله خپل مثال کېدلی شو اوبس. ځان مې ورنږدې کړ، ځوانه خو تور پوستې وه، په بخښنې سره باید ووایم ،تیونه یې دومره غټ وو چې په اوږو پورې یې تړلي وو ،په ډېرې حیرانتیا مې ورکتل هغه هم زما په حیرانتیا او هغې ته په ځیرکتلو پوهه شوه ښايي پاکستانی او یا هندی به ورته ښکاره شوی یم په ډېر خاص انداز، دطنز په لهجه اوفلمي ډایلاګ یې دکړس کړس خندا په ملتیا راته وویل (کیاهوا)له دې وېرې چې دنورو پام راته راوانه وړې ژر مې سترګې واړولې خو دې بیاهم په هماغه اندا ز وویل (کیاهوا)؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکینیا دپلازمیني کوناکري له اوسېدونکي ۲۰ کلن محمدیوو صالحو جالیوسره موهم خبرې وکړې،هغه راته وویل چې دافغانستان جهاد په تلوېزیون کې وینو او برياته یې دعاکوو.

دختیځې افریقا داړوند هېواد تانزانیا له یوه اوسېدونکي سره موهم بنډار وکړ شېرزمان ترې دهاغه کوچني نابغه چې د ۱۹۹۳ او ۱۹۹۵ کلونو په منځ کې یې شهرت وموند پوښتنه وکړه خو اوس ترې خبرنه وو.

دحج په ټول موسم کې مې دنایجرله یوه اوسېدونکي اسماعیل سره ژوره او دزړه له درده ډکه خواله وکړه،

څه چې ماغوښتل پرې واوښتم اسماعیل ویښ ،هڅانده، صابر نشیط پرخپل ولس او اسلامي نړۍ دردېدلی ځوان وو، هغه دسوداګرۍ له پوهنځي څخه فارغ اوکوچنی سوداګر وو.

یوه ورځ مې دمازیګر له لمانځه وروسته دوه طوافه وکړل له طوافونو وروسته شېرزمان خپل درياضت ځای ته بوتللم ،هغه ځای چې دده عزلتګاه او دراز ،نیاز تفکر اوتدبر ځای وو ،هماغه دده دناستي همېشنی ځای.

په همدې وخت کې یو تور پوستی ځوان راغی زموږترځنګ کېناست، له سلام وروسته مې ورسره دخبرو تنسته پرانسته، ډېره ښه انګلیسي اوڅه ناڅه عربي یې زده وه، خپل نوم یې اسمعیل او دنایجراوسېدونکی راوپېژنده.

هغه راته وویل چې ځینې خلک دنایجر او نایجریا توپیرنه کوي موږ دنایجر یو چې ۹۹ سلنه خلک یې مسلمانان دي او دافریقا په لوېدیځ کې پروت دی دنایجر خلک غریب خوپر اسلام کلک ولاړ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خودنايجريادنفوس يواځې نيم وګړي مسلمانان دي، هغه زياته کړه: (موږ ډېر نېستمن خلک يو چې حج ته راځو اړيو چې اوه کاله ورته سپماوکړو ،زموږلوړ عايد دمياشتې درې سوه ډالر دی چې ۲۵۰ دکور دلګښت لپاره کاروو او ۵۰ډالره بچت کوو، کله چې حج ته راځو نو دولت ته څلورزره ډالر تحويلوو ، موږ پنځلس ميليونه نفوس يو دحج سهميه مو يونيم زر تنه ده خوزموږ په هېواد کې له يونيم زرتنوسره دحج وس نه وو همدا لامل دی چې سږ کال دولس نيم سوه تنه راغلي يو، امريکا او اروپا راسره دخپلو موخولپاره مرسته کوي خو اسلامي نړۍ په ځانګړې ډول سعودي ،مصر،ليبيا ،او ايران راباندې خپلې دروازې تړي او مزدوري ته مو هم نه پرېږدي،زموږيوهېوادوال په قانوني توګه له پاسپورت اوويزې سره لېبياته مزدورۍ ته تللی و خودقذافي عسکرو ونيوه ويې واهه اوچې وږی شو نو خپل پاسپورت يې پرې وخوړ،اوس موږ خپلو پنځه نوي سلنه کوچنيانوته خپلې مدرسې نلرو، هره ورځ مو دين کمزوری کېږي ،کفار راکې کار کوي او شتمن سعودي او مصر مو ننداره کوي،عرب ،شيخان بايد موږته ددين دزده کړو زمينه برابره کړي ،مدرسې او دارالحفاظونه جوړ کړي،حافظانو او ددين طالبانوته مکافات ورکړي ددين زده کړوته يې وهڅوي پرموږ کې دين مري، دعربو شيخان دوه زره ډالر دحفظ ديوې حلقې لپاره نه راکوي، خو دسعودي شاه دوه کاله وړاندې مايکل جکسن ته ديوې نڅا لپاره څو ميليونه ډالر ورکړل، زما پلار ديني عالم دی خو زماقرانکريم ندی زده آن ناظره يې هم تلاوت کولی نشم، که مسلمانان په رښتيا هم ورونه وي او داسلام او ورونو ګټه او دفاع فرض وي نو په نايجر کې خو اسلام دنړېدلي کمر پر سر دی،ولې يې دنفتوپه پيسو په خرمستۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ډوب عربان نه ګټي؟ که دوی خپل نيم زکوة هم موږ ته راکړي زموږ اقتصاد رغيږي، او د مسيحي نړۍ له احتياجه خلاصيږو.)

اسماعيل اسامه ته هم د شک په سترګه ګوري وايي : (اسامه د سي آی اې ايجينټ دی، د سپتمبر ديوولسمې پيښې د امريکا په خوښه وې، واک ته د بوش په رسولو کې اسامه لاس درلود. اسامه ځکه د سپتمبر ديوولسمې د پيښو پړه ومنله چې امريکا دلته راشي ،طالبانو اسلامي حکومت جوړ کړی و په افغانستان کې سوله وه، روسان مات وو خو اسامه دا هر څه ګډوډ کړل، او د امريکا پښه يې دلته راکش کړله چې اوس هره ورځ افغانان وژني)

اسمعيل خپل ايميل ادرس هم راکړ او ويې غوښتل چې له يو بل سره د وامداره اړيکې وساتو.

د پاکستان د پښتو نخوا ايالت د مردان د ولسوالۍ د هوتي او سېدونکی حاجي خان زرين راته ويل چې حکومت ترې ۲۴۰۵۰۰ کلداري اخستي دي خو په همدې پيسو کې دري وخته ډوډۍ هم ورکوي عماره يې هم حرم ته ډېره نږدې د مکې معظمې له کتابتون يا حرم ته نږدې د رسول الله ص د زيږيدو له ځای سره ده، قدر او عزت يې ډېر دی. افغان حکومت هم له حاجيانو له دې ډېرې پيسې اخستې دي، خو نه ډوډۍ ورکوي، نه مناسب ځای نه کافي اوبه.

يوه ورځ سحر د تهجدو په وخت کې حرم ته لاړم له ما څخه په مخکې صف کې يوه اندونيزيايي په لمانځه ولاړه و ،سجده يې دومره اوږده کړله چې ما ورسره اته رکعته تهجد وکړل ،ترڅنګ يې يو ځوان ناست و، بيا پاڅيده څو رکعته لمونځ يې وکړ.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لمانځه وروسته یې له سر څخه حجاب اخواکړ، وبښته یې چې لږ ښکارېدل هم په سره تړوته کې تاوکړل،لمونځ یې په ډېره مینه،خشوع اوخضوع وکړ،خوب ورته ،پریخ زمزم یې څوځله مخ اوخنګلې ووینځلې،ښې ډېرې یې وڅښلې زه هم تږی وم زمزم ته راغلم راسره مخ شوه،ورته مې نه کتل خوزړه مې فتوا راکړه چې ددې دینداری مخ ته کتل ثواب دی،ښکلی تک سپین نوراني مخ یې و، دنورو اندونیزیایانو برعکس دمناسب اندام اولوړې ونې درلودونکې وه، زماتول پام همدې ښځې ته و، لمونځ اوعبادت هغې کاوه خو خوند یې ماته راکاوه.

یوماښام راسره دچین دګانزواایالت اوسېدونکی عبدالاحمد دقربان نیازي زوی په اشارو ډېرې خبرې وکړې،هغه خپل عمر ۵۸کاله وښود،په عربي ،اردو ،پښتو او فارسي هغه نه پوهېده،اوپه چینایي ژبه زه نه پوهېدم.

عبدالاحمد ،په انګلیسي هم پوره نه پوهېده خو زما دیوې پوښتنې په ځواب کې یې زما یادښت په کتابچه کې پخپل لاس ولیکل،چې (muslims in china) ۱۰۰،۰۰۰۰۰ یعني،په چین کې لس میلیونه مسلمانان شته دي.

له چینایي عبدالاحمد سره خبرو خوند راکړ ،هغه چینایی و خونوم یې چینایانوته ورته نه و سم زموږ په څېر افغاني او اسلامي نوم و. غوښتل مې چې دنیازي دپسوند لامل ترې وپوښتم خو په ژبه نه پوهېدو له ده سره په خبروکې هره شپه راته خپل ماما حاجي امرالله سترګوته ودرېده، ماویل کاشکې دلته وای چې زما خبرې یې هغه او دهغه خبرې یې ماته ژباړلې وای،حاجي امرالله په چین کې له یوې انجنیرې سره وپېژندل ،پېژندنه ژوره شوه په دوه طرفه مینه واوښته،چینایۍ دده په هڅو مسلمانه شوه، وېښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودینداره مسلمانه، باحجابه اوتر موږ متدینه مسلمانه. دګڼ ژوندثمره یې دوه زامن دي چې پر یو یې، دجلیل القدره او غسیل، الملایک صحابي حضرت حنظله او پربل یې د الله ج دتورې ( سیف الله خالدبن ولید ) نوم ایښی دی، اورېدلي مو دي چې چینایي سخته ژبه ده خوحاجي امرالله په سپینه ږیره دومره ژر یاده کړه ،چې سړی ورته حیران شي ،له ماډېر مشر دی، خوکله کله ورسره ټوکې کوم چې میني پرفرهاد غر سوری کړ پرتا خوبه یې خود ژر ژرچینایي ژبه زده کوله.

دترکیې دقونیې ۳۵کلن اوسېدونکی علي خیری چلک بل ځوان وو چې ډېرې خبرې مو ورسره وکړې، چلک ډېرذهین په سیاست پوه اوداسلامي نړۍ په درد دردمند ځوان ود مولنا بلخي ځوبیتونه یې راته واورول، هغه راته وویل چې په نړۍ کې ۵۲اسلامي هېوادونه دي خو مشران یې د پردیو ګوډاګیان او بې اتفاقه دي هغه وویل که اسلامي هېوادونه پر اسرائیلو لاړې هم توکړي نو اسرائیل به ډوب کړي هغه وایې یواځینی سړی چې داسرائیلو لومړي وزیر شیرون ته یې په اروپاکې مخامخ شیطان وویل هغه طیب اردوغان و.

چلک وویل چې ځوځله دلوېدیځ اقتصاد ولوېد خو کوېټ، دوبۍ، سعودي او مصر لوړ کړ،هغه داسلامي هېوادونو د چارواکیو په بې اتفاقۍ ډېر وژړل،او دهغوی عیاشي یې د مسلمانانود بربادۍ لامل وباله.

ده هم اسامه دامریکا سړی وباله،ویې ویل چې هغه امریکا ته زمینه برابروي چې اسلامي هېوادونه ونیسي، اوویې ځپي، ماداسامه ننګه وکړه، ورته مې وویل چې امریکا خو سعودي ،عراق ،کوېټ ،یمن، او نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي هېوادونو ته تر اسامه وړاندې راغلي وه. هغه حکمتیار، ربښتوني او زړور مجاهد بالله.

ماورته وویل چې مصطفی کمال، اتاترک خو هم سیکولر او د پردیو ګوډاګی و، زما خبر یې ډېره تائید نکړه،خو په زغره ده یې رد هم نکړه.

له یوبل ۵۰ کلن ترکي سره مې چې د استانبول اوسېدونکی واوپه خپله شین رنګه بنین اوتور رنګه دریشي کې ډېرښه ښکارېده، د عزیز نسین په اړه خبرې وکړې، خو یوبل مو سم پوهولی نشو.

عزیز نسین نه یوازې دترکیې، بلکې په نړیواله کچه طنز لیکونکی و، دهغه دسیاسي طنزونویوه نامتو ټولګه خرمړی( ډیډه ډانکي) مې چې ډاکټر فرید بزګر ژباړلې وه ۱۵ کاله وړاندې لوستې ده اوس یې هم لولم اوچې هرځل یې لولم نوخوند راکوي. عبدالاحمداو چلک دواړو خپل ایمیلونه راکړل، او په راتلونکې کې یې داړیکې په ساتلو ټینګار وکړ.

ماښام یوبنګله دیشي انجنیر سره مخ شوم، هغه راته وویل چې دده معاش دېرش زره او دمېرمنې یې پنځوس زره ترکې tkدی ځکه چې دمېرمن زده کړې یې له ده لوړې دي، دوی دحج لپاره ۲۲۸۰۰۰tk چې ۳۲۷۵ډالر کېږي حکومت ته ورکړي دي او ددرې وختـه ډوډۍ پـه شمول لګښت یې پر حکومت دی.

## د حاجیانو ځینې بې نظمۍ

په کوم ځای چې دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه شاوخوا ۲میلیونه تنه چې هم لوستي اوهم نالوستي هم مهذب او هم غیر مهذب ،هم ښار میشتي او متمدن او هم غیر متمدنه ،دبېلابېلو کلتورونو ،دودونو اودستورونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوندان راځي نو هرو مروه ده چې بې نظمۍ جنګ او جګړې به وي خو الحمدلله مکه د امن ښار دی ،د سولې میني او محبت ښار دلته هېڅکله هم ما ـ له یوځل پرته چې د حراپه غره کې دوه تنه لاس او ګرېوان وو ـ آن سوک ،څپېړه هم نده لېدلې ،ګیلې او ناندرې وې، په ځانګړې توګه په مطاف او دحجر اسود دښکلو په سیالۍ کې ټېل ماټېل. کله کله چیغې اوفریاد هم وي خو وهل ،ټکول ،ښکنځل دیوبل توهین نشته دی.

دلته دبېلابېلو مذاهبو خاوندان او اتباع راځي،په یو مذهب کې یو کار روا او دبل په مذهب کې نا رواوې خو یوبل زغمي او دکفر ټاپې پرې نه لګوي،کله کله داسې یو کار هم ولیدل شي چې په یو مذهب کې هم روانه وي،شاهدراته وویل چې ځینې پښتانه اوعام افغانان، په طواف کې هم نسوار اچوي او بیایې آن په مطاف کې دکعبې تر څنګ غورځوي، هغه پر دې کار ډېر خفه او دیوپښتون په توګه شرمنده وو ،یو ماښام یو بنګله دېشي، سره له دې چې اوبه او وخت پرېمانه و او ناروغ هم نه ښکارېده، په صف کې تیمم وکړ .ماورته په اردو وویل چې وروره لمونځ دې نه کېږي ورشه اودس وکړه هغه په بنګالي ژبه څه وویل خوزه پرې پوه نشوم، هغه سپین ږیری او لنګ یې ترلی و.

په مطاف کې په لومړی صف کې، په ځانګړې ډول د ملتزم او باب الکعبې لورته ځای نیول ډېر سخت کار دی،ډېرو خلکو ته له ډېر زحمت او ټېل ماټېل وروسته هم دا ویاړ نه وربه برخه کېږي، کله چې صفونه تړل کېږي نو خلک له یو بل سره لاسونه ورکوي، او پنجې خوپرېږه ددې لپاره چې دټېل په وړاندې مقاومت وکړي او څوک یې ځای ونه نیسي له یوبل سر څنګلي په ځنځیري شکل تړي، یوه ورځ یوه پښتون سپین ږیری چې ژبه او جامه یې دکندهار وه راغی له خلکو یې وغوښتل چې خپل لاسونه لږ خلاص

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او ده ته لار ورکړي چې بهر لاړ شي کله چې هغوی ځنګلي خلاصې کړې سپین ږيری صف ته ننووت نو ددې پرځای چې بهر لاړ شي نېغ په صف کې دهغه چاپرځای ودرېد چې ده ته يې لار ورکړې وه، هغه بېچاره چې ولیدل خواری يې اوبو وبوړې، او په نورو صفونوکې هم ښايي ځوک ځای ورنکړي نو جنجال يې پيل کړ، غالمغال شو پوليسان چې په حقيقت خبر شول نو دی يې له صف څخه وويست ،بېچاره اخوا دې خواکتل خو د پوليسانو زړه پرې ودرد بده ،سپين ږيری و رايې ووست او په لومړي صف کې يې ښه ځای کې ودراوه.

سبا ماښام زه بيا هملته وم ګورم چې دې سپين ږيری بيا هماغه چل وکړ، خوداځل پوليسانو هم وپېژنده يا به ښايي ده داکار ډېر کړی و نو پوليسانو له صف څخه وويست او بل چېرې يې هم ځای ورنکړ، يوځل په حرم کې پر تشنابونو بيروبار وو ،موږ نوبت ته ولاړ وو په همدې کې يو تور پوستی ځوان چې لايې نوبت ته ډېر وخت پاتې ود ګڼو خلکو په مخ کې په سالون کې پر توغانښ خلاص کړ، پرتوګ يې خلاص په لاسونوکې ونيوه او نوبت ته منتظر وو ،يو بل تور پوستی په جماعت کې له ما وړاندې په صف کې ولاړ و يو ناڅاپه يې دلمانځه په جريان کې مخکې منډه کړه لږ وروسته بېرته راغی او په خپل ځای کې درېد.

يو بل ماښام له خونې څخه حرم ته روان يم ،حرم ته نږدې له پله سره يو تور پوستی په داسې حال کې چې په سړک سلګونه خلک روان دي د سړک پرغاړه پرتوګ ښکته کړ او استنجا يې پيل کړه، عورت يې ټول ښکاره شو کله چې له استنجا او اوداسه څخه فارغ شو نو ورغلم په ډېره نرمه لهجه مې پوه کړ، ژمنه يې وکړه چې بيا به داسې نه کوي، مولوي احمدي وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ما ولیدل یو تور پوستي دملک فهد ددروازې دننه په داسې حال کې چې ډېرو خلکو ورته کتل په زمزمو استنجا وکړه.

یوې ښځې په حرم کې خپل ورنونه لوڅ کړي وو ،یوې مراهقې انجلۍ سرلوڅی طواف کاوه، یوې بلې ښځې غوښتل چې حجراسود ښکل کړي خو په تېل کې داسې راګیره شوه چې څادر یې له سرنه ولوېد، چیغې او فریاد یې پیل کړ ،په چیغو چیغو ژړایې پیل کړه ،نږدې وو چې تر پښولاندې شي.

یو ځل دجمعې په ورځ چې لا زوال هم نه وو شوی له غرمې مخکې لس باندې یوولس بجې په جروال کې اذانونه واورېدل شو.

د ۱۴۳۱ هـ ل د ذوالحجې په شلمه مازیګر حجراسود ته ورنږدې شوم خوپه همدې وخت کې یوه انجلۍ هم رانږدې شوه اوس نو زه او هغه تر ټولو وړاندې وو او مقابله زماادهغې وه خو زه پرې زورور شوم،کله چې ما حجراسود ښکلاوه نو تېل هغه لېرې ببولې وه، کله چې له حجر اسوده را وګرځېدم نو جنګ یې راسره پیل کړ اوخپله غوسه یې رابانـدې سړه کړه،یوې بلې هم په حجر اسود پسې دلېونۍ غوندې حملې کولې پولیسو منع کوله خو نه منع کېده، یوتن سپین ږیری د سحر په لمانځه کې بې اوداسه شو، داوسپنې په جالۍ یې تیمم وکړ خونه یې لستونې ښه وهل اونه یې لاس پرمخ سم راکش کړ، دستي ببرته په لمانځه ودرېد.

په حرم کې له چاسره د ارایشي اوجنسي غرایزو فکر نه وي خو بیاهم ،کله کله پدې اړه بې نظمۍ لیدل کېږي یوه ورځ مې حرم ته نږدې یوه تور پوستې ولیده چې ډېر غلیظ ارایش یې کړی وو په لاندې شونډه یې ګلابي اوپه پاس شونډه یې سور لب شرین وهلی و په سترګویې هم ډېره خواري کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دځينو تور پوستو لاسونه ،څنګلې آن تر اوږو ښکاري دځينو لستوڼي دومره لنډوي چې آن تخرګونه يې ښکاري سعوديانې له کوره بهر ډېره درنه جامه او حجاب کاروي ، ښځينه متواګانې خو آن په سترګو عينکې ،پرېښو جرابې او پر لاسونو دستکشې اچوي خو شاهد راته وويل چې سعوديان په کور دننه ډېره لنډه ،نرمه ،نازکه او نښتې جامه کاروي،دځينو فېشن او جامې ته آن اروپايانې هم نه رسېږي خو موږ له داډول جامو سره څوک ونه ليدل .
شاهد وايي چې عربان ډېر کبر جن دي هغوی داسې انګېري چې حج ته دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه خلک راځي په دوی کې په ساري او نورو ناروغيو اخته خلک هم وي نو له همدې وېرې دحج په موسم کې بهرنه راځي چې په ناروغيو اخته نشي.

هغه تور پوستې چې پرسړکونو دوکانداري کوي خپل حجاب اوعورت ته ډېر پام نه کوي ځينې ښځې دعمومي سړک پرسر خپلو کوچنيانوته تيونه راوباسي اوسم نيم يې ښکاري.

ځينې ښځې له خپلو کوچنيانوسره مطاف ته د طواف لپاره ورځي چې په تېل کې خپله هم بې ستره شي او کوچنی يې هم په تکليف شي او ژاړي.

دحرم په سالون کې ښځوته له نارينه وو سره اوږه په اوږه دلمانځه اجازه نشته او متواګانې ښځې له نارينه وو بېلوي خو بياهم په هر لمانځه کې لسګونه ښځې له مطاف څخه بهر او يا يوارخ ته له تللو انکار کوي اوله نارينه ووسره اوږه په اوږه لمونځ کوي.

دحج په مراسموکې ډېر منظم ،دسپلين او حجاب لرونکي خلک دفلسطين ،ترکيې او ايران دي او ډېر بې نظمه بې حجابه او بې بندوباره تور پوستي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې تور پوستي ځوانان او ځوانانې لوړ قدي ،قوي او چاغ دي په طواف کې د هېچا پروا هم نه کوي.

ډېر خلک داسې هم شته چې په لمانځه کې ورته په صف ځای پیدا نشي، جماعت ودرېږي او دی بیا اخوا دېخوا دلمونځ کوونکیو په مخ کې ګرځي او په مطاف کې هم له جماعت څخه بې برخې شي دوی نه پوهېږي چې دبیروبار په وخت کې آن دبل چاپر ملا هم سجده رواده، دکعبې ترڅنګ په مطاف کې چې کله جماعت ودرېږي نو متواګان لومړی،دوهم ،دریم او ځلورم صف او دامام ځای ښه پاک کړي،په همدې صفونو کې عطر او کاغذي دستمال هم وېشي چې فضاورېمه ایزه اوپاکه شي.



tahrik.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښځینه دوکاندارانې او سوالګر

سره له دې چې د سعودي او دېرو عربي هېوادونو اقتصاد ښه دی خو بیا هم نېستمن په کې ډېر دي ، سعودیان الله ج په سخت ازموېښت کې نیولي دي، دحضرت ابراهیم ع په وینا ، هغه بې اوبو او بې وښو دښته یې چې مرغۍ او ماران پکې جل وهي ورته په ثاني جنت بدله کړې ده ، دځمکې لاندي یې پربمانه تور زر(نفت)پیدا کړي او دځمکې له پاسه یې ورته تر الماسو ،یاقوتو اوزمرودو ګران بیه حرمین ورکړي دي، پوه نه یم چې داخبره به څومره رښتیاوي خو د دینارخېل په وینا چې له یوې رادیو څخه یې اورېدلي سعودي هرکال د حج په پروسه او دعمرو له لارې د پرش میلیارده ډالر ګټې ،دتیلوخو دومره ارزاني ده چې څو ځله مې له موټر چلوونکیو واورېدل چې په یو ریال درې لیټره ورکوي، یو افغان ملګري مې چې هملته کاروبار کوي راته وویل، کله کله موږ داوبو پر هغه بوتل چې دوه ریاله بیه لري له تېل پلورونکیو څلور یا پنځه لیټره تیل اخلو.

دنړۍ دمیلونرانو ډېر شمېر هم په عربي نړۍ، په ځانګړې توګه په خلیج هېوادونو کې دی. یوځل په هند کې یو عرب راسره په یو هوټل کې برابر شو ،دهوټل شاګرد ته یې د سګریټو راغوښتلو لپاره دهندي کلدارو زرګون چې هغه مهال تري یوزر اوپنځوس افغانۍ جوړېدې ورکړ ،دهوټل مستخدم ورته دپنځوسو روپیو سګرېټ او ۹۵۰ کلداري ونیوي،عرب سګرېټ واخستل اوپه ډېر متکبرانه لهجه یې ۹۵۰ روپۍ وروغورځولې ورته یې وویل چې ته خو زما توهین کوې، زه درته دومره وړې ښکاره شوم چې دمستخدم په لاس کې پاتې پیسوته به لاس اوږد وم؟، دا پیسې ستاشوې اوخپل جېب کې یې کېږده. خو په همداسې شتمنو هېوادو کې دنېستمنو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوالګرو کمی هم نشته دی دا سوالګر ټول د سعودي ندي خوله شک پرته دعربي نړۍ او سېدونکي دي،دننه په حرم کې خوځوک سوال نه کوي خو له حرم اومسجده بهر به دا سې کوځه او سړک نه وي چې د سوالګرو کتار دې پکې نه وي.ځینې سوالګر واقعاً محتاج اومعیوب وي دا سې بې لاس اوپښو معیوبین په وګوري چې یوا ځې سر اوسینه او کوناټې ورته پاتې وي ځینې سوالګر سړی ډېر په تکلیف اوآن په غوسه کړي.

پرهر سړک به انجونو او هلکانو ځادرونه غوړولي اودلارې پرسر به یې اوږد بازار جوړ کړی وي، کله کله پولیس راشي او شړي یې، خو د پولیسو وس نه رسېږي ځکه چې دا ښځې او انجونې ډېرې تکړه دي اوکله کله چې پولیس ووینې خپله سودا شاته واچوي او منډې وهي کله چې پولیس وړاندې لاړ شي خپل ځادر او سودابېرته هواره کړي. په دې دکاندارو انجونو کې ډېرې ښکلې هم وي او دهیڅا هم پرې داډول دوکانداري او سرګرداني پېرزونه وي، دمشتریانو دجذب لپاره یې په خوږبو حساب زده کړی وي په عربي،انګلیسي، اردو ،فارسي ،ترکي او نورو ژبو دسامان بیه اعلانوي.

یو شي چې موږ یې ډېر حیران کړي وو داوو چې ډېرو دوکاندارانو به چیغې وهلې (ریال ګومه،ریال ګومه،ریال ګومه)موږنه پوهېدو چې دده مطلب څه دی، مابه خپلو هراتي ملګروته په ټوکو ویل چې دوی ستاسو په لهجه خبرې کوي تاسو (ګم است) نه وایئ بلکې لنډېز کاروئ او (ګومه)وایئ دوی هم وایي چې (ریال ګومه یعنی ریال ګم است یاریال ورک دي). دوی هم خندل او ویل به یې چې الله ج دې انصاف ورکړي داخو ټول اوهره شېبه چیغې وهي چې (ریال ګومه)نوله دوی ټولو ریال ورک دي، بیا وروسته پوه شوم چې دکوم شي بیه به لس ریاله وه ، نو دوی به ویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریال ګومه،دوی به د ج تلفظ ګ کاوه بیابه موچې ریال ګومه واورېدل نو زموږ شوخ او ځوان ملګري سلیمان به ویل (اینه خانه خراب باز ریاله ګم کده.)

ځینې کوچني او ښځینه سوالګرې سړی له لمن او لستوڼي ونیسي او چې تر څو یې ترې پیسې نه وي اخستې نه یې پرېږدي.

شاهد راته وویل چې د سعودي حکومت څوځله دا سوالګر او دلارې د سړک دوکانداران ونیول او د سعودي له پولیې واړول خو په دریمه یا څلورمه ورځ بیاهماغه خلک په مکه کې لیدل شوي چې درې ورځې وړاندې وېستل شوي دي ،دوی د نایجریا او د نورې افریقا دي.

د سعودي بازارونه ټول له چینايي توکیو ډک دي.

یواځې جاینمازونه ترکي دي ،نرخونه له کابل او پېښور څخه لوړ دي یو چلتار او یو جوړ عربي جامې مې خوښې او خپل زوی رشاد ته وپېرلې په دې چلتار او جامويې (صنع في پاکستان یا په پاکستان کې جوړ شوي )لیکلي وو ، یوتن سوالګر چې لمر تک تور اړولی وو خپل سپین کمیس وېستلی وو ټول بدن یې غوټې غوټې وو ، غوټې یې د کچالو په اندازه وې، په لیدو یې هرچاتوبې وېستلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library





www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حج او اوقافو د وزارت درغلي او بې غوري

دافغانستان دحج او اوقافو وزارت داڅوکاله پرلپسې دحج په اړه له رسوایۍ سره مخ کېږي داسې فکر کېده چې ددې وزارت دوزیر په توګه دمحمد یوسف نیازي له ټاکل کېدو سره به دا ستونزې او درغلۍ راکمې شي خونه یوائې داچې دا ستونزې او درغلۍ کمې نه شوې ،بلکې لاهم ډېرې شوې، داستونزې، په یوه برخه کې نه ،بلکې په هر برخه کې ډېرې شوې، دمعلمینو ،عمارو ،ترانسپورت ،لېږ رالېږد ، نظم ،دسپلین ،روغتیا ، دارو درمل ،قربانۍ ،عرفات،مزدلفه ،منی ټولو په برخو کې وې

.

وزارت ډېر معلمین په واسطو اوبډو نیولي وو ،چې پخپله پرڅه نه پوهېدل ،په خلکو یې دصفا اومروه ترمنځ سعې د ۷پرځای ۱۴شوطه کوله.داسې حاجیان هم وو چې خپل معلمین یې له سره نه پېژندل ،همدا دمعلمینو دنه همکارۍ لامل وو چې ځینو حاجیانو خپل مراسم سم ترسره نکړل ،په ډېرو دم واوښت ډاکټر ناصر اوپه مکه او مدینه کې ګڼو حجاجو څوڅوځله راته وویل چې دوی خپل معلمین آن دوه ځله هم ندي لیدلي،کوم معلمین چې د ازموینې له لارې راغلي اوبې واسطې دي نو هغوی تکړه دي خوپه واسطه او رشوت راغلي معلمین بې خونده او ناپوه دي.

معلم صاحب میرزمان راته وویل چې دننګرهار دحج او اوقافو درئیس ملا ساجد لخوا معرفي شوي ډېر معلمین په رشوت او واسطو راغلي اوناپوه ،ناخبره اوبې خونده دي ،هغه وویل چې ساجد دوی ته د سرشاهي فضل الرباني حکیم صاحب،معلم ټاکلی او آن دننګرهار دټولو معلمینو مشر یې ټاکلی خودوی هېڅکله لیدلی هم نه دی.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهنتون په دوره کې زما ټولګیوال د ننګرهار ولایت د سره رود دولسوالۍ د ککړک د میاګانو او سېدونکي محمد خالد هم د معلمینو په ډله کې وو یوه ورځ هغه خپلې خونې ته وبللم دده خونه په ۱۵۳ عمارې کې وه، له ده سره په خونه کې نور معلمین مولوي حمید الله، غلام دستګیر، محمد ظریف، لعل محمد، عبدالمالک، خان محمد او نور ملګري وو.

له مولوي حمیدالله سره مې په یوه صف اویوه اقتداکې د نارینه او ښځینه وو د لمونځ حکم په حنفي مذهب کې وڅېړه، هغه وویل چې افغان علماوو دامت د اجماع لپاره په حرم کې داکار روابللی ځکه چې که نارینه او ښځینه له یو بل څخه بېل شي نو بیا ورکېږي همدا راز د صفونو او لمونځ کوونکیو په مخ کې تېرېدل یې هم د تکلیف د پورته کولو لپاره روا بللي دي ځکه چې که داکار ونشي نو بیروبار جوړېږي او لارې بندېږي.

له خالد سره مې د ځینو معلمینو په سستۍ، بې سوادۍ او بې غورۍ بحث وکړ، هغه هم د ځینو په اړه داخبره ومنله خو ویې ویل چې ده او ملګرو یې په اخلاص کار کړی دی، خالد راته وویل چې د دوی په ملګروکې د دوی په هڅه نه پرچا دم اوښتی، نه څوک ورک شوي دي، نه له چا حج اویا یې مناسک خراب شوي حاجیان یې په عرفات، مزدلفه او منی کې لاس په لاس ګرځولي دي. خالد وګوابنلم راته یې وویل چې که په خپل یونلیک کې دې راپسې ناوړه شیان ولیکل نو خراب به دې کړم، ماورته وویل نور خودرپسې څه نه لیکم خودا لیکم چې، نیم ساعت کېږي چې یوه د زمزم بوشکه په پلاستیکي لفافه کې تاوولې او تړلې نشې نو نور کارونه به دې څنګه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هغه له دې ليکلو سره هم موافقه ونکړه،ويل يې چې که دا دې هم وليکل نو خراب به دې کړم.

زموږ د شرکت د معلمينو داستان خومې وړاندې درته واوروه.

د حج او اوقافو وزارت د بعثې غړي چانه ليدل اونه له حاجيانو د ستونزو پوښتنه وه، که د کوم شرکت کارونه پلټل کېدل هغه هم نمايشي او د شرکت له مسؤلينو د ډاليو او پيسو د اخستلو لپاره وو. د بعثې غړي د ذوالحجې په ۱۲مه زموږ عمارو ته هم راغلي وو په دې پلاوې کې د امنيت ،روغتيا او حج او اوقافو غړي وو خوله تللو وروسته يې حاجيان ترې خفه وو ،مولوي احمدي وويل چې حاجيان ځکه خفه دي چې پلاوي د شرکت د مسؤلينو په حضور کې ترې له دوی سره د شرکت د مسؤلينو چلند ، خدمتونه او شرائط پوښتلي او حاجيان کله داجرئت کولی شي چې د مسؤلينو پروړاندې ترې شکايت وکړي، احمدي پلاوی د رشوت ،ډاليو او مېلمستيا وو په خوړلو تورن کړ.

د محمد يوسف نيازي په مشرۍ د حج او اوقافو پلاوي څو عمارې د نوم او دولتي چارواکيو او واسطه لرونکيو د خوښولو لپاره حرم ته نسبتاً نږدې نيولې وې چې همدوی ته يې په کې ځای ورکړی وو ،نورې يې ډېرې لېرې ،آن د منی او جروال په پوله او آن په عتيبه کې نيولې وې د ځينو عمارو حاجيانو به حرم ته يو ساعت پلی تګ کاوه.

ډېرو حاجيانو تګ راتګ حرم ته سخت وو ،يا به يې ټکسي نيوله يا به يې يو ساعت د هر لمانځه لپاره تګ او يو ساعت په راتګ لګاوه،او يا به يې هلته نږدې په کوم مسجد کې لمونځ کاوه،د سعودي په ګرمۍ کې پلی تګ هم سخت کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځینو عمارو کې د ځنباک اوبه اوګاز، نه و معلم او ډاکټرنه و سم فرش او چپرکټ نه و خووزارت د دې ټولو پیسې اخستې وې، شېرزمان په خپله خونه کې یو کوچنی فرش راوښود ویې ویل چې دا یې هم پربعثې په زوره اخستی دی.

هغه هم په جروال کې په ۳۲ عماره کې اوسېده، شېرزمان وایي چې د بعثې غړي یې لیدلي هم نه دي.

د عرفات او منی په ورځو شپو کې پرخېمو کې ګاز، نغری، دیګ او کاسه نه وې د افغاني شرکتونو په شمول ټوله نړۍ په دې ورځو کې خپلو حاجیانو ته درې وخت ډوډۍ ورکوي خو افغان حکومت په دې ورځو کې هم حاجیانو ته ډوډۍ ورنکړه، دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان د بعثې پلاوي څو عمارې له حرم څخه لېرې نیولې وې او په منی کې په ځینو خېموکې بربېښنا نه وه، حاجیانو یې غوښتل چې غږ پورته کړي خو چارواکیوورته ویل چې دوی حرم ته نږدې عماره ونه موندله که نه لېرې یې نه نیوله خو بیاهم د دې عمارو او د دې خېمو اوسېدونکیو هر تن ته یې ۲۰۰ ریاله بېرته ورکړل (ببین تفاوت را.)

هرحکومت خپلو حاجیانو او اتباعو ته د پېژندنې ځانګړې نښه لکه څادر، دستمال، پټۍ، یا ..ورکوي چې دهماغه هېواد نوم پرې لیکلی وي او له ورایه پېژندل کېږي، خو دبلخ له ښځینه حاجیانو پرته چې په څادر یې دافغانستان بیرغ ته ورته درې رنګه دایره رسمه او ددایرې په منځ کې افغانستان اوبلخ لیکل شوی وو نور هیڅ هم نه وو، دنورې نړۍ نارینه او ښځینه حاجیان ډله ییز ګرځېدل، ښځویې ډله ییز طواف کاوه، خو دافغانستان خلک داسې نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ مازیګر ما او شېرزمان دحرم له دریم پوړ میزان رحمت اړخ څخه لاندې مطاف کې د طواف کوونکیو ننداره کوله، داوخت هلته هوا نسبتاً سړه او په مطاف کې سخت بیروبار وي،طواف کوونکي ډېر ورو ورو روان وو د شپږو هېوادونو ښځینه حاجیانې موولیدلې چې په یوه بل پسې په څو لیکو کې کتار روانې وې، د هر هېواد ښځینه حاجیانو ځانګړې رنګ جامه څادر اوپټۍ درلوده، په شپږو ډلوکې شپږ رنګه جامې اویونیفورم له پاسه داسې بریښېده لکه په باغ کې د ګلانو رنګه پټي ، ډېرښه خوندیې وکړ دځینو ښځینه حاجیانو نومونه هم په بکسو اوپټیو لیکل شوي وي، دحرم ښځینه متواګانو کله کله دهمدې پټیو له مخې ددوی نومونه ورته اخستل او هغوی هم چې خپل نوم واوري ژر اطاعت کوي.

افغان بعثې د ذوالحجې په دوه ویشتمه په ۱۵۳، ۱۵۲، ۱۵۱ عمارو کې دهغو ۵۲۰ تنو نومونه وځړول چې له مکې څخه مدینې منورې ته تلل، دانومونه ښایي کوم عرب لیکلي وو ځکه چې رسم الخط یې عربي وو. ګڼ یې جل لیکلي وو پښتو حروف او ژ اوچ هم په کې نه وو داسې بریښېدل چې د نومونولیکونکي له پښتو اودافغانانو له نومونو سره بیخي نابلده دي، ډېر نومونه نه پېژندل کېدل ،بله ستره ستونزه داوه چې داکسان په درې شفتو کې لومړی شفت لس بجې، دوهم شفت دولس بجې او دریم شفت په یوه بجه روانېدل،خو په دې لست کې به دیوې ښځې نوم په یو شفت او دهغه د محرم نوم په بل شفت کې وو ،یابه دښځې نوم په یو موټراودمحرم نوم به یې په بل موټر کې وو.

زمایو دوست زمری احمدزی هم په همدې ورځ مدینې منورې ته روانېده، هغه ماته بلنه راکړې وه، چې سحر چای ورسره وڅښنم ، زه او ماما مې حبیب الرحمن استاد ورغللو، ښه کباب شوی چرګ یې راووړ زما د ورور مشفق

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوبل ملګرى حاجي دادک هم زمونږ خواته راغى،ماد حاجي دادک نوم اورېدلى وو خوليدلى مې نه و له دوى سره مې ګپ ولګاوه،خو دوى سفر ته چمتو والى نيوه ژر ترې راپاڅېدو ،او دمعلم صاحب ميرزمان خوني ته ورغللو ، هلته موله خپلو کليوالو هريوه معلم صاحب ميرزمان، حاجي حبيب الله،طالب اخونزاده،عبدالقدير ،سميع الله، صابر ،قاري زمرى،غلام دستګير ،کوچني شېرزمان، دشګې اوسېدونکى ډګروال مياه ګل او مامور اصف سره بنډار وکړ اوپه ګډه دماسپښين لمانځه ته روان شو.

حرم ته نږدې ډېرې عمارې ترکانو اومصريانو نيولې وي، په دې عماروکې د جامو دوينځلو ماشينونه ،اوتو،پارکونه، او نورې اسانتياوې شته دي،ځينې په ډېرو لوکسو هلوټلونوکې ژوندکوي،دنوروهېوادونو بعثې که عمارې لېرې نيولې وي خو حاجيانوته يې حرم ته دلېږد رالېږد لپاره موټرونه نيولي دي.

زما ،ماما حبيب الرحمن استاد هم دمنى ، اوجروال په پوله په ۳۵مه عماره کې اوسېده، چې له حرم څخه يې ۴۵دقيقې پلى واټن درلود، ددوى عمارې ته نږدې د سبواو تازه مېوو مارکېټ وو په دې مارکېټ کې هغه د چاخبره دټولې نړۍ سابه او تازه مېوې په کار تنونوکې بند موندل کېدل، دګوتې دبند په اندازه تنکي لېږګان ،سپين او تور بانجان،دهروخت مېوې توره يان... دځينو مېوو نرخونه لوړ و مونږ به همدلته تازه مېوه اخستله، څو وارې مو انګور واخستل خو زمايې خټکى ځکه خوښ وو چې يو خو ارزانه وو، في کيلو درې ياڅلور رياله ، وه بل داچې ډېر خوږه وو هروخت به مو څلور پنځه کيلو اخستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګـور مـو کیلـود ۱۲او۱۵ریـالوترمنځ اخســتل ،دمارکېـټ ترڅنـګ یوښکلی لوی او لوړ مسجد وو چې د عتیبه بن عبدالعزیز ال سعود نوم پرې اینښودل شوی و.

یوه ورځ دمازیګر له لمانځه وروسته په مطاف کې یو چا راباندې غږ وکړ ځان یې مولوي الله داد بلخي راوپېژنده، په لیدلو یې خوښ شوم بلخي ماله لېرې پېژانده،خوله نږدې مې لیدلی نه و، له طواف وروسته سره کېنناستو چا ورته ویلي وو چې نن دافغان حاجیانو یوه الوتکه لوېدلې ده، ددې خبرې په اورېدلو زه هم خفه شوم، خو ژر مو اخوادېخوا زنګونه ووهل ښه وو هغه خبره دروغ وه.

بلخي راته دافغانانو دیـوې ناسمې انګېرنې په اړه معلومات راکړل ،ده وویل چې ځینې افغانان په جنة المعلی او جنة البقیع (لومړنی په مکه او دوهمه په مدینه کې هدیرې دي)دخاورو کوچنۍ کوچنۍ ډبرۍ ، ځینې دخاورو کوچني قبرونه په دې هیله اوفکر جوړوي چې په قیامت کې چې بیا د ودرېدو ځای نه وي نو دی او دده کورنۍ به همدلته ودرېږي،یا داچې داځای دده قبر شو اودی که هر چېرې مړ او یاښخېږي نو حشر به یې له همدې ځایه له صحابه وو سره کېږي یا داچې دقیامت په ګرمه ورځ چې سیوری نه وي نو دی او کورنۍ به یې همدلته راغونډېږي دوی په دې هدیره کې له نیم متر یا شل او ۳۰سانتي متره مربع ساحې څخه د خاورو کوچنی دېوال تاوکړي ،بیاپکې دکورنۍ دهرغړي لپاره قبر جوړ کړي او په جنة المعلی او یا جنة البقیع کې یې خپله کورنۍ هدیره بولي.

دبلخي صاحب داخبرې ما په جنة المعلی کې هم ولیدلې خو په جنة البقیع کې مې څوڅوځله څوتنه ولیدل چې همداکار یې کاوه،خوچې پولیسانو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیدل نو ورته به غوسه کېدل،او کوټنۍ، ډېرۍ او قبرونه به یې ورته ړنګ کړل،ځینو به په پټه له ځان سره دهدیرې خاوره را واخسته، دا خاوره بیاله ځان سره کورته وړي بیا چې کله دی او یایې دکورنۍ کوم غړی وفات شي نوله دې خاورې لږه ورسره په لحد کې اچوي.

یوځل په طواف کې د چا دپښې دغټې ګوتې نوک زمادپښې په شنګري وربرابر اوپښه یې راته ښه وینې کړه، دلته په حج کې د نوکانو دغوڅولو په حکمت پوه شوم اوپر دې لا باوري شوم چې د الله ج په هر امر اونهې کې حکمت دی.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له حديبيې څخه احرام

وړاندې مو هم وويل چې ماڅو عمرې وکړې خو دهرې عمرې لپاره مو دمکې له يونوي ميقات څخه احرام تاړه، ډېرحاجيان له تنعيم څخه دعمرې احرام تړي ځکه چې تنعيم يادحضرت عايشې مسجد حرم ته ترټولو نږدې ميقات دی، خو د تنوع او ددې لپاره چې مکه معظمه اوشاوخوايې ښه وګورم دمکې له ټولو ميقاتونو څخه مې احرام تاړه

د ذوالحجې په نولسمه نهه ملګرې سحر وختې حديبيې ته روان شو فلاينګ کوچ موټر مو په ۱۸۰ رياله دوه طرفه ونيوه، دحديبيې اوسنی نوم شميسي دی، موټر دحديبيې پرسړک پرشارع منصور لوېديځ ته مايل شمال خواته روان شو.

له ښاره بهر چې ووتلونوله شګو پرډکو دښتو ورننوتلو په دښته کې دکوچيانوکېږدۍ اواوښان خوځخايه ليدل کېدل، دې کوچيانو اواوښانوماته دعربو تاريخ ،کوچيانی او بدوي ژوندراپه زړه کړ، کوچيتوب سخت کار دی خو ژونديې له سکون، اطمينان او ارام څخه ډک دی، زموږ دموټر تر ټايرونو لاندې سړک دوه طرفه وو ترمنځ يې پراخ ګلدان او هرسړک بياڅلور کرښې درلودې چې په يو وخت کې پرې څلور موټره ښه پراخ تللی شول، دواړو خواووته دپليو خلکو لپاره پراخه لوړه لاره وه.

پرلارمويومسجد وليد ورته ښکته شو کوچنی مسجد و دڅښلو اوبه پکې وې خو داوداسه انتظام پکې نامناسب وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یولوی باغ مو هم ولید داسې ښکارېده چې دولتي دی په منځ کې يې چمن او فواره وه، زموږ ډريور وارخطا ښکارېده ددې باغ ترڅنګ د ودرېدلو مو ورته ونه ويل.

حديبيه کوچنی ځای دی له مسجد څخه ګرځنده او کانتينري پلورنځي راتاو و ،تسبې ،مسواکونه او د ډاليو لپاره نور توکي يې پلورل بازار يې کوچنی خو ګرم دی، دلته ګڼ ايرانيان او ترکان هم راغلي وو خو هغوی ډېر منظم وو، خپل لوی لوی موټر ورسره وو.

دلته مو ولمبل احرام مو وتاړه څو رکعته لمونځ مو وکړ او بېرته روان شو.

## جعرانه که جغرافيه؟

يوه ورځ مې خپلو بادغيسي ملګروته وويل چې داخل مو دعمرې احرام لپاره جعرانې ته بيايم له حاجي يار محمد څخه د جعرانې نوم هېرشوی و هره ورځ به يې راته ويل چې جغرافيې ته کله ځو؟

جعرانه مو د حرم په ميقاتونو کې در پېژندلې ده، مفسرين وايي چې د جاهليت په وخت کې په همدې نوم (جعرانه)يوه ښځه په اروايي ناروغۍ اخته وه، هغې به ټوله ورځ اوبدل کول ،ځان به يې ستړی کړ خو مازيګر به يې خپله کړې خوارې بېرته پر اوبولاهو کړه او خپل کړی کار به يې بېرته وسپړه،چې الله ج يې هم په قرآن کې يادونه وکړه او ددې کار يې وغنده.

يار محمد به بار بار راته ويل چې جغرافيې (جعرانې)ته کله ځو بالاخره دذوالحجې په ۲۲ مه مابنام مې ورته وويل چې سباسحر وختي جعرانې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو، سباسحر درې بجې له خونو راووتو، دهلمند اوسېدونکی عبدالهادي چې په څه کم درې زره ډالره رشوت حج ته راغلی وو و هم راسره ملګری شو او خپله کیسه یې راته وکړه ټول دولس کسه شو ،فلاینګ کوچ مودلته هم دوطرفه په ۱۸۰ ریاله په کرایه کړ، کله چې دمکې له ښاره ووتلونو دلومړي ځل لپاره مو ۲۳ ورځې وروسته تیاره ولیدله داځکه چې مکه او حرم ټول تل چراغان دي.

جعرانه له حرم څخه کافي لرې ده، ډېر مزل مو وکړ، په جعرانه کې ډېر لوی او ښکلی مسجد جوړ شوی دی ،پریمانه دلمبلو او اوداسه ځایونه او پاکې بیت الخلاوې پکې دي، دغسل لپاره پریمانه او مناسبې (معتدلې)اوبه وې خو په تشناب کې دجامو ځوړندولو ځای نه وو، غسلونه مو وکړل،په مسجد کې مې اته رکعته تهجد او دوه رکعته داحرام لمونځ وکړ او تلبیه مو وویله، دلته هم دنورو هېوادونو اتباع په منظم ډول راغلي وو، خپل لوی لوی موټر ورسره وو په دوی کې د ترکیې ،مالیزیا او اندونیزیا خلک وو، سم نیمایي یې ښکلې انجونې دي له یوې مالیزیایۍ څخه مې په ماته ګوډه انګلیسي وپوښتل چې ایا دا ریښتیاده چې تاسې له حج څخه وړاندې واده نه کوئ؟

خوهغه مې په خبره پوهه نه شوه له هغې خوا دمنی او جمرو له لارې دملک خالد پرسړک دحرم بیخ ته راووتلو ، کله چې حرم ته راورسېدو بیا هم لمانځه ته نیم ساعت پاتې وو له لمانځه وروسته مو عمره وکړه، ملګرو راته وویل: چې دسر نیمه برخه به درته اوس وخرییو او نیم به په بله عمره کې وخرییې خوما ورسره ونه منل او ورته مې وویل چې نه ټول راته همدا اوس وخرییئ. نورو حاجیانو همدا سې کول،سربه یې څلور ځایه ووېشه په هر ځل عمره کې به یې یوه برخه خرییه چابه پکې ویالې جوړولې چابه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بياتي (قيچي) څوتاره غوڅول په څو ثانيوکې به له احرامه ووت، خوزموږ مذهب څلورمه برخه ضرور بولي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاهد

زه په دې هڅه کې وم چې په حرم کې دننه يو بلد شخص پيدا او ملګرى کړم، چې په هره برخه کې بشپړ معلومات راکړي، يوځل مې د پنجاب د چکوال يو اوسېدونکى پيدا کړ خو هغه ډېره دلچسپي وانخسته بالاخره يوه ورځ مې د حرم په دريم پوړکې يو ځوان وليد چې خدمت يې کاوه ماورسره اردو پيل کړه، هغه هم سلام وکړ دځاى او وطن پوښتنه مې ترې وکړه ځان يې دپاکستان دخيبرپښتونخوا معرفي کړ ماترې وپوښتل چې په خيبر پښتونخواکې دکوم ځاى يې ؟ ويې ويل چې دمردان بيامې ترې دکلي پوښتنه وکړه حيران شو ماته يې وويل چې تا پاکستان ليدلى دى، ماورته په خندا وويل چې پاکستان خوپرېږده په مردان کې هم بلد يم وايه دکوم کلي يې؟ ويې ويل چې دهوتي،بيامې ترې دډاکټرفاروق خان اوشيخ بمبار پوښتنه وکړه، اودامې هم ورته وويل چې شيخ بمبار ماته هم اتلس کاله پخوا بخاري شريف او ابوداؤد راکړي وو .شاهد خوښ شو ويې خندل (پنجه کړه بياخو کليوال وختلې)شاهدته مې وويل چې زه ژورنالېست يم غواړم چې دحج يونليک وليکم ،دخلکو ستونزې رابرسېره کړم، او دحرمينو يو رڼه هېنداره له ځان سره يوسم ته له ماسره دمعلوماتو په اړه مرسته وکړه،هغه وويل چې دى خوپه همدا سې چاپسې ګرځي چې ستونزې واوري او چاروا کيوته يې ورسوي، شاهد وويل چې دى هم دابن لادن دشرکت په بلنه راغلى دى خو دى دځلورومياشتو لپاره نه ،بلکې دډېر وخت لپاره راغلى دى او همدا اوس يې شپږ کاله کېږي چې دحرم خدمت کوي هغه وويل چې ددريم پوړ دپاکۍ مسؤول دى اوڅوتنه يې تر لاس لاندې کار کوي، شاهد لومړى راته دخپلو ستونزو ټغر وغوړاوه.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویې ویل چې د سعودي حکومت ورسره ظلم کوي کار پرې ډېر کوي خو مزدوري یې کمه ۳۵۰ ریاله ده.

شاهد وویل چې دوی په دوو کالوکې یوازې یوه نیمه میاشت رخصت لري او حکومت ورته په دوه کالو کې ایله یوځل دالوتکې دوه طرفه ټکټ ورکوي. شاهد زیاته کړه چې دلته دځینو خلکو نیم عمر په مسافرۍ کې تېر شو او له ژوندڅخه یې هېڅ خوند وانه خست، ده وغوښتل چې حکومت باید دحرم خادماتوته دکور راوستلو اجازه ورکړي او دکور اسانتیاوې ورته برابرې کړي.

شاهد بېچاره راته خپله زړه وغوړاوه: (په ۲۰۰۴ز کال مې واده وکړ اوپه ۲۰۰۵ کې دلته راغللم په همدې څو میاشتوکې مې یوزوی درک شو خو لازېږېدلی نه وو چې دلته راغلم بیاپه ۲۰۰۷ کې په رخصتۍ لاړم یوه نیمه میاشت مې تېره کړه خو څه درک نشول، دوه کاله وروسته په ۲۰۰۹ز کې چې بیالاړم نو زوی مې درک شو، مالا لیدلی نه دی خو اوس شپږ میاشتینی دی اوس شکر دوه زامن لرم خو دحرم په خادمانوکې داسې خلک شته چې لس کاله یې له واده تېرشوي خو یاله سره اولاد نلري اویایو بچی لري داځکه چې کله دوی دیوې نیمې میاشتې لپاره کورته ځي نو څلور پنځه ورځې خوپه تګ راتګ یا د الوتکې په ټکټ اخستلو ،جدې ته په تللو او الوتکې ته په انتظار ،هلته له هوايي ډګر څخه په وتلو کورته په رسېدلو ،همدا راز له هغې خواددې پروسې اوپړاوونو په وهلو تېرېږي ،هلته یې مېرمن یا جوړه یا ناجوړه وي دوه ځله خوپکې میاشتنی مریضي (حیض)هم راشي څه کم شل ورځې هغه ونیسي اوښځه خوهم هروخت حمل اخستلوته چمتونه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده وويل چې له غم او ښادۍ خوبيخي خلاص دي او ځينو کسانو خوچې دلته يې پنځلس شپاړلس کاله تېر شوي خپل دوستان هېرکړي دي.

د خوراک او پوشاک لپاره په مياشت کې يونيم سل رياله (هغه وخت ۱۸۵۷ افغانۍ کېدلې )ورکوي چې ددوی لګښت نه پوره کوي. شاهد زياته کړه د حرم په کومو ځايونو کې چې خادمانو ته حاجيان ډېر خيرات (سبيل)ورکوي نو د سعودي يا عرب مديران هلته خپل کسان ټاکي او پيسې ورسره وېشي.

شاهد د حرم په هره برخه کې معلومات راکول، زه به چې حرم ته لاړم ده ته به مې زنګ وواهه ده به هم خپل کار بشپړ او ماته به راغی او د حرم په دريم پوړ کې دده دمسؤوليت په ساحه کې به مو بنډار پيل کړ.

هره ورځ يا په هره ناسته کې به مو پر يوې برخې بحث کاوه.

شاهدوويل چې د حرم عرب مديران کله کله پردوی غوسې کوي او په همدې کم معاش کې يې کسر معاش کوي. دامهال د حرم عمومي مدير عمود نومېږي. شاهد وويل چې د سعودي دقانون له مخې له ۲۲ کالو کم عمروته په حرم کې دخدمت ويزه نه ورکول کېږي خو دنورو اسلامي هېوادونو ځينې نبستمن او اړ کوچنيان ياد ۱۷ يا ۱۸کالو هلکان ځانته بله تذکره يا شناختي کارډ جوړ اوخپل عمر پکې ۲۲ يا ۲۳کاله ښيي ويزه واخلي اودلته راشي چې دلته بيا ترې د حرم ځينې نااهله مديران ناوړه ګټه اخلي. د شاهد په وينا ،حرم د ښه نظافت لپاره په لسو برخو ېشل شوی دی او هر ه برخه يې ځانته ډله او ګروپ لري .شاهد زماديوې پوښتنې په ځواب کې وويل چې تر اوسه داسې وخت ندی راغلی چې مطاف له طواف کوونکيو خالي شوی وي ځلېرويشت ساعته طواف روان وي، ممکن ځينې وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دطواف کوونکيو شمېر کم اوطواف دمقام ابراهیم اوکعبې تر منځ وي او ممکن کله کله تکړه سړی په هر طواف کې حجر اسود ښکلولی وشي خو هېڅکله هم داسې وخت ندی راغلی چې په مطاف کې طواف کوونکي نه وي .دحج په ورځوکې خو طواف کوونکي بلکل په مطاف کې نه ځایېږي .شاهد وویل چې کوتره، چینچڼه او توتکۍ له کعبې څخه طواف کوي. کله کله ټپوس هم طواف کوي خو نور الوتونکي نه راځي دده په وینا ،دټولو زرګونو کوترو رنګ سپین او خړ دی نور رنګونه پکې نشته دي.

دشاهد په وینا ، سعودي حکومت دخپلو اتباعو ډېر احترام کوي دسعودي خلک ډېر حجونه نه کوي خو درمضان په میاشت کې اوپه ځانګړې ډول درمضان المبارک په وروستۍ لسیزه کې عمروته ډېر راځي. په دې میاشت کې چارواکي په ټول مطاف ،لومړي،دوهم او دریم پوړآن لارو کې غالۍ غوړوي.

په بمبو او ترموزونوکې پریمانه یخ زمزم هرچېرې رسوي ټېل ماټېل او بیروبار نه وي.

دسعودي چارواکیو په آند په عامو حاجیانوکې نا پوهان ډېر وي خو د رمضان په عمره او اعتکاف کوونکیوکې پوه خلک ډېر دي.

شاهد دمطاف دمرمروپه اړه وویل چې دا مرمر طبعي نه دي، بلکې دسعودي حکومت په تایلندکې په فرمایشي ډول جوړ کړي دي داتیګه له کیمیکلو او نورو داسې موادو جوړه شوې ده چې که هوا هرڅومره توده شي نوبیاهم دا تیګه نه ګرمېږي اونه پښې سوځوي دایوه تیګه چې پلنوالی یې یو فټ او اوږدوالی یې درې نیم فټه دی په پنځوس زره ریاله جوړه شوې او ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطاف اودريم پوړ په همدې تيګو پوښل شوی دی چې لګښت يې حيرانوونکی دی.

شاهد وويل چې دبرېښنا پاکۍ ،نلدوانۍ،پوليسو، يا امنيت په شمول په حرم کې تر شل زره ډېر کسان کار کوي، مديران يې رتبې اوله ۵زرو څخه تر ۸زرو ريالو پورې معاشونه لري.

دحرم دلګښتونو په اړه شاهد وويل چې حرم ته چنده منع ده او نه ورته څوک چنده راټولوي ،بلکې ټول لګښتونه دسعودي حکومت پرخپله غاړه اخستي دي، دحرم ټول خدمات دابن لادن له کمپنۍ سره ټيکه دي او دسعودي له دولت څخه يې پيسي غواړي.

په حرم کې د اېښودل شويو عظيم الشان قرآنونو په اړه شاهد وويل چې په حرم کې اېښودل شوي قرآنونه ټول دفهد په چاپخونو کې چاپ شوي دي او دنورو چاپخونو لخوا چاپ شوي قرانونه پکې نه پرېږدي او که څوک يې ورته ډالۍ راوړي نو دوی يې هم نورو ته ډالۍ کوي.

شاهدزياته کړه چې په دنياکې تر ټولو لومړی پيداشوی غر دحرم لمرخاته ته له شاهي محل سره نښتی پ غر دی ، دحرم ددروازو په اړه هغه وويل چې ټولې ۹۵ دروازې لري پرلومړنۍ دروازه چې دملک عبدالعزيز په نوم يادېږي دوه منارې دي په لسمه دروازه چې باب الصفاياباب اسمعيل نومېږي يوه مناره ده په ۴۵نمبر ياباب الفتح دوه منارې، په ۲۲مه يا باب العمره دوه منارې، په ۷۹مه يا باب الفهد دوه منارې دي چې ټولې ۹ منارې کېږي.

هغه وويل چې دمنارو لوړ والی ۸۹متره دی، دحرم دامنيت په اړه شاهد وويل چې په حرم کې دننه زرګونه استخباراتي کامرې لګېدلي او دننه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپيوټرو سره وصل وي چې ټول حرم پکې څارل کېږي ،داموڅوځله واورېدل چې کوم شخص قصداً بې نظمي يا ناروا کړي وي نو دې له ځانه خبر هم نه وي چې ګويا زه څارل کېږم او پوليس راشي او بوېې ځي،دحرم په دريم پوړ څلور ګنبده جوړدي هر سمت ته يوه خو ختيځ اړخ ته دګنبد پرځای اوس لفټ يا برېښنايي زينه جوړه ده ،دباب ملک فهد په سر اوس هم درې ګنبده جوړ دي چې له دننه خوا خخه ښکلې ډيزاين شوي دي.

دتشنابونو په اړه شاهد ووېل چې يواځې دملک فهد او ملک عبدالعزيز دروازو خواته تشنابونه او بيت الخلاوې کمې دي نور دخوراک،څښاک او د اوداسه او بيت الخلا له پلوه د حاجيانو اړتياوې پوره دي، دحرم شاوخوا د کرايو لپاره ډېرې لوړ پوړۍ ودانۍ جوړې شوې دي.

د حرم دتوسيع لپاره يواځې شمال يا باب عمره او ختيځ يا باب السلام خواته ځای شته چې باب عمره خواته کار روان دی.

جنوب ته غر او شاهي محل دی، لوېديځ خواته دارالتوحيد کانټيننټل، شرکت الملکه ،برج زمزم ،برج الساعه او نورې ګران بيه او لوړ پوړيزې ودانۍ دي.

شاهد زياته کړه دروژې په عمرو او طواف کې خلک منظم وي ،ټېل نه وي ، سليقه او ترتيب وي او بيروبار دومره نه وي خوبيا هم لومړی ، دوهم او دريم پوړ ټول ډک او فرش وي دحرم شاوخوا عمارې هم ښه غريبې کوي، دحج په ورځو کې خو آن ډېرې لرې عمارې هم ډکې وي دحرم شاوخوانږدې عمارې خو هر وخت ډکې وي دشاهي محل مخه ټوله شيشه ده له دوو کړکيو پرته نور له شيشې پرته بل څه پکې نه ښکاري ، دشاهد په وينا ، شاهي محل دهغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډۍ د کور پرځای جوړ شوی دی چې پر رسول الله ص به يې خاورې او ايرې شيندلې.

د اذان خونه پخوا د حرم شمال ته وه خو اوس هلته ګودام دی او اذان خونه جنوبي اړخ ته رالېږدول شوېده له همدې ځايه اقامت هم ويل کېږي. دشاهد په وينا اقامت کوونکی امام په کامره کې ويني چې کله د لمانځه ځای ته ور ورسېږي نو دلته اقامت پيل کړي،له امام پرته بل الله اکبر هم په همدې ځای کې ويل کېږي ،شا هدوويل چې د حاجيانو دښه لېږد او اسانتيا لپاره له عرفات څخه تر حرم پورې داورګاډی (ريل)دپټلۍ(کرښې)کار روان دی،دا اورګاډی به حاجيان له عرفات څخه مزدلفې او بيا منی او له هغه ځايه حرم ته بيايي او په حلقوي بڼه به بېرته عرفات ته ځي دا اورګاډي به په يوه ساعت کې دوه اويا زره حاجيان لېږدوي پروژه داسې مهندسي شوې چې ددوو اورګاډو لپاره خوا په خوا کرښې جوړې شوې او دوه اورګاډي په يوه وخت کې په يوه استقامت تللی شي اورګاډي به تېل ياد ډېرو سکاره نه، بلکې برېښنا مصرفوي.

شاهد دباب ملک عبدالعزيز چپ او دباب فهد ښي خواته د ترکانو په برنډه کې يوه پايه (ستن)راوښوده ويې ويل چې دا درسول الله ص د ترور ام هانیٔ کور و ،داستن يې نښه ده او رسول الله ص له همدې ځايه معراج ته لاړ.

شاهد زياته کړه، چې په جده کې يوه ستره فابريکه د حرمينو لپاره تر موزونه او داوبو څښلو ګيلاسونه جوړوي ،ده د حرم د پوليسو دنرم چلند او اخلاقو يادونه وکړه او ويې ويل چې داپوليس دلته له ګومارل کېدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې د ديني علماوو لخوا هم روزل کېږي او دېنه او نرم چلند درس ورکول کېږي.

ده وويل چې په حرم کې په لسګونو ويلچر يا دناروغانو او کمزورو بايسکلونه شته دي چې ځېنې يې د سعودي حکومت او ځينې يې نورو شتمنو د حرم لپاره اخستي اوله کاروونکيو يې هېڅ ډول اجوره نه غوښتل کېږي او آن حاجيان يې خپلو خونو ته هم وړلی شي، ډېر حاجيان هم ځانونو ته دا بايسکل اخلي چې بيا يې همدلته پرېږدي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کعبې پوښ

شاهد راته وویل چې چارواکي هرکال د ذوالحجې په نهمه یا د عرفې په ورځ د کعبې پوښ بدلوي او سږ کال هم په داسې حال کې چې موږ په عرفات کې وو داپوښ بدل شو، پخوا به یې د کعبې بدل شوی پوښ ټوټه ټوټه کاوه او د اسلامي هېوادونو مشرانو ته به یې لېږه خو اوس داکار ځکه نه کوي چې دې مشرانو به بیا داپوښ پیرانو،خانقاه ګانو او سجاده نشینانو ته ورکاوه او هغوی به بیا ددې پوښ ټوټې له مړو سره ښخولې یابه یې د پوښ تارونه وسېړل او د مړو اوناروغانو په سترګو به یې اېښودل او داکارونه حرام دي اوس داپوښ بېرته هماغې کمپنۍ ته ورکوي او یایې د کعبې په موزیم (کسب الکعبه)کې ږدي. ددې پوښ ټوټه ډېره ګران بیه ده، او ایتونه پرې په سرو زرو لیکل کېږي، په کسب الکعبه کې چې له حرم څخه ۲_۷کیلو متره لېرې ده د کعبې زاړه او اضافي شیان لکه پوښونه،دروازې ،محرابونه، غالۍ او نور ساتي. شاهد وویل چې د کعبې پوښ نه وینځل کېږي .

د کعبې د پوښ جوړول یوکال وخت غواړي ،له پاسه پرې ایتونه،یاحنان،یامنان ،طیبه کلمه ،سبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم، لیکلي وي البته دالیکنې پر هر پوښ بدلېږي، د حج په ورځو کې ددې لپاره چې د چالاس ورونه رسېږي د کعبې پوښ د کعبې له بیخ څخه څه باندې دوه متره لوړ تاو او آن له شاذروان څخه هم پورته وي. داځکه چې ځینې خلک د تبرک لپاره د کعبې پوښ په پټه څیرې کوي او له ځان سره یې وړي، په نورو ورځو کې د کعبې پوښ ټوله کعبه پټوي او تر ځمکې غوړېدلې وي، د کعبې د اوسنی پوښ بیه خو راته معلومه نده خو ۳۴کاله وړاندې په ۱۹۷۹ز کې پر هغه پوښ چې ملک خالد بن عبدالعزیز السعود کعبې ته جوړ کړی و په هغه ارزانۍ کې اوپه هغه وخت کې چې پیسو ډېر ازرښت درلود شپیته لکه سعودي ریاله لګښت راغلی وو او داپوښ په یوولس میاشتو کې جوړ او ۸۰کیلوګرامه وریښم ، ۳۰۰ کیلو سره اوسپین زر اوله استرسربېره ۲۵۸متره ټوکر پکې کارېدلی وو په همدې کال د کعبې د دروازې په پوښ کې چې څلور متره

www.melitahrik.com 0771400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلنوالی او اوه نیم کیلو متره طول یې درلود ۱۲۰ کیلوګرامه سره او سپین زر کارېدلي وو.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ايرانيانو كودتا

شاهد  په ۱۹۸۴ز كال په كعبه كې د ايرانيانو كودتاهم ياده كړه او ويې ويل چې ايرانيانوپه تابوتونوكې وسله حرم ته راننويستې وه، او داسې تاثر يې وركړى وو چې ګويا په تابوتونوكې يې مړي د جنازې لپاره راوړي دي.

كودتاه كوونكي دباب الفتح مناروته هم ختلي وو او لاندې يې ډزې كولې.

شاهد زياته كړه سعودي چارواكي حيران وو چې كودتا كوونكي له منارو څخه څنګه رانسكته كړي بالاخره شهيد جنرال ضياء الحق ته يې ټېليفون وكړ هغه ډاډ وركړ چې وار مه خطاكوئ زه پخپله درځم خوتاسو زماتر درتللو ښې پرېمانه اوبه جوش كړئ، هماغه وو چې له پاكستان څخه كماندو عسكر اوپخپله شهيدجنرال ضياء الحق راغلل دا اوبه يې په هليكوپتروكې پورته كړې او په منارو كې يې پر كودتاكوونكيو ور وشيندلې هماغه وو چې كودتاكوونكي وسوځېدل وارخطاشول او لاندې راښكته شول چې دلته يې بيا ونيول.

دشاهد په وينا، ايرانيانو غوښتل چې په مدني حرم كې هم كودتاه وكړي،اوهلته دحضرت عمر رض قبر ونړوي او دحضرت محمد ص دقبر له څنګ څخه د هغه جسد وغورځوي، د ايرانيانو دې كودتاه د سعودي او ايران اړيكې خرابې كړې او سعودي څوكاله ايرانيانوته د حج اجازه نه وركوله.

شاهد زياته كړه چې دحرم په هر پوړ كې د تنظيف د وسايلو دبرېښنا د وسايلو، دقران كريم د الماريو او...لپاره ډېپوګان شته دي.

دكعبې نوې يا اوسنۍ دروازه په ۱۳۹۹ هـ ل دملک خالد بن عبدالعزيز په وخت كې جوړه اوپه همدې كال د ذوالحجې په ۲۲مه لګېدلې ده،په دې دروازه په عربي دليكل شوي متن ژباړه داده :(پخوانۍ دروازه د سپېڅلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرمينو د خادم ملک فيصل بن عبدالرحمن ال سعود په وخت کې په **۱۹۶۳** په مکه کې جوړه شوې او دا دروازه د سپېڅلو حرمينو د خادم ملک خالد بن عبدالعزيز ال سعود په وخت کې په **۱۳۹۹** کې جوړه شوېده»

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتفاق په پښتانه کې پیدا نه شو

یوه ورځ د حرم په دوهم پوړ کې روان وم چې په ویلچر کې ناست یو تن راباندې غږ وکړ ویل یې چې په تلویزیون کې مې ډېر لیدلی یې ستا دیني او سیاسي نظر مې خوښ او زموږ دزړه تنده ماتوې نوځکه مې وغوښتل چې له نږدې درسره وګورم دې شخص خپل نوم عبدالوکیل مددخېل معرفي کړ ویې ویل چې تراتم ټولګي یې درس ویلی او پخپله یې ځان په تمانچه ویشتی دی اوس یې لاس او پښې کار نه کوي له مددخېل سره موږ ډېرې سیاسي او شخصي خبرې وکړې ویې ویل چې په ښرنه کې صرافي، په اسلام آباد کې د رخت غټ پلورنځی او دکابل په منډوي کې درې پوړیزه لوی لوی سرایونه، میوند جادې ته نږدې د منډوي په خوله کې بل سرای لري، ده وویل چې پلار یې حاجي ګلاغا نومېږي او له درې میندو ټول ۱۲ ورونه دي خو د بې اتفاقۍ ناروغۍ پکې ځای موندلی دی .ده وویل چې ددوی په سرایونو کې دهر دوکان دکرایې ارزښت تر ۵۰زرو افغانیو دی خودوی تر ۱۵زرو افغانیو اخلي او دوی د بې اتفاقۍ له کبله دوکانداران داکمه کرایه هم پوره نه ورکوي.

ماله سره ځان سره وویل چې ۱۲ورونه او دومره شتمني خو غټه پانګه او دا لله ستره لورینه ده خو زموږ پښتانه له دې لورینې هم ګټه نه شي اخستلی.

دپښتنو لوړ بیې شتمنۍ فیلسوف ،اروا پوه ، شاعر او خان اروا ښاد خوشحال خان ختک درې سوه کاله پخوا دپښتون پر دې حالت ژړلي و :

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتفــاق پــه پښتــانه کــې پېدا نشـو
ګنــي مابــه دمغــل ګریـوان پـاره کــه

مددخېل وویل چې له رادیو یې اورېدلي چې سعودي هر کال دحاجیانوله درکه ۳۰میلیارده ډالر ګټي.

# د مولوي احمدي جګړه

سحر لس بجې له حرم څخه خونې ته لاړم ګورم چې دعمارې پـه مخ کې دحاجیانو بیروبار دی کله چې خونې ته ننوتم نو مولوي احمدي لـه غوسې تک سور اوښتی دی چیغې وهي،پټکې کوي (اینـا مسـلمان نیسـتن ،تجـار هستن ، سریک چک او(آب )ګوز شان میره) ورتـه مې وویـل چې حوصله وکړه څه خبره ده، هغه وویـل : زمورپخوونکي ( اشـپز) قـاري تـه دشـرکت یوتن مسؤول حاجي عبدالله په غوسه شوی و چې ولې یې ډېرې اوبه کارولې دي، اشپز خفه شوی اوس یې استعفی کړې او له شرکت څخه یې خپله تزکیه اخستله خو حاجي عبدالله یې پر تزکیه پاڼه لاسلیک نه کاوه دشرکت پرځای یې په تزکیه پاڼه ما( مولوي احمدي) لاسلیک وکړ ،وروسته حاجي عبدالله ما(مولوي احمدي) ته ښکنځل وکړل چې ولې مې دا لاسلیک کړی دی )

ددواړو جنجـال شـوی و یوبـل تـه یـې ښـکنځل کـړي وو حـاجي عبـدالله غوښتـل چـې مولـوي احمـدي وشـړي خـو احمـدي وریـسې ټـول حاجيـان د احتجاج په ډول راوېستي وو غوښتل یې لاریون وکړي، بالاخره ما او ګلاغا دواړوته خبرې وکړې او ستونزه موهواره کړه.

# د مکي حرم کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ مازیګر زه، استاد عنایت الله ،دهغه ملګري ګل احمد او ... دحرم کتابتون ته ولاړو ،دحرم کتابتون په هغه ځای کې جوړ شوی چې دحضرت محمدص زوکړه پکې شوېده،دلته لوی کتابتون دی خود حج په ورځوکې دبیروبار له کبله دعامو خلکو پر مخ بند وي ددې کتابتون په مخ کې پر حاجیانو هغه کتابونه وړیا وېشل کېږي چې د توحید ، زیارتونو او عقیدې په اړه سلفي نظر څرګندوي،همداراز هغه کتابونه چې سعودي چارواکیو دشیعیت په رد کې لیکلي او ټوله محتوای یې د شیعه ګانو ،دهغوی د افراطیت ټکونه، دشیعیت د څانګو او عقایدو او موضوعاتو څېړنه ده یعنې دلته د شیعیت پر ضد یو کلک تبلیغاتي سنګر تود ساتل شوی دی داکتابونه په ډېرو ژبو لیکل شوي دي ماهم پښتو او فارسي کتابونه واخستل دلته مو ډېر عکسونه هم واخستل. دلته سړي ته دمسلمانانو پردردوونکې حالت او خپلمنځیو اختلافاتو افسوس ورشي،داانرژي چې سعودي عربان یې دشیعه مسلمانانو پرضد کاروي او یا برعکس که دکفارو او داسلام او اسلامي نړ ددښمنانو پر ضد وکارول شي نو داسلام وړانګې به دنړۍ ګوټ ګوټ ته رسېدلې وې، دکتابتون مسؤولینو هلته په انګلیسي ،عربي،فارسي او اردو ژبو لیکلي دي چې په دې ځای کې درسول الله ص زوکړه یقیني نده نوځکه یې ښکلول، لمسول او ... رواندي.

## د حرم نقاشي

دحرم لومړی او دوهم پوړ درې ،درې برخې لري ددوهم پوړ دوهمه یا منځنۍ برخه دملک عبدالعزیز په وخت کې جوړه شوې ،دحرم فرش زېړ، نخودي، تور او نور مختلط رنګونه لري، ډېر ښکلي او ساده رنګونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستنې يې چپس او مرمر دي هغه چې ګول يا ګردې دي هغه چپس او هغه چې څلور ګوټيزې دي ، مرمررنګه دانې پکې لګېدلي دي، په ستنوکې ښکلې کمانونه، له ګچو جوړ ګلان، چت يې صفر يا ميده چپس په ګلابي ،نخودي شير چه يي او نورو رنګونوکې، د ستنو لا نديني برخه کې ،تور،پايزاره،ده په چت او پايوکې په زرګونه قنديلونه اوپکي دي ،دريمه برخه چې ملک فهد جوړه کړېده ډېره ښکلې او عصري ده، دهرې ستن لپاره ځانته جوړ شوي د ډېر عالي کيفيت تک سپين مرمر دي،په هره ستن کې هم يې په سر اوهم يې لاندې څلور خواوو ته ايرکنډېشنونه لګېدلي دي.

پروسږکال چې کله د صفا او مروه لار پراخېدله نو هلته هم په عصري بڼه کار وشو او ټولې لارې په ايرکنډېشن سمبال شوې اوس دصفا او مروه ترمنځ پنځه لارې دي يوه يې ځمکتلی (زېرزميني)او څلور دځمکې په سر دي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حج ته هوايي او که د ځمکې له لارې؟

ماته پرځمکه سفر له هوايي سفر څخه ډېر خوند راکوي ، ځکه چې پرځمکه تلل خوسياحت وي دنيا او مافيها او دخلکو رنګارنګي ويني خو له بده مرغه چې داهرڅه په امنيت پورې تړلي دي ، اردن د سعودي ګاونډی هېواد دی او ددې هېواد حاجيان هم حج ته په موټروکې راځي، ددوی څه ملګري زموږ ترڅنګ اوسېدل کله چې بېرته تلل نو له لسو ډېر۳۰۳ ته ورته موټروکې يې خپل سامانونه بار کړي وو ددوی موټر و د سعودي او اردن دکورنيو چارو دوزارتونو اجازه پاڼې چې دترحيل شمېره ،دموټر نمبرپليټ ، دراتللو نېټه ،له سعودي څخه دوتلو نېټه ،د سپرليو شمېره ،دسپرليو نومونه هرڅه د موټر په مخامخ شيشه لګېدلي او ټولو يوځای حرکت وکړ، دې کار ماته ډېر خوند راکړ او هغو شېبوته يې وروستلم چې له افغانستان څخه به هم خلک په موټروکې حج ته تلل ،هغه هم له پوره سکون او اطمئنان سره . زما ،نه يادېږي خو له مشرانو مې اورېدلي چې شاوخوا پنځه دېرش کاله وړاندې زموږ له کلي څخه هم څلورتنه چې يو يې زموږ دحج دملګري غلام دستګير پلار حاجي غلام سخي دی( الله دې لاهم اوږدعمر او ښه صحت ورکړي ) دملک باباجان په موټر کې حج ته لاړل ملک بابا له هريوه څخه په غالب ګومان څلور څلور زره افغانۍ واخستې او له درونټې څخه کعبې ته په موټر کې روان شول سفر يې ډېر خوندور و اوډېرځايونه او هېوادونه يې ليدلي و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جنوبي اسیا مکتب

حج ډېره سخته او ستومانوونکي پروسه ده،ډېر کارونه او ډېر خدمتونه لري همدالامل دی چې رسول الله به دهر عبادت په پیل کې په دعا کې ویل چې :( ای ربه داعبادت مې قبول کړه خو دحج په اړه به یې ویل چې ای ربه ماته یې اسانه او له مايې قبول کړې )، هر حاجي په یواځې ځان خپل ځان ته د اخدمتونه شي کولی ، او دبعثې او شرکتونو پلاوي هم داکار نشي کولی ،نو سعودي ددې کارونو دښه انسجام لپاره دخپل دولت دحج او اوقافو د وزارت په چوکاټ کې څو مکتبونه جوړکړيدي چې په ټولې نړۍ کې د حجاجو لپاره دپیسو په مقابل کې د قرار داد له مخې دا خدمتونه تر سره کوي.

داسیا ډېر هېوادونه په مکه معظمه کې د جنوبي اسیا او په مدینه منوره کې دبنګله دېش دمکتب (اداري )اړوند دي موږ هم د جنوبي اسیا دمکتب اړوند وو. ددې دفتر یا مکتب نوم (المؤسسه الاهلیة المطوف لحجاج جنوب اسیا) و دامکتب بیا څانته سل مطوفه یا څانګې لري د جنوب اسیا په هغه څانګه کې چې (معتز یحیی عبدالرحمن بدر)یې مشرو ،سل مطوفه او مطوفات شامل وو دا هر مطوف دپنځو زرو حاجیانو خدمات اماده کوي یعنې د معتز اړوند ۵لکه حاجیان وو موږ د۷۸مطوف اړوند وو.

ددې مکتب مرکزي دفتر د ابن لادن شرکت ترڅنګ په خالدیه دوهم کې د محمد جبیر پرسړک وو . ۸۰۰۲۴۵۰۰۱۳یې وړیا او ۵۳۵۳۲۲یې دپیسو په مقابل کې د اړیکو شمېرې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د کارت د سيريال نمبر ۳۸۸۵۲۲ وو دا شرکت د هر حاجي پر سر ۳۰۰ ډالره د خاک پولي په نوم له بعثې او يا د حاجيانو له لېږدوونکي شرکت څخه اخلي او د دې پيسو په مقابل کې حاجيانو ته له جدې تر عمارو ، له عمارو تر منى، له منى تر عرفات او له عرفات څخه تر مزدلفې ،له منى تر عمارو ،په مکه کې له عمارو تر مدينې منورې له مدينې منورې بېرته تر جدې ترانسپورت تنظيموي، د حاجيانو الوتنې ،پاسپورتونه، دلېږد چارې او نومونه تنظيموي، کمپيوټر ته يې رسوي همداراز د بعثې پلاوی يا د شرکتونو استازي د عمارو د خونو او چپرکټونو د نيولو قرار داد له خلکو سره د همدې مکتبونو له لارې کوي، په منى کې خېمې او په عرفات کې تجيرونه همدوی نيسي، فرش کول يې هم د همدوی کار دی په عرفات او د منى په ورځو کې حاجيانو ته ډوډۍ هم دوی ورکوي، موټروته د حاجيانو د بار پورته کول اوښکته کول هم د همدوی کار دی.

هر وخت چې حاجيان مکې معظمې ته ورسېږي نو موټر يې د همدې شرکت مخته ورځي هلته ورته د همدې مکتب پېژند پاڼه د غاړې کارت، او يو لاس بند ورکول کېږي چې دا څرګندوي چې دا حاجي د کوم مکتب دی ،په کومه عماره ،کومه خونه او کوم ځای کې اوسېږي ، حاجيان که له جدې څخه مکې ته ځي که جدې ته، او که مدينې ته نو اوبه ، جوس کيک کلچې او ځينې ډالۍ حاجي ته ورکوي.

دې مکتبونو د حاجيانو کار ډېر اسانه کړی دی.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دابن لادن مسجد

کله چې دلمانځه وخت راشي نو دوکانداران لمانځه ته ځي خو دوکانونه نه بندوي ،بلکې مخې ته يې پردې وځړوي اوپه ډاډه زړه خپل لمونځ کوي.

زموږ دعمارې او حرم ترمنځ په حفاير کې د ابن لادن په نوم مسجد زموږ دلارې په سر و خو ماپکې فرض لمونځ ندی کړی ، يوه ورځ د مسجد دليدلو لپاره ورتاو شوم دوه رکعته نفل مې پکې وکړل، مسجد له ځمکې لوړ جوړ شوی ،لاندې ځمکتلی هم لري په ښکليو ګرانبيه غاليو فرش، ايرکنډيشنونه پکې فعال دي دښځو او نارينه وو د لمانځه بېل بېل ځايونه لري،د دواړو ځايونو ترمنځ.شيشه يې کتاره ولاړه او يو بل يې پنا کړې دي، دښځو او نارينه وو دلمانځه ځايونه په ويکتورونو ښودل شوي دي.داد هغه اسامه دميلياردرې کورنۍ لخوا جوړ شوی مسجد دی چې پخپله دلته په افغانستان کې په غرونو اوناوونو کې له هرډول ناز او نعمت څخه بې برخې ظاهراًخاص او خاص ديو پاک هدف اوپاکې عقيدې لپاره جنګېده

# دريم مخلوق

يوه ورځ زه او شاهد ، د مکې شرکت څلورم پوړ ته ددوکانونو او مغازو کتلو ته تللي وو کله چې بېرته راښکته شو نو راته يې وويل راځه چې نن درباندې دريم مخلوق ووينم ماورته وويل چې په مطلب دې پوه نه شوم، هغه راته وويل چې دشرکة مکه د ديوال ترڅنګ د هجړاګانو (ايزه کانو)ځای دی حج ته له هره ځايه راغلي هجړاګان همدلته راغونډېږي، يوله بل سره پېژني، کيسې او مرکې کوي، موږ چې ورغللو دامهال يوائې شپږ تنه ،هجړاګان ناست وو ، خو شاهد وويل چې اوس ډېر حاجيان بېرته تللي

(c) ketabton.com: The Digital Library



،هجړاګان هم کم شوي دي خوبیا هم اوس یې ځینې په طواف، ځینې په بازار او نورو ځایونو کې خپاره دي، که نه د پرش پنځه د پرش تنه یې اوس هم شته دي.

د ځینو هجړاګانو غټ غټ تیونه له کمیسونو لاندې ښکارېدل شاهد وویل چې هجړاګان له نارینه ووسره یوځای طواف کوي او په احرام کې یې تیونه ښکاري ځکه چې دوی دنارینه وو احرام کوي، حرم له هجړاګانو سره نابلده ندی استاد (عبدالملک همت) په خپل تالیف (زموږ د قبلې تاریخ کې) لیکلي چې چاروا کیو او مخورو به هم له اسلام څخه وړاندې او هم د اسلام دېیوې له روښانه کېدلو وروسته د حرم دخدمت لپاره مریان معرفي کول چې په دوی کې به یې قصداً هجړاګان چې هغه مهال به دآغا ګانو یا اقاګانو په نامه یادېدل معرفي کول داځکه چې دوی ښځوته تمایل نلري اوله دې اړخه ترې ډاډ موجود دی.

حضرت معاویه، یزید، خلیفه ابو جعفر منصور، سلطان نورالدین او سلطان صلاح الدین ؛ ټولو د حرم خدمت ته خصي یا ایزک مریان ورلېږلي دي استاد همت د علامه کردي له قوله لیکلي چې دده په وخت کې حرم ۲۴ تنه هجړا یا ایزه کان درلودل.

## په مکه معظمه کې وروستۍ ورځې

وخت د چا خاطرنه کوي، داوبو په څېر تېرېږي او دخوند او لذت ورځې او شپې خود باد په څېر وي میاشت اونۍ، اونۍ ورځ او ورځ ساعت شي، زموږ ورځې هم په پوره کېدلو شوې، له ماما (حبیب الرحمن استاد) سره مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکور او دوستانو لپاره ځيني ډالۍ واخستلې خو ماماميږ راته وويل چې په مدينه منوره کې دمکې په پرتله ارزاني ده.

بالاخره ديکشنبې په ورځ زما دماما نوم هم د هغو کسانو په لست کې راغی چې سبا دوشنبه سحر اته بجې به له مکې څخه جدې ته روانېږي ، همداسې وشول ،سبا مې ماما د خفګان په بدرګه رخصت کړ، دهغه بېلتون راته سخت شو، خو چاره نه وه هغه هم زما پربېلتون خفه شو، خير هغه کورته اوموږ يې سباته داسلام دغوړېدلو ، خپرېدلو او دامن او نور ښار مدينې منورې ته روانېدو ،له هغه سره مې خدای پاماني وکړه، هغه يوولس بجې جدې ته ورسېد، ورته ويل شوي وو چې دشپې دولس بجې به کابل ته الوځي، خودشپې پاوباندې دولس بجې لاهم منتظر وو خو چې يوه نيمه بجه مې ورته زنګ وواهه ټېليفون يې کار نه کاوه، ددوشنبې ورځ مې په طوافونو تېره کړه، له حرم څخه مې دوتلو زړه نه کېده الله ج په دې ورځ ددولسو طوافونوتوفيق راکړ. دمولوي صديق الله او مولوي شفيع الله ددوست ملا صفت الله په مرسته مې دپنځم ځل لپاره د حجراسود په ښکلولو او له ملتزم سره دسينې په مښلو زړه يخ کړ. دسه شنبې شپه مې په حرم کې اعتکاف وکړ، تر دوه بجومې طوافونه او لمونځ وکړ وروسته دحرم دريم پوړ باب الصفا خواته ورغلم بوټان مې سر لاندې کړل او ويده شوم خو لا درې نيمې بجې نه وې چې بېرته پاڅېدم اودس مې کړ او مطاف ته ښکته شوم،له غرمې مخکې تر لس بجو په حرم کې په لمانځه او طواف بوخت وم لس بجې مې طواف وداع پيل کړ، له طواف وروسته مې ځان ملتزم ته ورساوه ځان مې ورپورې ښه ونښلاوه، په داسې وخت کې که زړه دکاڼي هم وي نو اوبه اوله سترګو اوښکې روانې شي، نور خلک هم ملتزم پورې نښتي وو دهغوی ژړاګانو او چيغو په فضاکې انګازې کولې نور نو پوه نه شوم څومره مې چې پخپل ژوند يادېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دومره مې ژړلي نه وو اونه مې خپلې دومره اوښکې لیدلې وي هېڅ مې زړه نه کېده چې له ملتزم څخه لېرې شم.

ماسپښین له لمانځه وروسته مې بیا طواف وکړ ، د اوښکو او ژړا حالت هماغه سحر نی و وروستی ځل مې په حرم کې دوه رکعته نفل وکړل خدای ج خبرچې څومره به رانه اورېده شوي وي، زمزم مې پرېمانه وڅښل خو لومړی ځل وو چې له خفګانه مې زمزم سم نه تېرېدل له حرم څخه راووتم مخ مې حفایر ته وو خو دوه درې ګامه وروسته به مې غیر اختیاري مخ حرم ته واوښت په پله ودرېدم او مخ مې کعبې ته کړ ښې اوښکې مې تويې شوې اورېده دعامې وکړه په غټو غټو مې دحرم مناروته وکتل زړه نازړه مې حرم ته شاه او دبیا لیدلو په هیله ورسره خدای پاماني وکړه خپلې خونې ته لاړم خپل سامان او بیکونه مې برابر کړل څلور بجې د عمارو مخ ته موټر راغلل او سامانونه مو ورووېستل.

# د جلال له ښار څخه د جمال ښار ته

دعمارو مخ ته څلور موټر راغلي وو په هر موټر کې ۴۲تنه سپرېدل زه د څلورم موټر په لومړۍ څوکۍ دچلوونکي ترڅنګ کېناستم ، ترڅو مو چې بارونه پورته کېدل، نو پاو کم پنځه بجې شوې، په همدې تیم موټر حرکت وکړ.

لومړی دجنوبي اسیا مکتب ته ورغللو هلته یې راته وجبې چې په هره وجبه کې کیک ،کلچې ،بسکټ ،د زمزم اوبو یوبوتل ، یو دغاړې بیک اوجوس راکړل، دزمزمو پر بوتل داوبو څښلو دعاګانې لیکل شوې وې ډېر اسانه: په ښي لاس ، اوپه ناسته اوبه څښه، بسم الله ووایه په درې دمو یې وڅښه اوپه پای کې الحمدلله ووایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم یو ساعت د مکې په کوڅوکې تاو راتاو کېدو ،تیاره ماښام دمکې له ښار څخه ووتلو د ماسخوتن لمونځ مو په عسفان کې وکړ له لمانځه ورو سته مې له امام څخه چې سعودی و وپوښتل چې تاسې له لمانځه وروسته ولې سنت او وتر نه کوئ؟ هغه راته وویل چې سنت خو نفل دي او ستا خوښه چې نفل هرڅورکعته کوې، کله یې کوې او که نه یې کوې او موږ وتر کوو، خو د وترو وخت دسهار تر را ختلو دی، څو مره چې یې ناوخته وکړې، ثواب دی، وتر تهجد اوقیام اللیل دی او دقیام اللیل تر تیب دادی چې دشپې په وروستۍ برخه کې وشي،کله چې پوه شو چې زه افغان یم نو راته یې وویل تاسو ولې یوبل وژنئ، ولې مو وطن ورانوئ، ماورته وویل هلته اور امریکا جوړ کړی دی، دطالبانو د زور او ځواک په اړه یې پوښتنه وکړه کله چې ما معلومات ورکړل نو خوشحاله شو دعایې ورته وکړه خو ویل یې چې رسنۍ خوناسم معلومات ورکوي. موټر په ډیم اشارو روان دی ډېر تیز نه ځي ،موټر چلوونکی مدین نومېده د مصر اوسېدونکی و ډېر ټوکي او خلاصه ټنډه یې درلوده، مدین ویل چې دلته یواځې د حج په موسم کې دخدمت لپاره راغلی او دټول موسم اجوره یې زر ریاله ده، مدین وویل چې دري ورځې وروسته بېرته مصر ته ځي او وخت یې پوره کېږي . زموږ د تر حیل شمېره ۲۷۸۲۲۴او دموټر پلېټ ۱۹۵۱وو. له مکې څخه ۱۵۰کیلو متره لېرې د الظبیة والجمعة سیمه کې مو د راحت په نوم هوټل (الفندق و مطعم الراحه )کې دمه وکړه چا ډوډۍ وخوړه ، چا تازه مېوه، چا اوبه،چا چای او نور مشروبات، هوټل دپاکستانیانو دی، دښځو لپاره بېل ځایونه لري، پراخه برنډه په حویلۍ کې پریمانه چوکۍ ، مسجد ، بیت الخلا ، داوداسه ځایونه لري، ډېر بیروبار وو ما شل لوی موټر وشمېرل چې ورته ولاړ وو د هوټل عمله چې ډېر یې پاکستانیان وو ، ډېر بوخت وو. د یو منځني خوراک بیه لس ریاله ده.چې روان شو ډرېور راته وویل چې دوی ته د مکتب لخوا ټول پروګرام ورکول کېږي چې په څو بجو باید له مکې څخه روان شي، چېرې

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



دماښام او ماسخوتن لمونځ وکړي، چېرې دمه وکړي، دتګ سرعت يې څو وي، څوبجې په مدينه کې ددوی دفتر ته ځان برابر کړي څو بجې حاجيان ښکته کړي او نور، ښې خواته مود خليص کلی دی داکلی دشپې لخواډېر رنګين وو خوپه کرنه او سمسورتيا نه، بلکې په بربښنا . دمکې اومدينې شاوخوا څلورنيم سوه کيلو متره سړک دوطرفه دی ددواړو سړکونو ترمنځ ديوال او جال دی دمخامخ راتلونکي موټر د اشارو رڼا دډېرو سترګې نه نيسي هر طرف ته پراخ سړک څلور کرښې لري او څلور موټر پرې ځايېږي دهرډول سرعت لپاره خپله ليکه ټاکل شوې او ټول سړک په کيمرو څارل کېږي له دې پرته د پليو خلکو لپاره هم يو سړک لري.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رڼا او بریا په ښار کې

زړګیــــه ســــترګې لګــــوه د قــــدم لاره نــــه ده
حبیـب پـرې ایښـي قدمونـه دومـره خـواره نـه ده

اوس مـې پــه یــاد نــه دي چــې دادنوښــار دعبــدالله او کــه دکربــوغې دمحمدامین نعت دی خو په کوچني کې مې په مسجدونو کې په ترنم ډېر ویلی دی.

بالـآخره پـاوکم دوه بجـې دانسـانیت دپیغـام اودڼااوخلاصـون دپلوشـو وېشونکي ښار مدینې منورې ته ورسېدو ،حکومت څو ځایه تاو راتـاو کړو څو ځایه مو پاسپورټونه چک شو، دلته هم لومړی د جنوبي اسیا مکتب تـه ورغللو، وجبې یې راکړې سامان موخونوکې ځای پرځای کړ، زموږ عمـارې حرم ته نږدې وې ټوله پنځه دقیقې لار وه ستړې هم وو خو ویده نه شو، لـه ماسره د مدني حرم دلیدلو تلوسه ډېره وه له لرې دمې وروسـته حرم تـه روان شو دحرم لیدلو ډېر خوند راکړ ډېر پراخه ،ښکلی او شانداره . اخر ښکلی به ولې نه وي؟ دلته لسګونو زرو صحابه وو لمونځ کړی دټولو کائناتو په کچه ستره هستي او ښکلا همدلته ده، ددې مسجد بنسټ پخپله حضرت محمد ص ایښی دی، هماغه یې لومړنۍ خطیب او امام دی.

په برنډه کې مو په صف کې ځای ونیوه ،تهجد مـو وکـړل، جمعـې تـه ډېـر وخت وو ډېر ملګري موله ستړتیا په صف کې په ناسته ویده شول، په نبوي مسجد کې دکعبې په مقایسه لمونځ ډېر اوږد و اوږده قومه، اوږده جلسه او اوږده قعده له لمانځه وروسته ملا یار محمد په باب رحمت در سول الله ص

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزار ته روان کړلو، درسول الله ص مزار ته تللې کوڅه که څه هم پراخه ده خو ډېر بیروبار پکې وو، ډېر ورو ورو مزار ته ورسېدو لومړی ځل مو د سرورکائنات پر مزار سترګې ولګېدې، دلته نور پروت دی، دلته دهدایت اوژغورنې ډیوه تر خاورو لاندې ده. دلته هم نورې ژړاګانې نه تم کېدلې د الصلواة والسلام علیک یا رسول الله چیغو فضا ونیوه او اوښکې نه تم کېدلې.

مور د ډېرو کمالونو او کراماتو د خاوندروضې ته ولاړیو هغه چې:

حســـن یوســـف دم عیســـی ید بیضـــا دارد
آن کـــه خوبـــان همـــه دارنـــد وای تنهـــادارد

یا

خـــدای یـــې مـــه ګڼـــه ښښـــکه چـــې بنـــده دی
نـــور یـــې کـــل واړه صـــفات دي پـــه رښـــتیا

د پنجرې دننه نه درسول الله (ص)، نه د حضرت ابوبکر صدیق او نه د حضرت عمر رض قبرونه ښکارېدل خو دهریوه د قبر په برابری یو سوری وو چې له ځیرتیا وروسته ترې دقبر یو ه ثنده ښکارېده که خلک درسول الله د مزار په زیارت کې افراط کوي نو پولیس هم دبدعت په مخنیوي کې افراط کوي که په سهوه هم د چالاس دمزار ترڅنګ پرکتاره ولګېد نو پولیس پرې غوسه شي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې له لمانځه فارغ شو نو دلته خو طواف هم نه و دنفلو وخت هم نه و او ستړي هم وو نو خپلو خونوته روان شو ،نږدې وه چې لار مو غلطه کړې وای

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صفه او ریاض الجنة

د سحر چای له څښلو وروسته بېرته حرم ته لاړم ، اودس او دڅاښت لمونځ مو وکړ، غوښتل مې چې ټول حرم ووینم نابلده وم ماویل ښه به وای چې اوس داسې یوڅوک را پیداشوی وای چې دلته بلد وای او ماته یې هم لارښوونه کړې وای،خو کله چې دحرم دوهم پوړ ته ختلم په زینه کې یوځوان راباندې غږ وکړ، مینه ناکه او توده ستړې مه شي یې وکړه ویې یل چې نوم یې قاري شریف الله او دملا احمدګل زوی اودلغمان دقرغه یو ولسوالۍ د عزیز خان کڅ اوسېدونکی دی د قاري شریف الله کورنۍ ماپېژندله په بڼه بېره کې د څوارلس کاله ګڼ ژوند سر بېره دهغه پلار اروا ښاد ملا احمدګل زما دمور (اللهم اغفرها وارحمها)ترورزی هم دی له ملا احمدګل څخه ما په مسجدکې ډېر سبق ویلی او دقاري شریف الله مشروررور مولوي رفیق الله زما ددرس ملګری دی.

قاري شریف الله شپږ ورځې وړاندې مدینې منورې ته راغلی او بلد و په حرم کې یې ښه وګرځولم هر ځای یې راوپېژنده دحرم په غولي کې د څښلو داوبو ټانکۍ ته ورته ځای جوړ شوی چې د کارولو لپاره ډېرې بمبې لري قاري شریف الله وویل چې دلته دحضرت ابو ایوب انصاري رض کور و هغه چې دحضرت رسول اکرم ص اوښه یې دهجرت پرمهال په دروازه کې څملاسته او درسول الله ص دمېلمستیا ویاړ په مدینه منوره کې لومړۍ د همده په برخه شو، اوس خوهغه کور رنګ شوی خو ځلي ته ورته داټانکۍ یې په یادجوړه شوېده.

له دې وروسته یې مسجد ته دننه صفې ته وروستلم اصحاب الصفه داسلام په تاریخ کې ډېرمشهور دي، دحضرت رسول الله ص پر ژوند ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحابه وو خپل ځان اسلام ته وقف کړ، دوی نور کار وبار نه کاوه، دنبوي مسجد او درسول اکرم ص دکور ترڅنګ به په يوه صفه ناست و، زده کړه يې کوله، امر بالمعروف يې کاوه، په جهاد کې يې عملي ونډه اخسته او درسول الله ص قوماندې ته به منتظر وو. صفه اوس دنبوي مسجد په دننني حريم کې ده درسول الله ص مزار سره نښتې داځای اوس هم له نور مسجد څه لوړ دصفې په شکل دی چې شاوخوا ترې کټاره تاوه ده.

دماز ديګر لمونځ مو په صفه کې وکړ، دلته د ځای موندل هم اسانه ندي خوبيا هم له لږ کوښښ او انتظار وروسته مو ځای وموند له لمانځه وروسته مې په صفه کې حجرې (دحضرت عايشې خونه چې اوس هلته حضرت رسول الله ص او شيخين رض ښخ دي) ته نږدې ځای وموند هملته کېناستم ،تلاوت مې پيل کړ، په نبوي مسجد کې تفاسير او دقران ژباړې هم اېښودل شوي دي دماښام لمونځ مې هم همدلته وکړ، له لمانځه وروسته رياض الجنة ته ولاړم هلته له صفې هم ډېر بيروبار وي، نوبت ته ودرېدو چې که کوم څوک له لمانځه ووځي او ځای يې اوزګار شي، هرڅوک غواړي چې هلته ډېر لمونځ وکړي،کېني ،اطاعت وکړي خو دبيروبار له کبله ددې هيلې ترسره کېدل او په مړه خېټه لمونځ ،ناسته او ذکر ستونزمن کار دی، پوليس پر خلکو د (ژرکوئ )غږ کوي اوو ايي چې چا دوه رکعته لمونځ کړی وي نو ځای دې نورو ته پرېږدي چېغې وهي څوک چې ناست ووينې نو پورته کوي يې چې نورو ته ځای اوزګار شي، دبيروبار له کبله صفونه ډېر تنګ وي، د سجدې په وخت کې سر دمخکيني شخص په پښو کې اېښودل کېږي ما هم ځای وموند دوه رکعته لمونځ مې وکړ پوليسو خپلې چېغې وهلې چې بيامې نيت وکړ ماويل شپږ رکعته او اېين لمونځ خوپوره کوم، زړه مې نه کېده ، چې ووځم خو دخلکو له بيروبار او انتظاره وشرمېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولیسو هڅه کوله چې حاجیان هغې کوڅې ته ور مخ کړي چې د رسول الله پرمزار تېرېږي او باب السلام ته وتلې ده، خو ما هڅه کوله چې د رسول الله ص په محراب کې هم کم تر کمه دوه رکعته لمونځ وکړم خو د بیرو بار له کبله بریالی نشوم خو په سبامې دا ارمان هم ترسره کړ. د حرم خادمانو په صفه کې سپینې او په ریاض الجنه کې شنې غالۍ غوړولې دي.

نبوي مسجد دا مهال ډېر ښکلی دی لاندې باندې په سرو غالیو پوښل شوی، ستنې یې ډېرې ښکلې کمانونه لري، رنګ یې تور او شیرچه یې ته ورته ښکلی او ساده دی دهرې ستنې لاندې مرمر او لاندینۍ برخه کې ایرکنډیشنونه، د ستنو پاسنۍ برخه کې ډېرې ښکلې ګنبدې او ترې لاندې درېاپاره جالۍ. هرې خوا ته لویې کړکۍ، د کړکیو لاندې له یو فټ څخه په پلنو پټیو په کریمي رنګ ایتونه لیکل شوي، په بله برخه کې د ستنو ډیزاینونه تغییر شوي، دا محرابونه ورته له رنګه مرمرو جوړ شوي ګلان دي، په هره پایه کې څلور خواوو ته د عظیم الشان قران لپاره رفونه جوړ شوي دي ، له دې پرته د مسجد په هره برخه کې د عظیم الشان قران لپاره الماري جوړې شوې دي ، ډول ډول قندیلونه او د بریښنایي څراغونو لپاره له پیتلو (ژېړو) جوړ لوی شیټونه لګېدلي دي، په ستنو کې له کمانونو لاندې او د مرمرو لپاسه له مرمرو را تاو دژېړو لوی شیټ ستنو ته لاښکلا ورکړېده.

باب کعبې ته پرته دې دیوال په مرمرو ټول سورت واقعه په دې بڼه لیکل شوی چې مرمر تراشل شوي او حروف ترې راوتلي دي، د ډېرو دننه حروف لیکل اسانه دي، خو دا چې د ډېرې له پاسه حروف ولیکل شي دا نو ستونزمن کار دی ځکه چې د ډېرې مخ به ټول تراشي او حرف به ترې راوباسې، د حرم ټول فرش تک سپین مرمر دی،بهر په سالون ( غولي )کې کمپیوټري ستنې لګول شوې دي چې د کمپیوټر په قومانده کله ستنې شي او کله سایه بان، که

www.melltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله لمرتود او يا باران وي نو د دې ستنو وزرونه په کمپيوټر غوړوي خو چې کله هوا ښه وي نو دا وزرونه قات او بېرته له ستنې تاو شي د حرم د بهرني سالون ځمکه په تورو او خړو چپسو پوښل شوېده.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نبوي حرم پراختیا

په مدینه منوره کې پروت نبوي مسجدله ډېرو فضایلواو ځانګړتیاووڅخه برخمن دی.

دایوله هغو درې ځایونو څخه دی چې دکتلو لپاره یې د سفربستره تړل روا دي، رسول الله ص فرمایي: له درې مساجدو (مسجد الحرام، مسجد اقصی اوهمدې نبوي حرم)پرته دنورو ځایونو او مساجدو دکتلو او احترام لپاره سفر مه کوئ.

همدا راز رسول الله ص فرمایي چې په نبوي مسجد کې لمونځ دنورو مساجدو په پرتله زر ځله غوره دی.

له نبوي مسجد او په مدینه منوره کې له پرتو نورو مساجدو سره د اسلام ډېر خاطرات او واقعات تړلي دي، دا مسجد لکه څنګه چې ډاکتر محمد الیاس عبدالغني وایي دډېرو ایتونو او حدیثونو، په پېژندنه او دهغوی د مفهوم په تشریح کې مرسته کوي.

په مدینه منوره کې د ځینې مساجدو دبنسټ ډېره رسول الله ص پخپله ایښې ،ځینې مساجدصحابه و رض دهغه ص په ژوند کې جوړ کړي او رسول الله ص پکې لمونځ کړی دی په ځینې ځایونوکې رسول الله ؛ص لمونځ کړی خوهلته د صحابه وو په وخت کې مسجد نه و جوړ شوی، بلکې هلته حضرت عمر ابن عبدالعزیز په کال ۸۷_۹۳چې دخلیفه ولید بن عبدالملک په وخت کې د مدینې والي وو جوړ کړي دي ،خلیفه ولید هغه ته امر وکړ چې ټول هغه ځایونه نښه او مساجد پکې جوړ کړي په کومو کې چې رسول الله ص لمونځ کړی و ،حضرت عمر ابن عبدالعزیز هم همدا اسې وکړل.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکي خليفه سلطان سليمان خان عثماني په خپل دور له ۹۲۲تر۹۴۸هـ کې د مدينې ټول تاريخي مساجد بيا ورغول.

د ال سعود دکورنۍ مشهور واکمن شاه عبدالعزيز د حرمينو په شمول ټول مساجد له دولت سره رسمي کړل، دحرمينو خادم ملک فهد د اسلامي چارو ، وزارت وګوماره، چې ټول تاريخي مساجد پراخ او ورغوي، دهمده په امر د قبا ،قبلتين ،ميقات، علي،مستراح،ابو ذراو جمعه مساجد له سره جوړ او دغمامه،ابوبکرصديق،عمرابن خطاب، (مناخه)او دفتح مسجد ورغول شول.

مدينې منورې ته درسول الله ص له هجرت وړاندې دمدينې، مسلمانانو په هماغه ځای کې لمونځ کاوه چې اوس پکې نبوي مسجد جوړ دی کله چې رسول الله ص مدينې منورې ته هجرت وکړ نو هغه ص هم همدلته لمونځ پيل کړ، او د ۲۲۲ هـ درربيع الاول په مياشت کې يې همدلته نبوي مسجد جوړ کړ، دلومړي جوړ شوي نبوي مسجد اوږدوالی ۳۵متره او پلنوالی يې ۳۰متره ،دچت لوړوالی يې پينځه لاسه دوه نيم متره وو او چت يې دخرما له څانګو او ستنې يې دخرما له ډډ څخه وې، کله چې رسول الله ص دهجرت په اوم کال د خيبر له غزا څخه راستون شو نو دنبوي مسجد اوږدوالی يې پنځلس او پلنوالی يې شل متره پراخ کړ، په دې توګه دنبوي مسجد طول او عرض مساوي ۵۰+۵۰ شو نن سباددې حد شمال ته دترکي مجيدی ودانۍ دچت او لوېديځ ته له منبر څخه تر پنځو ستنو پورې دی او دې اندازې ته اوس هم دمسجد دديوال په پورتنۍ برخه د نبي ص دمسجد اندازه ليکل شوې دي.

وروسته دامسجد دحضرت عمر رض په وخت دهجرت په ۱۷مه يا ۲۳۸ز،دحضرت عثمان په وخت ۲۹هـ يا ۲۵۰ ز،داموي خليفه وليد بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالملک ۲۴۹ ، دحضرت عمر ابن عبدالعزیز په واسطه له ۸۸هـ تر ۹۱ یاله ۷۰۷ز تر ۷۱۰ زیږدیز ،د عباسي خلیفه مهدی بن ابو جعفر په وخت له ۱۲۱هـ تر ۱۲۵ ،سلطان اشرف قایتبا دي په ۸۲۲هـ تر ۸۸۸، سلطان عبدالمجید عثماني په ۱۲۲۵هـ تر ۱۲۷۷هـ ۱۸۴۸تر ۱۸۲۱پراخه کړ. شا عبدالعزیز ال سعود هم نبوي حرم پراخ کړ، هغه شمالي اړخ ته ۲۲۴۲مربع متره ساحه ونړوله،او ۲۴۲ مربع متره ساحه یې نوره هم ورسره اضافه کړه،چې ۲۸ زره لمونځ کوونکیو ته یې ځای پیدا کړ دا ودانۍ مستطیل ډوله ده، په منځ کې یې یو بل دالان جوړ کړ چې دملک فهد د پراختیا پر مهال یې دلته دولس ستنوته ورته چترۍ ولګولې چې په کمپیوټر خلاصېږي او بندېږي.

ملک فهد هم په ۱۴۰۵ دصفرالمظفر په نهمه دنبوي حرم دپراختیا کار پیل کړ چې د ۱۴۱۴هـ د ذوالقعدې په ۴مه پای ته ورسېده په دې پراختیا کې هغه لویه پراختیا شامله ده چې دسعودي پراختیاله لومړۍ ودانۍ راتاوه ده،په دې پراختیا کې ځمکتلی هم شامل دی او د وخت تولې عصري غوښتنې پکې په پام کې نیول شوي دي په دې پراختیاکې چې یو نیم لک حاجیان پکې ځایېږي او ۲۱۰۴ستنې لري هره ستن له بلې ۲متره لرې ده خوپه کومه برخه کې چې پرسر یې ګنبدده دستنو فاصله یې ۱۸متره ده او منځنی مساحت یې ۱۸×۱۸ =۳۲۴متره مربع دی ، ددې ډول ګنبدو شمېر ۲۷دی، په چت دلمونځ کوونکیو لپاره ۵۲۸۲۵متره مربع ساحه ده چې ۹۰ زره تنه پکې لمونځ کولی شي، په دې ډول په مسجد کې دلمانځه لپاره ټوله ساحه ۱۴۰۲۵۰مربع متره ده چې ۲۴۰۰۰۰ پکې لمونځ کولی شي چې دپخوانۍ پراختیا نهه چنده برابرېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمسجد حوېلۍ ۱۳۵۰۰۰ متره مربع ده چې ۴۳۰۰۰۰تنه پکې لمونځ کولی شي، په دې ترتیب اوس دنبوي حرم په مسجد چت او حوېلۍ کې ټول ۶۹۸۰۰۰ یاڅه کم اوه لکه تنه لمونځ کولی شي په نوي پراختیاکې دبنځولپاره د مسجد په وروستۍ برخه کې دلمانځه دوه ځایونه بېل شوي دي.

پخواحرم دوه خو اوس اته مناره لري مسجد ټول په ایرکنډېشن سمبال دی، دوه ځمکتلي لري چې ،په دې ځمکتلوکې ۴۴۴۴موټر ځایېږي ، آسانه حرکت هم کوي او اسانه تاوېدلی هم شي. دمسجد دپوره ابادۍ داکار هم دابن لادن شرکت کړی دی ، ددې ځمکتلی په اړه به وروسته هم څه معلومات ولرو.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د جمال ښار

مکه معظمه له ډېرو فيوضاتو او فضايلو څخه برخمن ښار دی دا ښار د الله ج د کور او کعبې له فيض څخه برخمنه، د وحې د نزول کوربنه ،د حضرت هاجرې او حضرت اسماعيل ع د اړو او اندېښمنو ونکيو شېبو او د دوی د دعا او دزړه له درده د راوتلي غږ له برکته د زمزم داوبو د راوتلو ننداره کوونکي ،د حضرت ابراهيم ع د دعا موخه او د سيدالکونين حضرت محمد ص د زېږېدلو ځای دی. دلته الله ج خپلو بنده ګانو ته خپل کبريا ذات ،خپل جلال ،خپل شان ،شوکت او دبدبه ورښکاره کړېده، خو دا چې مکه ټول غرونه او غونډۍ دي ،هوايې هم توده ده ،بېروبار هم پکې ډېر زيات وي نو حاجيان د مکې معظمې په پرتله په مدينه منوره کې خوښ وي، مدينه منوره د رسول لله ص د هجرت وطن، د غزواتو وطن ،د اسلامي حکومت لومړنۍ پلازمېنه ،د اسلام د پرتم د غوړېدا او دعوت د پراختيا ځای دی، الله ج مدينې منورې ته د خپل ګران محبوب هغه محبوب چې مادي او معنوي ښکلا ګانې يې پرې تمامې کړې دي، هغه يې د ډېرو لويو او ښکو اخلاقو پرښکلا پسوللی د تلپاتې کور به توب وياړ ورپه برخه کړ او همدا جمال اوس هم هلته شته دی، بل دا چې مدينه لوی ښار دی ،د مکې په پرتله يې هوا سړه ده، سړکونه يې لوی او خلاص دي، غرونه او غونډۍ پکې کمې دي، په هوار ډګر جوړ شوی ښار دی خلک يې ډېر مهذب ، لوستي، روزل شوي او د ښې او لوړې تربيې خاوندان دي چې د حاجيانو ډېر درناوی کوي، کله چې حاجيان له سړک څخه اوړي نو د مدينې اوسېدونکي ورته موټر ودروي او ترڅو چې ټول حاجيان له سړک څخه اوښتي نه وي حرکت نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز په مدینه کې دمکې په پرتله ارزاني هم ډېره ده ،په مدینه منوره کې دبقیع هدیره دډېر وجلیل القدره صحابه وو مدفن ځای دی ، مدني حرم نه یوائې د رسول الله ص ،بلکې دشیخینو ،(ابوبکر صدیق او عمر فاروق) مدفن ځای دی، نوهمدا لامل دی چې خلکو مکې معظمې ته دالله ج دجلال او مدینې منورې ته د الله ج د جمال ښار نوم ورکړی دی، په مدینه منوره کې زموږ شپې او ورځې هم ښې تېرې شوې، رسول الله ص مسلمانان، هڅولي چې په نبوي مسجد کې څلوېښت لمونځونه پوره کړي،اوس ټول حاجیان هلته هرو مرو کم ترکمه اته ورځې او شپې تېروي چې څلوېښت لمونځونه پوره کړي،الحمدلله ماهم په مدینه منوره کې ټول لمونځونه په نبوي مسجد کې په جماعت اداکړل،اویو لمونځ هم رانه بې جمعې نشو.



alitahrik.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنة البقیع

ماداسې انګېرله چې جنة البقیع به له حرم څخه چېرې لېرې پروت وي، په جنة المعلی او جنة البقیع کې به هم دافغانستان په څېر لوړ لوړ قبرونه وي، پر هر قبر به دمړي نوم وي،دمړو دقبرونو په اړه خو په مکه معظمه کې او دجنة البقیع دموقعیت په اړه په نبوي مسجد کې له لومړي لمانځه وروسته په خپلې سهوې پوه شوم، مدینې منورې ته زموږ درسېدلو په لومړۍ ورځ مې خپل خواږه او پخواني ملګري ،ډاکتر ،شاعر،کیسه لیکوال او طناز طبع شخص بازمحمد ښادمن ته ټېلیفون وکړ، ښادمن د المبارک او المهاجرشرکت له مسؤولینو څخه وو،چې حاجیان یې دلته را انتقال کړي وو،مااوښادمن دطالبانو په وخت کې ډېرې ښې شپې او ورځې تېرې کړې دي، دواړه هغه دچاخبره دعسکرۍ دوخت اندیوالان وو،هغه مخکې هم څوځله مدینې ته راغلی او دلته بلد و، ډاکتر ښادمن تاکلي ځای ته راغی له سلام سترې مه شي وروسته مې ورته وویل چې جنة البقیع ته مې بوځي هغه راته وویل چې جنة البقیع ته یوازې سحر او مازیګر دورتللو اجازه وي او بس نور وخت یې دروازې تړلې وي، سباسحر یې ژمنه وکړه، سباسحر مو چې لمونځ په جماعت اداکړ نو ور روان شو، چې دحرم له دروازې ووتو نو مخامخ دیوې ډېرې لویې احاطې لوړې دروازې ته وروختلو دحرم ددروازې او دې دروازې ترمنځ یوازې یو سړک و پر دروازه ډېر بیروبار و ښادمن راته وویل چې همدا جنة البقیع دی، ددروازې دننه احاطه په نقشه جوړه شوېده، لسګونه پولیس او متواګان ولاړ دي، خلک ددوی په آند بدعتونو ته نه پرېږدي، ددروازې دننه لږ وړاندې ښې خواته دسړکونو ترمنځ څو قبرونه دي،چې ځینې یې واړه دي، خلکو ویل چې دادرسول الله د کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(اهل بیت) یا ازواج مطهرات او ددوی بچیان او امام حسن دی، دلته ډېر قبرونه ځینو مشهورو صحابه ووته منسوب دي خو متواګان پر یوقبرهم پرېکنده حکم نه کوي چې ګویا داقبر دفلاني دی، آن د حضرت معاذ ،حضرت امام مالک ، حضرت عثمان او حضرت عایشې رضی الله عنهم په څېر دمشهورو صحابه وو د قبرونو په اړه هم ،همدومره وایي چې: داقبرفلاني ته منسوب دی، والله اعلم. هدیره لویه ده، خو دهیچاپرقبر یې نوم نشته، لوړې شناختې نشته ،ځینې قبرونه له ځمکې سره برابر اویا یوه لوېشت ترې لوړ دي خو بیا هم ،هم شناختې او هم قبرونه د جنت المعلی له هغو لوړ دي، دحضرت عثمان اوحضرت امام مالک قبرونه خلکو راوښودل خو نور مولانه پېژندل، وراندې مو ولیدل چې له یوه قبرڅخه ډېر خلک راتاو و ،موږ هم ورغللو،چانه پېژنده په همدې کې یوه پنجابي له جیب څخه نقشه راوویسته ،نقشه موچې وغوړوله داقبریې دحضرت معاذ رض وښود ، له پنجابي موو غوښتل چې دانقشه موږ ته راکړي چې یوه کاپي ترې واخلو خوله هغه سره په جیب کې دهمدې نقشې بله کاپي هم وه،هغه یې موږته راکړه، زه ددې نقشې په ترلاسه کولو ډېر خوښ شوم اوډېر قبرونه موددې نقشې په مرسته وپېژندل.

دلته هم افغانان له متواګانو پټ ،ځان او کورنۍ ته کوچني کوچني قبرګوټي جوړوي خاوره را اخلي او پټه یې په جېبونوکې اچوي او بیایې وطن ته راوړي متواګان هم دښکاریانو په څېر ګرد ګرځي او خلک له منکراتو منع کوي کله کله غوسه هم کوي.

دجنت البقیع دقبرونو په لیدلو موږ داپایله واخستله چې هغه قبرونه چې تابعینو او مشهورو خلکواو یا صحابه ووته منسوب دي اویا پېژندل شوي او دهدیرې په مخکې برخه یا مسجد نبوي ته نږدې دي نه ورانوي اونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرځای څوک ښخوي خودهديرې پـه وروستۍ برخه کې بيا مړي د ېر نه پرېښودل کېږي او د جنة المعلی په څېر کال وروسته نور پرې ښخېږي، دلته هم قبرونه په نقشه دي او دهديرې مسؤولين پوهېږي چې کوم مړی يې په کوم تاريخ ښخ کړی او کله پرې بل ښخولی شي، دهديرې په شمال ختيځه سيمه کې مو ډېر قبرونه وليدل چې مسؤولينو راسپړلي اودنويو مړو ښخولوته چمتو کړي وو ،داقبرونه ټول خام او په منځ کې يې لحد و ،دلته هم کار اسانه دی، په نبوي حرم کې د مړي جنازه وشي او دلته يې راوړي ،قبر ته يې ښکته کړي لحد پر خښتو پټ کړي.


اوپرته له دې چې په لحد خاورې واړوي پلاستيکي تخته دقبر پر سر کېږدي او همدومره خاوره پرې واړوي چې داپلاستيکي تخته ښه پټه کړي، کال وروسته که اړتيا وه، نوداقبربېرته سپړي او بل تن پکې ښخ کړي، جنة البقيع ډېر لوی لوی جليل القدره صحابه دخلکوسترګوته دروي، دصحابه و خاطرات ،سيرت اودژوند زريني کارنامې.

ددې صحابه وو قبرونه چې له ځمکې سره آن نه پېژندل کېږي له هغو مزارونو او روضوسره له ځمکې تر اسمانه توپير لري چې په هند ،ايران ،کشمير پاکستان او افغانستان کې ماليدلي دي، په افغانستان کې حضرت علي رض ته منسوبه په مزار کې جوړه روضه،دهند په اجمير کې دخواجه غريب نواز ،په ډهلي کې د نظام الدين اوليا ،دپاکستان په لاهور کې دد اتاګنج بخش ، په حيدراباد کې لال شهباز قلندر، په کراچۍ کې عبدالله شاه غازي ،دايران په مشهد کې د امام رضا زيارتونه او د جنة المعلی او جنة البقيع دصحابه وو له ځمکې سره برابر قبرونه خلکوته دا درس او پيغام ورکوي چې عزت په ګنبدو ،شاهانه او مرمرين قبرونو او زرينو دروازو کې نه دی ،بلکې په تقوا او اسلام ته په خدمت کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅو چې په مدینه منوره کې وو نو څوځله جنة البقیع ته ددعالپاره ورغلو، تېریادونه او له صحابه وو سره زما دزړه تړلې تلوسې مې پکې لتېولې، دهر صحابي قبرته به ودرېدلم ،ګریوان ،به مې لوند شو، په تصورکې به مې له هغه سره دزړه خواله پیل کړ،نا ارامه وم په زیارت تسل نه کېده لیوني زړه مخامخ صحابه او حضرت رسول اکرم لیدل غوښتل خو داهسې جنون او خیال وو.




له جنة البقیع څخه هم لوړ دیوال راتاو دی، ددیوال لاندې برخه کې کتارې دي په سعودي کې چې څومره مالیدلي نو له هدیرو دیوالونه تاو دي، دسعودي چارواکي چاته اجازه نه ورکوي چې آن د رسول الله احترام دزړه له کومې وکړي، آن سلام ته یې هم سم نه پرېږدي خو هره شپه دسعودي په ټلوېزیون کې لیدل کېږي چې خلک دسعودي دپاچا ملک عبدالله احترام ته دومره ټیټیږي چې له رکوع سره یې توپیر نه کېږي.

د جنة البقیع په متواګانو او دامربالمعروف په ډله کې ډېر افغانان هم شته دي خو ددوی جامه عربي او پر سر یې چلتار وي، له زیارت کوونکیو سره ددوی افراطی چلند بې حوصلې کړم په غوسه مې ورسره بحث پیل کړ، ایت او حدیث مو یوبل ته واورول ،اخر مې پیغور ورکړ چې دڅو ریالو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره یې خپله عقیده ،فکر او مذهب پربښی دی ،هغوی چې زما استدلال واورېد نو خپل دفتر ته یې د ورتللو بلنه راکړه ، دفتر یې د جنة البقیع له دروازې سره نږدې وو خوورتللو ته مې وخت ونه موند.

دلته هم په ډېرو ژبو ،دتوحید ،تفسیر،عقیدې ،اودشیعیت ضدکیستې او کتابونه وېشل کېږي زه هم تري برخمن شوم، دري ژبه یې روانه او فصیحه ده خو پښتو یې ماته ګوډه اوپه ګرامر برابره نده.

د جنة البقیع ددخولي دروازې شمال خواته له دروازې لږ وړاندې د سړکونو منځ کې یو محوطه کې له سلو ډېرکتار قبرونه دي ، چې له سیمنټو جوړې شناختې پرې ولاړې دي، هره شناخته فلزي لیبل لري چې دقبر شمېره پرې لیکل شوې هلته خلکو ویل چې داساحه د مهموصحابه وو ده خو دهدېرې مسؤولین وایي چې داکار دمړو ورثه وو ددې لپاره کړی چې خپل مړي وپېژني خو حکومت وروسته داکار بند کړ ،خو داسې نه وه حکومت هلته دنویو مړو ښخولو ته له سره اجازه نه ورکوي.

## په مدني حرم کې جنازې

په نبوي مسجدکې هم له لمانځه وروسته جنازه کېږي دلته هم له لېرو لېرو ځایونو خلک خپل مړي دجنازې لپاره راوړي خو ددې ځای جنازه له مکي حرم سره توپیر لري ،دلته هم د جنازې لمونځ اوهم نور فرض لمونځونه ډېر اوږده وي، دلته د جنازې په لمانځه کې امام له دوهم تکبیر وروسته درود ته دومره لږ وخت ورکوي چې نیم هم نه ویل کېږي او له دریم تکبیر وروسته دعاته دومره وخت ورکوي چې آن دوه ځله پکې ویل کېږي، له څلورم تکبیر وروسته له حنفي مذهب سره باید مخ واړول شي خو دلته ډېر وخت وروسته سلام اړول کېږي داسمه ده چې دحرمینو امامان حنفي مذهبي ندي او په جنازه کې ویل کېدونکي درودونه او دعاګانې یې هم له حنفي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهبوسره توپير لري، خو په خپلو کې خويې مذهب يودی نوبيا ولې دمکې او مدينې د جنازې لمونځ توپير لري. داهم کېدلی شي چې ددوی مذهبونه هم يونه وي يو يې مالکي او بل يې حنبلي يا شافعي مذهبه وي.

فرض لمونځ يې هم توپير لري له تکبير تحريمه وروسته ثنا ووېل شي اوبيا ډېر وخت تېرېږي خو امام لا قرائت پيل کړی نه وي دومره وخت چې آن دوه ځله پکې بياهم ثنا ويل کېږي په قومه کې له سمع الله وروسته په ارامه يوځل فاتحه او سورت لوستل کېږي همداشان په جلسه کې هم دفاتحې او دسورت د پيلولو ترمنځ دومره وخت وي چې زموږ په مذهب کې د فرضوتاخير پرې راځي خو دهغوی په مذهب کې په دې ځايونوکې ځانګړي اذکار او دعاګانې ويل کېږي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پردېس کوربانه

په مدينه کې زموږ دوهمه ورځ هم د حرم په کتلو تېره شوه، دحرم شا وخوا لوړې او دنګې عمارې موهم وکتلې دماسپښين له لمانځه وروسته زما دسخت اوپخواني ملګري ډاکټر نذير احمدزي مشر ورور ډاکټر عبدالبصير احمدزي راسره مخ شو ،ماپه لومړي ځل ډاکټر بصير شاوخوا دولس کاله وړاندې د کندهار ښارپه مددچوک کې دده په کتنځي کې وليد ،هغه مهال ډاکټرنذير په کابل کې دده لپاره څه شی راکړي وو کله چې کتنځي ته ورغللم نو زړور دده په کتنځي کې له سوال ځواب پرته کېناستم، ما داکار قصداً وکړ غوښتل مې ډاکټر احمدزی لږ متعجب کړم.

زه او ډاکټر صاحب بصير دواړه په سوداپسې ووتلو په بازار کې دمکې معظمې په پرتله قيمتي وه، ترمازيګره په بازار کې وګرځېدوډاکتر بصير دډاکټر ښادمن دوی په شرکت کې راغلی و د مازيګر له لمانځه وروسته مې دواړه ډاکټرصاحبان يوبل ته وروپېژندل او تر ماښامه مو مرکه او دزړه خواله وکړه، دماسخوتن له لمانځه وروسته زه او ډاکټر ښادمن ناست وو چې دډاکټر ښادمن ټېليفون وشرنګېد د اوکې تنۍ له کېکاږلووروسته يې مقابل شخص ته زما نوم هم واخست او همدلته يې راوغوښت ګورم چې دماسخوتن له لمانځه وروسته پاوبانـدې نهـه بجې ملا ابـراهيم لـه نوشابوسره مسجد ته راغلی، ملا ابراهيم دغزني اوسېدونکی تکړه او ويښ انسان دی، دطالبانو په وخت کې داستخباراتو دعمومي رياست دلوژستيک رئيس وو، دامهال په سعودي کې اوسېده، همدلته يې ځانته کاروبار اوښه ژوند برابر کړی او دوهم واده يې کړی و ترډېره مو د افغانستان پر حالاتو بحث وکړ، تېرې خوږې خاطرې مو رايادې کړې، څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې يوولس بجې وې، چې ملا ابراهيم ډوډۍ ته روان کړو د حرم خواته د البيک لوی شرکت ته يې وروستو البيک موپه خوند وخوړ دولس نيمې بجې دبيا ليدو په ژمنه سره بېل شو.

سبا جمعه وه د جمعې په لمانځه کې اسلامي هېوادونو اوپه ځانګړې توګه فلسطين ته دعاوشوه خو سعودي چاروکيو چې خطيبانو ته پاليسي ورکوې افغانستان ددعامستحق نه باله.

له لمانځه وروسته مې دحرم په دوهم پوړ کې دحرم په کتابتون همدا موضوع له يو چا سره ياده کړه هغه راته وويل چې يوځل قاري حذيفي دجمعې په لمانځه کې امريکاته بد ويلي وو چې بيا دوه کاله ورک وو او اوس چې راغلی نو سياسي خبرې نه کوي زه لا دحرم په کتابتون کې وم چې د ملا ابراهيم زنګ راغی ځای مې وروښود، ويل يې راځه چې يومړی ډوډۍ وخورو ،چې ښکته راغلم نو له ملا ابراهيم سره يوبل متشرع ځوان هم و ملا ابراهيم داځوان دغزني دمقر اوسېدونکی ملا رحمت الله رامعرفي کړ.

بيا البيک ته ورغللو خو نوبت پرې نه وو د يوه افغان هوټل ته ورغللو په ۱۲ رياله يې ډېرښه افغاني قابلي پلو چې پرېمانه دپسه غوښه پکې وه راکړه،ماچې داځای وليد نوبيابه ډېر ورتللم.

ملا رحمت الله هم په سعودي کې اوسېده ملا ابراهيم موږ ته وويل چې ملا رحمت الله هم غواړي چې په سعودي کې دوهم واده وکړي او موږ ورته ځوک کتلي هم دي ،کتل شوې انجلۍ يې هم افغان عربه او دمدينې اوسېدونکې راوپېژندله، په همدې ورځ ما سخوتن يې راته زبری راکړ چې ملا رحمت الله ته مو دستمال واخست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احزاب یا ګڼ لښکریزه جګړه

دشپې ملګرو وغوښتل چې دمدینې منورې تاریخي سیمې لکه د احزاب دجګړې ځای او خندق ،احد ، قبلتین مسجد ، قبا مسجد او نور وګوري ماهم ددې ځایونو کتلوته ځپځپانده تلوسه درلوده،کله موچې دسحر لمونځ په جماعت اداکړ نو ټول ملګري ټاکل شوي ځای ته راټول شول، له یوه ډرېور سره مو پردې ټولو ځایونو دګرځولو او بېرته حرم ته د راوستلو خبره وکړه، ډرېور محمد فضل د بدر اوسېدونکی ډېر مهذب او ښکلی ځوان وو ښکلی چلتاریې پرسر، ښکلی چپنه پرتن او ځهره یې د شهزادګانو وه لومړی خندق ته ورغللو کله چې دهجرت پرپنځم کال بنو نظیرو ، دمکې قریشو او نورو کفارو دمسلمانانو پرضد لاس یو اوپرمدینې دیرغل پلان جوړ کړنو رسول الله ص دحضرت سلمان فارسي رض په مشوره له مدینې څخه ددفاع لپاره دکفارو دلس زره کسیز فوځ دمقابلې لپاره دسلع غره په لمن کې د خندق دوېستلو امر وکړ، اوس خو ددې خندق نښې هم نه ښکاري البته دتاریخ او سیرت په کتابونوکې یې طول او عرض ښودل شوی او په عظیم الشان قرآن کې ددې جګړې یادونې هم شوې او آن یو بشپړ اوږدسورت ددې جګړې په نوم نومول شوی دی ..د احزاب سیمه اوس ټوله پخه او سړکونه دي البته ددې سیمې دتاریخي هویت د ساتلو لپاره لاهم دلته دمساجد سبعه (اوو مسجدونو )څخه پنځه لا هم پاتې دي، داپنځه مساجد خوا په خوا دي او حاجیان په هره یوه کې دوه دوه رکعته نفل لمونځ کوي.

دلته لومړی دحضرت عمرابن خطاب ،ورپسې دحضرت سلمان فارسي، ورپسې دالفتح مسجدونه دي، له دې پاس دخندق په نوم یولوی اوښکلی

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسجد دملک فهد لخوا جوړ شوی دی ، دامسجد ډېر لوړ جوړ شوی دی او ډېر لګښت پرې راغلی دی، دسیمې د منتظمینو په وینا ، حکومت غواړي دا ټول کوچني مسجدونه بند کړي او همدې نوي مسجد ته وسعت ورکړي دنبوي مسجد خواته مسجدعلي او مسجد جمعه هم واقع دي، ددوی په وینا ،خندق له همدې ځایه د احد تر غره غځېدلی وو.

دلته مو لمونځونه وکړل بیا وګرځېدو دانور کوچني مسجدونه اوس له پامه غورځېدلي دي ،نه یې رنګ اوترمیم ته پام شته اونه فرش ته اونه پکې جمع کېږي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

**قبلتین مسجد**

له دې ځایه قبلتین ( دوه قبلو والا )مسجد ته لاړو ،دامسجد الفتح مسجد ته نږدې شاوخوا ۸، ۱کیلومترې کې جوړ شوی دی ، مدینې ته درسول الله ص دهجرت پرمهال انصارو بیت المقدس لور ته لمونځ کاوه کله چې رسول الله ص دې ښار ته هجرت وکړ نو ده هم دالله ج په امر په لمانځه کې همدې لورته مخ کاوه، داځکه چې دا حساسې شېبې وې که رسول الله ص کعبې ته مخ کړی وای نو دا اسلام دنوي ټوکېدلي بڼ پر وړاندې خنډونه جوړېدل.

قبلتین مسجد ته د بني سلمه مسجد هم وایي، داځکه چې موقعیت یې دبنو سلمه په سیمه کې دی بنوسلمه د ازدي قحطاني قوم اړوند دخزرج په قبیلې پورې اړوند دي، دامسجد په خالد بن ولید روډ دحرم شمال لوېدیځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د عقیق شېلي ته نږدې د سلع غره لوېدیځ ته له حرم څخه ۳،۵کیلو متره لېرې پروت دی.

دبیت المقدس لورته لمونځ کولو رسول الله ص ته هم خوند نه ورکاوه.
دبیت المقدس لورته لمونځ کولو رسول لله ص ته هم خوند نه ورکاوه.

اوتل به ورسره د اهیله وه چې کله به دالله ج لخوا ورته حکم وشي چې لمونځ بېرته دکعبې لورته وکړي بالاخره دحضرت براء بن عازب د روایت له مخې چې بخاري روایت کړی دی له ۱۶یا ۱۷ میاشتو وروسته چې حضرت رسول الله ص بیت المقدس ته لمونځ وکړ د الله ج لخوا ورته امر وشو چې نور دې نو لمونځ کعبې ته کوه په دې اړه د حضرت انس بن مالک او حضرت ابن نجار دهغه روایت چې له عثمان ابن محمد څخه یې کړی لنډیز داسې دی چې : رسول الله ص خو دالله ج په امر بیت المقدس ته لمونځ کاوه، خو خوند یې نه ورکاوه، او تل یې داهیله وه چې الله ج ورته حکم وکړي چې بېرته کعبې ته لمونځ وکړي، بالاخره یوه ورځ دبنو سلمه قبیلې اړونده ام بشیر په نوم یوې ښځې رسول الله ص ته غرمه مېلمستیا کړې وه او رسول الله ص هم ورغلی وو د ماسپښین د لمانځه وخت شو، رسول الله ص له صحابه و سره یو ځای په همدې مسجد کې دبیت المقدس په لور لمونځ کاوه رسول الله ص د نورو لمونځونو په څېر په دې لمانځه کې هم دا هیله لرله چې الله ج ورته دکعبې لورته د لمانځه کولو حکم وکړي،په همدې غرض به یې هر وخت اسمان لورته کتل او مخ به یې اسمان ته اړاوه رسول الله ص بیت المقدس لورته د ماسپښین د لمانځه دوه رکعته کړي وو چې د الله ج لخوا ورته امر وشو چې خپل مخ کعبې ته واړوي هغه هم په دریم رکعت کې خپل مخ کعبې ته واړوه له همدې کبله دې مسجد ته قبلتین (ددوه وو قبلو والا )مسجد وایي، الله ج خپل رسول ته وفرمایل (قد نری

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقلب وجهک في السماء فلنولینک قبلة ترضها فول وجهک شطرا لمسجد الحرام) یعني: یقیناً مونږ اسمان طرف ته ستا مخ اړول او بار بار کتل؛ وینو نو ژر دی چې هغې قبلې ته دې مخ واړوو چې ته یې خوښوې نو مخ دې د مسجد الحرام خواته واړوه (البقره ۱۴۴)

د قبلتین مسجد تاریخي ارزښت ته په کتلو د حرمینو خادم ملک فهد بن عبدالعزیز دامسجد هم پراخ او ورغوه.

د ملک فهد پراختیا وروسته چې پنځه ویشت کاله وړاندې تر سره شوې دامهال عمومي سړک خواته ددې مسجد اوږد والی ۸۳متره ،لوېدیځ اړخ ته ۸۲متره ،سهیل یا قبلې خواته ۹۵ متره دی ، د مسجد ټول مساحت ۳۹۲۰متره مربع دی، پورتنی منزل یې ۱۱۹۰متره مربع دی .دوه منارونه لري او په مسجد کې ټولې ۲۱لکه پخې خښتې کارول شوې دي له وروستي ترمیم وروسته پر مسجد پر لګول شوې کتیبې لیکل شوي : (انما یعمرمساجد الله من امن بالله والیوم الاخر .صدق الله العظیم .تحت رعایة خادم الحرمین الشریفین الملک ،فهد بن عبدالعزیز ال سعود وفی عهده المیمون تم بعون الله وتوفیقه انجاز مشروع اعادة بناء وتوسعة مسجد القبلتین بالمدینه المنوره وذالک فی شهر ۳۰_۳_۱۴۰۸هـ الموافق ۲_۱۱_۱۹۸۷م).

قبلتین مسجد ښه پراخه ساحه ،شنې ونې، پاخه پارکونه او د اوداسه پراخه او پاک ځایونه لري مسجد په لوړه جوړ شوی دیوې دروازې په پاسنۍ برخه کې د مرمرو په تخته محراب انځور شوی او دا ښودل شوېده چې کله بیت المقدس ته لمونځ کېده نو محراب دلته وو او د بیت المقدس استقامت دې خواته دی.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقبلتین مسجد اوسنی محراب جنوب ختیځ خواته او دقدس محراب شمال ختیځ ته دی، ددې مسجد ترڅنګ د عمومي سړک ګلدانونه له ډول ډول ګلانو ډک دي د غره په لمن کې فوارې جوړې شوې او د ېرې ښکلې ښکارې د ګلدانو ګلان او فوارې ټولې په جنراتور خړوبېږي او فواروته هم د جنراتور په زور له ژورو کوهیانو اوبه ور رسېږي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خندق او اوه مساجد

دسلع غر د مدینې منورې په منځ کې پروت او د نبوي مسجد د شمال لوېدیځ څخه د سلع غره تر پیله ۲۹۰ متره واټن دی لوړه څوکه یې سل متره ،اوږدوالی یې یو کیلو متر، ټول محیط یې ۲،۴ کیلومتره دی.

دسعودي حکومت یې د ساتنې اوښکلا لپاره ترې اغزن تار تاوکړی دی او مصنوعي فواري یې پکې لګولې دي.

ددې غره په لوېدیځه لمن کې پروت میدان کې رسول الله ص د خندق په غزا کې له صحابه ووسره یو ځای اړولي وو ددې غره ختیځ ،شمال او سهیل ته غر او رسول الله ص د سلمان فارسي چې اصلاً د ایران د رامهرمز یا اصفهان اوسېدونکی وو په مشوره لوېدیځ لورته خندق ووېست، سعودي حکومت ددې میدان د تاریخي اهمیت د ساتنې لپاره دلته ډېر کار وکړ، په دې شپږ سوه متره مربع اوږد میدان کې د موټرو لپاره تم ځایونه ابشارونه او ډول ډول بوټي کېنولي دي او د حدیقه الفتح نوم یې ورکړی دی ، اود سعودي حکومت یو امیر فهد بن عبدالعزیز دلته د غره په لمن کې د فتح مسجد په نوم یو لوی مسجد هم ودان کړ.

داځای له تاریخي پلوه د مساجد السبعة یا اوو مسجدونو په نوم یادېږي، خو موږ پنځه مساجد ولیدل او د تاریخ په ځینو کتابونو کې هم دلته د پنځو او په ځینوکې د څلورو مساجدنو نومونه راغلي دي حضرت عمر بن عبدالعزیز دلته هم په ټولو هغو ځایونوکې مسجدونه جوړ کړي په کوم ځای کې چې رسول الله لمونځ کړی دی.

ډاکټر محمدالیاس عبدالغني په خپل کتاب (مدینه منوره کې تاریخي مساجد) کې لیکي چې اګر که دسلع دغره په لمن کې اوس شپږ مساجد دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تاريخپوهانو ټول د فتح په نوم نومولي دي سره له دې په څوارلسمه سليزه کې دلته اوه مسجدونه مشهور وو د هغه په اند کېدلی شي چې دا اوم مسجد دبني حرام مسجد وي چې د فتح دمسجدونو جنوب ته پروت دی، خو ځينې بآور لري چې اوم مسجد به «رايه»وي چې له خندق سره نږدې پروت دی.

## د فتحي مسجد

دامسجد د سلع غره لوېديځ ته په يوه برخه کې جوړ شوی د رسول الله ص همدلته کفاروته ښېرا وکړې او د الله ج په امر بد توند باد راوالوت ،دکفارو خيمې يې ونړولې ،اوهرڅه يې ورته خراب کړل او وتښتېدل هيتمې وايي چې دېته ځکه د فتحې مسجد وايي چې پر رسول الله ص همدلته دالله ج لخوا د فتحې زېرى وشو.

دېته مسجد ته احزاب نوم هم ورکول شوی داځکه چې رسول الله ص په همدې ځای کې دده پرضد راغونډو شويو کفاروا حزابوته ته ښېرا کړې دي، دامسجد په اعلی هم مشهور دی ځکه چې په لوړه په غره کې جوړ شوی دی
.

دامسجد لومړی ځل حضرت عمر ابن عبدالعزيز جوړ کړ بيا د عبيدی پاچا يو وزير امير سيف الدين الحسين ابن آبي الهجا په **۵۷۵** هـ س له سره آباد کړ بيا په ۱۲۷۰ه س کې لومړی سلطان عبدالمجيد له سره ورغوه، چې اوسنۍ ودانۍ يې هم همدا د سلطان عبدالمجيد ددور ده بيا ملک فهد په ۱۴۱۱ هـ س کې له سره ورغاوه، دېرې ښکلې جالۍ يې ورته ولګولې، دېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ښکلې کړ او ډېر ګران بيه توره تيږه يې پکې وکاروله، د اوسني مسجد دالان ۸،۵۰ متره او پلنوالی يې ۳،۵۰ متره دی او له ځمکې ۴،۵۰ متره لوړ جوړ شوی دی.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دحضرت سلمان فارسي رض مسجد

حضرت سلمان فارسي يو ډېر جليل القدره صحابي دی، نوم يې سلمان بن اسلام ابوعبدالله فارسي دی، داوسني ايران (پخوانی فارس)د رامهر مز خو د ځينو په وينا داصفهان اوسېدونکی دی، هغه هلته اوربدلي وو چې رسول الله ص ښکاره کېدونکی دی نو د رسول الله ص په لټون راخوځېدلی وو پر لاره خلکو بندي او مريی کړی ترهغې چې مدينې منورې ته راورسېد دلته يې اسلام راوړ خو د بدر اواحد په غزا کې شريک نشو داځکه چې هغه دامهال مريی وو لومړۍ غزا چې هغه په کې ګډون وکړ د خندق غزا وه .هغه له ۳۰ ه س وروسته وفات شو د فتح مسجد لاندې سهيل خواته پروت مسجد د همده په نوم يادېږي. حضرت سلمان فارسي رسو ل الله ص ته د خندق کندلو مشوره ورکړې وه، اوس چې په کوم ځای کې دده په نوم مسجد جوړ دی حضرت حارث بن فضل وايي چې رسول الله ص دلته لمونځ هم کړی دی ، حضرت عبدالله ابن معاويه هم همدا وينا کوي.

## د علي ابن ابي طالب رض مسجد

حضرت علي رض د ابو طالب زوی د عبدالمطلب لمسی څلورم راشد خليفه په عشره مبشره کې شامل د رسول الله ص د تره زوی او دهغه د لور حضرت فاطمة الزهرا مېړه وو ،دتبوک له غزا پرته چې رسو ل الله ص کورته پرېښی وو نور په ټولو غزوا توکې شريک وو بلاخره د رمضان په اوه لسمه په ۴۰ ه س کال دعبدالرحمن ابن ملجم لخوا د ۲۳کالو په عمر په شهادت ورسېد ، حضرت علي رض دهغه د زوی امام حسن لخوا دالار په مانۍ کې خاوروته وسپارل شو خو قبر يې معلوم ندی، د فتح دمسجدونو په پيل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم مسجد د حضرت علي په نوم دی، په قوي ګومان د خندق د غزا پر مهال حضرت علي رض همدلته اوسېده .دامسجد د حضرت سلمان رض د مسجد سهيل ته پروت وو، امير زين الدين ضيغم بن حشرم المنصوری چي کله په ۸۷۲ه س کې د مدينې والي وو نو دانړېدلی مسجد يې بېرته ورغاوه، صالح لمعی مصطفی وايي چې دده له وروستی چت څخه داسې ښکاري چې لومړی د سلطان عبدالمجيد په وخت ۱۲۶۸ ه س کې هم دامسجد ترميم شوی وو د سلع غره په لمن کې د پرتو مسجدونو په پرتله دامسجد تر ټولو لوی وو چې په ۱۴۱۴ه س کې له مينځه وېوړل شو.

## د حضرت ابوبکرصديق رض مسجد

عبدالله ابن ابی قحافه عثمان ابن عامر ابوبکر لومړنی راشد خليفه اوله عشره مبشره وو څخه دی، هغه په نارينه وو کې تر هر چالومړی، پر رسول الله ص ايمان راووړ او د معراج پېښې د تصديق له امله ورته د صديق لقب ورکړل شو، دهغه پلرنی نوم عبدالکعبه دی، رسول الله ص ورته عبدالله لقب غوره کړ.

هغه رسول الله ته خپله لور حضرت عايشه په نکاح کړې وه ابوبکر صديق رض په ۱۳ه س په ۶۳کلنۍ کې وفات او دحضرت عايشې رض په حجره کې د رسول الله ص خواته خاوروته وسپارل شو. دفتح مسجدونو جنوب ته پر يوه لوړه پروت څلورم مسجد دابوبکر صديق په نوم وو چې خلک به پر زينو ورختل.

دډاکټر الياس عبدالغني په وينا ، ابن نجار (۶۴۳ه س)او مطری (۴۷۱مړ)ليکي چې دامسجد اوس نړېدلی دی، خو احمد عباسي په يوولسمه پېړۍ کې دامسجد ودان معرفي کړی،اودهغه د ډول او مساحت

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړه يې معلومات ورکړي دي اوس چې دلته موږ کوم مساجد ولیدل نو په دوی کې هم د حضرت ابوبکر صدیق په نوم کوم مسجد نه وو.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حضرت عمر ابن خطاب مسجد

حضرت عمر ابن خطاب ابن نفیل کنیه یې ابو حفص او لقب یې فاروق دی، حضرت عمر دوهم راشد خلیفه په عشره مبشره کې شامل ،هوښیار پرېکنده، هوډمن ،عادل او زړور شخص او دهغه لور حضرت حفصه رض درسول الله مېرمن وه،دحضرت ابوبکر صدیق له وفات وروسته په ۱۳ ه س کال خلیفه شو، او په ۲۳ ه س د ابولوء لوء مجوسي لخوا شهید او دحضرت عایشې په حجره کې د رسول الله ص ترڅنګ خاروته وسپارل شو.

ده ته منسوب مسجد دخوارلسمې پېړۍ تر پیله په کومه تذکره کې ندی یادشوی آن چې علي بن موسی افندي په ۱۳۰۳ کې هم دامسجدنه دی یاد کړی له دې ښکاري چې دامسجد له ۱۳۰۳ ه س وروسته جوړ شوی دی. دامسجداوس هم موجود دی ، مستطیل ته ورته دالان لري اوتورې تیږې پکې لګېدلې دي، په دې مسجد کې اوس هم پنځه وخته لمونځ کېږي.

## د حضرت سعد بن معاذ مسجد

سعد ابن معاذ ابن نعمان ابو عمر انصاري اشهلي د اوس د قبیلې سردار و، د بدر په غزا کې یې ګډون کړی او دخندق په غزا کې شهید شو.

ده ته منسوب مسجد د حضرت عمر ابن خطاب د مسجد سهیل لوېدیځ لورته دی، په پخوانیو مصادروکې ددې مسجد نوم هم نشته دی، آن علي بن موسی افندي هم نه دی یاد کړی ، له دې ښکاري چې دا مسجد هم له ۱۳۰۳ه س وروسته جوړ شوی او دمدینې منورې په ۱۳؛۴۴۷ ه س نقشه کې ځای لري، دامسجد اوس هم شته دی اوپه هماغه ځای کې دی چېرته چې پر حضرت سعد غشی لګېدلی دی، دامسجد مستطیل ډوله دی، دوه متره لوړه احاطه لري، چت نلري او درې خواته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې حدیقه الفتح راتاوه ده له ختیځ څه لوېدیځ ته **۲۵**، ۲اوله سهیل څخه شمال ته **۳۵**، ۳متره مربع دي چې ټول مساحت یې **۲۱**متره مربع راځي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د احد ډګر

دهجرت پــه دوهــم کــال الهـي لښـکر (مسلمانانو)شـیطاني لښـکر د (مکـې کفارو)ته سخته ماتې ورکړه، دهغوی ډېر مشران یې ووژل ، ډېرمال یې تـرې غنیمت او ډېـر یـې ژونـدي ونیـول، .دمکـې کفـارو تـه دا مـاتې د زغـم نـه وه ،هغوی له مسلمانانو څه د غـچ اخسـتلو اور سوځول پوره یو کـال یـې چمتـو والی ونیوه چې له مسلمانانو خپل غچ واخلي بـا لاخره د هجرت پـه دریـم کـال یې درې زره لښکر چې زادالمعاد پـه وینـا ، درې زره اوښان او دوه سـوه اسـونه اود فتح الباري پـه وینا سل آسونه پکې وو برابر کړل اومدینې منورې تـه روان شـول پـه دې لښـکر کـې ددوی د احساسـاتو د راپارولولپـاره د ابـو سـفیان دمېرمنې هنده پـه مشرۍ ګڼو ښځو او انجونو هم ګډون کړی وو چې وخت پـه وخت بـه یې دوی تـه حماسـي، پـارووونکې او ددوی د وصـال لـه مینـې ډکـې سندرې ویلې، اخوا حضرت عباس خپل وراره حضرت محمد تـه لـه مکې څخه مدینې تـه قاصـد ور ولېـږه اوپـه مکـه کـې ددوی پـر ضـد لـه ټولـو تحرکـاتو او چمتـو والـي يـې خبـر کـړ،رسـول الله ص هـم زر کسـیز لښـکر تیـار کـړ خـو دمنافقانو رئیس عبدالله ابـن ابی منافقت او تمـرد وکـړ او درې سـوه تنـه یـې بېرته وګرځول .رسول الله ص دهجرت پـه دریم کـال د شـوال پـه ۷مه د جمعې پـه ورځ د دمجهز درې زره کسیز لښکر مقابله پیـل کـړه پـه پیـل کـې بریـالی شـو، خوله ځینو صحابه و سره د مادیاتو او غنیمت مینې د ابریا ټکنـۍ کـړه ،کفـارو چـې کلـه ولیـدل مسـلمانان د غنیمـت پـه راټولـو بوخـت دي او اسـتراتېژیکي نقطـې یـې پرېښـې نـو پـه کنـډو ور وختـل ،ناڅاپـه یـې یرغـل وکـړ او اویـا تنـه مسلمانان یې شهیدان کړل خوبیاهم، بشپړ بری یې په نصیب نه شو .احد حرم تـه نـږدې دی مـوږ سـاخت مهـال ورغللـو ، د احـد ډګـر دامهـال پـه نقشـه جـوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی، دموټرو پراخ تم ځای لري ، هغه غونډۍ چې په کنډو کې يې رسول الله دعبدالله ابن جبير په مشرۍ پنځوس تنه غشي ويشتونکي کېنولي وو ، دامهال ډېره اوبه شوې او ټيټه شوېده ، څه کم يو نيم زر کاله کېږي چې خلک پردې غونډۍ پورته کېږي اوممکن جيولوجيکي تغيراتو او ترسباتو هم داغونډۍ ټيټه کړې وي.

داغونډۍ د وادي فناه جنوبي غاړې ته پرته ده چې اوس په جبل رماة مشهوره ده اودمسلمانانوله لښکرڅخه يونيم سل متره لېرې وه، موږ دې غونډۍ ته وختلو اخوا ديخوا مو وکتل ډېرځايونه ترې ښکاري جګړه دهمدې غونډۍ لوېديځ ته د احد غره ته نږدې د عينين نومي ځای کې ونښته .د مکې کفارو همدلته اړولي وو داساحه د مدينې شمال ته پرته ده، د جبل رماةشمال ته پراخ ډګر او خواکې يې د احد غر دی، کله چې د مسلمانانوله بريا وروسته دعبدالله ابن جبير ملګرو د جبل رماة کنډو پرېښود نو حضرت خالد ابن وليد چې تر دا مهاله لا مسلمان شوی نه و له جنوب اړخه په شيله کې پر همدې غونډۍ راو خوت ،په کنډو کې پاتې دولس تنه مسلمانان يې همدلته شهيدان او لاندې يې مسلمانان محاصره کړل.

دلته يو له جاليو جوړه څلور ديوالي ده چې داحد شهيدان پکې ښخ شوي وو په دوی کې د حضرت سيدالشهداء حمزه ،مصعب ابن عمير ، عبدالله ابن جحش ،قبرونه پېژندل کېږي او متواګان يې هم تائيدوي ، ددوی قبرونه هم له ځمکې سره برابر دي خو له پاسه پرې تيږې ايښې او همداتيږې دقبرونو نښې دي له دې قبرونو د يوفټ په اندازه ديوال تاو دی، متواګانو داحاطې دروازه تړلې وي او خلک يې له پنجرو ګوري ، متواګان هم سم معلومات نه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته ګڼ ګرځنده دوکانونه او لاسي کراچۍ هم شته دي او ډېر هغه شیان پلوري چې معمولاً یې خلک په ډالیوکې وړي، د احد میدان ختیځ ته مسجد هم جوړ شوی شمال ختیځ ته یې خوړ او له خوړ اخوا دخرماوو لوی باغ دی له رماة څخه دحرم منارې هم ښکاري. احد اوس هم وچ میدان دی ونې بوټي پکې نشته دي.

داحد په میدان کې اوس ډېرې ودانۍ جوړې شوي دي ، خوبیاهم سپین ځایونه لري موږ دهمدې ډګر په لیدلو بوخت وو چې په څو لویو موټرو کې نور افغانان هم راغلل دوی هم د رماة غونډۍ ببخ ته راغلل له دوی سره ددوی د حج ښوونکی هم وو له جامو ،لهجې او کړنو ښکارېدل چې ښه ساده سړی وو ، نه د وخت په نزاکت پوهېده نه د خلکو په مزاج اونه دموسم او هوا په غوښتنه لس بجې به وې چې دوی راغلل دې ملاصاحب چې لاسي لاسپیکر هم ورسره وو دوی ټول په نا هواره ځمکه په دوو پښو کېنول ، له چاسره څادر وو اوله چاسره نه وو اوکه څادر هم وو نو ځمکه ډېره سره وه پرځمکه پر څادر کېناستلی نشو ، هواهم ډېره توده وه، پرټولو خولې راماتې وې خو ده ورته اوږد تقریر پیل کړ ، تقریر یې هم دوخت له غوښتنې سره برابر نه وو له تقریر څخه کوم نیم ساعت تېر شو خو دی لا بوخت وو ، خلک ستړي اوپه تنګ شول ، چې څوک ترې پاڅېږي نو ملاصاحب پرې غږ وکړي چې تنګېږه مه کېنه، دوه درې ځله سپین ږیري ورغلل ورته یې وویل چې تقریر بس کړي ځکه ګرمي هم ده او خلک احد د ډګر د لیدلو تلوسه لري نور ځایونه هم بایدوکتل شي او دولس بجې باید حرم ته لمانځه ته هم ورسېږو ،بالاخره تقریر یې بس کړ خو دعایې هم پوره لس دقیقې وخت ونیوه زه خو څوځله ترې راپاڅېدم خو په دوی کې مې ملګري وو دهغوی لپاره هم اړو م چې ورته پاتې شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قبا مسجد

له احد څخه قبا مسجدته وخوځېدو دا مسجد له نبوي حرم څخه لږ واټن لري د قبا مسجد شاوخوا ډېره ښکلې منظره او پراخه سړکونه لري دموټرو تم ځايونونه د خرما او نورې بې مېوې ونې ښکلی بڼ اوګرځنده ګڼ پلورنځي لري، قبا ډېر ښکلی مسجد دی، له نبوي حرم وروسته دلته تر بل هرځای ډېر بیروبار وي، ډېر خلک دلته لمانځه ته راځي،رسول الله ص فرمايي چې په قبا مسجد کې دوه رکعته نفل لمونځ ديوې عمرې ثواب لري.

دقبا په بڼ کې د اوبو ښکلې فوارې او څوګرد حوضونه،شته دي، بيت الخلاوې او داوداسه پرېمانه او ښکلې ځايونه لري ختيځ ته يې اوم نمبردوه هديرې دي، ددې هديرې قبرونه او شناختې د جنة المعلی او جنة البقيع په پرتله لوړ دي، مسجد دوه برخې لري لومړۍ برخه يې د نارينه او دوهمه يا د مسجد دننۍ برخه کې د ښځو لمونځای دی.

دامسجد پراخ دی خو دمراجعينو تراکم ته په کتلو لاهم کوچنی دی، دمسجد ددېوال لاندېنۍ برخه د چپسو ښتې او پاسنۍ برخه يې سپين رنګ لري.

قبا مسجد د اسلام په تاريخ کې له ځانګړې اهميت څخه برخمن دی، دالومړنی مسجد دی چې د اسلام په تاريخ کې په مدينه منوره کې جوړ شوی دی، دا لومړنی مسجد دی چې حضرت رسو ل الله ص پخپله پکې کار کړی دی او درنې تيږې يې په کې پورته کړې دي.

د هجري تاريخ پيل هم دقباد مسجد د کار له پيل سره تړلی دی، يعنې په کومه ورځ چې رسول الله ص مدينې منورې ته د هجرت پر مهال ورسېد نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدلته یې په خلاص او پرانیستي ډګر لمونځ وکړ،داځای قبا نومېده او د مسجد ځای دبني عمر وبن عوف دقبیلې اړوند کلثوم بن هدم ملکیت و او همدلته یې د لومړني مسجد بنسټ کېښود ، دلته دقبا په نوم مشهوره چینه وه ، داکلی هم همدې چینې ته منسوب دی.

دې مسجد ته په قرآن کې د تقوا نوم ورکړل شوی او ددې بنسټ یې دتقوا په نیت ایښودل شوی بللی دی ، همد راز قران وایي چې ددې مسجد بنسټ د تقوا په نیت په لومړۍ ورځ ایښودل شوی دی، ( لمسجد اسس علی التقوی من اول یوم احق ان تقوم فیه)یعنې کوم مسجد چې په لومړۍ ورځ د تقوا پربنسټ جوړ شوی ډېر وړ دی ، چې دعبادت لپاره پکې ودرېږې) سورة التوبه ۱۰۸.

حضرت شموس بنت نعمان روایت کوي چې ما کله لومړی ځل حضرت پیغمبر ولید نو په قبآ مسجد کې یې کارکاوه او درنې تیږې یې پورته کولې یو صحابي ورته عرض وکړ چې ته داکار ماته پرېږده نو هغه ص ورته وفرمایل چې ته نورې پورته کړه، د مسجد له بشپړ بدلو وروسته رسول الله وفرمایل چې حضرت جبریل پخپله ددې مسجد قبله جوړه کړه.

حضرت ابن عمر رض روایت کوي چې رسول الله ص به هره شنبه پلی یاسپور قبا مسجد ته ورته ،حضرت سهل بن حنیف له رسول الله ص څخه روایت کوي چې څوک په کور کې اودس وکړي او قبآ مسجد ته راشي او دوه رکعته لمونځ وکړي نو د یوې عمرې ثواب ورکول کېږي.

قبا مسجد هم د تاریخ په اوږدوکې څو څو ځله رغول شوی او پراخ شوی دی، وروستی ځل پراختیا او رغونه یې د ملک فهد په وخت کې د پنجشنبې په ورځ دصفر المظفر په ۸مه ۱۴۰۲ه س پای ته ورسېد ،نوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراختیا په ټولو نوي عصري وسایلو سمباله ده، ایرکنډیشن پکې فعال دی، د مسجد پر غولي داسې ځپره جوړه شوې چې په کمپیوټر حرکت کوي، په مسجد کې دننه او بهر شل زره تنه لمونځ کولی شي، دننه او بهر ني ټول مساحت یې ۱۳۵۰۰ متره مربع ده، دنارینه وو لپاره ۲۴ بیت الخلاوې او ۱۲۸ د اوداسه ځایونه او د ښځو لپاره ۲۲ بیت الخلاوې او ۴۳ د اوداسه ځایونه جوړ شوي دي ، په وروستۍ پراختیا کې درې میلیونه د بېلابېل حجم درلودونکي خښتې ،شپږ زره مربع متره مرمر تیږه او زر ټنه سرب کارول شوي دي.

د قبا ځینې برخې دالعوالي په سیمه کې دي، دلته دانصارو هغه قبیله بنو عمرو بن عوف پرته ده چې الله ج یې په اړه فرمایي( فیه رجال یحبون ان یتطهروا والله یحب المطهرین)یعنې: (په دې کې داسې خلک دي چې پاکوالی خوښوي او الله ج هم پاکي خوښوونکی خوښوي) توبه ۱۰۸.

د شنبې په ورځو کې اوس هم په قبا کې بیروبار وي مونږ هم د شنبې په ورځ ورغللو.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له ډاکټر باز محمد ښادمن سره

ډاکتر ښادمن په مدینه منوره کې بلد وو،ماته یې وویل چې یوه ورځ دې په مدینه منوره کې ښه وګرځوم او ډېر ځایونه درباندې وګورم، د یکشنبې په ورځ ماسپښین یې راته وویل چې سبا سحر به دې چای له ماسره وي، اوله چای وروسته به د مدینې منورې د مشهورو ځایونو لیدلو ته ووځو ماهم ورسره ومنله.

سبا سحر دده په خونه کې چې حرم ته په تر ټولو نږدې عماره کې وه دلوی ننګرهار شرکت رئیس حاجي ببرک، دمرحبا شرکت رئیس حاجي محمدامین، د اکوړه ختک دحقانیه مدرسې د ۲۰۰۷ زېږدیز کال فارغ او دخوست د صبریو اوسېدونکی مولوي نورالله او ظریف زمان هم راغلي وو.

ډاکټرښادمن د المبارک شرکت رئیس دی خو دامهال یې له دوو نورو شرکتونو سره په ګډه ۳۷۲تنه حاجیان راووستي وو په مکه معظمه کې خو ما ددوی عمارې او خدمتونه نه وو لیدلي خو حاجیان ترې خوښ وو ډاکټر عبدالبصیر احمدزي او دلغمان دقرغیو ولسوالۍ د عزیز خان کڅ اوسېدونکي حاجي ظاهر خان یې راته صفت کاوه خو په مدینه منوره کې له حاجیانو سره ددوی نیک چلند او ښه خدمتونه ماپه خپله ولیدل دوی خپل حاجیان په دوو عمارو کې ځای پر ځای کړي وو او ددواړه عمارې له حرم سره داسې ښبتې وې چې له عمارو به راووتلې نوحرم ته به ننوتلې عمارې هم ډېرې لوکسې او ښکلې وې حرم ته د نږدې عمارو بیه لوړه وي معنی داچې دوی د حاجیانولپاره ډېرلګښت کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل داچې له دوی پرته بل هېڅ شرکت پـه خپـل لګښـت حاجيـان پـه مدينـه منـوره کـې نـه دي ګرځـولي خـو دوی ورتـه مـوټر نيـولي او پـه ټولـو تـاريخي ځايونويې ګرځول.

دبنګله دېش مکتب چې حاجيان له مدينې منورې څخه جدې ته رالېږدوي دحاجيانو دهغه بار لپاره چې په يوموټر کې نـه ځايـيده بـل مـوټر نـه نيوه،پـه داسې حال کې چې دا ددوی دنده وه ، خو ښادمن دوی داقرباني هم وکړه او د حاجيانو بار ته يې بل موټر ونيوه داکارونه دولت هم نه کول اونه يې هم حاجيان په بېلابېلو سيمو ګرځول.

له چای وروسته د ډاکټر ښادمن دوی پـه فـولادي کـرولا مـوټر کـې سـپاره شو، دموټر چلوونکی حاجي محمد نعيم د پغمان اصلي او دمدينې منورې اوسنی اوسېدونکی وو.

# د سلمان فارسي بڼ

لومړی بيا قباته لاړو هلته مو لمونځ وکړاوبيا د حضرت سلمان فارسي بڼ ته روان شو،پر لاره مـو څـو باغونـه وليـدل پـه ځينـو کـې يـې د خرمـا ونـې وهلې هم وې يوځای مودرې غزونه هم وليدل دسلمان فارسي، رض باغ موله ډېرو پوښتنو وروسته ومونده خوزموږ داټکل برعکس هېڅ بيروبار پکې نه وو آن له موږ پرته بل څوک ورته نه وو راغلي، داباغ قباته نږدې دی.

دباغ په خولـه کـې دبئـر الفقيـر (دفقيـر کـوهی) پـه نـوم تـاريخي کـوهی دی سعودي حکومت اوس ترې ګـټه اخسـتل بند کړي خودتاريخي آبدي پـه توګـه يـې خونـدي کـړی او لـه شـاوخوا يـې تـرې اوسـپنيزه جـالۍ تـاوه کـړې ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکوهي ترڅنګه لیکل شوي چې دا کوهی یو تاریخي اثر دی اوهرډول تېری پرې تاریخي جرم ګڼل کېږي، له دې لیکنې سره زما خیال دافغانستان د تاریخي اثارو چور او تالان ته واوښت ،دوی پریو کوهي څومره پام کوي او دافغانستان ټول تاریخي اثاردکباړو په کتار کې وپلورل شول او اوس د نورو د موزیمونو ښکلا ده.

داچې دې باغ ته ولې د سلمان فارسي باغ وایې پر لامل یې پوه نه شوم،خوپخواني تاریخي باغ دی، اوس پکې ژور کوهی (ټیوب ویل)وېستل شوی اوپرېمانه اوبه د برېښنا په واسطه راوېستل کېږي ما په لومړي ځل په سعودي کې رواني اوبه ولیدې هغه هم همدا چې په برېښنا راوېستل شوې دي، خوږې او رڼې اوبه اولومړی ځل وو چې له دې ویالې اوبه څښم ځکه چې هلته خوټولې بوتلي اوبه دي.

په باغ کې د رشکې،ګندنې او پالکو په شمول ډول ډول سابه کرل شوي او د باغ سهیل لوېدیځه برخه موږ ته ښکاربدله چې احاطه تري تاوه وه نور نو تري چاپیره ودانۍ وې په منځ کې یې دحسین بن علي په نوم د هلکانو مدرسه وه چې دملک فهد او ملک عبدالله عکسونه پرې ځړېدلي وو ، دمدرسې ترڅنګ پر یو دیوال چا(یا حسین) لیکلي وو خو لویه چلیپا پرې راښکل شوې وه، دمدرسې شاوخوا لسګونه موټر ولاړوو چې زده کوونکي یې کورونو ته بیول ماته بیاهغه افغان زده کوونکي را په زړه شول چې په لوڅو پښو اویوه زاړه او خیرن کمیس او پرتوګ کې ترونو لاندې جوړو ښوونځیو ته ځي .دا مهال دسحر لس کم نهه بجې وې او په مدرسه کې تفریح وه د زده کوونکیو شور ماشور د خوږې نغمې په څېر لګېده له نورو ونو خرما ټولې شوې وې خو یوه ونه د خرماله وخکالو هماغسې ډکه وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حضرت عثمان کوهي

له هغه ځايه بئرعثمان (د حضرت عثمان کوهي) ته ورغللو دا هغه کوهی وو چې کفارو پر مسلمانانو اوبه بندې کړې وې بالاخره حضرت عثمان رض داکوهی په خپلو شخصي پيسو وپيره او مسلمانانو ته يې د څښې اخستنې لپاره وسپاره.

اوس هلته لوی باغ دی دلته بيروبار ډېر وو په دې باغ کې د ننه لوی دکان دی ، دوکان څه چې سمه مغازه ده له خرما نيولې تر تاراوستن ،شات،عطر هرڅه پکې موندل کېدل.

موږ داکوهی ونه ليد ځکه چې ملګري مووارخطا ووخويو پنجابي راته يوه ټانکۍ راوښوده ويې ويل چې تر همدې ټانکۍ لاندې د حضرت عثمان کوهی دی .

له دې باغ څخه عمومي سړک ته راووتلو د عمومي سړک ګلدانونه له رنګه ګلانوډک دي. په سعودي کې ترډېره حده دهلکانو ښوونځي په عمومي سړکونوخو دنجونو په پناځايونوکې دي.له دې ځايه په دايرې(حلقوي سړک) مخ په تبوک روان شو ، دلته مودخرما يولوی باغ وليده،دمديني منورې پر پوهنتون راتاو شو ، دانړيوال پوهنتون دغره لمن کې په پراخه ساحه پروت دی، يوځل ۲۴ کاله وړاندې په پېښور ښارکې دهمدې پوهنتون لخوا په يوجوړ شوي درې مياشتني کورس کې ما هم درس ووېلې داکورس په ډېره لوړه سويه جوړ شوی ،ټول استادان يې عربان او دکتوران وو په درې مياشتوکې يې ډېر لوړ او ژور منهج عملي کاوه ،نظم او دسپلين پکې ډېروو له دوه ورځو ډېره غير حاضري له کورس

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه د اخراج په معنی وه، په پای کې یې سخته ازموینه هم وه له شاوخوا سلو تنو څخه له نیموډېره برخه زده کوونکي په داسې حال ناکام شول چې د بریې په نوروځایونوکې پخپله استادان وو، ناکاموکسانو ته شهادت نامه او پوره پیسې هم نه ورکول کېدلې، ایله ۵۰۰کلداري او ځوکتابونه ورکول شول. خوبریالیو کسانو ته ۱۸۰۰کلداري، شهادتنامه هغه هم د مدینې منورې د پوهنتون لخوا او پرېمانه کتابونه ورکول شول، زه الحمدلله په بریالیو کسانو کې وم او د نومرو اوسط مې هم له ۸۰ پورته وو.

پرسړک یوځای اشاره سره وه زموږ موټر چلوونکی محمد نعیم ورته ودرېد خوسړکونه تول خالي وو، مانعیم ته وویل چې سړک خو تول خالي دی، پرې ورځه ځکه نه موټر شته او نه ترافیک، خوهغه راته وویل چې دلته تول سړک د کامرو په واسطه له مرکز سره تړلی دی که کوم تخلف وشي کیمره سمدستي مرکز ته خبر ورکوي، او مرکز بیا دموټر چلوونکي ګرځنده فون ته مسج ورلېږي، چې په دې پیغام کې دتخلف ډول، وخت ځای او د جریمې اندازه لیکل شوې وي او چلوونکی بیا اړ دی چې ټاکل شوې جریمه په ټاکلي وخت بانک ته وسپاري اوکه ویې نه سپاري نو که چلوونکی اجنبي (هغه چې دسعودي تبع نه وي) اوکه سعودی وي نوداجریمه پرې لوړېږي که بیا یې هم ور نکړي نوکله چې اقامه یا جواز سیر تمدیدوي نو لومړی ترې جریمه اخستل کېږي، نودلته ترافیکي تخلف ستونزمن دی.

www.melitahrik.com 0777 400 116

عجوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عربي هېوادونه په ځانګړي توګه مدینه منوره د خرماګانو ښار دی دا مشهوره ده چې په سعودي کې تېل او خرما ډېره پیدا کېږي او هلته ارزانه وي،خوسرچپه ،په سعودي کې خرما قېمته ده،موږ په افغانستان کې ښه او پسته خرما کیلو په شپیته افغانۍ پېرو خودېته ورته خرما په مدینه کې په شاوخوا شل ریاله چې ۲۵۰ افغانۍ کېږي پلورل کېږي،یوځل ما یوډول خرما کیلو په اوه ریاله واخستې خوکلکې وې بیامې پر ملګرو وخوړلې. په مدینه منوره کې یوډول خرماته عجوه وایي دا خرما خوږې ،ګردې او توري دي ډاکټر ښادمن راته وویل چې دا خرما تر نورو ډېرې قېمته دي، هغه راته وویل چې دخرما داذات یوازې په مدینه منوره کې او هغه هم د نبوي حرم چاپېرچل کې پیدا کېږي او داخرما په بل ځای کې میوه نه نیسي ،هغه ددې خرما دحاصل اوزرغونېدلو ساحه العوالي (دنبوي مسجد شاوخوا)وښوده،ښادمن وویل چې رسول الله ص د عجوه بوټې په خپل لاس ایښې دی او نن چې په العوالي کې څومره عجوه پیداکېږي نوریښه یې هماغه د رسول الله ص پر لاس ایښودل شوی بوټی دی، دعجوې کیفیت اوغټوالي ته په کتلودیوې کیلوبیه یې له ۳۵ ریالونیولې تر ۱۰۰ریالو پورې ده.

ماچې دخرما بیه په افغانستان او مدینه منوره کې پرتله کړه او دراانتقال ستونزه مې په پام کې ونیوه نو یوځوکیلو عجوه مې وپېرله نوره خرما مې هلته ونه پېرله.

## په مدینه منوره کې زموږ هستوګنځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ عماره حرم ته نږدې وه له حرم څخه به ايله ورته اوه دقيقې لاروه موږ به د بازار افغاني اوجنت المعلى دد بوالـه لـه لارې حرم تـه تللو دلتـه هم زموږ خونه په لومړي پوړ کې او درې کسيزه وه،ما غوښتل چې لـه مولـوي احمدي پرتـه يـوتن بـل هم راسره وي چې پـه چـاى ډوډۍ کې راسره مرستـه وکړي، زما کابلی ،کاکا برات په پام کې وو . کاکا برات دکابل پـه ميـرويس ميدان کې اوسېده ترکانۍ وو ښه سړی وو پـه مکه کې يـې زمـوږ خدمت کـاوه خومولوي احمدي راته وويل چې دخونې ټول خدمت زه کوم، خوبل څوک مه راوله،رښتياهم هر خدمت يې کاوه او له ټولو جنجالونو يې بې غمه کړی وم .

زموږپه خونه کې نصب تلوېزيون يواځې پنځه چينله نيول، يو چينل کعبه ۲۴ ساعته لايف ښودله.

زموږ دعمارې عرب څوکېدار پخپله په تلوېزيون کې هرڅه، هرلوڅ اوپټ غربـي چينـل ،هـره نڅـا اوهـره سـندره ليـدل خونوروتـه بـه يـې ويـل چـې تاسوخوحاجيان ياست خراب شيان مه ګورئ.پـه نوروخونـوکې ټلويزيونونو ډېر چينلونه نيول.

بازار افغاني د جنت المعلى د شمال ختيځ ديوال ترڅنګه لويـه زېرزمينـي وه، دلته ډېر هغه څه پلورل کېدل چې افغانان يې خوښوي خو ډېر تـوکي يـې دکوچنيـانو د لوبـو سـامانونه وواوهغـه هـم ګـران بيـه، ددې بـازار ډېـر دوکانداران افغانان وو.

## د نبوي حرم امامان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مکه معظمه کې د ډېرو امامانو غږ خوږ وو، ډېرېې ځوانان وو لمونځ یې هم د سترېا ترحده نه اوږداوه، خو په مدینه منوره کې ډېر امامان او خطیبان د پاخه عمر خاوندان وو، هغو مره، خوږغږي هم نه وو، قاري حذیفه هم دنبوي مسجد له خطیبانو و، ده په ځوانۍ کې ډېر خوږغږ دلود، خو اوس یې غږ ډډ شوی وو.

ده به دومره اوږد لمونځ ورکاوه، چې سړی به یې سترې کړ، یوه ورځ دده اوږد لمانځه په غوسه کړم، ماویل داله نبوي احادیثو او دشریعت له روح سره په ټکر کې دي ځکه دده ترشاه لسګونه زره انسانان ولاړ دي چې زرګونه سپین ږیري، سپین سري او ناروغان هم پکې دي، نو دی ولې هغوی په پام کې نه نیسي، داغوسه مې له مولوي سمیع الله ریحان سره شریکه کړه هغه د قاري حذیفه ماضي اوغږ وستایه خوزما نظر یې هم زما له وېرې په خندا تائید کړ.

یوه ورځ دجمعې مازدیګر امام په خفیه لمانځه کې داسې ایت تلاوت کړی و چې سجده واجبوي، د ایت له تلاوت ورو سته یې سمدستي الله اکبر وویلې او سجدې ته لاړ په ده پسې خولسګونه زره خلک ولاړوو او ټولو خو پرېږده چې دویمه حصه خلکو هم دی نه لیده خلکو چې په قیام کې دامام له خولې الله اکبر واورېده نوفکر یې وکړ چې امام رکوع ته لاړ، امام دتلاوت سجده کې دی او خلک په رکوع کې او امام چې له سجدې بېرته قیام ته را پورته شو، او الله اکبر یې وویلې نو مقتدیانو فکر وکړ چې امام له رکوع وروسته سجدې ته لاړ، امام ولاړوو او مقتدیان په سجده کې په هرحال له هغه چاپرته چې امام یې لیده نور دټولو لمونځ ګډوډ شو، ډېرکم خلک پوهېدل چې امام دتلاوت سجده کړېده، آن زه هم پوه نه وم حیران وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا ملا څه ډول لمونځ کوي، له لمانځه وروسته د خلکو ګونګسې او تبصرې پيل شوې، زه هم سبا په اصل حقيقت پوه شوم.

دلته هم حکومت علما تر سانسور لاندې نيولي او د جمعې د ورځو لپاره تياري خطبې ورکوي، په مدينه کې هم علما هماغسې مذهبي اختلاف ته لمن وهي،لکه څرنګه يې چې په مکه کې وهي، دلته هم د جنة البقيع په دروازه او د حرم په کتابتون کې د شيعه مذهب ضد کتابونه وړيا ورکول کېږي، دلته هم له هر لمانځه وروسته د جنازې اعلان وي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نبوي حرم کتابتون

دنبوي مسجد ددوهم پوړ لوېديځ خواته په يوه اوږده سالون کې جوړ کتابتون ډېرې بډاى او په سعودي کې دمشهورو او مهمو کتابتونو په ډله کې دی، دا سالون په منځ کې لوېديځ ته وتلى ځاى لري، په لومړنۍ برخه کې يې د علوم القران نويو اوپخوانيو تفسيرونو، حديثو، علوم الحديثو،مستندات احاديث،عقايد ،دهر مذهب فقهي ،سياسي ،ساينسي، ،ټولنيز علوم او نړيوالې جغرافيې برخې ليدل کېږي.

دکتابتون ټول کارونه کمپيوټري دي، دهر مامور مېز ته له انټرنېټ سره نښتى کمپيوټر ايښى دى، دکتابتون يو تن مسؤول راته وويل چې له دوى سره څه باندې يو ميليون کتابونه په کمپيوټرکې ثبت دي. په ډيټابيس کې دهر کتاب دالمارۍ شمېره ،په المارۍ کې دکتابونوکتارونه، په هر کتار کې د کتابونو نومونه،شمېر او پرلپسې شمېره ليکل شوېده، چې له مخې يې په لږ وخت کې هر کتاب په اسانۍ موندل کېږي. کتابتون ته ګڼ کسان مطالعې ته راځي.

دتفاسيرو په برخه کې مې د ابراهيم بن اسحق بستي پر تفسير سترګې ولګېدلې،دبستي تفسير د نړۍ په مهمو تفسيرونوکې دى او ابراهيم ابن اسحق بستي داسلامي نړۍ په کچه لوى عالم دى، بستي د هلمند ولايت اوسېدونکى دى، خو دده بدمرغي داده چې دکم قدروخلکو په هېوادکې زېږېدلى دى، که دى دبل هېواد واى نوله قرطبي، ابن کثير او ... به يې نوم لوړ واى، ددې تفسير په سريزه کې داسپيناوى شوى دى چې ابراهيم بن اسحق بستي ببل دى او ابراهيم ابن اسحق بشتي النشاپوري ببل دى، يعني يو د هلمند دبست او بل د نشاپور چې په ماوراءالنهر پورې اړه لري، دبشت اوسېدونکى دى، نبايي ددې سپيناوي لامل داوي دافغانستان پردې ستر ويار

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نورو دعوه کړې وي او دافغاني ابراهیم ابن اسحق خدمتونه او شخصیت یې نشاپوریانو ته منسوب کړی وي، افغان ابراهیم ابن اسحق په ۳۰۷هـ س کې مړدی.

داکتابتون په انټرنېټ کې ځای پانه هم لري او د ډېره برخه یې آنلاین هم ده.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مدينې بازار او هوا

مدينه منوره ډېره ښکلې هوا لري، هوايي دمکې په پرتله سړه ده ،په مدينه کې هم غرونه شته خو د مکې په پرتله کم دي،موږ دمکې ګرمۍ ځپلي وو اودمدينې هوا راته سم پسرلی برېښېده،دلته ايرکنډېشن ته اړتيانه وه کله کله به پکی هم اضافي و خو داهغه مهال و چې په کابل کې د تودوخې درجه منفي لس وه.

موږ خپله سودا او سوغاتونه مدينې منورې ته پرېښي وو، ځکه چې اورېدلي مو وو دلته بيې ټيټې دي،جای نمازونه د دوستانو لپاره ډالۍ،خرما، خولۍ او... خو ضرور و چې پير لي مووای دحرم شريف لوېديځ ته دارالايمان کانټيننټل هوټل اوڅولوړپوړيزه ودانۍ دلته د سرو زرو بازارو ، زه ورغللم خو چې نرخونه مو له افغانستان سره پرتله کړل نو ډېر لوړ وو.

زموږ يوتن ملګری علي محمد چې اصلاً دفراه او اوس د هرات اوسېدونکی وو همدلته په يوولس زرو ډالرو يو د سروزرو هار واخيست،علي محمدنالوستی دنګ او غوښور ځوان وو مولوي احمدي راته وويل چې هغه واده هم لري خوپه هرات کې د يوې لوړې کورنۍ اړوند پريوې نومو تې ښکلې عاشق شو ، چې بالاخره له ډېروجرګو مرکو وروسته يې ددېرش لکو افغانيوپيشکش ( ولور) په مقابل کې ورکړه ،داسره زر يې هم هماغې ته واخستل او ښايي هرات ته له ستنېدو وروسته يې واده وي، ماله احمدي وپوښتل چې علي محمد څه کار کوي هغه راته لنډ وويل چې له پوډرو پرته نورڅه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سعودي څخه په ډالیوکې د ساعتونو راوړلو دود مشهور دی ماهم غوښتل چې خپلې کورنۍ او ځینې دوستانوته ساعتونه راوړم ،ځینو دوستانو د ځانګړیو ساعتونو راوړلو فرمایش راکړی وو ،د حرم شریف ترڅنګ د جنة البقیع له دیوال سره نښتی دساعت پلورلو څو دوکانونه وو، یو دوکان ته ورغلم، پلورونکی افغان و حاجي خلیل نومېده او دبلخ ولایت دمرکز مزار اوسېدونکی و، څو ساعتونه مې بیه کړل ماته نرخونه هم معلوم نه وو، هغه ته مې وویل چې که ته ماته دسل ریالو جنس په زر ریالو بیه کړې هم پرې نه پوهېږم اوکه ددې برعکس هم ،خومناسبه ګټه واخله او ساعتونه راکړه، هغه په خندا شو، ویې ویل کاشکې داخبره دود شي،دلته خو پېرونکي موږ اړباسي چې دسلوجنس په زرو بیه کړو ځکه چې که موږ د دوه سوه ریالو جنس په دوه سوه بیه کړو نو مشتري راته پنځوس ریاله وایي نو موږ مجبور یو چې په پنځه سوه ریاله یې ورته بیه کړو او دوه نیم سووته راښکته شو ،له ده مې شپږ ساعتونه وپېرل زما الفجراو پخواني سیکوپنج ساعتونه هم په کار وو زما ملګري جهادي لیکوال محمدمعروف فروغګر صاحب رانه پخوانی کیلی ګور سیکوپنج ساعت غوښتی وو حاجي خلیل راته وویل چې دحرم لوېدیځ ته ددارالایمان کانټیننټل شاته د عبدالغني میمني شرکت ته ورشه الفجر له هغوی سره ایجنسي دي او نرخونه یې هم ارزانه دي، هغه خپل کارت هم راکړ، چې له هغه سره مې معرفي کړي، دعبدالغني میمني شرکت مې په پوښتنه پیداکړ،خو دومره بیروبار پرې وو چې هغه د چاخبره سرګرولوته اوزګارنه وو ،له هرساعت سره یې بیه لیکلې وه،نرخونه فکس وو ،چنې او هغه دهندیانو خبره (بارګیننګ) پکې نه وو دوکانداران خبروته اوزګار نه وو په لوی شرکت او لوی دوکان کې دقدم ځای نه وو ماولیدل چې اوس دبیروبار له کبله په ارام زړه انتخاب نه شم

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی بیرته لاړم سبا بیا ورته راغللم په دوکان کې ځوتنو کار کاوه په دخل ناست شخص ته مې چې هندی ښکارېده دحاجي خلیل کارت وروښود هغه راته وویل چې ته جنس خوښ کړه بیابه درسره مراعات وکړو ،ماهم څو الفجر ساعتونه راواخستل دښه الفجر بیه ۲۷۰ ریاله او دپخواني ماډل ۱۵۰ ریاله وه خوده راته ۲۷۰ والاپه ۲۲۰او ۱۵۰ والاپه ۱۴۵او نور ساعتونه هم له ټاکلي بیې ارزانه حساب کړل.

زموږ ملګرو په یوه دوکان کې ښکلي ښځینه جامې لیدلي وې دادوکاندار هم افغان و ،ورغللو ډېرې ښکلې ډول ډول جامې یې درلودلې، په نرخونو کې جوړ راغللو ،دجامو ښکلا ،ډول ډول ډیزاین ،له کورنۍ څخه بېلتون او مسافري اوپه مېرمنې او بچیانوپسې خفه کېدل ددې لامل شول چې ښې ډېرې جامې واخلم ،داند ښینه هم راسره نه وه چې دا جامې به اوږدې یالنډې وي ځکه چې په کور کې مو هرو مرو داسې څوک پیداکېدل چې دا جامې پرې برابرې شي.

په مدینه منوره کې هم دلمانځه په وخت کې یا دوکانونه تړلي اویا یې پر دروازو پردې ځړولې وي، دسړکونو دپاکوالي لپاره ۲۴ ساعته نوکریوال چمتو وي و ،آن دشپې یې هم پاکوي، په مدینه کې روغتونونه ۲۴ ساعته پرانیستې وي موږ هم سپین ږیرې له ونې ټیټ حاجي عبدالله چې د حجراسود دښکلولوپه ټېل ماټېل کې یې پښې ژوبلې شوې وې په کې بستر کړی وو، دافغانستان په خبر سعودي هم وچکالۍ ځپلی دی،خو دافغانستان په کچه نه، هلته په شاوخوا ۴۰ ورځو کې ماکم ترکمه درې ځله باران ولیدخوبیاهم دیکشنبې په ورځ ماسخوتن په حرم شریف کې اعلان وشو چې سبا سحر به د استسقا لمونځ کېږي هماغسې وشول د محرم په اومه ددوشنبې په ورځ دسحر له لمانځه وروسته ټول خلک په خپل ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناست پاتې شول دلمر له ختلو وروسته دا ستسقا لمونځ وشو چې ډېرو خلکو پکې ګډون وکړ په همدې ورځ پر مدینه منوره نرۍ نرۍ باران وورېد.


دمازیګر له لمانځه وروسته له ډاکټرښادمن سره ددوی ودانۍ ته ولاړم هلته مې د سمنګان اوسېدونکی حاجي عبدالمتین چې په دې ولایت کې د حزب اسلامي افغانستان امر هم و، ولید، هغه راته د جمعه خان همدرد، داتلولۍ اومېړانې، ډېرې کیسې وکړې چې پر موږ یې نور هم ګران کړ.

دمحرم په اومه د سه شنبې په ورځ مې په لومړي ځل دما سپښین له لمانځه وروسته له مولوي عبدالظاهر حقاني سره سیاسي بحث وکړ ،مانه غوښتل چې دحج په ورځو کې خبرونه واورم انټرنېټ کلب ته لاړ شم یا ټلوېزیون وګورم ماغوښتل چې دا ورځې مې یوا ځې عبادت ته ځانګړې وي.

مااورېدلي وو چې د پژواک خبري اژانس رئیس دانش کړوخېل هم حج ته راغلی دی، په حرم کې به مې ډېر ورپسې وکتل خونه مې په حرم کې ،نه عرفات،نه منی،نه مزدلفه کې ولید ،کله کله به حج ته دده راتلل راته هسې اوازه وبرېښېده،کله چې له حج څخه راستون شوم او په پژواک کې مې ولید ، په ټوکه مې ورته وویل چې تللی دوبۍ ته وې او اوازه دې دحج خپره کړې وه، خوهغه راته وویل چې ،حج ته تللی وم خوداچې حرم کې ډېر نه ښکارېدم لامل یې داوو چې ډېربه په انټرنېټ کیفۍ کې وم او پژواک ته مې کار کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





www.melitanh...com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حرم څمکتلی

عربان له کم ځای څخه په اعظمي ګټه اخستلو کې نوم لري، دا فورمول یې په حرمینو کې هم تطبیق کړی دی، د مکې حرم لاندې د موټرو سړکونه، پراخ تونلونه، زرګونه تشنابونه او د مدني حرم لاندې ساحې څخه څمکتلي ته یوولس ځایه لاره ده داهره لار عادي اوبرېښنايي پراخه زینې دي، پر دې هره لاره چې ښکته شې نو لاندې ترې زرګونه بیت الخلاوې او تشنابونه دي، چې په ټولو عصري اسانتیاوو سنبال دي، د اوداسه په ځایونو کې پرېمانه دلاس وینځلو خو شبو یه مایع صابون اود بوی ضد مواد شته دي ،چې دبدبوی پرځای ترې ښه بوی تر پوزې کېږي.

په لومړي پوړ کې د تشنابونو ترڅنګ ډيپو یا تحویل خانه ده او په دوهم او دریم پوړ کې دتشنابونو ترڅنګ دموټرو پراخ تم ځای جوړ شوی چې د چاروا کیوپه وینا ،په یو وخت کې پکې څلور زره موټر ځایېږي ،دموټرو تم ځای په کمپیوټر څارل کېږي، دننوتلو او وتلو ټولې دروازې کمپیوټري دي، دموټرو ددرېدلو ځای کې دومره واټن هرو مرو وي چې که بیروبار ډېر وي نو هم موټر ببرته په اسانۍ ووتلی شي.

په څمکتلي کې تر افیکي نښې ،کانتینونه او ترافیکي اسانتیاوې پرېمانه دي ،درې واړه پوړه سپین پرق اوایرکنډېشنونه پکې فعال او د تهویې سېستم یې منظم دی.

مسؤولین له هر موټر څخه د یو ساعت تم کېدلو په بدل کې دوه ریاله اخلي او که څوک له ساعت څخه کم وخت هم تېروي نو دوه ریاله به ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حرم د ځمکتلي د چت ډيزاين خپموته ورته دی، مونږ پکې ښه ډېر وګرځېدو غوښتل مو چې د دريم پوړ لاندې سړک کې بهر راووځو له يوتن مستخدم څخه مو بهر ته دوتلو اسانه لار وپوښتله هغه د پاکستان د پنجاب اوسېدونکی و لار يې راوښوده خو ورسره يې پر مونږ د پوره احتياط او هوښيار اوسېدلو سپارښتنه وکړه، هغه په مدينه کې د نا امنۍ، دوه کيسې هم مونږ ته وکړې، يوه کيسه يې داسې پيل کړه: يو پاکستانی له دوو ښکليو ښځو سره دوو عربانو وتښتاوه پاکستانی يې وتاړه، او ښځې يې ځنګله ته بوتللې ترڅو چې حکومت ځای پيدا کاوه نودوی ورسره وې.

بله کيسه داسې وه :کله چې جنرال پروېزمشرف د پاکستان ولسمشر و نو دهغه يو نږدې ملګری لوړ رتبه جنرال د خپلې کورنۍ له يوې ځوانې انجلۍ سره حج ته راغلی ويوه ورځ دا جنرال او داانجلۍ له يوه عرب سره په ټکسي موټر کې سپاره شوي دي، دټکسي چلوونکي چې د انجلۍ ښکلا ليدلې نو ورته بې تابه شوی دی، پر يوه پاک او له بېروبار څخه پر خالي سړک يې موټر درولی ،دې جنرال ته يې ويلي دي چې موټر خراب شوی اوښکته شه ټيله يې کړه ،کله چې جنرال ښکته شوی او دموټر شاته تللی دی نو ،موټروان موټرته پښه تمبه کړې او انجلۍ يې وتښتوله ،جنرال سمدستي مشرف ته ټېليفون کړی،مشرف ملک عبدالله ته ټېليفون کړی ملک عبدالله پوليسو ته عاجله قومانده کړې بالاخره ددې جنرال په مرسته يې درې ورځې وروسته تښتوونکی او انجلۍ پيدا کړل.

هغه زياته کړه چې ځيني پوليس د تالاشۍ په نوم خلک لوټي،هغه وويل چې دوه درې کسه يې ليدلي چې پوليسو ترې لکونه ريا له اخستي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ديدن وروستۍ شېبې

دحج ورځې شمېرلي دي،او په مدينه منوره کې خو حاجيانو ته ايله داتو نهو ورځو استوګنې زمينه برابرېږي،حاجيان هلته په نبوي حرم کې څلوېښت لمونځونه هرومرو په جماعت سره اداکوي، ځکه چې په دې اړه حديث روايت شوی دی ،خو موږ ته هلته له ۴۵هم د ډېرولمونځونو وياړ راپه برخه شو.

له ماځخه په مکه معظمه کې يوځل ثور غره ته دتللو پر مهال، بل ځل په يوه مېلمستياکې ،نه پوهېږم بل ځای چېرې وو په کعبه کې په جماعت لمونځ فوت شوی وو (دحج ورځې لکه منی،عرفات او مزدلفه په دې کې حساب نه دي)

خو الحمدلله په مدينه منوره کې موټول لمونځونه په جماعت سره وشول نور په مدينه منوره کې زموږ وروستۍ ورځ وه موږته خبر راغی چې سبا به وختي تاسې جدې ته روانېږئ،دجای نمازونو او پاتې سودا د پوره کولولپاره ،خپلې عمارې ته نږدې بازار ته ورغللم ،دلته د حرم شاوخوا دوکانونو په پرتله ارزاني وه، په يوه دوکان کې مې ښه جای نمازونه وليدل يو جای نماز (لمونځی)مې ورسره په ۲۳ رياله فيصله کړ،نور نو د رنګ او ډيزاين تاکل زما خوښه وه، دوکاندار علي نومېده اصلاً د يمن اوسېدونکی ۲۵ کلن ښکلی ځوان وو ،دوکان ته له ورختلوسره سمدستي يې وپېژندلو ويل يې چې افغانان خو يئ،خودا ووايئ چې د شمال که د جنوب ياستئ ماورته وويل چې زه دختيځ يادننګرهار يم،هلک ډېراحساساتي او جذباتي فکر درلود، دشمالي ټلوالي او امريکايانو ضدوو ،طالبانو ته يې دعاکوله،کله چې پوه شو نظر اوفکر مو يودی نو لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې جرئت وکړ زه یې هم جهاد ته وهڅولم، ویې ویل چې دوه میاشتې وروسته لومړی پاکستان او بیا افغانستان ته ځي ماورته وویل چې هلته څه کوې،ویل یې خپل نفس پرالله ج پلورم ما ورته وویل داڅه وایې هغه ځواب راکړ چې زما دعمر ۲۵کاله تېر دي پته نشته چې نور به څومره پاتې وي،نوولې همدا اوس داخرت تلپاتې عمر ته پانګونه نه کوم؟ زه افغانستان ته ځم اوهلته پر امریکایانو فدایي یا استشهادي برید کوم،علي وویل چې په دنیاکې یې ښه ساعت تېر دی،ښه ځواني ،کورنۍ او شتمني لري،دوکان ته یې اشاره وکړه چې دلکونو ریالو جنس پکې دی او ښه سودا یې کېږي خو دی اخرت غواړي دلته ورسره سکون او اطمئنان نشته دی. ماترې وپوښتل چې هلته څوک پېژني یاله چاسره دې اړیکې شته دي،ځواب یې راکړ چې څوک نه پېژني خودهغه چا دټیلیفون نومره ورسره ده چې له ده سره په فدایي برید کې مرسته کوي.

دده پاکو احساساتواوسپېڅلي جذبې زه، هم احساساتي کړم، اوښکومې پر مخ لاره جوړه کړه،سوچ کې شوم ،له روسانوسره د جهاد پرمهال زما دسنګر یمنی ملګری ابو عبدالرحمن او سعودی ملګری عبدالهادي عبدالله راپه زړه شول چې دواړه په شهادت پسې راوتلي وو او دواړه په سره رود کې شهیدان شول، دا اندېښنه هم راسره ملګرې شوه چې له علي سره به څه کېږي،ایا دده برید به رښتیاپر امریکایانووي؟ علي د جهاد د اجاره دارانواودجهاد په نوم دسوداګرواو له استخباراتي چینلونو سره دتړلیو لاس ته ونه لوېږي؟ دعلي برخلیک به دجهادي سوداګروپه لاس تاکل کېږي اوکه دازمینه به ورته برابره شي، چې له رښتونو مجاهدینو سره ملګرى شي،څه مناسبې توصیې مې ورته وکړې،په ژړاترې رخصت شوم هغه هم ژړل د جای نمازونو پیسې یې هم نه اخستې خوما په زوره ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهمدې ورځ په مازیګر ( دمحرم یوولسمه) زه او ښادمن د عبدالغني میمني دوکان ته ورغللو او هغه ته موساعتونه واخستل،د حاجي نعیم پغماني تروزي ورته ارزانه عجوه خرما واخسته دشپې تر ناوخته په سودا پسې وګرځېدو دشپې یوولس نیمې بجې زه ،ظریف زمان نیازی،ډاکټر ښادمن او قاري،د قبا مسجد ته لاړو دشپې بیروبار کم او هوا ښه وه نو ددوی دشرکت له موټر څخه مو ښه ګټه واخسته تېل هسې هم دیوریال درې لیټره وو.

کله چې قبا مسجد ته ننوتلو نو بهر مود ځوانانو ډېرې چیغې واورېدلې مونږ فکر کاوه چې ځه لوبې به کوي مونږ پرلمانځه ودرېدو ،چې چیغې ډېرې شوې اوله همدې سره ناتاره ډېرې زیاتې ضربه او منفرد ډزې پیل شوې،داهرڅه له مسجد سره نښتي و مونږ له لمانځه وروسته په مسجد کې تم کېدل غوره کړل،ترهغې چې ډزې کمې شوې،حاجي نعیم له خپل یوه پېژندګلو څخه پوښنه وپوښتله هغه ورته وویل چې حکومت او دمدینې شیعه ګان نښتي دي داچې ولې نښتي دي دی هم نه پوهېږي،زمونږ د ځان تر څنګ موټر ته هم اندېښنه وه ځکه هغه بهر ولاړ وو خیر ډزې چې کمې شوې مونږ ړه وکړ راووتلو څه باندې دولس بجې وې چې په سیدالشهداء واټ له حرم څخه لرې لېرې اطباق هوټل ته ورغللو.

حاجي نعیم وویل چې په مدینه منوره کې ډېر زیات شیعه ګان دي خو حکومت پرې ډېر زیات قیودات اینبې دي ،کله کله آن د حکومت پرضد وسله وال پاڅون هم کوي اوپټې پټې دسیسې هم جوړوي.

اطباق هوټل په مدینه منوره کې له عصري او نوموتو هوټلونو څخه ګڼل کېږي، زمونږ کوربه ډاکټر ښادمن وو ،هغه هوټل ته په تناره کې دپاخه شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسه اومندی فرمایش ورکړی وو لومړی یې خوندور سوپ راوور، دپسه روغ روغ ورنونه او اوږې یې چې په انګار کباب شوې وې په لګنونو کې راوړې، کباب یې ښه خوړین وو خو سپورلګېده اومالګه اومرچ یې کم وو ډوډی مووخوړه، څه باندې یوه بجه خپلې خونې ته لاړم هلته مولوي احمدي ویښ وو تریخ شین چای مې پرې تیار کړ، ګپ شپ مو ولګاوه، دوه بجې شوې زموږاوه لس تنه ملګري کابل ته راتلل ،ماسیدنصیر ته ویلي وو چې له دې خوا موږ نه غواړو چې لومړی هرات اوبیا موالوت کابل ته تنظیم شي، هغه هم همداسې کړي وو د شرکتونو اړوند پنځوزروحاجیانو لېږد رالېږددکام ایر د هوایي شرکت مسؤولیت وو، دانوکابل ته دکام ایر هوایي شرکت وروستۍ الوتنه وه زما په شمول زموږ دشرکت اړوند اوه لس حاجیان هم په همدې الوتکې تنظیم شوي وو، جدې ته چې د حاجیانو دانتقال لپاره دبنګله دېش دمکتب لخوا کوم موټر کومارل شوی وو هغه حرم ته نږدې دډاکټرښادمن دوی دعمارې فندق الاشراق سره ولاړ وو.

موږ هم باید هملته ورغلي اوله هغه ځایه جدې ته روان شوي وای، همداسې مو وکړل دشپې دوه بجې موټر راغلل خپل سامان موپه کې بار کړ خو زموږ دځوملګرو سامان په دې موټر کې چې شرکت نیولی وځای نه شول، دشرکت مسؤلینو دوه کوچني موټر نور راوغوښتل چې پاتې سامان پکې بار کړي زموږ دعمارې اوفندق الاشراق ترمنځ دپينځو لس دقيقې لار هم نه وه خو بارونه درانه وواوپه شا يې وړل سخت وو،پاتې سامان موپه نويو موټروکې بار کړ داصولوله مخې ددې ټولو موټرو کرايه بايد شرکت ورکړې وای کله موچې هلته سامان ښکته کړ نو له حاجيانو سره مې دشرکت دډریور نعمت شور واورېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ورغللم ګورم چې نعمت له هر حاجي څخه ځلوېښت ریاله ددې موټرو کرایه غواړي او هغوی ورسره جنجال کوي چې یو خو داد شرکت دنده ده چې داسامان انتقال کړي،بل دا چې دواړه خویو کیلومتره هم نه دی او موټروته ورکړې کرایه که په حاجیانوو وېشل شي نوپنځه پنځه ریاله هم نه ور رسېږي نو تاسوولې ځلوېښت ریاله غواړئ؟

زه هم نعمت ته په غوسه شوم خو هغه راته وویل چې (استاد برمن همینطور گفته شده است) اوکه زه له دوی داپیسې وانه خلم نو شرکت یې نه راکوي چې کلک مې کړ نو دواړو موټروته یې سل ریال هم نه وو ورکړي خوله هر تن څخه یې ځلوېښت ریاله غوښتل چې شپږ سوه او اتیا ریاله کېدل.

ترڅو چې دښادمن دوی ملګرو خپل سامان له عمارو راښکته کاوه نو موږ پنځم نمبر موټرته خپل سامان پورته کړی وو ملګرو لومړی سبټ ماته ځکه راکړ چې په عربي پوهېدم اوکه اړتیا شي نو ستونزه حل کړم.

## د شباکیا جریمه

حاجي عبدالله چې زموږ د شرکت ګډونوال وو هم زماترڅنګ کېناست هغه ډېر چالاک سړی وو څه ناڅه عربي یې هم زده وه په خپله چالاکۍ یې ځان دموټر رئیس معرفي کړ،ما چې خپل سامان ځای پرځای او ځانته سیټ ونیوه نو نور خلک لاپوره راښکته شوي نه و موقع مې غنیمت وګڼله حرم ته لاړم نفل لمونځ (تهجد)مې وکړل او په وروستي ځل مې د رسول الله ص اوشیخینو سلام وکړ، دابېلتون هم اسانه ندی، یوه لپه اوښکې بیه غواړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته هم زه پرېښو راووتلم خو زړه مې هملته بند او د رسول الله ص دمزار په پنجروکې اسیر و.

په هرحال ځلور نیمې بجې موټرو حرکت وکړ یوځل بیا په یوځای کې د حاجیانو پاسپورتونه او اسناد وکتل شول اود حاجیانو حاضري واخستل شوه له مدینې منورې څخه په تیاره کې راووتو د سحر لمونځ مو له ښار څخه بهر په یوه مسجد کې په جماعت اداکړ زموږ موټر چلوونکی هادي شباکیا داندونیزیا اوسېدونکی او خبرنه دریشي یې پرتن وه،موږ په تیاره کې روان وو چې دترافیکوموټر مو د موټر مخې ته ودرېد ،ډرېور ته یې د راښکته کېدلو وویل له ښکته کېدلو وروسته یې سمدستي ورته د جریمې پرچه ورکړه، شباکیا لږ ځان اخوا دېخوا کړ عذر یې وکړ خوګټه یې ونکړه یو سل او لس ریاله (شاخوا ۱۴۳۰ افغانۍ)یې ترې واخستل اوپرچه یې ورکړه ماچې پرچه وکتله نو د تخلف ډول یې سرعت ښوولی و په پرچه کې دتخلف ډول ، وخت ،ځای د چلوونکي نوم، د جریمه کوونکي کمپیوټر شمېره،دموټر پلېټ ،دجریمې اندازه هرڅه لیکلي وو،چلوونکی ډېر خفه وما ترې وپوښتل چې سرعت دې کله له حده واوښت هغه راته وویل چې لږ وړاندې دموټرو په ګڼه ګوڼه کې راګېر شوم نو د ځان دوېستلولپاره مې موټر لږ تېز کړ او ستن مې ۱۱۰ ته ورسېده ،په داسې حال کې چې مجاز سرعت ۱۰۰ کیلومتره په یوه ساعت کې دی،نوکمپیوټر زه ځارلی یم او دترافیکو مدیرته یې خبر ورکړی دی، شباکیا خفه شو ویل یې چې داپیسې ،دی له خپل جیب څخه ورکوي او کمپنۍ یې مسؤولیت نه اخلي.

ماحاجي عبدالله ته وویل چې ده ته له حاجیانو چنده غونډه کړي ،هغه هم پیل وکړ او چنده یې ورته ټوله کړه.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرلار ځای ځای پر تختو تختو لیکل شوي وو :خبر اوسئ سړک په رادار کنټرولېږي)

چای مو په مطعم الراحة والزين کې چې له وادي هاري څخه مخ په مدینې پروت دی وڅښه.

له مکې معظمې څخه مدينې ته ۱۵۰ کيلومتره لېرې په الظبية والجمعة کې پروت هوټل( فندق و مطعم الراحة) ته چې له دېخوا تللو نوشاو خوا شل موټر ولاړ وو خو دامهال پکې هېڅوک نه ښکارېدل.

له آبيار سره نږدې مو په يو هوټل کې د زمزمو د لېږد (سقيازمزم)سپين ټانکر ولید.

دمدينې منورې اومکې معظمې ترمنځ پر پروت سړک هوټلونه کم دي له مدينې څخه مخ پر مکې تر وادي ستاره په يوه ساعت کې تر ۲۰۰ کيلو متره د چټک تګ اجازه شته ده.

له مدينې منورې څخه مخ پر مکې تر هغه ځايه چې دمکې او جدې لار بېله شوې يا له مکې معظمې څخه ۹۹ کيلو متره لېرې ټوله لار توره او سوځېدلې تيره ده. کله کله صحرايي بوټي هم ليدلې کېږي.

جحفې ته د مکې او جدې دوه لارې ته نا رسېدلی ښې خواته لار تاوه شوې همدا راز له عمومي سړک څخه ينبوع،واثل ،ابيار،جحفې او ذهبان ته هم لارې تاوې شوې دي، اوله دو طرفه سړک څخه جال تاو دی، چې هېڅ حيوان دوراوښتلو لار نلري.

پر لار څو ځايه باغچې او کروندې ښکاري، ونې يې بې مېوې اوله واړېمپونو ياژورو څاګانو خړوبېږي، خو نوره ټوله شګلنه صحرا او توره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیږه ښکاري له مکې څخه مدینې ته ۲۵ کیلو متره لېرې د ملک عبدالله ښارګوټی دی، دا ښار ګوټی ډېر لوی او آباد دی، پر لویه لوحه یې (مدینة ملک عبدالله الاقتصادیه) لیکلي دي په دې ښار ګوټي کې لسګونه لویې او لسګونه کوچنۍ فابریکې فعالیت کوي، پرلویه لار یې د (شرکت رضوي لانتاج غذاءالمحدودة) فابریکې لوحه لیکلې دا ډېره لویه فابریکه ده په دې ښار ګوټي کې د نارینه وو د تللو او راتللو سړکونه بېل او د ښځو بېل دي.

خو هلته ښځې له کار څخه منع ندي، بلکې هڅوی ته دا اقتصاد په غوړېدو کې ونډه ورکړل شوې او حجاب پرې پلی شوی دی، خو په افغانستان کې هرڅه افراطي دي دلته ښځه یا په کور کېنول کېږي او یا دومره ازادي ورکول کېږي، چې ټول اسلامي حدود او افغاني دودونه تر پښو لاندې کوي او اروپایاني هم ورپسې نه رسېږي.

## ته مې وزې خوره زه به دې روزې خورم

لس نیمې بجې سحر جدې ته را ورسېدلو، د بنګله د بش مکتب اړوند مزدورانو زموږ سامانونه راښکته کړل او د تللو لپاره یې ټاکلي ځای ته وبوورل، له ترازو سره مو نوبت ونیوه له موږ پرته د نورو هېوادونو ډېر حاجیان هم دخپل سامان تللو ته په تمه وو، موږ د سامان دتللو په تمه او د کام ایر شرکت د ترازو (تلې) مسؤولین بې غمه وو، تر ماسپښین قضا پورې د ترازو مسؤلین نه معلومېدل.

جده ډېره ګرمه وه آن واسکټ هم پکې نه اغوستل کېده، ماخپل سامان ګلاغا او شیخ معصوم علي ته وسپاره او په کوچني مسجد کې ویده شوم، زه ستړی وم که نه هلته خوب نه کېده، ببروبار پکې ډېر وو، دپښو غځولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای نه وو لړ. به چې پرېشانۍ و بورږم د چاپښو يالاس به راوښن کړم، خوبيا هم يوساعت خوب مې وکړ، کله چې ولاړم ګورم هلته نه زموږ يو ملګری او نه يې سامان شته دی، مسؤولينو زموږ ملګري پنځلسمې ترازو (تلې) ته لېږدولي وو، چې هلته ورغللم نواوبه، بيکونه، بکس او خلتې مې نادرکه وې، ژر ژر اخوا دېخوا وګرځېدم يو شی مې يوځای کې اوبل مې په بل ځای کې وموندل.

حاجيانو موقع غنيمت ګڼلې وه هر چا خپل ځان تاله ترازو (تله) وړيا وه حج پر تولو اغېز کړی وو، زما وزن هم دری نيم ځلورکيلوکم شوی وو په جده کې مې وزن دوه اتيا کيلو وو.

بالاخره له ډېر انتظار وروسته د کام اير مسؤولين راغلل او د سامان تلل پيل شول خلک په ترازوګانو ووېشل شول، د سامان تَلونکيو (وزن کوونکيو) به له واسطه لرونکيو سره اوه، اته کيلو هم ګوزاره کوله او که اته کيلو سامان به يې هم ډېر وو نو څه يې ترې نه غوښتل خو چې څوک بې واسطې، بې واکه، ارام او غلی وو، نو د يو کيلو اضافي سامان پيسې يې هم ترې اخستلې، د شرکت لخوا له زمزم سره څلوېښت کيلو وزن ته اجازه وه، خو داسې اوازه وه چې اريانا له زمزم سره پنځه څلوېښت کيلوګرامو ته اجازه ورکوي، که له څلوېښت کيلو څخه به د خلکو يو کيلو بار هم ډېر وو نو د کيلو پر سر به يې ترې **۲۵** رياله اخستل، دې بې انصافۍ خلک اړ کړل چې د ترازو له مزدورانو سره پټې اړيکې جوړې کړې د زمزم يوه بوشکه چې لس ليتره پرې ليکل شوي وو خو يوولس ليتره پکې ځايېدل، او حاجيانو هم ډکې کړې وې، حاجيانو غوښتل چې دا بوشکه ورته په لس ليترو حساب شي خو د ترازو مسؤولينو به ترې د يو يا يو نيم ليتر اضافي اوبو هم **۲۵** رياله غوښتل بالاخره ځينو حاجيانو د ترازو له وزن کوونکيو مزدورانو سره لاس

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو کړ، دیوې بوشکې په سربه یې لس ریاله هغه ته پټ ورکړل اوبوشکه به یې پرې تېره کړه، په دې ډول لسګونه بوشکې تېرې شوې، بل چل یې دا وکړ چې په الوتکه کې لاسي بکس له تلَلو معاف دی، خلکوبه خپل درانه شیان په لاسي یا دغاړې بیک کې واچول ځیني به یې په یوپلاستیک کې واچول دابه له تول څخه معاف وو، زه یو تن پېژنم، چې په بیک کې یې شپاړلس کیلو او په پلاستیک کې یې شپږ کیلو وزن ځای پرځای کړی و دا دواړه له تَلَلو معاف دي.

دلته هماغه متل وو، چې(ته مې وزې خوره زه به دې روزې خورم).

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له جدې څخه کابل ته

دبار له سپارلو وروسته دوهم پوړ ته روان شو ، دلته له تالاشۍ تېرېدل سم له پل صراط څخه تېرېدل دي، په اوږده لیکه کې تالاشۍ ته ودرېدو تالاشي کوونکي سست وو، بیکونه هم په کمپیوټر خارل کېږي او انسانان هم ،له هغو شیانو پرته چې دنړیوال معیارله مخې یې په الوتکه کې لېږد بند ندی، دلته دوی ځانګړې خوښه هم درلوده، ځینې بې ضرره او مجاز شیان یې هم نه پرېښودل.

له تالاشۍ وروسته په انتظارخانه کې کېناستو ، کام ایر لا دمخه راغلې وه، الوتکې ته دورختلو پرمهال زه او عبدالله بیا په مخ کې په بزنس کلاس کې کېناستو دالوتکې استیورد دوه ،درې ځله موږ ته وویل چې شاته لاړ شو بالاخره زه پرې غوسه شوم ورته مې وویل چې موږ شاته لاړ شو نو خیر دلته ځوک کېنوې، دا الوتکه خوټوله د حاجیانو لپاره ده او ټوله پرې ډکېږي، تا سو د بزنس کلاس لپاره ځانګړې ټکټونه نه دي خرڅ کړي اونه د حاجیانو په ټکټونوکې توپیر شته دی، نو بیا د اخوکۍ شاته اوزګاروئ؟ هغوی هم غلي شول، داځوکۍ په رښتیاهم پراخه او پستې وې، څه نور امتیازات یې هم درلودل.

الوتکه د سعودي په وخت کې په لس کم نهوبجو والوتله لاندې تپه تیاره وه، ځو ځو ځایه مو لاندې په سترو سترو رڼاګانو ستر ګې ولګېدلې د الوتکې له عملیې مو پوښتنې کولې ځینې یې د سعودي ښارونه راښودل ،یوځای یې بحرین راوښود ،خو ددوبۍ پر هوا بیا د شپې تېرېدل ببل خوند لري، ددوبۍ داسمانڅکوپرډېزاین او نقشه څوک له ځمکې سم نه پوهېږي ،خوله هوا بیادشپې دڅراغونو په کتار ونوکې ښه پوهېږي، ددوبۍ ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړې او سترې ودانۍ اوسرکونه د ستورو په بڼه یا د سپوږمۍ یا د ګل یاګلدان یا مثلث یا ..په بڼه دي، دوبۍ ټول ځراغان ده خو دبحر غاړه یې رنګین او سپین پرک ده، له وچې بحر ته تللي ټول پلونه او سړکونه سپین پرق ښکاري.

په بحر کې  دروانو بېړیو ځراغونه هم ښکارېدل.

الوتکه د سعودي ،بحرین،متحده عربي اماراتو  او دایران د بندر عباس له لارې افغانستان ته لارغلله.

بندرعباس هم روښانه او سپین وو خو ددوبۍ په څېر نه.

الوتکه دسعودي پروخت پاو باندې یوه بجه اودکابل پروخت پاوکم درې بجې  د کابل پر هوایي ډګر کېناستله.

دجدې ګرمۍ آن د تن واسکټ هم راباندې وبستی و خوپه الوتکه کې هواسړه وه هغه مې ببرته واغوست زموږ جامه  ددوبي(اوړي)وه خو دلته چې کله له الوتکې ښکته کېدلو او سم دالوتکې پوړ یو (زینو)ته راغللو نو دکابل د ژمي یخوځپو راباندې حمله وکړه، په لږ وخت کې مو یخ زړه ته هم ورسېد ، ماله ځان سره یو پټو هم سعودي ته وړی وو خودې پټو ته نه په مکه، نه مدینه اونه په جده کې اړتیا ولیدل شوه، تر پایه مې له بکسه را ونه هم وېست.

دلته مې ورته سخته اړتیا احساس کړه، خو هغه په بکس او بکس په الوتکه کې  و لاپې موږ ته سپارلی نه و.

کله چې له الوتکې راښکته شو، نو دهوایي ډګر په بس  موټروکې یې،په همدې ډګر کې حاجیانو  ته درول شویو خېموته وروستلو. هلته ګازي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخارۍ لګولې شوې وې له هرې بخارۍ مو څو څوکۍ راتاوې کړې، شل دقیقې به تېرې وې چې د حاجیانو پر سامان بار یو موټر راغی او سامان یې ښکته کړ، حاجیان ورغلل او دخپل سامان لټول یې پکې پیل کړل، خو د ځینو خلکو سامان نیمګړی و، څو دقیقې وروسته بل موټر راغی زه هم ورغللم د خپل سامان لټون مې پیل کړ، زما سامان پنځه ځایه یا پنځه غوټې وې، راټولول او پلټل یې اسانه کار نه وو.

دډېرو خلکو زمزم چپه شوي وو د چا له بوشکو نیمې اوبه تللې وې زما په شمول ټولو حاجیانوخپل د زمزم بوشکه په ځانګړي پلاستیک کې پرېس کړې وه، خو ډېرو ته دې کار ګټه نه وه کړې ماله ځا سره کوم پنځه ویشت لیتره زمزم را اخستي وو درې لیتره به مې له مدینې تر کابله پرلار څښلي وي نور مې ټول پوره او سالم را ورسول په زحمت مې خپل ساما ن پوره او ۳۰۳موټرته پورته کړ،کله چې دټولو حاجیانو سامان پوره او موټروته وخېژول شو نو موټرو دکابل دحضوري چمن ترڅنګ دکابل ننداري مخ ته دکابل نوین هوټل پر لور حرکت وکړ.

حاجیانوخپل دوستان همدلته راغوښتي وو، ما خپلې کورنۍ ته ویلي وو،چې زماله ستنېدلوبه نه څوک خبروئ اونه به ډله مخې ته راځئ ماڅو څوځله ورته ویلي چې زما زوی احمدطارق، ورور مې روح الله اوخوریی مې رفیع الله روشن به زمورږ له خپل موټرسره راشي او دا سامان به راسره وبسي،بل به هېڅوک هم نه خبروئ، کله چې د جدې هوایي ډګر څخه راووتلونو کورته مو خبر ورکړ ،دلته چې له الوتکې راښکته شو نو بیا مو ډاډ ورکړ،کله چې دکابل نوین هوټل مخ ته را نږدې شو ګورو چې هغه دچاخبره ټوله دنیا موټرو او خلکو نیولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته خلکو ویلي وو چې په کابل کې د سامان د بنکته کېدلو او سترې مه شي په وخت کې غله او کیسه بران غلاکوي اوله همدې موقع په استفادې سامان پټوي.

پولیسو ، هوټل ته دننه له حاجي پرته بهرني خلک نه راپرېښودل، حیران شوم چې دا پنځه غوټې څنګه دخپلي کورنۍ غړوته وسپارم خیر سامان مې حاجي ګلاغا او دهغه مورته وسپاره په دې بیروبار او تیاره کې د کورنۍ د غړیو موندل هم اسانه کار ندی، خیر په ټیلیفون مو یوبل وموندل،زه بهر راووتلم ترهرچالومړی زماپخواني ډرېور حیات استاد ولیدم پرمایې غږ کړ،له ودرېدلو سره سم یې ګل په غاړه کې راواچاوه ویل یې چې نور دوستان هلته د هوټل ددېوال ترڅنګ ولاړ دي ،ده ژر روح الله ته په ټیلیفون زما ځای وښوده هغه هم راغی له سترې مه شي اوګلانو اچولو وروسته مې د هوټل پر دروازه ورننو پستل ،عسکر راته وویل چې استاده په ټلوېزیون مې ستا نصیحتونه اوموعظې لیدلې په همدې احترام درسره ملګري پرېږدم چې سامان دې راوباسي که نه له حاجي پرته بل چاته دننه د ورتللو اجازه نه ورکوو ، ماهم ورته کور ودانی ووایه لاړو په یوځل مو ټول سامان را پورته کړ، بهر چې راووتلو نو دومره دوستان مخې ته راغلي وو چې ما یې آن تصور هم نه کاوه زه آن له جلال اباده دهغوی له راتللو خبرنه وم ، ځوځوځله مې غاړه له ګلانو ډکه او تشه شوه، زموږ دکورنۍ ډېر غړي او دوستان په جلال اباد کې وو خو بیاهم په کمپنۍ کې د کور خواته چې روانېدلو نو د موټرو سم کاروان راپسې وو ، زه رښتیا هم په دې کار خفه شوم، خو ،ښه وه چې تیاره وه، زه د نورو دوستانو په تکلیف هم خفه شوم خو تر هر چا ډېر پر خپل پلار او خپل کوچني زوی رشاد خفه شوم ،دوی ته مې وویل چې تاسو ولې په دې یخنۍ کې ځان په تکلیف کړ ، خو ،ښه ده ورور مې مشفق دخپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر ايرکنډېشن او بخارۍ همېش فعال ساتي،موټر يې ګرم وو ، په دې ترتيب مو يوسپېڅلی سفر پای ته ورساوه، داسفر خو په ښکاره پای ته ورسېد خو دې منزل ته دبيا بيا سفر تنده يې راکې ژوندی کړه هيله ده چې دامې حرمينوته وروستی سفر نه وي او هيله ده چې الله ج دټولو هغو جل وهلو تنده خړوبه کړي چې ددې سفر په زمزمو خپله تنده ماتول غواړي او الله ج دې دهغو کسانو دحج ارمان هم پوره کړي چې ماته يې له حرمينوسره اشتياق اوبې ساري مينه معلومه ده هلته مې هم ورته ډېرې دعاګانې کړې اواوس يې هم ورته کوم خصوصاً زما دګران ماما معلم ميرعثمان او زما دکوچنيتوب دمهال د استاد او ترورزي ملاعبدالجان لالا.تاسو هم ورته آمين وواييئ.له تاسو درنو لوستونکيو هم ډېره ډېره مننه چې ددې يون ليک له لارې په حرمينو کې راسره وګرځېدلئ الله ج دې ستاسوټولې شرعي غوښتنې هم پوره کړي . آمين

**ربناتقبل منا انک انت السميع العليم.**

حقيار

۱۹/۷/۱۳۹۰

www.melitahrik.com 0777 400 116

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**